فتاویٰ رحیمیه

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاری مفتی سید عبد الرحیم لاجپوری
خطیب بڑی مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خلیل

حضرت مولانا غلام ربی

مکتبه فاروقیه
محله جنګی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob: 0300-9007550

فتاوى رحيميه

(شپږم جلد)

كتاب الصلوة

افادات

حضرت مولانا قاري مفتى سيد عبدالرحيم لاجپوري رحمة الله عليه
خطيب بړى جامع مسجد رانديرضلع سورت

پښتو ترجمه :
حضرت مولانا غلام ربي

مكتبه فاروقيه محله جنگى پشاور
Ph: 091-2217161
Mob:0300-9007550

د کتاب پیژندنه :

د کتاب نوم : فتاوی رحیمیه

جلد :

ترجمه : مولانا غلام ربي

کمپوزر : بشارت الله

ناشر : مکتبه فاروقیه

دچاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

فهرست

ګڼه	عنوان	صفحه

متفرقات صلوة

قنوت نازله په کوم کوم للمانځه کې ولولو ؟

(۱سوال) قنوت نازله یواځې سحر لمانځه کې ولولی یا مابنام اوماسخوتن کې هم لوستلی شئ؟ د جمعې لمانځه کې ولولی یا نه ؟

(جواب) امام طحاوی وغیره محققین علماء قنوت نازله (سحر لمانځه سره خاص کوی په شامی کی دی ((ان قنوت النازله عندنا مختص بصلوة الفجر دون غیرها من الصلوة الجهریه اوالسریه)) یعنی زمونږ په نزد قنوت نازله دسحر لمانځه سره خاص دی لدینه علاوه په نورو لمونځونو کی نشته ،خفیه لمونځ وی او که جهری (۱/۶۲۸مطلب فی قنوت النازله) ځینی علماء په جهری لمونځونو یعنی سحر ، مابنام ، ماسخوتن او جمعې لمانځه کی هم د قنوت نازله ویلو قائل دی ، لهذا دولادت په وخت کی لمونځ فرض والی د حالاتو مناسب ویلی شی منع ندی ، فقط ،:

(۲ سوال) یو مولوی صاحب په تقریر کی دا مسئله وکړه چی دښځی بچی پیدا کیدونکی وی سر یې راوتی وی او اذان واوری نو هغې باندی لمونځ کول ضروری دی ، کنده وېستو سره به د بچی سر پکی کیدی او لمونځ دی وکړی ، ایا پدی صورت کی لمونځ کول جائز دی او دمولوی صاحب بیان کړی مسئله صحیح ده ؟

(جواب) مولوی صاحب د لمانځه اهمیت بیان کړی او دا صحیح دی په اسلام کی د لمانځه ډیره لویه مرتبه ده ، ماشوم چی اوه کلن شی نو دلمانځه د تاکید حکم دی او که لس کلن شی او لمونځ نه کوی په وهلو سره دلمونځ کولو حکم دی اګر که هغه نا بالغ وی او لمونځ وربانذی فرض نه وی ، د بالغ کس چی هوش او حواس یې صحیح وی خه بی هوشې او لیونتوب پری نه وی او د کومو ښځو چی حیض اونفاس نه وی لمونځ معاف ندی بلکی دوروسته کولو او د قضاء راوړلو هم اجازه نشته ، که اودس نشی کولی نو په تیمم سره به لمونځ کوی ، که په ولاړه نشی کولی په ناسته به کوی او که ناسته نشی کولی نو په ملاسته د سر په شاری سره به کوی خولمونځ به نه پریدی ، تر دی پوری که یو سړی در یاب کی په تخته باندی پروت وی او دلمونځ وخت

په ختمیدو وی نو د اودس انداموته به اوبو کی دننه کړی او په اشاره باندی دی لمونځ کوی خو لمونځ به نه پریدی ، همداشان که دیو سړی دواړه لاسونه شل شی او اودس او تیمم نشی کولی نو په هره طریقه چی کیدی شی خپل مخ او دواړه لاسونه دتیمم په نیت دیوال پوری وسولوی او لمونځ وکړی خو هغه ده دمانځ اوبوسته کولو او بیا قضاء راګرځولو اجازه نشته (مجالس الابرار عربی (۳۰۲صفحه) دهمدی اهمیت په سلسله کی دامسئله هم بیانولی شی کومه چی مولوی صاحب په تقریر کی بیان کړی ده چی که بچی پیداکیږی او سر یي راوتی وی او دلمانځه د وخت په ختمیدو وی که اودس کولی شی ښه او که نه تیمم کولو سره به د بچی د سر حفاظت کولو سره په ناسته که رکوع اوسجده نشی کولی په اشاره باندی به لمونځ کوی خو وروسته کولو اجازه نشته ده او که لمونځ وروسته کړی نو ګنهګاریږی ((ولولم تصل عاصیه لربها)) یعنی که لمونځ ونکړی نو دخپل رب نافرمانه به وی (طحاوی علی در المختار ۱۳۱/۱ ، احکام النفاس)

اوس دا بچی ځنګه محفوظ پاتی شی ددی صورت دا ښودلی شوی چی دیګچی کاسه کیږدي او بچی هغی طرف ته کړی چی بچی هم محفوظ وی او لمونځ هم وکړی ، فقط والله اعلم .

ـ د لمونځ او خطبی لپاره دلوډسپیکر استعمال :

(۳ سوال) یو جومات ډیرلوی دی لمونځ ګذاران هم زیات دی تر دی چی دجومات کوته ډکیږی او باهر صحن هم ډک شی بیاهم لمونځ ګذار پاتی وی داسی جومات کی خلکو ته دامام قراًت رسولو لپاره لوډسپیکر استعمالو څنګه دی ؟ او دلمانځه د اعلان لپاره لوډ سپیکر استعمالولی شی او که نه ؟

(جواب) (الف) دلوډ سپیکر په ذریعه چی لمونځ ګذارو ته لری پوری آواز رسیږی دا دامام اصلی آواز دی یا (دګنبد آواز پشان) فعلی او بل آواز دی ؟ پدی کی سائنسدانان مختلف دی ، که نقلی آواز وي نو پدی باندی اقتدی نه صحیح کیږی ، ځکه چی داقتداء صحیح کیدو لپاره دا هم شرط دی چی د چا په آواز باندی اقتداء کوی هغه مکلف وی اوکه نه چا چی پدی آواز اقتداء کړی دهغه لمونځ نه صحیح کیږی ((اعلم ان الا امام اذا کبر للافتاح لا بد لصحة صلوته من قصده بالتکبیر الا حرام والا فلا صلوة له اذا قصد الا علام فقط

فان جمع بین الامرین فحسن و کذا المبلغ اذا قصد به التبلغ فقط خالیا عن الاحرام فلا صلوة له و لا لمن یصلی بتبلغه فی هذه الحالة لانه اقتداء بمن لم یدخل فی الصلوة (طحاوی علی الد المختارج ۱ص۳۲۸باب صفة الصلوة من الصلوة)

(ب) او که دلوډ سپیکر آواز د گنبد آواز نه وی دامام اصلی آواز وی نو پدی صورت کی هم دلوډ سپیکر د استعمال اجازه نشی ورکولی ، خکه چی دا دهغه سادګی او بی تکلفی خلاف دی کوم چی د اسلامی عبارت خصوصیت دی او ظاهره ده چی دلوډ سپیکر په استعمال کی سراسر تکلف دی ، حضرت شاه ولی الله (رح) فرمایلی : په عبادتونو کی تشدد او تکلف ددین (تحریف داسبابو له جملی څخه دی او داهغه بیماری ده په کوم کی چی دیهودو او نصارا او راهبان اخته شوی وو (حجة الله البالغه) [1]

(ج) لدینه علاوه ډیره زیاته توجه وږ دا خبره ده چی خشوع دلمونځ روح دی او لوډ سپیکر پدی خشوع کی ضلل اچوی ، د لمولځ دهمدی روح له مخی په زیات چیغو سره قراءت نا خوښ کړی شوی دی او داعتدال حکم ورکړی شوی دی ، دالله تعالی ارشاد دی (و لا تجهر بصلوتک ولا تخافت بها و ابتغ بین ذالک سبیلاً) (سورت بنی اسرائیل) یعنی خپل جهری لمونځ کی نه خو په ډیر زوره سره لوله او نه بالکل ورو ددی دواړو تر منځ در میانه لار ه غوره کړه ، (بیان القران ۱۰۳/۴) ددی ایت په تفسیر کی مفسر ین کرام لیکی چی درمیانه آواز سره لو ستو کی په زړه باندی اثر کیږی او د حد نه تجاوز کولو سره د زړه حضور ته نقصان رسوی ،

(د) دشپی ورخی مشاهده ده چی بجلی خرابیږی یا پخپله لوډ سپیکر کی ورانی راځی نو انتشار پیدا کیږی او خاص کر وروستی صفونه دامام په رکوع او سجده باندی نه پوهیږی ، لمانځه کی د انتشار خطره پخپله موجب د کراحت دی

(ه) دشریعت قانون دی چی دفائدی حاصلولو په نسبت دخرابی او ضرر رفع کول زیات ضروري او مقدم دی ، په الا شباه والنظائر کی دی :-

---

« وهی درء المفاسد اولی من جلب المصالح فاذا تعارضت مفسدة و مصلحة قدم المفسدة غالباً لان اعتناء الشرع بالمنهیات اشد من اعتناءه بالماموارات (ص ۱۱۴ حصه دفع القواعد القاعده الخامسة الضرر یزال) یعنی دفاندی حاصلولونه دخرابی لری کول مقدم دی نو کله چی دمفسده او دمصلحت تعارض راشی نو عام طور په مصلحت باندی مفسده مقدم کولی شی او ترک کولو حکم یي کیږی ځکه چی په شریعت کی دماموراتو په نسبت له منهیاتو څخه د احتراز او ځان ساتلو زیات اهتمام او تاکید شوی دی ، وګوریٔ په اودس او غسل کی غړغړه سنت ده مګر مری ته داوبو داخلیدو له ویری په روژه کی غړغړه کول منع ده ، همداشان د ګیری خلالول سنت دی مګر احرام په حالت کی دیښتو ماتیدو له ویری مکروه دی ، حاصل داچی د لوډ سپیکر په استعمال کی شرعاً ددی اجازه نشته او ددی ضرورت هم نشته ځکه چی دلمانځه صحت او تکمیل لپاره دامام قرات آوریدو پوری موقوف ندی ، او د انتقالاتو دتکبیرونو اوریدو ضرورت چی پدی باندی د اقتداء او د رکوع او سجدی مدار دی دا د مکبرینو په انتظام سره پوره کیږی پاتی شوه په لمانځه کی د زړه لګیدو مسئله نو ایا دمانبام په آخری او د ماسخوتن په دریم او څلورم او د ماسپښین او مازدیګر په ټولو رکعتو کی قرآت اوریدل کیږی ؟ د الله تعالی ارشاد دی:

(واذاقرء القرآن فستمعواله وانصتوا)یعنی کله چی قرآن لوستل کیږی نو غوږ ورته کیدی او چپ شیٔ، یعنی دا حکم ندی چی د امام قرآت ضرور واوریٔ بلکی حکم دادی چی غوږ ورته کیدی آواز راشی او که را نشی د غوږ کیښودو ثواب ورته ملاویږی، په هرحال تا ته د عباداتو اوخاص طور دلمانځه په ادا کولو کی سلف صالحینو د طریقی پیروی کول لازم دی او په همدی کی د دین او دنیا کامیابی او پورته ذکر شوی مفاسدو څخه نجات دی، په خطبه کی هم ددی استعمال مناسب ندی د خطبی د شان څخه خلاف دی او کله د ورانیدو په صورت کی په خلکو کی دانتشار او تشویش پیدا کیدو باعث جوړیدی شی لهذا نه استعمال یی غوره ده . والسلام علیکم.

ــ د قنوت نازله باره کی تفصیل :

(۴ سوال) د قنوت نازله ویلو باره کی اختلاف نشته مګر په لمانځه کی څه خلل او نقصان خو نه کیږی؟

دا را تـه ووایـی چـی پـه کومـو حـالاتو کـی وویـل شـی؟ رسـول الله او درسـول الله صـحابه کرامـو پـه لمانځـه کـی پـه کومـه طریقـه بانـدی لمانځـه کـی دعـا ګـانی غوښتی دی؟
دکتابو صوالو سره راته ووایی، او هغه دعاء به کوم کتاب کی راته ملاوشی ؟
یواځی کـس ولـی شي او کـه نـه ؟ښځی هـم ویلـی شـی یـا دا حکـم خـاص دسړو لپاره دی؟
(جـواب) کلـه چـی ملی،قـومی او اجتمـاعی طورسره څـه مصیبت وړانـدی شـوی وی مـثلا دشـمن حملـه کـړی وی یـا د طـاعون (وبـاء) او د هیـزی (کلـوراء) بیمـاری خـور شـوی وی چـی خلـک وربانـدی تشـویش او پریشـان وی نـو قنـوت نازله ویل کیږی ترڅو الله تعالی دغه مصیبت لری کړی.
طریقه: د سحرلمونځ دویم رکعت پـه آخـر کـی کلـه چـی د رکـوع نـه پورتـه شـی نـو په قومه کـی بـه دا دعـاء ووایی،لاسـونه تـړل ضـروری نـدی خـلاص هـم پرینښـودلی شـی همـدا طریقـه عـام طـور رواج ده پـدی کـی د تبـدیلی نشـته ،پـه آوازکـی بایـد خشـوع وي ، دقـرآت لـه آواز نـه کـم وی ،مقتـدیان بـه موقـع پـه موقـع رورو آمـین وایـی ،او د دعـاء الفـاظ چـی یـاد وی نـو رورو بـه یـې ادا کـوی ،رسـول لله او صـحابه کرامـو پداسـی مواقعـوکی قنـوت نازلـه لوسـتی دی ،او فقهـاء کرامـو دا سنت ګرخـولی دی دصـحیح حـدیثونو څخـه ثابـت دی ،د فقـه پـه معتبـرو کتـابوکی ددی تفصیل موجود دی ،لهذا دبحث و انکار او دشک و شبهی ګنجایش نشته.
ددی ابتـداء او شـروع د بیـر معونـه واقعـی نـه وروسـته شـوی، دی چـی تفصـیل یـي دادی رسول لله د ځینو کسـانو پـه اصـرار(۷۰) صـحابه کـرام نجـد طـرف تـه د تبلیـغ او تعلیم لپاره ولیـږل[1] دا منتخـب حضرات د قـرآن پـاک حافظـان وو پـدی وجـه دوی تـه

[1] ـ قوله فقنت الامام فی الجهرية يوافقه مافی البحر و الشر نبلاليه عن شرح النقاية عن الغاية وان نزل بالمسلمين نازلة قنت الامام فی صلاة الجهر وهو قول الثوری واحمد و كذا مافی شرح الشيخ اسمعيل عن النهاية اذا وقعت نازلة قنت الامام فی الصلاة الجهرية لكن فی الاشباه عن الغاية قنت فی صلاة الفجر ويويده مافی شرح المنية حيث قال لعدم كلام فتكون شرعية ای شرعية القنوت فی النوافل مستمر وهو محمل قنوت من قنت من الصحابة بعد وفاته عليه الصلاة والسلام وهو مذهبنا و عليه الجمهور هل القنوت هنا قبل الركوع ام بعده لم اره والذی يظهر لی ان المقتدی يتابع امام اذا جهر فيومن وأنه يقنت بعد الركوع لاقبله شامی باب الوتر والنوافل مطلب فی قنوت النازلة ج۱ ص۲۲۸.

به قراء (قاریان) ویل کیدو ،د شپې به یې تلاوت کولو او دورځې به یې لرګو په ټولولو خپل ژوندتیرولو په لاره کې ځینو قبایلو بیر معونه په مقام کې راګیر کړل او ټول یې شهیدان کړل یواځې یوصحابي چې زخمي کیدو سره دلاشونو لاندې شوی وو بیا ورته هوش راغی نوهغوی بچ شوی وو نو په راتلو سره یې رسول الله ته د حادثې خبر ورکړ رسول الله ته پدی واقعې دو مره زیات صدمه او تکلیف ورسیدو چې ... کوم حادثه باندې دو مره تکلیف نه و شوی،کوم قبایل چې ددی وحشیانه جرم مرتکب شوی وو هغو لپاره رسول الله بد دعائي او خیری وکړل او تر یوی میاشتې پوری دسحر په لمانځه کې درکوع نه وروسته قنوت نازله به یې ویلو ،رعل ،ذکوان،عصیه او بنولحیان هغه قبایل ووچې پدی جرم کې د نورو نه وړاندې وو (بخاری شریف ۵۸٦کتاب المغازی باب غزوة الرجیع ورعل و ذکوان و بیرمعونه الخ)حضرت انس فرمایي چې د دعاء قنوت ویلو دا اولنی موقع وه،لدینه مخکې کله نه وه ویلی شوی ((عن انس ...و ذلک بدءالقنوت وما کنا نقنت ایضاً))

حضرت شاولی الله محدث دیلوی فرمایي :- نبی اکرم (ص) او دده په خلفاو باندې به چې کله حادثه راتله نو د رکوع نه وروسته یا د رکوع نه مخکې به مسلمانانو لپاره دعاء او کافرانو لپاره خیری کولی ، او دا یې کله نه دی پریښی ، یعنې چې کله هم څه مصیبت راغلی نو قنوت نازله یې ضرور و یلی دی :-

((وکان النبی (ص) وخلفاء اذانابهم امر دعواللمسلمین وعلی الکافرین بعدالرکوع او قبله ولم یترکوه بمعنی عدم القول عند النائبة (حجة الله البالغة ج ۲ ص ۴ ۵ اذکار الصلاة و هیئاتها المندوب الیها قنوت الصبح)

علامه ابن قیم (رح) فرمایي : ((کله چې د مسلیمة کذاب سره جنګ وشو نو حضرت ابو بکر صدیق (رض) په لمانځه کې دعاء قنوت وویل ، حضرت عمر (رض) اهل کتابو سره مقابلې په وخت کې دعاء قنوت ویلی و، حضرت علی (رض) او حضرت امیر معاویه (رض) د جنګ په وخت دواړو دعاء قنوت ویلی و :

((و اما المروی عن الصحابة فنوعان احدهما قنوت عند النوازل کقنوت الصدیق رضی الله عنه فی محاربة الصحابة لمسیلمة و عند محاربة اهل الکتاب و کذالک قنوت عمرو قنوت علی عند محاربته لمعاویه واهل الشام (زاد المعاد ج ۱ ص ۷۵ قیل ، فصل فی هدیة صلی الله علیه وسلم فی سجود السهو)

د قنوت نازله حکم عام دی ، سري ، ښځی ، امام او منفرد هر یو ته شامل دی ، دجماعت قید ، او دسرو تخصیص او منفرد یا ښځی لپاره ممانعت په صریح او صحیح دلیل کی نقل ندی او قنت الامام دی لپاره کامل دلیل ندی (دحضرت مولانا مفتی کفایت (رح) هم همدا نظریه ده) لهذا منفرد او ښځی خپلو لمونځونو کی دعاء قنوت ویلی شی ، مګر ښځی به په زوره نه وایي ، دسحر لمونځ نه علاوه په نورو جهری لمونځو نو (ماښام او ماسخوتن)کی دقنوت ویلو متعلق په حنفی فقهاو کی اختلاف دی ، لهذا په ویلو یا نه ویلو باندی د چا مجبورول او جنګ جګړه مناسبه نده (اصح السیر ، زجاجة المصابیح ۱/ ۲۵۹،۲۶۰ باب القنوت ، طحاوی علی الدر المختار باب الوتر والنوافل قنوت النازلة ۴۴۴/۱،شامی ۶۲۸/۱)

دعاء قنوت یوه نده مقرره وخت او موقع مناسب دماثوره دعاګانو څخه مناسبه دعاء ویلی شی ، دا لاندنی دعاء زیات مناسب ده :-

((اللهم انصر الاسلام والمسلمین وانجزو عدک وکان حقاً علینا نصر المومنین اللهم الف بین قلوبهم و اصلح ذات بینهم وانصرهم علی عدوک وعدوهم اللهم اهلک الکفرة الذین یصدون عن سبیلک ویکذبون رسلک ویقاتلون او لیاءک اللهم خالف بین کلمتهم وزلزل اقدامهم اللهم شتت شملهم وفرق جمعهم وخرب بلادهم اللهم الق فی قلوبهم الرعب اللهم خذهم اخذ عزیز مقتدر اللهم انا نجعلک فی نحو رهم ونعوذبک من شرورهم اللهم انزل بهم باسک الذی لا ترده عن القوم المجرمین))

نوټ : دکوم لوی عالم په وړاندی دعاء لوستلو سره ثصحیح کړئ تر څو په زیر زور کی غلطی پاتی نشی ،فقط)

دسود له پیسونه جوړ شوی کور کی للمونځ کیږی یا نه ؟

(۵ سوال) دلته په انګلینډ کی زیاتره خلکو سره خپل کور نه دی او تقریباً هر کور د سوسائټی نه په سود باندی قرض پیسې اخستو سره اخستی دی نو اوس پدې کی لمونځ ادا کیږي یا نه؟

(جـواب) د هغـه خـای د اصـولو مطـابق لـه سوسـائیتی نـه پـه سـود قـرض اخستو سره جوړ شوی کورو کـی للمـونځ ادا کېږي ، کـه د شـک او شـبهی نـه خـالی خـای وی نو غوره دی[1] فقط

ـ په لوډ سپیکر کی لمونځ کول څنګه دی؟

(٦ سـوال) پـدې مسئله دینـی عالمـان څـه فرمـایی چـې دلتـه (برمـا کـی) خینـو جوماتو کـی لمانځـه لپـاره لـوډ سـپیکر اسـتعمالولی شـی ډېـر ځلـی ددې ناکـاره آواز سره شر او شور جـوړ شـي او لمـونځ ګـذارو تـه تکلیـف رسـي ، پـه خشـوع او خضـوع کـی خلـل او نقصـان راځـی ، لهـذا دې بـاره کـی مـدلل او مفصـل فتـوی پکـار ده چې دا د پمفلټ (پرچـو) پـه شـکل کـی چـاپ کولـو سره پـه جومـاتو کـی ولګـول شي ، وضاحت وکړی ، مستفتي یونس آبوټ (له رنګون څخه).

(جواب) د لوډ سـپیکر پـه ذریعـه د امـام اواز مقتـدیانو تـه رسـول کېـږي ، دا د امـام اصلی آواز دی یا د صـداء بازګشـت پشـان نقلـی (جعلـی) دی ، پـدې کـی تـر اوسـه پـورې اخـتلاف دی ، کـوم علمـاء چـې ورتـه نقلـی آواز وایـی هغـوی د لمـونځ د فساد قائل دی ، او څـوک چـې ورتـه نقلـی نـه وایـی هغـوی د لمـونځ د فسـاد حکـم خو نه کوی مګر پدې سره د لمـونځ کولـو اجـازه هـم نـه ورکـوی بلکـې ممنـوع بـې ګرځــوی او همــدا قــول اصـح ، احـوط او د عمـل لائـق دی ، لمــونځ افضـل العبادات دی پـدې کـی د ډېـر احتیـاط ضـرورت دی ، لهـذا د لـوډ سـپیکر د لمـونځ له شان سره مناسب نه دی ، په فتاوی شامی کی دی :-

((فی المبسوط السرخسی الاخذ بالاحتیاط فی العبادات واجب))

یعنـی پـه مبسـوط سرخسـی کتـاب کـی د ی چـې د عبـاداتو بـاره کـی د احتیـاط اختیـارول واجـب دی (ج۲ ص ۱۰٦ بـاب صـدقة الفطـر) نـن صـبا د خلکـو او خاص طور د خوانـانو طبیعتونـه فیشـن پرسـت جـوړ شـوی دی چـې پـه عبـادت کـی د لـوډ سـپیکر استعمال نـه وی نـو دوی تـه خونـد نـه ورکـوی ، د حقیـت فنـا کیدو هیڅ پـروا نشـته ، خشـوع او خضـوع د لمـونځ روح دی د لـوډ سـپیکر پـه وجـه د زړه

[1] ـ که په جائز ذریعه سره کور ملاوېږي نو پداسې صورت کی ذکر شوی کورو کی مکروه کېږي او که جائز ذریعی سره نه ملاوېږي نـو بیـا نـه مکروه کېږي کتداوی بـا شـیاء المحرمة عنـد عـدم الشـفاء فـی اشـیاء المبیحة

حضــور تــه ضرور خلــل او نقصــان رسـي ، او يــوه خرابــى دا هــم ده چــې د حاجــت نه زيات جهـر کبـړي او حــال دا چــې د قرائــت او د انتقــالاتو د تکبيــرو پــه جهـر کــې هم د اعتدال حکم دی ، د حاجت نه زياتی ته فقهاؤ کرامو مکروه ویلی ،

((قوله بقدر حاجــة الاعــلام الــخ و ان زاد کــره (د رمختــار بــاب صــفة الصــلوة مطلــب فــى التبليــغ خلــف الامــام)) (طحطــاوی ص ۳۲۸ ج ۱ و شــامی ص ۴۴۳ ج ۱) و يجهـر الامـام وجوباً بحسب الجماعـة فـان زاد عليـه اساء! در مختـار مـع الشـامی ج ۱ ص ۴۹۷ فصل فی القراة

کــه ددې عــام رواج جــوړ شــو نــو بيــا بــه خلــک د امــام آواز رسـيدو ســره هــم اسـتعمالوی (د عوامــو پــه حــدودو کــی دننــه اوسـيدو عــادت جوړيـدل محــال دی) او دغــه صــورت ناجــائز او بــدعت و مکــروه کيــدل ظــاهر دی ، فقهــاء کرامــو تصــريح کــړې ده چــې کــه د امــام آواز مقتــديانو تــه رسـيږي نــو د مکبرينــو (تکبيــر ويونکــو) مقــررول مکــروه او بــدعت دی ، د خلــور واړو امامــانو همــدا مســلک دی ، پــه رد المختار کی دی :

((و اعلم ان التبليــغ عنـد عـدم الحاجـة اليـه بـان بلغهـم صـوت الامـام مکـروه و فـی السيرة الحلية اتفق الائمـة الاربعـة علـى ان التبليـغ حينئـذ بدعـة منکـرة ای مکروهـة (شامی ص ۴۴۴ ج ۱ باب صفة الصلاة مطلب فی التبليغ خلف الامام)))

لهــذا د جومــاتونو امامــانو تــه پکــاردی چــې د لــوډ ســپيکر د اسـتعمال نــه قطعــی احتراز وکړی ، والله اعلم.

ليکــونکی احقــر ســيد عبــدالرحيم لاجپــوری غفــر لــه ولوالديــه (رانــدير ســورت) د احقر دا تحقيق د هندو پاک بې مثال او ممتـاز تـرين مفتيـان کـرام لـه تحقيـق سـره مطابق دی ، يواخی زما تحقيق ندی ، وګوری:-

(۱) د امت فقيه مفتی اعظم حضرت مولانا محمد کفايت الله (رح) فتوی :

د جمعي او اخترونو پــه خطبــه کــی د لــوډ ســپيکر اسـتعمال جــائز دی مګـر د امـام د قرائــت اوچتولــو لپــاره ددې اســتعمال جــائز نــدی)) (د لــوډ ســپيکر مســئله ۴ صفحه)

(۲) د دارالعلــوم ديوبنــد پخــوانی صــدر مفتــی د حضــرت مولانــا مفتــی ســيد مهــدی حسن صاحب فتوی :

((تر کومه خایه پورې چې د احتیاط تقاضا ده ، په پخوانی طریقه به لمونځ کولی شي او په لمانځه کی دې لوډ سپیکر نه استعمالوی ، اختلاف هم دی یوه ډله په لوډ سپیکر باندې ادا شوی لمونځ فاسد ګڼي ، پدې وجه غوره دا معلومیږي چې د لمونځ په شان اهم عبادت پداسې طریقه ادا کړی شي چې د هر مکتب فکر علماؤ په نزد صحیح او درست وی ، او د ا پخوانی طریقه ده او چې خلک زیات وی بیا دې د مکبرینو په ذریعه د امام تکبیرونه مقتدیانو ته ورسولی شي)) (۲۳ ذی الحجه ۱۳۸۹ هـ

(۳) د سهارنپور مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی سعید احمد صاحب فتوی:

((دا مسئله اختلافی ده ، ځینی علماء دې لمونځ ته فاسد وایی او ځینی ورته صحیح وایی احتیاط پدې کی ده چې دا هرګز په لمانځه کی استعمال نه کړی شي ،)) (۴ ذی الحجة ۱۳۸۹ هـ

(۴) د دارالعلوم دیوبند صدر مفتی حضرت مولانا مفتی محمود الحسن ګنګوهی صاحب فتوی :

((لوډ سپیکر دې په لمانځه کی نشی استعمالولی ، امام ته پکار دی چې دا بند کړی)) (ماهنامه ((نظام)) کانپوری ذی الحجة ۱۳۷۹هـ

(۵) د دهلی امینیه مدرسی شیخ الحدیث او صدر مفتی حضرت مولانا مفتی سید محمد میا صاحب فتوی :

(جواب) ځینی علماء خو د لوډ سپیکر استعمال جائز نه ګڼي د دوی د تحقیق په بناء د هغو مقتدیانو لمونځ هم نه کیږي چې یواځی د لوډ سپیکر په آواز باندې رکوع وکړی او د امام اصلی اواز ورته ونه رسي ، او کوم حضرات چې جائز ګڼي هغوی هم دا بهتر او خوښ نه ګڼي ، ظاهره ده چې دا یو نوی ایجاد دی د سلف صالحینو له سنت نه نا اشنا او د ضروریاتو او لوازمو نه خارج دی او د لمانځه د آدابو په لحاظ قطعاً زاید بلکی د ځینو آدابو مثلاً د خشوع او خضوع منافی ، لهذا ددی نه استعمال بهتر دی (روزنامه الجمعیة ۷ نومبر ۱۹۷۱ عـ

(٦) د سهارنپور مظهر علوم مفتی حضرت مولانا محمد یحیی صاحب فتوی:

ددی آلی استعمال په لمانځه کی جائز ندی ، او چونکی د علماؤ د یوې ډلی تحقیق دا دی چې پدې سره لمونځ صحیح کیږي (نه فاسدیږي) مګر تر اوسه

پورې دا مسئله اتفاقي نه ده ، پدې صورت کې قطعي طور باندې د لمونځ د فساد حکم خو نشي ورکولی ، مګر لمونځ اهمو عبادتونو څخه دی او پدې کې د ډېر احتیاط ضرورت دی ، ملک العلماء په بدائع کی لیکی:-

((ان الصلاة اذا ترددت بين الجواز والفساد كان الحكم بالفساد اولى و ان كان للجواز وجوه و للفساد وجه واحد لان الوجوب كان ثابتا باليقين فلا يسقط بالشك))

نو پدې بناء حتی الوسع پدې باندې باید لمونځ ونه کړی شی (۵ محرم الحرام ۱۳۸۸ هـ

(۷) (۱) الجواب صحیح (حضرت مولانا مفتی) مظفر حسین صاحب د سهارنپور مظاهرعلوم مفتي.

(۲) الجواب صحيح مولانا مفتی عبدالعزیز صاحب د سهارنپور مظاهر علوم مفتی ، (۷ محرم الحرام ۱۳۸۸ هـ

(۸) د پاکستان مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب فتوی :

((په لمانځه کی د لوډ سپیکر په استعمال باندې د احقر اخری رایه دا ده چې ددې مفاسد له مصلحت نه ډېر زیات دی پدې وجه لمانځه کی ددی څخه اجتناب کول پکار دی ، او د ترک او منع فتوی ورکول پکار دی)) (د لوډ سپیکر شرعی احکام) والله اعلم.

ـ په لمانځه کې د لوډ سپیکر د استعمال متعلق د سهارنپور یوه تازه فتوی:

(۷ سوال) دینی علماء او مفتیان صاحبان پدې لاندنی مسئله کې څه فرمایی: زمونږ پدې خای کې د لوډ سپیکر استعمال ډېر زیات په عام کیدو روان دی تر دې چې په واړه واړه جوماتوکی هم ددې استعمال رواج کېږي لګیا دی ، اوس دا یو څو تپوسونه دی :-

(۱) په لویو جوماتو کې د لمونځ ګذارو د زیاتوالی او ګڼه ګونی په وخت ددې استعمال شرعاً جائز دی یا نه؟

(۲) د آخری صفونو مقتدیانو سره د امام آواز اوریدل شرعاً ضروری دی یا مستحب او اولی دی چې د امام د قرائت آواز ورته ورسي؟

(۳) که لمونځ ګذار تـه د جماعـت پـه لمـونځ کـې د قرائـت د آواز نـه بغیر خـاطر جمعی نه حاصلیږي

نو پـدې صـورت کـې د لـوړ سپیکر د اسـتعمال شـرعاً ضـرورت دی یـا نـه؟ وضاحت وکړی

(جواب) حامداً و مصلیاً : (۱) پـه لمانځـه ددې آلـې پـه اسـتعمال کـې ګڼ مفاسـد دی چې پـدې وجـه پـه لمانځـه کـې ددی اسـتعمال صـحیح او مناسـب نـدی لدینـه اجتنـاب کـول پکـار دی سـاده او مسـنون طریقـې موافـق لویـو جمـاعتو کـې د مکبرینـو پـه ریعـه د تکبیرونـو آواز اخـری صـفونو تـه ورسـول شـي ، دا طریقـه د مفاسـدو نـه پاکـه ده ، البتـه د مکبرینـو انتظـام دی پـه ښـه طریقـه وکـړی شـی ، د مفاسـدو تفصـیل دې پـه رسـاله ((آلات جدیـده کـې شـرعی احکـام)) کـې وکتلـې شي.

(۲) د اخری صفونو لمـونځ ګـذارو تـه د امـام قرائـت رسـول نـه ضـروری دی او نـه د امـام پـه ذمـه لازم دی بلکـې امـام تـه د خپـل متوسـط طاقـت مطـابق آواز اوچتولـو حکـم دی ، د طاقـت نـه زیـات آواز اوچتـونکی امـام دا سـاعت مرتکـب ګرځولی شوی دی .

(۳) پدې صورت کې هم ددې اجازه نشي ورکولی کېدی ، فقط.

(لیکـونکی حضـرت مولانـا مفتـی یحیـی عنقرلـه ، د سهارنپور مظـاهر علـوم مدرسـه ۲۴ رمضان ۱۳۹۲ هـ)

الجواب صحیح (حضرت مولانا مفتی مظفر حسین ۲۴-۹/۹۲ هـ) (۱۱۴۶ فتوی)

د حضـرت مفتـی صـاحب د امـت فیـوفهم جـواب صـحیح او د اصـولو او قواعـدو عـین مطـابق او ضـروری العمـل دی ، لمـونځ افضـل عبـادت دی او دا د سـلف صالحینو د طریقې مطابق بلا تکلف او بلا تصنع ادا کول پکار دی.

((علـیکم بمـذهب السـلف الصـالح امشـوا فـی الجـادة المسـتقیمة ، لا تشـبیه و لا تعطیـل ، بـل اتباعـاً لسـنة رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم ، مـن غیـر تکلـف ، و لا تطبع و لا تشدد و لا تمشدق ، و لا تمعقل یسعکم من کان قبلکم))

یعنـې د سـلف صـالحینو مـذهب لازم ونیسـئ او پـه مستقیم او نیغـه لاره بانـدې روان شئ چې نه پکې تشبیه وی او نـه تعطیـل بلکـې بـلا تکلـف او بـلا تصـنع او بـلا تشـدد او بغیـر د لسـانی او عقلـی اسـونو زغلولـو نـه د جنـاب رسـول الله (ص) د مبـارکو

ســنتو کامـل اتبـاع او پیـروی وی ، خـومره ... ستاســو پخوانـو مشـرانو گنجـائش گنلـی تاسـو هـم وگنـی، (الفـتح الربـانی ... مـه م نمبـر ۱ ص ٦٠) لهـذا ددې په ادا کولو د زیات احتیاط ضرورت ... ، مبسوط سرخسی په کتاب کی دی، ((الاخذ بالاحتیاط فـی العبـادات واجـب)) یعنـی پـه عبـاداتو کـی د ... یاط لحـاظ سـاتل او د تکلفـاتو نـه بـچ کیـدل لازم دی ، لهـذا لمـونځ د لـوډ ... ر دبـې ځایـه تکلـف نـه محفـوظ سـاتل ضـروری دی ځکـه چـې دا د زړه حضـ... او توجـه لپـاره نقصـانی دی ، د لمـونځ صـحت او تکمیـل د امـام د قرائـت پـه اوریـدو بانـدې موقـوف نـدی ، او کـه داسـې وای نـو بیـا د ماسپښـین او مـازدیگر قرائـت خفیـه نـه بلکـې جهری بـه وای او د ماسـخوتن او مابـام وروستی رکعتـو کـی بـه هـم قرائـت خفیـه نـه وای البتـه د انتقـالاتو د تکبیرونـو اوریـدل ضـروری دی او دې لپـاره پـه لویـو جمـاعتو کـې چـې د امـام آواز وروسـتی صـفو تـه نـه رسـیږي نـو شـریعت د مکبرینو مقررولو خاص هدایت کړی دی فقط والله اعلم.

ـ قنوت نازله کله ویل کیږي؟

(۸ ســوال) د مســلمانانوله اســرائیل ســره ډیــر ســخت جَنــگ روان دی او د مسـلمانانو حـالات سـازگار نـه معلـومیږي نـو ایـا مـونږ د سـحر لمانځـه کـی د قنـوت نازله ویلو اجازت شته؟ دلتـه ځینـو اطرافـو کلـی والـو قنـوت نازلـه ویـل شـروع کـړی ده او تپـوس دا دی پـدې وخـت کـی ددې شـرائط موجـود دی یـا نـه؟ وضـاحت وکړئ.

(جـواب) د مـذکور حـالاتو تقاضـا دا ده چـې سـحر لمانځـه کـی قنـوت نازلـه وویـل شي په نورو جهری لمونځونو کی هم د ویلو اجازت دی[1] فقط والله اعلم.

ـ په لمانځه کې د لوډ سپیکر استعمال:

(۹ ســوال) پـه لمانځـه کـی د لـوډ سـپیکر اسـتعمالو لـو ځـه حکـم دی؟ وضـاحت وکړئ خیر یوسئ

(جـواب) اگـر کـه لمـونځ صـحیح کیـږي مگـر ددې اسـتعمال لمانځـه کـی مناسـب ندی او د احتیاط خلاف دی لهذا د کراهت نه خالی نه دی :

---

[1] ـ فان وقعت فتنة او بلية فلا باس به فعله رسول الله (ص) ، (شامی باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ۱/۲۲۸).

((فی مبسوط السرخسی الاخذ بالاحتیاط فی باب العبادات واجب)) یعنی په مبسوط السرخسی کی دی چې په باب د عباداتو کی د احتیاط اختیارول واجب دی (شامی ۸۴/۲ باب صدقة الفطر)
او که د امام د تکبیر تحریمه او د انتقالاتو د تکبیرونو آواز آخری صفونو ته رسیدو نو پدې صورت کی لکه څنګه چې د مکبر مقررول بالاتفاق ممنوع او بدعت دی همدا شان د لوډ سپیکر استعمال هم ناجائز او بدعت و مکروه دی:-
((و اعلم ان التبلیغ عند عدم الحاجة الیه بان یلغهم صوت الامام مکروه و فی الذخیرة و ... السیرة الحلیة اتفق الائمة الاربعة علی ان التبلیغ حینئذ بدعة منکرة ا... ...هة)) (شامی ج ۱ ص ۴۴۴ صفة الصلوة مطلب فی تبلیغ خلف الامام) _

_ د لمونځ ګذار مخکې تیریدونکی لپاره څه وعید دی؟

(۱۰ سوال) جومات کی سنت او نفل کونکی په وړاندې خلک تیریږي د منع کولو باوجود نه منع کیږي نو ددې شرعی حکم څه دی ؟ وضاحت وکړی، خیر یوسئ.
(جواب) د لمونځ احترام ضروری دی لمونځ ګذار خپل پروردګار سره خبرې اترې کوی او په دنیاوی ماحول کی د خبرو اترو کونکو وړاندې تیریدل بد دی نو د الله تعالی او د لمونځ ګذار په منځ کی تیریدل به څومره بد وی، پدې سره د لمونځ ګذار په خشوع او خضوع کی خلل راځی، لهذا دده په وړاندې تیریدونکی ته په حدیث کی شیطان ویل شوی دی لکه چې فرمایي :
((عن ابی سعید قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یقطع الصلوة شئی و ادرء و اما استطعتم فانما هو شیطان . رواه ابو داؤد مشکوة ص ۷۴ و عن ابی جهم قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لو یعلم الماز بین یدی المصلی ما ذا علیه لکان ان یقف خیراً له من ان یمر بین یدیه قال ابو النضر لا ادری قال اربعین یوماً او شهراً او سنةً متفق علیه (مشکوة ص ۷۴) و عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لو یعلم احد کم ما له فی ان یمر بین یدی اخیه معترضاً فی الصلوة کان لان یقیم مائة عام خیر له من الخطوة التی خطا رواه ابن ماجه)) (مشکوة ص ۷۴ باب السترہ)

یعنی که لمونځ ګذار په وړانـدې تیریـدونکی پوهـه شـي چـې ددې خـومره ګناه ده نـو په کلونـو کلونـو بـه ولاړ پـاتې شـي مګـر دده پـه وړانـدې تیریـدو همـت بـه ونکړی ، لمونځ ګذار ته هـم پکـار دی چـې پداسـې ځـای کـی لمـونځ ونکـړی او یـا مخـې تـه ستره ودروی ، او سـتره بایـد کـم نـه کـم یـو لاس یـا دوه ولیشـت اوږده او د غټې ګوتې برابر ډبـل وی (شـامی ۵۹۵/۱)[1] پـه ځینـو ځـایو کـی خلـک پـه صـحن کی سـنت کـوی او د هغـه لـه برانـډی نـه خلـک تیریـږی او برانـډه د صـحن نـه لـږ اوچت وی خلـک هغـه سـتره ګڼـی دا غلـط دی ، لهـذا د لمـونځ ګـذار پـه وړانـدې برانـډه کـې تیرېـدونکی هـم ګنهګـارېږي ، پـه حـرم شـریف کـی خلـک د لمـونځ ګـذارو پـه وړانـدې تیرېـږي پـه هغـه بانـدې ددی ځـای جوماتونـه قیـاس کـول صحیح نه دی .

ـ په لمانځه کی د لوډ سپیکر استعمال څنګه دی؟

(۱۱ سـوال) لمانځـه کـی د لـوډ سـپیکر اسـتعمالولو بـاره کـی ستاسـو څـه تحقیـق دی ؟ ددې پـه ذریعـه چـې آواز لمـونځ ګـذارو تـه رسـېږي هغـه د امـام اصـلی اواز دی نقلـی نـدی دا تحقیـق شـوی دی اوس خـو زمـا خیـال پـدې کـې کومـه خبـره نشـته ، د دارالعلـوم دیوبنـدد نائـب مفتـی مولانـا جمیـل الرحمـان صـاحب پـه لـوډ سـپیکر بانـدې د لمـونځ صـحیح کیـدو تـازه فتـوی چـې د حضـرت شـیخ الاسـلام (رح) دسـتخط وربانـدې شـته او د ((الجمعیـة)) شـیخ الاسـلام نمبـر ۶۰۵ دویـم کـالم کـی شـائع شـوې ده ، د هغـه حاصـل دا دی چـې پـه لـوډ سـپیکر بانـدې لمـونځ کـول صـحیح دی او لـرې او نـزدې صـفونو ددې پـه آواز بانـدې اقتـدی کـول صحیح دی .

(جواب) کـوم وخـت کـی چـې د سـائنس والاو تحقیـق او تجربـه دا وه چـې د لـوډ سپیکر پـه ذریعـه د امـام کـوم اواز چـې لـرې مقتـدیانو تـه رسـېږي ، هغـه اصـلی آواز نه بلکې نقلی دی په هغـه وخـت کـې علمـاؤ د لـوډ سـپیکر پـه آواز بانـدې د اقتـداء نـه صـحیح کیـدو او د لمـونځ فاسـدیدو فتـوی ورکـړې وه اوس کلـه نـه چـې د سـائنس والاو رایـه بدلـه شـوې ده چـې نقلـی نـه اصـلی آواز دی لـه هغـه وخـت د

---

[1] ـ و يغرز ند با بدائع الامام و كذا المنفرد و فى الصحراء و نحو ها سترة بقدر ذراع طولا و غلظ اصبع لتبدو للناظ بقربه قبيل مكروهات الصلوة ص ۵۹۶.

علماؤ فتوی هم بدله شوې ده ، د لوډ سپیکر په آواز باندې اقتداء صحیح ده او لمونځ نه فاسدېږي ، مګر د اقتداء صحیح کېدو او د لمونځ نه فاسدېدو سره د ممانعت او د کراهت نور وجوهات نشي ختمیدلی ، هغه پخپل ځای پاتې دی ، لهذا علی الاطلاق او عام طور باندې د اجازت فتوی او داستعمال مشوره نشي ورکول کیدی یواځی دومره ګنجائش پیدا شو چې په لوډ سپیکر باندې ادا شوی لمونځ صحیح دی فاسد او واجب الاعاده نه دی ، د کراهت څو وجې دا دی :-

(۱) د لمانځه په دوران کی لوډ سپیکر خرابېږي نو خامخا د لرې صفونو والاؤ لمونځ ... ګډوډی پیدا کېږي او د فقه مسلمه قاعده ده چې ((در المفاسد اولی ... جلب المنافع)) یعنی د فائدی حاصلولو نه د خرابیو او ضررونو رفع کول او ورنه ځان ساتل مقدم او ضروری دی ، کله چې د فائدی سره خرابی هم وی نو د خرابی نه بچ کیدو لپاره مامر به فعل (مثلاً لمانځه کی د لوډ سپیکر استعمال) نه منع کیدل ضروری دی ، وګورئ په اودس او غسل کی غرغره کول او پوزې ته دننه اوبه رسول مسنون دی مګر مرې ته اوبه داخلیدو له ویرې او دماغو ته د اوبو رسیدو په احتمال روژه دار لپاره منع او مکروه دی او د ویښتانو خلالول منع او مکروه دی (الاشباه والنظائر) (۱۱۴ ، ۱۱۵ صفحی القاعدة الخامسة ، الضرر یزال)

(۲) په لوډ سپیکر کی قرائت او د تکبیرونو آواز د ضرورت نه ډېر زیات اوچتېږي او په اعتدال او کنټرول کې نه پاتې کېږي او حال دا چې په قرائت ، د رکوع و سجدو په تکبیرو کی د آواز د اعتدال حکم دی ، د حد نه زیات اواز ویستل مکروه دی (در مختار طحطاوی ۴۳۷/۱ ، قوله بقدر حاجة للاعلام الخ) و ان زاد کره (شامی ۴۴۳/۱ باب صفة الصلوة مطلب فی التبلیغ خلف الامام) و یجهر الامام وجوباً بحسب الجماعة فان زاد علیه اساء (در مختار مع شامی ۴۹۷/۱ فصل فی القراة)

(۳) د لوډ سپیکر د حد نه زیات اوچت آواز په سبب خشوع و خضوع او حضور قلبی کی (کوم چې د لمانځه روح دی) خلل او نقصان پیدا کېږي ، ایت کریمه (و لا تجهر بصلوتک و لا تخافت بها و ابتغ بین ذلک سبیلاً) (سورت بنی اسرائیل) یعنی خپل لمانځه نه ډېر په زوره قرائت کوه او نه ډېر

ورو ددې دواړو تـر مـنځ درمیانـه لاره اختیـار کـړه ، ددې ایـت پـه تفسـیر کـې مفسرینو لیکلـی دی چـې درمیانـه آواز سـره قرائـت کولـو بانـدې پـه زړه بانـدې اثـر کیږي او د حد نه زیات اوچت آواز سره حضور قلبی کی خلل راځي.

(۴) دلوډ سپیکر استعمال اسرار تکلف دی او حـال دا چـې پـه عبادانو او خـاص طور په لمانځه کـی د سـادګی اختیـارولو او د تکلف نـه ځـان سـاتلو خـاص اهتمـام پکـار دی ، حضـرت شـاه ولـی الله (رح) فرمـایی : پـه عبـادت کـی تشـدد او تکلـف کـول د دیـن د تحریفـاتو لـه اسـبابو څخـه دی او دا د یهـودو او نصـاراؤ د راهبـانو بیمـاری ده (حجـة لله البالغـة بـاب احکـام الـدین مـن التحریـف) (دا حوالـه لمونځ او خطبی لپاره د لـوډ سـپیکر استعمال ، عنـوان لانـدې تیـره شـوې ده هلتـه دې وکتل شي (۲۰) صفحه مرتب)

(۵) د لـوډ سـپیکر رواج عـام کیـدو سـره د امـام اواز کـافی کیـدو بـاوجود بـه ددې اسـتعمال کیـږي (د عوامـو پـه حـدودو کـې دننـه اوسـیدل عادتـاً ممکـن نـدی) ددې ناجائز او لـوی بـدعت کیـدل ظـاهر دی ، فقهـاء لیکـی ، کلـه چـې د امـام آواز لمونځ ګذارو تـه رسـې نـو بیـا د مکبرینـو انتظـام کـول د څلـور واړه امامـانو پـه نـزد مکروه او بدعت دی :-

((و اعلـم التبلیـغ عنـد عـدم الحاجـة الیـه بـان بلغهـم صـوت الامـام مکروه و فـی السـیرة الحلبیـة اتفـق الائمـة الاربعـة علـی ان التبلیـغ حینئـذ بدعـة منکـرة ای مکروهـة)) (شـامی ج۱ ص ۳۴۴ بـاب صـفة الصـلوة مطلـب فـی التبلیـغ خلـف الامام).

دا فتـوی د ((پیغـام)) اول جلـد پـنځم ګنـه د ۱۹۵۳ عــ کـال اګسـت میاشـت کـی نشر شـوې وه او بیـا دوه میاشـتی وروسـته اکتـوبر ۱۹۵۳ عــ کـی د کراچـی (پاکسـتان) نه د ((آلـه مکبـر الصـوت شرعی احکـام)) پـه نامـه رسـاله نشر شـوه چـې پـه هغـه کـی د پاکسـتان مفتـی اعظـم حضـرت مولانـا محمـد شـفیع صـاحب پـه ډیـر تفصیل سـره پـدې مسـئله بانـدې بحـث کـړی دی ، الحمـد لله ثـم الحمـد لله د حضـرت مفتی صاحب د فتوی څخـه هـم د احقر د فتـوی تائیـد کیږي ، پـدې فتـوی کـی د سـائنس والاؤ تحقیـق معتبـر منلـو یعنـی د لـوډ سـپیکر آواز د امـام اصـلی آواز منلـو سـره د اقتـداء او لمـونځ صـحیح کیـدو فیصـله ورکـړې ده او ورسـره یـې پـه لمانځـه کی د لوډ سپیکر پـه اسـتعمال کـې کـوم کـوم قباحتونـه دی د هغـو پـه شـمیرلو سـره

فرمایلي دي . ددې زیاتو مفاسدو د یوې فائدې سره مقابله کولو سره وګوري نو یو عاقل انسان په لمانځه کی ددې استعمال ته مستحسن نشي ویلی . د یو شئ د مقاصدو څخه نظر قطع کولو سره د هغه سطحی فایدی ته کتل او هغه شئ پسې کیدل د کوم عقل مند کار نشي کېدی (۱۹ صفحه) او فرمایی : لنډه خبره دا ده : پدې معامله کی د شرعی او عقلی اصولو او قواعدو مقتضی دا معلومېږي (والله سبحانه و تعالی اعلم) چې په لمانځه کی د لوډ سپیکر استعمال صحیح او مناسب نه دی لدینه ډېره کول پکار دی ، ساده او مسنون طریقی سره په لویو جماعتو کی د مکبرینو په ذریعه د انتقالاتو تکبیرونه دی آخر صفونو ته ورسول شي همدا کار د خیر او برکاتو جامع او د مفاسدو نه پاکه طریقه ده ، ددې اختیارول پکار دی (۲۰ صفحه)

حضرت مفتی شفیع صاحب بله خرابي دا ښودلې ده چې په کوم ځای کی نزدې نزدې جوماتونه وي نو د یو جومات د امام آواز د بل جومات د امام آواز سره ټکر کېږي او په لمانځه کی خلل راځي لکه څنګه چې دلته په کراچی کې کېږي (۱۸ صحفه)

((پدې ذکر شوی رساله باندې د دیوبند د اکابرو علماؤ وغیره تصدیقی لیکنی او دستخطونه په لاندی ډول دی :-

((د موجود حالاتو او واقعاتو او د دې عصر د علماؤ اقوال و مباحث او د سائنس دانانو د نظریاتو او تحقیقاتو په رڼا کی دا یو معتدله او متوسطه فیصله ده چې په لمانځه کی ددې آلی په استعمال نه (ددې مفاسدو په بنا باندې کوم چې پدې مضمون کی نهایت وضاحت او تفصیل سره بیان شوی دی) احتراز وکړ شی چې ددې استعمال له کراهت نه خالی ندی)) حضرت مولانا مفتی مهدی حسن صاحب د دار العلوم دیوبند صدر مفتی حضرت مولانا محمد ابراهیم صاحب ، حضرت مولانا اعزاز علی صاحب وغیره وغیره .د سهارنپور مظاهر علوم د اکابرو تصدیقی لیکنی او دستخطونه :-

((که ددې فن (سائنس) د اکثرو قابل اعتماد ماهرینو دا رایه وی چې دا عین او اصلی آواز دی نو بیا وربانددې لمونځ کېږي مګر ددې استعمال په لمانځه کی دغو عوارضو په وجه کوم چې تاسو تفصیل سره بیان کړی دی ناجائز پاتې کېږي))

حضرت مولانا سعید صاحب صدر مفتی ، حضرت مولانا عبداللطیف صاحب ، حضرت شیخ الحدیث محمد زکریا صاحب او حضرت مولانا اسد الله صاحب.

د ملتان د خیر المدارس او د قاسم العلوم لسو علماؤ تصدیقی لیکنی:-

((حضرت مولانا مفتی اعظم محمد شفیع صاحب په لمانځه کی د لوډ سپیکر استعمالولو متعلق چې کومه رایه قایمه کړې ده دا بالکل صحیح او د مسئلې د اعتدال موافق ده ، یعنی په لمانځه کی ددې آلې استعمال د کمو مفاسدو په وجه د منع فتوی ورکړې ده او دا مفاسد داسی دی چې ددغو په واقعیت کی هیڅ قسم شبهه نشته))

حاصل دا چې د زیاترو علماؤ نظریه دا ده چې د لوډ سپیکر په آواز باندې اقتداء او لمونځ صحیح کېږي او د راګرځولو ضرورت نشته مګر ددې په استعمال کی ډېر مفاسد دی ، د نفع په نسبت د نقصان اړخ غالب دی ، د قرآن پاک د ایت (اثمهما اکبر من نفعهما) د اشاری مصداق دی لهذا د سلف صالحینو ساه او با برکت طریقه پرېښودو او د لمانځه په شان اهم عبادت کی داسې مخدوشی طریقی د اختیارولو مشوره نشی ورکول کېدی ، په خطبه کی هم ددې استعمال د خطبی د شان سره لائق نه دی ، فقط والله اعلم.

_ نقش و نګاروالا جای نماز باندې لمونځ کول:

(۱۲ سوال) یو داسې جای نماز (مصلی) چې د مسجد نبوی او د بیت الله شریف وغیره نقشی پرې جوړی شوی وی که پدې نقشو باندې د سری ښپې راشي نو شرعی حکم یې څه دی ؟ وضاحت وکړی جزاکم الله .

(جواب) په جای نماز باندې چې د کعبی وغیره کومې نقشی وی چونکی دا اصل ندی بلکی د هغه پشان یوه مصنوعی نقشه ده لهذا ددې احترام ضروری ندی ، او د مسلمانانو په زړونو کی ددې عظمت نه وي د اهانت څه خیال قدری هم نه وی نو بناءً که چیرته اتفاقاً په خطائی کی ورباندې ښپې راشي نو ګناه نشته او بهتره خو دا ده چې پداسې جای نماز باندې لمونځ ونه کړی شی چې خشوع او خضوع کی خلل راځی ، او د لمونځ روح خشوع او خضوع ده ددینه بغیر لمونځ بې روحه وی ، د لمونځ ګذار په وړاندې د نقش و نګار

موجود واني دده توجه او خیال خانته راګرځوي ، رسول الله (ص) د حضرت عائشه (رض) په دروازه باندې یوه بنایسته پرده لیدلو سره وفرمائل : دا لرې کړه دده دا ګلان او نقشي زما لمونځ خرابوي (صحیح بخاری ۵۴/۱)[1]
او رسول الله (ص) ګلدار څادر هم ځان لپاره ندی خوښ کړی او فرمایلي دی چې دا څادر ما په لمانځه کې غافل کوي (صحیح مسلم ۲۰۸/۱)[1] ددې حدیث په شرح کې امام نوری (رح) فرمایي :- د محراب ، جوماټ او د قبلې طرف دیوال باندې نقش و نګار پدې وجه مکروه دی چې دا څیزونه د لمونځ ګذارو توجه او خیالات ځانته راګرځوي ، او رسول الله (ص) د ګلدار څادر د لرې کولو په وخت همدا علت بیان کړی ؤ چې ددې نقش و نګار زما توجه او خیال د لمانځه نه اړوي (نوري شرح مسلم[2] (فتاوی رحیمیه ۱۷۲/۲)[3] فقط ، ۷ ربیع الاول ۱۴۰۱ هـ

ـ د ماسخوتن نه وروسته دنیاوي خبرو کې مشغولیدل:

(۱۳ سوال) په جوماټ کې مجلس جوړولو سره د شپې دولسو بجو پورې دنیاوي خبرې کول څنګه دي ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.
(جواب) په جوماټ کې د دنیا خبرې کول حرام دي ، د جوماټ نه باهر هم دومره ناوخته پورې دنیاوي غیر ضروري خبرو کې مشغولیدل بد کار دی څکه چې د ماسخوتن نه وروسته د از ویده کیدو حکم دی ، په حدیث کې ماسخوتن نه وروسته د بې کاري دنیاوي خبرو نه منع شوی دی لهذا د ماسخوتن نه وروسته دومره ناوخته پورې دنیاوي خبرې کول مکروه دي او

---

[1] ـ ((عن انس کان قرام لعائشة سترت به جانب بیتها فقال النبی صلی الله علیه وسلم امیطی عنه قرامک هـذا فانه لا تزال تصاویره تعرض فی صلاتی ، کتاب الصلاة ، باب ان صلی فی ثوب مصلب او تصاویر الخ))

[1] ((عن عائشة (رض) ان النبی (ص) کانت له خمیصة لها علم فکان یتشاغل بها فی الصلوة فاعطاها ابا جهم و اخذ کساء له انجانیه باب کراهیة الصلوة فی ثوب له اعلام))

[2] و کراهیة تزویق محراب المسجد و حائطه و نقشه وغیره ذلک من الشاغلات لان النبی صلی الله علیه وسلم جعل العلة فی ازالة الخمیصة هذا المعنی ایضا .

[3] ـ او د نوی ترتیب مطابق د مسجد احکام کی محراب کی د لمر تصویر جوړولو عنوان کی وګوری ۷۷/۹ ، صحیح.

داسې خلکو نه زياتره د سحر جماعت پاتې کېږي بلکې د خينو خو لمونځ هم قضاء کېږي

((و يكره النوم قبلها والحديث بعدها لنهى النبى صلى الله عليه وسلم عنهما الاحديثاً فى خير لقوله صلى الله عليه وسلم لا سمر بعد الصلوة يعنى العشاء الاخيرة الخ ... و انما كره الحديث بعد ها لانه ربما يؤدى الى اللغوا و الى تفويت الصح او قيام الليل لمن له عادة به و اذا كان لحاجة مهمة فلا باس .))

يعنى د ماسخوتن مخکې ويده کيدل او د ماسخوتن نه بعد دنياوى خبرو کى مشغوليدل مکروه دى ، البته د خير او د دين خبرې مکروه ندى ، د رسول الله (ص) ددې فرمان په بناء ((لا سمر بعد الصلوة)) د ماسخوتن نه وروسته دنياوى خرو کى مشغوليدل ندى پکار ، او دا ځکه مکروه دى چې ډېر کرته ددى په وجه په لغوه او بې کاره خبرو کې لګيا کېږي او کله کله د سحر لمونځ او د تهجد ګذار نه تهجد پاتې کېږي ، البته که ضرورى خبرې وي نو بيا پروا نشته (شامى ۳۴۱/۱) کتاب الصلوة تحت قوله و تاخير العشاء الى ثلث الليل)

او په ابو داؤد شريف کى حديث دى :

((عن ابى برزة قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم ينهى عن النوم قبلها (اى قبل صلوة العشاء لما فيه من خوف فوت الجماعة فى العشاء) والحديث بعدها (لا نه يؤدى الى الاكثار فيؤدى الى تفويت قيام الليل بل صلوة الصبح ايضاً)) (ابو داؤد شريف ج۲ ص ۳۱۸ باب فى السمر بعد العشاء)

د الله تعالى لپاره د وخت قدر وکړى او دا ژوند غنيمت وګڼئ کوم چې د واورى پشان ويلى کېږي ، د بزرګانو زرين او قيمتى نصيحت:

خيرى کن اى فلان و غنيمت شمار عمر - زآن پيشتر که بانګ برآيد فلان نه ماند.

يعنى د نيکى په کارونو کى لګيا ووسه او دا عزيز عمر غنيمت وګڼه لدينه وړاندې چې دا اعلان وشي چې فلانى لاړ (ګلستان) شيخ سعدى (رح) فرمايى:

جز ياد دوست هر چه کنى عمر ضائع است _ جز سر عشق هر چه بخوانى بطالت است.

سعدی بشوئی لوح دل از نقش غیر حق ـ علمی که لره بحق نه نماید جهالت است.

یعنی د الله تعالی د ذکر نه غیر په نورو کارو کی لګیا کیدل د ژوند بربادول دی او د عشق الهی نه علاوه چی ولوستل شي هغه بې کاره دی ای سعدی د زړه تخته دی د غیر الله له نقشو نه پاک او صفا کړه ، او په کوم علم سره چې الله ته رسیدل ونشي هغه علم ندی جهالت دی.

ـ د قنوت نازله په دعا کی اضافه کول:

(۱۴ سوال) زمونږه امام صاحب د موجوده حالاتو په اعتبار سره د سحر لمانځه کی قنوت نازله وایی چې یو جزء یې داسې دی :-

((اللهم اهلک الکفرة الذین یصدون عن سبیلک و یکذبون رسلک و یقاتلون اولیاءک ، اللهم انا نجعلک فی نحورهم و نعوذبک من شرورهم اللهم اجعل کیدهم فی تضلیل ، اللهم من یرد الاسلام خیراً و بالمسلمین خیراً فوفقه کل خیر و اجعلنا منهم اللهم من یرد الاسلام شراً و بالمسلمین شراً فاهلکه کما اهلکت عاداً و ثمود و لا تجعلنا معهم ، اللهم خذهم اخذ عزیز مقتدر ، اللهم الق فی قلوبهم الرعب ، اللهم لا تسلط علینا بذنوبنا من لا یخافک و لا یرحمنا، اللهم خالف بین کلمتهم و زلزل اقدامهم و انزل بهم باسک الذی لا ترده عن القوم المجرمین))

مطلب دا چې د عام مروجه دعاء څخه ځینی زیاتی جملی هم وایی نو زیاتی دعائیه جملی ویل څنګه دی ؟

(جواب) په حدیث کی دی : ((عن ابی هریرة (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا صلی احدکم للناس فلیخفف فان فیهم السقیم والضعیف والکبیر و اذا صلی احدکم لنفسه فلیطول ماشاء متفق علیه))

رسول الله (ص) فرمایی : کله چې په تاسو کی څوک امامت کوی نو باید چې مختصر او آسان لمونځ ورکړی ځکه چې په مقتدیانو کی بیمار ، کمزوری او بوډاګان هم وی او کله چې ځانته لمونځ کوی نو څومره اوږد لمونځ چې کول غواړي ودې کړی (مشکوة شریف ۱۰۱ صفحه باب الامامة) لهذا اصل حکم د تخفیف دی او دا اوږدول د تخفیف خلاف دی نو دا باید عادت جوړ

نـه کـړی شـی او کـه کـوم وخـت کـی د حـالاتو پـه مناسبت ولوستی شـی نـو څـه پرواه نشته . فقط والله اعلم.

(۱۵ سـوال) پـدې اوسنی حـالاتو کـی قنـوت نازلـه لوسـتل کیـدلی شـی مګـر امـام صـاحب بانــدې جبــر او زور نــدی پکــار ، امــام صــاحب پخپلــه ددې ضــرورت محسوسـولو سـره ووایـی د سـخت مصیبت او پریشـانی پـه وخـت کـی قنـوت نازلـه ویل د حدیث شریف نـه ثابـت دی لـیکن د معمـولی حـادثې پـه وخـت کـی ویـل او تـر ډېـری مـودې پـورې جـاری سـاتل مناسـب نـدی ځکـه چـې دا طریقـه د قنـوت نازلـه د اهمیـت او د خلکـو لـه زړونـو نـه ددی عظمـت ختمولـو او ویسـتو سـره برابره ده.

((فـی شـرح المنیـة حیـث قـال بعـد کـلام فتکـون شـرعیته ای شـرعیة القنـوت فـی النوازل مستمرة وهو محمـل قنـوت مـن قنـت مـن الصحابة بعـد و فاتـه علیـه الصـلوة والسلام)) (شامی ج ۲ ص ۱۱ باب الوتر والنوافل مطلب فی النوت للنازلة)

ــ د قنوت نازله باره کی تفصیل:

(۱۶ سـوال) نـن د اسـلامی ملـت د سـوونو کلونـو عـزت او د اسـلام عظمـت او شـان او شـوکت ختمولـو لپـاره د اسـلام دشـمنان (یهـود و نصـاری) نـه سـتړی کیـدونکی هلـی ځلـی کـوی پداسـې نـازک حـالاتو کـی د قنـوت نازلـه د لوسـتو متعلـق د شریعت څـه حکـم دی او موجـوده حـالاتو کـی کـوم یـوه دعـا پکـار ده ؟ راله یې ولیکئ

(جـواب) بیشـکه موجـوده حـالاتو کـی څـو پـورې چـې د بیـت المقـدس جنـګ جـاری وی قنـوت نازلـه ویـل پکـار دی ، امـام تـه چـې کومـه قنـوت نازلـه یـاد وی ودې وایی ، دا لاندې دعاء ویل هم ښه ده :-

((اللهـم انصـر الاسـلام والمسـلمین وانـزل وعـدک و کـان حقـاً علینـا نصـر المـؤمنین والمؤمنـات والمسـلمین والمسـلمات و الـف بـین قلـوبهم و اصـلح ذات بیـنهم وانصرهم علـی عـدوهم ، اللهـم اهلـک کفـرة الـذین یصدون عـن سـبیلک و یکـذبون رسـلک و یقـاتلون اولیـاءک اللهـم خـالف بـین کلمتهمـو زلـزل اقـدامهم و شـتت شملهم و فرق جمعهم و انزل بهم باسک الذی لا ترده عن القوم المجرمین))

همدا شان کله چې سـخته سـیلئ راشـي او یـا زلزلـه وشـي ، تنـدر پریـوځی ، سـتوری مـات شـي یـا ډېـر زیـات واوره وشـي او داسـې نـور آفتونـو پـه وخـت کـی د لمـونځ

کولو او دعاء کولو حکم دی : ((اذا فرغو امن الصلوة دعوا الله و تضرعوا الی ان تجلی الشمس و فی خسوف القمر لا یصلون جماعة بل فرادی فرادی کذا اذا اشتدت الاهوال والافزاع کالریح والبرق اذا شتدت والسماء اذا ادامت مطر او ثلجا او احمرت والنهار اذا اظلم و سائر المخلوقات و کذا عم المرض)) (فتاوی سراجیة ، ۲۱ ، و ص ۲۲)

او همداسی کوم سخت مصیبت او ناڅاپي آفت راشي ، د جنګ بربادونکی حالات را ولاړ شي ، د قومی فساد اندېښنه وی ، طاعون خور شوی وی او یا کلورا زور اخستي وی نو د داسې پریشانیو څخه بچ کیدو لپاره او ددې افتونو تر ختمیدو پورې د سحر لمونځ په دویم رکعت کې د رکوع نه وروسته په قومه کی لاسونو ترلو (د دلیل له مخې لاسونه ترل غوره دی) سره امام او مقتدیان به قنوت نازله وایی ، که چیرې مقتدی ته دعاء یاد نه وی نو امام به لږ په زوره وایی او مقتدی به ورباندې آمین وایی :

((والذی یظهر لی ان المقتدی یتابع امامه الا اذا جهر فیؤمن و انه یقنت بعد الرکوع لا قبله)) (شامي ج ۱ ص ٦٢۴ باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة)

قنوت نازله داده:

((اللهم اهدنا فیمن هدیت و عافنا فیمن عافیت و تولنا فیمن تولیت و بارک لنا فیما اعطیت و قنا شرما قضیت فانک تقضی و لا یقضی علیک و انه لا یذل من والیت و لا یعز من عادیت تبارکت ربنا و تعالیت ، نستغفرک و نتوب الیک و صلی الله علی النبی الامی و اله و اصحابه وسلم)) (مشکوة شریف باب الوتر ص ۱۱۲). (نور الایضاح ایضاً ج۹۴)

ترجمه : یا الله د هغو خلکو سره مونږ ته هم هدایت نصیب کړی کومو ته چې تا هدایت کړی او مونږ ته هم د هغو خلکو سره د آفتونو او مصیبتونو څخه نجات راکړی کومو ته چې تا نجات ورکړی دی او د هغو خلکو سره مونږ ته هم محبت نصیب کړی کومو سره چې تا محبت کړی ، او څه چې تا مونږ ته راکړی په هغه کی برکت واچوی او مونږ د هغه شر نه وساتی کوم چې مقدر دی ، بیشکه ته حاکم یې محکوم نه یې او چا سره چې ته محبت وکړی هغه ذلیل کیدی نشي او چا سره چې ستا دشمنی شی هغه عزت نشي موندلی ای

الله ستا ذات لوی او اوچت دی مونږ لـه ئـا نـه مغفرت غواړو او تاتـه رجـوع کـوو او رحمتونــه او ســلامتیا نــازل کـړه پــه رســول الله (ص) او دده پــه آل او صــحابه کرامو باندې.

یقینـاً د مصـیبتونو او آفتونـو د رفـع او دعـاء کولـو لپـاره دا خـاص وخـت دی لـیکن یواخی دعـاء کـول کـافی نـدی بلکـی د کومـو ګنـاهونو پـه وجـه چـې دا مصیبتونه راخـی د هغـو نـه توبـه کـول او پرېښـودل لازم او ضـروری دی ، قنـوت نازلـه کلـه او څـه وخـت پـورې ووایـی ؟ ددې تعیـین علمـاء کـولی شـی ، الله تعـالی فرمـایی : ((ظهر الفسـاد فـی البـر والبحـر بمـا کسـبت ایـدی النـاس لیـذیقهم بعـض الـذی عملـوا لعلهم یرجعون)) یعنـی پـه دریـاب او ځنګـل کـی فسـاد خـور شـو د خلکـو د کـړو وړو پـه وجـه تـر څـو د خپـل عمـل مـزه وڅکـی دی لپـاره چـې ترینـه راوګرځـی (سورت روم په ۵ رکوع)

لهذا په ګناهونو کی ډوب کیـدو سره رسمی طـور سره قنـوت نازلـه ویـل څـه معنـی نلری ، لکـه پـه کـوهی کـی چـې مـړه پریـوځی نـو کـوهی پلیتیـږي نـو اول د مـړی ویستل کیدو او بیـا وروسـته شـل دیـرش بـوقی اوبـه ویستو سره کـوهی پـاکیږي او د مړې ویستو نه بغیر شل دیرش بوقی اوبه ویستو باوجود کوهی نه پاکیږي.

بالکـل همـدا شـان د ټولـو نـه مخکـې د ټولـو ګنـاهونو نـه توبـه کولـو سـره وروسـته آفتونو د لری کولو لپاره قنوت نازلـه ویـل پکـار دی نـو هلـه بـه مقصـود حاصـل شـي د ګناهونو څخه پوخ او رشـتونی تـوبی نـه بغیـر او ګنـاهونو کـی اختـه کیـدو سـره د قنوت نازله ویلو څه مطلب ؟ فقط والله اعلم.

ـ د استخاری لمونځ:

(۱۷ سـوال) د واده او اهمـو کـارو لپـاره اسـتخاره کـولی شـی ددې طریقـه او دعـاء راته ولیکی .

(جـواب) د کومـو کـارونو لپـاره چـې اسـتخاره مستحب ده د هغـه طریقـه دا ده چـې د شـپې ویـده کیـدو پـه وخـت کـی د اسـتخاری پـه نیـت دوه رکعتـه لمـونځ وکړي او د سلام نه وروسته ښه په توجه سره دا لاندنی دعاء وکړی :

((اللهم انـی اسـتخیرک بعلمـک و اسـتقدرک بقـدرتک و اسـئلک مـن فضـلک العظـیم، فانـک تقـدر و لا اقـدر و تعلـم و لا اعلـم و انـت عـلام الغیـوب ، اللهـم ان کنـت تعلـم ان هذا الامر خیر لی فی دینـی و معاشـی و عاقبـة امـری فاقـدره لـی و یسره لـی ثـم

بارک لی فیه و ان کنت تعلم ان هذا الامر شر لی فی دینی و معاشی و عاقبة امری فاصرفه عنی و اصرفنی عنه و اقدر لی الخیر حیث کان ثم ارضنی به))
او لدینه وروسته پاک صفا بستره باندې مخ په قبله اودس سره څملی ، تفصیل لپاره بهشتی زیور دویمه حصه د استخاری بیان (۳۲) صفه وګوری ، فقط والله اعلم.

ـ په آذان او خطبه کی د لوډ سپیکر استعمال :

(۱۸ سوال) زمونږ پدې ځای کی یو سخی سړی جومات ته یو مائک ورکړی چې پنځه وخته آذان او د جمعې خطبه کی استعمالېږي ، په اذان کی خو یې استعمال په ځای دی ځکه چې بغیر د مائک نه د اذان آواز کلی ته نه رسېږي لیکن د خطبی آواز خو حاضرینو ته رسېږي ، پدې صورت کی د مائک استعمال څنګه دی؟

(جواب) پدې مسئله کی کله چې د اذان آواز کلی ته نه رسېږی نو بغیر د شک نه د مائک استعمال جائز دی ، افضل خو دا دی چې که اوچت آواز والا مؤذن پیدا کیده هغه مقرر کړی شی او مائک استعمال نکړی ، او که په خطبه کی د خطیب آواز حاضرینو ته نه رسیده نو علماء کرامو طوعاً و کرهاً (چار او ناچار) د مائک د استعمال اجازه ورکړې ده ، لیکن د خطیب آواز حاضرینو ته د رسیدو په صورت د مائک استعمال یو فضول کار دی جائز نه دی ، د فقه په کتابونو کی تصریح ده چې د امام انتقالاتو د تکبیرونو اواز مقتدیانو ته د رسیدو په صورت کی د مکبرینو تقرر او تعیین د څلور واړو امامانو په نزد مکروه او بدعت دی :-

و فی حاشیة ابی السعود و اعلم ان التبلیغ عند عدم الحاجة الیه بان بلغهم صوت الامام مکروه و فی السیرة الحلبیة اتفق الائمة الاربعة علی ان التبلیغ حینئذ بدعة منکرة ای مکروهة)) (شامی ج ۱ ص ۴۴۴ باب صفة الصلوة ، تحت مطلب فی التبلیغ خلف الامام)

لهذا پدې مسئله کی کله چې د خطبی آواز رسیده نو د مائک استعمال شرعاً ممنوع دی خطبه هم یو قسم عبادت ده ددې عبادت د عظمت لحاظ کولو سره تول لمونځ ګذار دی په یو اتفاق سره خطبه کی د مائک استعمال نه کړی، فقط والله اعلم.

ـ په لويو اجتماعاتو کې د مکبر مقررولو باوجود وروستي صفونو کې انتشار کيږي نو پدې صورت کې د لوډ سپيکر د استعمال گنجائش شته يا نه؟

(۱۹ سوال) لمانځه کې د لوډ سپيکر د استعمال متعلق ستاسو د فتاوی رحيميه ۲۹،۲۰/٦ وغيره ځايو کې چې کوم جوابونه دی هغه ماشاء الله ډېر مدلل او قابل عمل دی ليکن حضرت يوه خبره عرض کوم کله په تبليغی اجتماع کې ډېره لويه گڼه وی مکبرين مقررولو باوجود وروستی صفونو کې انتشار کېږي او کله خو د ډېر خلکو لمونځونه خرابېږي ، د داسې ضرورت په موقع باندې که لمانځه کې لوډ سپيکر استعمال کړی شي نو گنجائش شته يا نه ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) د لمانځه په شانِ اهم عبادت بايد د سلف صالحينو په ساده او با برکت طريقې مطابق ادا کړی شي پدې ذکر شوی صورت کې د امام په ځای امام ته نزد سړی (مکبر) لوډ سپيکر استعمال کړی نو ددې گنجائش شته او ددې طريقې په اختيارولو سره چې کوم تکليف او شکايت دی دا به ختم شي، او د تکلفاتو نه ځان وساتی او پداسې طريقه استعمال کړی چې ځای بند نه کړی نن صبا وړوکی غوندی مائک هم پيدا کېږي کوم چې په گريوان کې بندولی شی هغه دې استعمال کړی ، فقط والله اعلم.

ـ د استخارې د لمونځ اهميت ، ددی دعاء او طريقه :

(۲۰ سوال) د استخارې د لمونځ څه طريقه ده ؟ ايا استخاره د حديث نه ثابت ده ؟ استخاره څو ورځو پورې کول پکار دی ؟ او په استخاره کې د زړه ميلان کافی دی يا په خوب کې څه ليدل ضروری دی ؟ وضاحت وکړی خير يوسئ.

(جواب) هو کله چې د کوم کار اراده وی نو استخاره کول د حديث نه ثابت دی او په حديث کې ددی ډېر ترغيب راغلی دی په بهشتی زيور کې دی : مسئله : کله چې د کوم کار کولو اراده وکړی نود الله تعالی نه مشوره واخلی دی مشورې ته استخاره وايی په حديث کې ددی ډېر ترغيب راغلی دی ، نبی کريم (ص) فرمايلی دی چې الله تعالی څخه مشوره نه اخستل او

استخاره نه کـول بـدبختی او کـم نصـیبی ده ، چیرتـه کـوژده یـا واده کـوی یـا سـفر او کوم بل کار کوی نو بغیر د استخاری نـه یـې مـه کـوئ نـو کلـه بـه هـم انشـاء الله پـه خیلـو کـړو بانـدې پښـېمانه نشـئ (بهشـتی زیـور (۳۷) صـفحه دویمـه حصـه د استخاری د لمونځ بیان)

په حدیث کی دی : ((عـن جـابر بـن عبـد الله قـال کـان رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم یعلمنـا الاسـتخارة فـی الامـور کلهـا کمـا یعلمنـا السـورة مـن القـرآن یقـول اذا هم احدکم بـالامر فلیرکـع رکعتـین مـن غیـر الفریضـة ثـم لیقـل اللهـم انـی اسـتخیرک بعلمـک و اسـتقدرک بقـدرتک و اسـئلک مـن فضـلک العظـیم فانـک تقـدر و لا اقـدر و تعلم و لا اعلم و انت علام الغیـوب اللهـم ان کنـت تعلـم ان هـذا الامـر خیـر لـی فـی دینی و معیشتی (و معاشی) و عاقبة امـری فاقـدره لـی و یسره لـی ثـم بـارک لـی فیـه و ان کنـت تعلـم ان هـذا الامـر شـر لـی فـی دینـی و معاشـی و عاقبـة امـری فاصـرفه عنی و اصرفنی عنه و اقـدر لـی الخیـر حیـث کـان ثـم ارضـنی بـه)) (ترمـذی شـریف ج ۱ ص ٦٣ باب ماجاء فی صلوة الاستخارة)

ترجمـه : د حضـرت جـابر بـن عبـد الله (رض) نـه روایـت دی چـې رسـول الله (ص) به مـونږ تـه پـه ټولـو کـارو کـی د اسـتخاری تعلیم راکولـو لکـه څنګـه بـه چـې مـونږ تـه د قـرآن پـاک د سـورت تعلـیم راکولـو ، رسـول الله (ص) وفرمایـل : کلـه چې یو څوک پـه تاسـو کـی د کـور کـار اراده وکـړی نـو دوه رکعتـه نفـل لمـونځ دې وکړی او بیا دې وروسـته دا دعـاء ولـولی اللهـم انـی ... اه الـی الله زه لـه تـا نـه سـتا د علم په وجه خیر غـواړم او سـتا د قـدرت پـه وجـه درنـه قـدرت غـواړم او سـتا نـه د لوی فضل سـوال کـوم څکـه چـې تـه قـدرت لـری او زه قـدرت نـه لـری او تـه عـالم یې زه علم نلـرم ، یـا الله تعالی کـه سـتا پـه علـم کـی وی چـې دا کـار (د کـوم کـار لپاره چې اسـتخاره کـوی هغـه بـه زړه کـی راولـی) مـا لپـاره بهتـر دی زمـا پـه دیـن کی او زما دنیا لپاره او زما د کار انجـام لپـاره نـو هغـه مـا لپـاره مقـرر کـړه او مـا لپـاره یې آسان کړه او ماته پکـې برکـت واچـوی او کـه سـتا پـه علـم کـی وی چـې دا کـار ما لپاره زما دین ته او زما دنیا ته او زما انجـام د کـار تـه ښـه نـدی نـو هغـه لـه مـا نـه لری کړه او ما د هغـه نـه لـرې کـړه او ماتـه خیـر نصیب کـړه او هـر خـای کـی چـې وی او بیـا مـا پـرې راضـی کـړه ، (شـامی ۱/٦٤٢ مطلـب فـی رکعتـی الاسـتخارة بـاب الوتر والنوافل ، بهشتی زیور (۳۷) صفحه دویمه حصه)

کـه چیرتـه یـوه ورخ کـی څـه معلـوم نشـي او د زړه اطمئنـان حاصـل نشـي نـو پـه دویمه ورخ به بیا کـوی همـدا شـان تـر اوه ورخـو پـورې بـه کـوی انشـاء الله د هغـه کار ښه والی او بد والی بـه معلـوم شـي ، خـوب لیـدل ضـروری نـدی . اصـل شـئ د زړه میلان دی ، اګر که ځینـی وخـت د خـوب پـه ذریعـه هـم راهنمـائي کیـږي . کـه په څه وجه سـره لمـونځ کـول مشـکل شـي نـو یـواځی پـه ذکـر شـوی دعـاء بانـدې هم اکتفـاء کـولی شـی او مناسـب دا دی چـې د اسـتخاری لمـونځ اول رکعـت کـی سـورت الکـافرون او پـه دویـم رکعـت کـی سـورت اخـلاص ووایـی ، او ځینـی حضـرات فرمـایی چـې اول رکعـت کـی بـه دا هـم ورسـره وایـی (و ربـک بخلـق مـا یشاء و یختار ما کـان لهـم الخیـرة سـبحان الله و تعـالی عمـا یشـرکون و ربـک یعلـم مـا تکـن صـدورهم و مـا یعلنـون) (سـورت قصـص نمبـر ۷ رکـوع (۸-۹ ایـت) او پـه دویـم رکعـت کـی بـه دا زیـاتوی : (و مـا کـان لمـؤمن و لا مؤمنـة... الـخ) (سـورت احزاب ۲٦) او پـه شـامی کـی د ی ((و فـی الحلیـة و یسـتحب افتتـاح هـذا الـدعاء و ختمه بالحمد لة والصلوة و فـی ذکـار انـه یقـرء فـی الرکعـة الاولـی الکـافرون و فـی الثانیة الاخلاص اه و عن بعـض السـلف انـه یزیـد فـی الاولـی و ربـک یخلـق مـا یشـاء و یختـار الـی قولـه یعلنـون و فـی الثانیـة و مـا کـان لمـؤمن و لا مؤمنـة الایـة و ینبغـی ان یکررهـا سـبعاً لمـا روی ابـن السـنی یـا انـس اذا هممـت بـامر فاسـتخر ربـک فیـه سبع مرات ثم انظـر الـی الـذی سـبق الـی قلبـک فـان الخیـر فیـه و لـو تعـذرت علیـه الصلوة اسـتخار بالـدعاء اه ملخصـاً و فـی الشـرح الشـرعة المسـموع مـن المشـائخ انـه ینبغی انه یبغی ان ینـام علـی طهـارة مسـتقبل القبلـة بعـد قرائـة الـدعا المـذکور فـان را فی منا منه بیاضـاً او خضـرة فـذلک الامـر خیـر و ان رای فیـه سـواداً او حمـرةً فهـو شـر ینبغـی ان یجتنـب اه (شـامی ص ٦۴۲ و ص ٦۴۳ ج۱ مطلـب فـی رکعتـی الاستخاره)) .

ـ د لمونځ د انتظار فضیلت او ثواب حاصلولو لپاره په اودس کی کیدل شرط دی :

(٢١ سوال په حدیث کی دی ((لا یزال احدکم فی صلوة ما انتظر الصلوة)) یعنی څو پوري چې د تاسو یو تن د لمونځ انتظار کوی هغه په لمانځه کی حسابېږي ، نو ایا دې لپاره په اودس کی کیدل شرط دی او که د افضلیت بغیر د اودس نه د لمونځ انتظار کونکی لپاره هم شته ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : او اودس شرط دی په اودس سره انتظار کونکی لپاره دا فضیلت او ثواب دی ، لکه چې حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی (رح) فرمایی :

((و انما انقضی ثواب الانتظار بالحدث لانه لا یبقی متهیئة للصلوة))

یعنی جزاء د عمل په شان وی او اودس ماتیدو سره د انتظار ثواب ځکه قطع کېږي چې پدې وخت کی د لمونځ تیاری نه پاتې کېږي (حجة الله البالغة ٤٧٩/١) والله اعلم.

ـ د فرض لمانځه نه وروسته د اجتماعی دعاء ثبوت:

(٢٢ سوال) حضرت مولانا مفتی سید عبدالرحیم لاجپوری صاحب مد فیوضهم السلام علیکم ورحمة الله ستا په مقدس خدمت کی احترامانه عرض دی چې تاسو خپل فتاوی رحیمیه اول جلد (٢١٥ ، ١٦) صفحو کی (د نوی ترتیب مطابق دا سوال په همدی باب)) د فرض لمونځونو نه وروسته د سنتو او نفلو فارغ کیدو نه وروسته الحمد لله ویل به تر عنوان لاندې ٥٧ صفحه باندې مرتب) لیکلی دی : حواله ورکړئ او احقر هغه ولید مګر په هغه کی هم د فرض لمانځه نه وروسته لاسونه اوچتولو سره د اجتماعی دعاء کولو ثبوت ندی ، له تاسو نه دا درخواست دی چې که د صحابهٔ کرامو او سلف صالحینو د اجتماعی دعاء ثبوت وی نو په دلیل سره ولیکی ، ستاسو شکر ګذار به ووسم ، وضاحت وکړی. (له جلال آباد نه)

(جواب) بسم الله الرحمن الرحیم ، حامداً و مصلیاً و مسلماً و بالله التوفیق ، د دعاء ډیر فضیلت او تاکید راغلی دی ، په قرآن پاک کی دی :-

(١) (و اذا سالک عبادی عنی فانی قریب اجیب دعوة الداع اذا دعان) (سورت بقرة)

ترجمه : او کله چې زما بندګان له تا نه زما باره کی تپوس وکړی نو بیشکه زه نزدې یم د دعاء کونکی دعاګانی قبلوم کله چې ما راوبلی .
(۲) (ادعونی استجب لکم ، ان الذین یتکبرون عن عبادتی سیدخلون جهنم داخرین) (سورت مؤمن)
ترجمه : ما نه دعاء وغواړی زه یې قبلوم ، او کوم خلک چې زما د عبادت (دعاء) نه سر غړونه کوی هغوی عنقریب (مړ کیدو سره) ذلیل او خوار جهنم ته داخل شي .
(۳) (ادعوا ربکم تضرعاً و خفیة انه لا یحب المعتدین) (سورت اعراف)
ترجمه : خپل رب ته په عاجزی او په پټه سوال وکړی ، بیشکه الله تعالی د حد نه تیریدونکی نه خوښوی .
په حدیثونو کی هم د دعاء ډیر فضیلت او تاکید راغلی دی :-
(۱) (عن انس (رض) قال قال رسول الله (ص) الدعاء مخ العبادة) (مشکوة کتاب الدعوات (۱۹۴) صفحه) ترجمه : د حضرت انس (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : دعاء د عبادت مغز دی .
(۲) ((عن النعمان بن بشیر رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الدعاء هو العبادة ثم قرا و قال ربکم ادعونی استجب لکم رواه احمد والترمذی و ابو داؤد والنسائی و ابن ماجه)) (مشکوة شریف ص ۱۹۴ ایضاً)
ترجمه : د حضرت نعمان بن بشیر نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی دعاء پخپله عبادت ده او بیا یې دا ایت کریمه تلاوت کړ و قال ربکم ... او ستا رب فرمایلی دی ما نه دعاء وغواړی زه یې قبلوم .
دعاء د الله تعالی په نزد د ټولو نه معزز شئ دی ، په حدیث کې دی : ((عن ابی هریرة (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیس شئی اکرم علی الله من الدعاء رواه الترمذی)) (مشکوة شریف (۱۹۴) صفحه کتاب الدعوات) ترجمه : د ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دی د الله تعالی په نزد د دعاء نه زیات معزز او مکرم څیز بل نشته .
کله چې بنده دعاء کوی نو الله تعالی ته حیا ورځی چې د هغه لاسونه خالی واپس کړی ، په حدیث کی دی :

((عن سلمان (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان ربکم حیی کریم یستحی من عبده اذا رفع یدیه الیه ان یردهما صفراً رواه الترمذی)) (مشکوة شریف کتاب الدعوات ص ۱۹۵)

ترجمه : حضرت سلمان فارسی (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) ارشاد فرمایلی دی ستاسو رب حیاناک او کریم دی د خپل بنده څخه پدې باندې شرم کوی چې کله خپل لاسونه ورته پورته کړی او هغه ورته خالی واپس کړی چاته چې د دعاء توفیق وشي هغه لپاره د رحمت دروازې خلاصیږي ، په حدیث کی دی :

((عن ابی عمر (رض) قال قال رسول الله (ص) من فتح له منکم باب الدعاء فتحت له ابواب الرحمة)) (مشکوة شریف ص ۱۹۵) ترجمه : د ابن عمر (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی چا لپاره چې د دعاء دروازه پرانستی شوه نو هغه لپاره د رحمت دروازی پرانستی شوی ، بندګانو ته د دعاء حکم ورکړی شوی دی ، په حدیث کی دی : ((عن ابن عمر (رض) قال قال رسول الله (ص) فعلیکم عباد الله بالدعاء)) (مشکوة شریف ۱۹۵) ترجمه : د ابن عمر (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی ای د الله بندګانو دعاء په ځان لازم کړئ ، او د دعاء کولو طریقه دا ده چې د دواړو لاسونو په اوچتولو سره به دعاء کوی او فارغیدو سره به دواړه لاسونه په مخ باندې راکاږی ، په حدیث کی دی : ((عن مالک بن یسار رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا سالتم الله فاسئلوه بطون اکفکم و لا تسئلوه بظهورها و فی روایة ابن عباس رضی الله عنه قال سلوا الله بطون اکفکم و لا تسالوه بظهورها فاذا فرغتم فامسحوا بها وجوهکم رواه ابو داؤد)) (مشکوة شریف ایضاً ص ۱۹۵)

ترجمه : د حضرت مالک بن یسار نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی کله چې تاسو د الله نه دعاء غواړئ د خپلو لاسونو په ورغوو سره کوی د لاسونو په شاګانو سره مه کوئ ، او د ابن عباس (رض) په روایت کی دی چې رسول الله (ص) فرمایي د خپلو لاسو په ورغوو سره سوال کوئ او د لاسونو په شاګانو سره مه کوئ او کله چې دعاء نه فارغ شئ نو لاسونه خپلو مخونو باندې راکاږئ ، په دعاء کی لاس اوچتول د رسول الله (ص) عادت ؤ ،

((عن السائب بن یزید عن ابیه ان النبی (ص) کان اذا دعاء فرفع یدیه مسح وجهه بیدیه))

ترجمه : حضرت سائب (رض) خپل پلار نه نقل کوی چې رسول الله (ص) به کله دعاء کوله نو خپل دواړه لاسونه به یې اوچتول او فارغیدو سره به خپل مبارک مخ باندې رانښکل ((عن عمر (رض) قال کان رسول الله (ص) اذا رفع یدیه فی الدعاء لم یحطهما حتی یمسح بهما وجهه)) رواه الترمذی (مشکوة شریف کتاب الدعوات)

ترجمه : د حضرت عمر (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) به کله خپل لاسونه دعاء ته اوچت کړل نو تر هغې پورې به یې نه ښکته کول چې څو پورې به یې خپل مخ مبارک باندې نه وو لانښکلی.

په دعاء کې لاس اوچتول د دعاء د قبولیت علامه ده په حدیث کې دی :-

((عن ابی هریرة (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما من عبد یرفع یدیه حتی یبدو ابطه یسال الله مسئلة الا اتاها ایاه ما لم یعجل قالوا یا رسول الله و کیف عجلته قال فیقول قد سالت و سئالت فلم اعط شیئاً .)) (ترمذی شریف ص ۲۲۰ کتاب الدعوات)

ترجمه : د حضرت ابو هریرة (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی کوم سړی چې پدې شان لاس اوچتولو سره دعاء وکړی چې تخرګونه یې ښکاره شي او د الله نه سوال وکړی نو الله تعالی د هغه مراد پوره کوی څو پورې چې جلتی ونه کړی ، صحابهٔ کرامو عرض وکړ چې د جلتی کولو څه مطلب دی ؟ رسول الله وفرمائل چې داسې وینا وکړی چې بیا بیا می سوال وکړ خو هیڅ راته ملاو نه شو .

پورتنی ذکر شوی قرآنی ایتونو او نبوی حدیثونو څخه دا ثابتیږي چې د الله تعالی په نزد دعاء ډېر اهمیت لری او الله تبارک و تعالی پخپله هم د دعاء حکم کړی ، او رسول الله (ص) دعاء ته د عبادت مغز فرمایلی دی ، د عبادت حقیقت عاجزی او تذلل دی او دا په دعاء کی کامل طور سره موجود دی د لاسونو په اوږدولو سره دعاء کولو کی د خپل احتیاج و ذلت او بندګی داسې مظاهر کول دی چې په کومه بله طریقه کی نه لیدل کیږي ، له لرې نه لیدونکی لاسونو اوږدولو سره دعاء کونکی باندې د محتاج خیال کوی څکه څوک چې محتاج دی هغه د سوال لاسونه اوږدوی ، غرض دا چې په دعاء کی مکمل طور سره د خپلی بندګئ او د احتیاج اظهار دی او د الله رب العزت په معبودیت او قادر مطلق او حمدیت او معطی (ورکونکی) کیدو باندې اقرار کول او قانع کیدل دی ، پدې بناء دعاء ته مخ (مغز) د عبادت ویل شوی دی او ددې اهمیت او فضائل بیان شوی دی چې څینی یې پورته بیان شول

په حدیثو کی د مختلفو مواقعو دعاګانی بیان شوی دی چې د چا نه پټ ندی مونږ ته داسې نظر پکار دی چې لمونځ افضل العبادة دی لدینه وروسته د دعاء په باره کی د رسول الله (ص) په مبارکو حدیثونو کی څه هدایت او لارښوونه ده ؟

تحقیق کوئو سره د رڼا ورځ په شان دا خبره ښکاره کېږي چې د لمانځه نه وروسته د دعاء خاص اهمیت دی ، د دعاء د قبولیت وخت دې په دعاء نه کولو باندې وعید دی او پخپله د رسول الله (ص) هم همدا عمل دی لتفصیل یې لږ وګورئ .

د لمانځه نه وروسته دعاء او ددې ترغیب او مقبولیت وخت د حدیثو په رڼا کی :

(۱) ((عن معاذ بن جبل (رض) ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال له اوصیک یا معاذ الا تدعن دبر کل صلوة ان تقول اللهم اعنی علی ذکرک و شرک و حسن عبادتک رواه احمد و ابو داؤد والنسائی بسند قوی کذا فی بلوغ المرام و قال الزیلعی فی تخریجه قال النووی فی الخلاصة اسناده صحیح))

ترجمه : د حضرت معاذ بن جبل نه نقل دی چې رسول الله (ص) راته وفرمائل چې نه د هیڅ یو لمانځه نه وروسته دا دعاء مه پرېده ((اللهم اعنی علی ذکرک و شکرک و حسن عبادتک)) .

(۲) ((عن ابی امامة (رض) قال قیل یا رسول الله ای الدعاء اسمع قال جوف اللیل الاخر و دبر الصلوت المکتوبات)) (رواه الترمذی)

ترجمه : د حضرت ابو امامه (رض) نه روایت دی ، دې فرمایي : د رسول الله (ص) دا تپوس وکړی شو چې د کوم وخت دعاء زیات قبلېږي ؟ نو رسول الله (ص) وفرمائل : د شپې اخری حصه کی او د فرض لمانځه نه وروسته .

په ((الیل الطالب علی ارجح المطالب)) (د مولانا نواب صدیق حسن خان صاحب تصنیف) کی ددې دواړو حدیثونو بیانولو نه وروسته لیکلی دی ((و این هر دو حدیث دلالت دارد بر آن که دعا بعد فریضه می باید)) یعنی دا دواړه حدیثونه د فرض لمانځه نه وروسته د دعاء په مسنون کیدو باندې دلالت کوی (۲۳ صفحه)

حافظ ابو بکر احمد بن اسحاق السنی په ((عمل الیوم واللیلة)) کتاب کی حدیث ذکر کړی دی : (۳) ((حدثنی احمد بن الحسن حدثنا ابو اسحق یعقوب بن خالد بن یزید الباسی حدثنا عبدالعزیز بن عبدالرحمن القرشی من حفیف عن انس رضی الله عنه النبو

صلی الله علیه وسلم انه قال ما من عبد بسط کفیه فی دبر کل صلوة ثم یقول اللهم الهی و اله ابراهیم و اسحاق و یعقوب و اله جبریل و میکائیل و اسرافیل اسئلک ان تستجیب دعوتی فانی مضطر و تعصمنی فی دینی فانی مبتلی و تنالنی برحمتک فانی مذنب و تنفی عن الفقر فان متمسکن الاکان حقاً علی الله عز و جل ان لا یرد یدیه خائبین)) (عمل الیوم واللیلة ص ۳۸ ، ص ۳۹ .)

ترجمه : حضرت انس (ر ض) د نبی کریم (ص) نه نقل کوی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی کوم سړی چې د لمانځه نه وروسته دواړه لاسونه اوږدولو سره دا دعاء وکړی اللهم الهی و ... متمسکن ، نو په الله تعالی باندې دا حق دی چې د هغه دواړه لاسونه ناکام او خالي واپس نه کړی ،

دا حدیث علامه عبدالحی لکهنوی هم په همدې سلسله کی د یو سوال په جواب کی نقل کړی او د حدیث نقل کولو نه وروسته لیکلی دی ((که څوک ووایی چې ددې حدیث په روایت کی عبدالعزیز بن عبد الرحمن دی او دا متکلم فیه دی لکه میزان الاعتدال وغیره کی چې تصریح شوی نو په جواب کی داسې ویل کېږي چې د استحباب ثابتولو لپاره ضعیف حدیث هم کافی دی لکه چې ابن الهمام د فتح القدیر په کتاب الجنائز کی لیکی : ((و الاستحباب یثبت بالضعیف غیر الموضوع ، انتهی)) والله اعلم (په حواله د فتاوی رحیمیه ۱۳۱/۵)

دیته هم باید فکر وی چې دا حدیث او ددې پشان نورو حدیثونو ته عام مقبولیت حاصل دی ، او پخپله د غیر مقلدینو پیشوا مولانا ثناء الله امرتسری فرمایی : ((خینی ضعف داسی وی چې د امت په تلقی بالقبول سره پورته کېږي)) (اخبار اهل حدیث نیته ۱۹ اپریل ۱۹۱۷ ع)

_ د لمانځه نه وروسته په دعاء نه کولو باندې وعید:

((عن الفضل بن عباس (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الصلوة مثنی مثنی فی کل رکعتین و تخشع و تمسکن و تقنع یدیک یقول ترفعهما الی ربک مستقبلاً ببطونهما وجهک و تقول یا رب یا رب من لم یفعل ذلک فهو کذا و کذا)) (ترمذی شریف ص ۵۰ ج ۱ باب ماجاء فی التخشع فی الصلوة)

ترجمه : د حضرت فضل بن عباس (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : لمونځ دوه رکعته دی او په هر دوه رکعتو کی تشهد دی او خشوع ، عاجزی او مسکینی دی او د دواړو لاسونو خپل رب ته پداسې حال کی اوچتول دی چې ته یا

رب یا رب (ای زما ربه ای زما ربه) ووایی ، او چا چې داسې ونه کړل هغه هماغسې دغسې دی .

د ترمذی شرح الکوکب الدری کی دی :-

((و هذا یثبت الدعاء بعد الصلوة برفع یدیه کما هو المعمول و انکار الجهلة علیه مردود)) (لکوکب الدری ۱۷۱/۱) ترجمه : پدې حدیث کی د مستقبلاً لفظ نه دا ثابتېږي چې د لمانځه نه وروسته به دواړو لاسونو اوچتولو سره دعاء وکړی شی ، همدا معمول دی او پدې باندې د جاهلانو انکار مردود دی .

ـ د رسول الله (ص) په نفس نفیس د لمانځه نه وروسته دعاء کول او ددۀ نه مختلف دعاګانی نقل کېدل د حدیثو په رڼا کی :

(۱) ((عن وداه قال املی علی المغیرة بن شعبة رضی الله عنه فی کتاب الی معاویة ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یقول فی دبر کل صلوة مکتوبة لا اله الا الله وحده لا شریک له ، له الملک وله الحمد وهو علی کل شئی قدر ، اللهم لا مانع لما اعطیت و لا معطی لما منعت و لا ینفع ذاالجد منک الجد)) (بخاری شریف ص ۱۱۷ ج ۱ باب الذکر بعد الصلوة) (ابو داؤد شریف ص ۲۱۸ ج ۱) (باب ما یقول الرجل اذا سلم) (مشکوة شریف ص ۱۸۸ ایضاً) (بلوغ المرام ص ۳۷ صفة الصلوة)

ترجمه : د حضرت وداد نه روایت دی چې حضرت مغیرة بن شعبة (رض) فرمایی : رسول الله (ص) به د هر فرض لمونځ نه وروسته لا اله الا الله وحده لا شریک له ، لک الملک و له الحمد وهو علی کل شئی قدیر ، اللهم لا مانع لما اعطیت و لا معطی لما منعت و لا ینفع ذا الجد ملک الجد ، ویلو ،

(۲) ((عن ام سلمة (رض) ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یقول اذا صلی الصبح حین یسلم اللهم انی اسئلک علماً نافعاً و رزقاً طیباً و عملاً متقبلا رواه احمد و ابن ماجه قال فی النیل و رجاله ثقات)) (اعلاء السنن ص ۲۰۲ ، ص ۲۰۳ حصه سوم)

ترجمه : د ام سلمة (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) به د سحر لمانځه نه وروسته دا دعاء کوله : اللهم انی اسئلک علماً نافعاً و رزقاً و طیباً و عملاً متقبلاً دا حدیث احمد او ابن ماجه روایت کړی دی ، او په نیل الاوطار کی دی چې ددې حدیث ټول راویان ثقه دی .

(۳) ((عن عائشة (رض) قالت کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا سلم لم یقعد الا مقدار ما یقول اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام رواه مسلم)) (مشکوة شریف ص ۸۸ باب الذکر بعد الصلوة)

ترجمه : حضرت عائشه (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) به د لمانځه نه وروسته ، اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام ، لوستلو په مقدار به کیناستو .

(۴) ((عن ثوبان (رض) قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا انصرف من صلوته استغفر الله ثلاثاً و قال اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام)) (رواه مسلم) (بلوغ المرام ص ۳۷ باب صفة الصلوة)

ترجمه : د حضرت ثوبان نه روایت دی چې کله به رسول الله (ص) د لمانځه څخه فارغ شو نو درې ځلی به یې استغفار کولو او دا دعاء به یې کوله اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام .

(۵) ((عن سعد بن ابی وقاص (رض) ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یتعوذ بهن دبر الصلوة اللهم انی اعوذبک من البخل و اعوذبک من الجبن و اعوذبک من ان ارد الی ارذل العمر و اعوذبک من فتنه الدنیا و اعوذبک من عذاب القبر)) (رواه البخاری) (بلوغ المرام ص ۳۷)

ترجمه : حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) به د لمانځه نه وروسته پدې الفاظو سره دعاء کوله ((اللهم انی اعوذبک من البخل و اعوذبک من الجبن و اعوذبک من ان ارد الی ارذل العمر و اعوذبک من فتنة الدنیا و اعوذبک من عذاب القبر .

(٦) ((عن علی (رض) قال کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا سلم من الصلوة قال اللهم اغفرلی ما قدمت و ما اخرت و ما اسررت و ما اعلنت و ما اسرفت و ما انت اعلم به منی انت المقدم والمؤخر لا اله الا انت)) (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۲۱۹ باب ما یقول اذا سلم)

ترجمه : د حضرت علی کرم الله وجهه نه روایت دی چې رسول الله (ص) د لمانځه د سلام نه وروسته دا دعاء کوله ((اللهم اغفرلی ... الا انت))

(۷) ((اخرج الحافظ ابو بکر بن ابی شبیة فی مصنفه عن الاسود بن العامری عن ابی ابیه قال صلیت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم الفجر فلما سلم انحرف و رفع یدیه و

دعا)) (بحواله مسلک السادات الی سبیل الدعوات ، امداد الفتاوی ج ۱ ص ۷۹۸) نیز ، (النفائس المرغوبه تحت تصویب قاضی رحمت الله محدث راندیری ص ۳۴)

ترجمه : اسود عامری د خپل پلار نه روایت کوی چې ما د رسول الله (ص) سره د سحر لمونځ ادا کړ کله چې رسول الله (ص) سلام وګرځولو نو راوګرځیدو او لاسونه یې اوچت کړل او دعاء یې وکړه.

(۸) ((حدثنا محمد بن یحیی الاسلمی قال رایت عبد الله بن الزبیر رای رجلاً رافعاً یدیه یدعو قبل ان یفرغ من صلاته فلما فرغ منها قال له ان رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یکن یرفع حتی یفرغ من صلوته اخرجه ابن ابی شیبة و رجاله ثقات قاله الحافظ السیوطی فی رسالته فصل الدعاء فی احادیث رفع الیدین بالدعاء کذا فی رسالة رفع الدین فی الدعاء لمحمد بن عبدالرحمن الزبیدی الیمانی)) (اعلاء السنن باب الانحراف بعد السلام و کیفیة و سنتیه الدعاء والذکر بعد الصلوة)

ترجمه : محمد بن یحیی اسلمی وایی : عبد الله بن زبیر (رض) یو سړی ولید چې د لمانځه خلاصیدو نه مخکې لاسونو اوچتولو سره دعاء کوی چې کله د لمونځ نه فارغ شو نو ده ورته ووېل : رسول الله (ص) چې څو پورې به د لمانځه نه ؤ فارغ شوی دعاء لپاره به یې لاسونه ، نه اوچتول ، ددې حدیث ټول راویان ثقه (معتمد) دی .

لدې حدیثو څخه په صراحت سره دا ثابتیږي چې د لمانځه نه وروسته رسول الله (ص) دعاء کوله ، پدې کی هیڅ یو د حق طالب ته د شک و شبهې ځای نه پاتې کیږي او له همدې حدیثونو څخه د اشارة النص په طریقه دا هم ثابتیږي چې کله به رسول الله (ص) د لمانځه نه وروسته دعاء کوله نو صحابهٔ کرام به یقیناً پدې دعاء کې ورسره شریکیدل ، پدې وجه د غور مقام دی که چیرته کوم یو مرشد کامل په کوم مجلس کې لاس اوچتولو سره دعاء کوی نو ایا مریدان به د خپل مرشد موافقت نه کوی ؟ که چیرته استاذ په درس کې اتفاقاً لاس اوچتولو سره دعاء وکړی نو ایا په درس کې حاضر باش طالبان به د استاذ خولې ته ګوری ؟ او دعاء کې به شرکت نه کوی ؟ ایا دا خبره د منلو ده ؟ نو کله چې دا منلی شوی ده چې مریدان او طالبان به ضرور بالضرور د خپل مرشد او د استاذ په پیروی کې لاس اوچتولو سره به دعاء کې شرکت کوی نو بیا دا څنګه کیدی شي چې رسول مقبول (ص) دی لاس اوچتولو سره دعاء کوی او صحابهٔ کرام (رض) کوم چې د اطاعت او پیروی مجسمی وی او د پیروی له جذبې نه مست

وو (ددوی د اطاعت او پیروی نظیر نشي وړاندې کولی) نو دوی به د رسـول الله (ص) خولی ته کتلی او په لاس اوچتولو سره په دعاء کولو کی به د رسول الله (ص) سره د موافقت سعادت نه حاصلولو ، دا خبره نه د چا ذهن منی او نه د منلو وړ ده . يقينا ضرور او خامخا به صحابه کرامو موافقت کړی وی او لدې سعادت څخه به لرې نـه وی پـاتې شوی او دا هسې بې دليله دعوه نه ده ، په حديث کی دی : يو ځل رسـول الله (ص) په لاس اوچتولو سره دعاء وکړه نو حاضر باشو صحابهٔ کرامو (اجمعين) هم رسول اکرم (ص) سره لاسو اوچتولو سره په دعاء کی شرکت وکړو ، په بخاری شريف کی دی :

((قال يحيى بن سعيد سمعت انس بن مالک قال اتى رجل اعرابی من اهل البدو الـى رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم الجمعة فقال يا رسول الله اهلكت الماشـية هلكـت العيال هلک الناس فرفع رسول الله صلى الله عليه وسلم يديه يدعو و رفع الناس ايديهم مع رسول الله صلى الله عليه وسلم يدعون الخ)) (بخاری شريف ج ۱ ص ۱۴۰ باب دفع الناس ايديهم مع الامام فی الاستسقاء)

ترجمه : د حضرت انس (رض) نه روايت دی چې د جمعې په ورځ يو بانده چی سړی رسول الله ته راغی او عرض يې وکړ يا رسول الله ! څاروی هلاک شـول ، خلـک هـلاک شول اهل و عيال هلاک شول نو رسول الله (ص) د مبـارکو لاسـونو پـه اوچتولـو سـره دعاء وکړه او خلکو هم د لاسونو په اوچتولو سره ، رسول الله (ص) سره يو ځای دعـاء وکړه ،

وګورئ پدې حديث کی صراحتاً ذکر دی چې صحابه کرامو هـم رسـول الله (ص) پـه دعاء کی شرکت وکړو لهذا ددې هم منل پکار دی چې کله لمانځه نـه وروسـته رسـول الله (ص) لاس اوچتولو سره دعاء کوله نو صحابه کرامو به هم ضرور شرکت کولو همدا اجتماعی دعا ده او د اجتماعی دعاء ثبوت لپاره همدا کافی دی ، نـو همـدا وجـه ده چې د صحابه کرامو نه وروسته تابعين او بيا ددوی نه وروسته تبع تابعين او بيا ددوی نه وروسته اسلاف عظام د امت صلحاء او علماؤ په همدې باندې عمـل پـاتی شـوی د شـر ذمه قليله نه سوا بل څوک لدينه منکر دی ، د امت دا تعامل او توارث هم ددی د ثبوت لپاره قوی دليل دی .

حجة الاسلام حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی د توارث اهميت په ذکـر کولـو سـره فرمايی : ((اتفاق سلف و توارث ايشان اصل عظيم است در فقه)) يعنی د سلفو اتفاق او ددوی توارث په فقه کی لوی اصل دی ، (ازالة الخفاء مطبع بريلی ۸۵)

لدې واضح ثبوت نه وروسته هم د ثبوت مطالبه کول داسې دی لکه یو بې وقوف خادم چې خپل آقا ته ویلی ؤ .... یو خادم ډیر نا پوه او کم عقل ؤ دده لـه عقلـی او نـاپوهی څخه خپل آقا او مالک تنگ راغی او یو لست (فهرست) یې جوړ کړ او دې خادمته یـې ورکړ او وی ویل : پدې کی چې څه لیکلی دی هغه کوه ، یو آقا او غلام په اس بانـدې سفر کولو په لاره کی د آقا (بادار) شال پریوت نو لرې رسیدو سره یې وکتل چې شال (څادر) نشته خادم وویل هغه خو ډېر لرې پریوتی ، آقا ورته وویل بیا دې ولې نه اوچتولو ؟ او یا دې ماته ولې نه ویل ؟ خادم ورته هغه فهرسـت وښـود او وې ویـل : راتـه وښـایه پدې کې کوم ځای لیکلی دی چې ((که شال پریوځي نو اوچت یې کړه او ماته ووایـه)) او همدا حال د هغو خلکو هم دی چې لدې واضح ثبوت نه وروسته هم وایـی چـې داسې حدیث وښایه چې په هغه کی د اجتماعی دعاء ذکر شـوی وی ، ایـا پورتـه ذکـر شوی حدیثونه او له دوی څخه ثابت کیدونکی مضـمون کـافی نـدی؟ انشـاء الله یقیناً کافی دی ، او همدا وجه ده چې ټول امت پدې باندې عمل کوی لکه پورته چې بیان شو او محدثینو او فقهاء کرامو هم همدا لیکلی دی ، فقهاء کرام هغه خلـک دی چـې د امام ترمذی په قول اعلم بما فی الحدیث دی ، الله تعالی ورته د فقه فی الدین دولـت نصیب کړی دی ، په قرآن او حدیث کی د فقه فـی الـدین تعریـف شـوی دی ، حجـة الاسلام حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی ډېره عمده خبره کړې ده :-

((فاما هذا الطبقة الذین هم اهـل الحـدیث والاثـر فـان الاکثـرین مـنهم انمـا کـدهم الروایات و اجمع الطرق و طلـب الغریـب المعـانی والشـاذ مـن الحـدیث الـذی اکثـره موضوع او مقلوب لا یراعون المتون و لا یفهمون المعانی و لا یستبطون سرها و لا یستخرجن رکازا و فقهها و ربما عابوا الفقهاء و تنا ولو هم بالطعن و ادعوا علیهم مخالفة السنن و لا یعلمون انهم عن مبلغ ما او توه مـن العلـم قاصـرون و لسـوء القـول فـیهم آثمـون)) (الانصاف مع ترجمة کشاف ص ۵۳)

ترجمه : د اهل حدیث د طبقې حال دا دی چې د هغوی د زیاترو کوشـش د روایتونـو بیانول او د سندونو جمع کول او د غریب او شاذ د هغه حدیث نه بول دی چې زیاتره یې موضوعی یا مقلوب دی دا خلک نه د حدیث د الفاظو لحاظ کوی او نه یـې معـانی پیژنی او نه یې راز را معلومولی شی او نه ددوی خزانه او فقه راویستلی شـی او ځینـې وختو کی فقهاؤ باندې عیب لګوی او طعن او بـدرد ورتـه وایـی او د سـنتو د مخالفـت دعوه وربانـدې کوی او پدې نه پوهېږي چې څومره علم فقهاؤ ته ورکړی شوی ، دوې د

هغه نه قاصر او عاجزی دی او فقهاؤ ته بدر د ویلو باندې ګنهګاربږي ، دا د فقهاء کرامو علمی جلالت شان دی ،
کله چې محدثین او فقهاء دا خبره کوئ نو ایا دا تصور کیدی شی چې دغو حضراتو دې بغیر د ثبوت نه دا لیکلی وی ، یقیناً ثبوت شته نو ځکه یې لیکلی دی ، اوس د نمونې په طور څو حوالې وګورئ.
محدث جلیل علامه حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله لیکي : ((والمختار ان الامام والماموم یخفیان الذکر الا ان احتاج الی التعلیم)) (فتح الباری ۲۶۹/۲)
ترجمه : مختار او غوره طریقه دا ده چې امام او مقتدی ذکر (دعاء) په ورو آواز سره وکړی البته که چیرته د دعاء د تعلیم ضرورت وی (نو تر زده کولو پورې) په زوره دعاء کولو کی څه پروا نشته ، په الکوکب الدری شرح ترمذی کی دی : ((بل لا بد من اتیان الدعاء مستقلاً علی حده فیغرر تارک الدعوات بعد الصلوت و لا یغدر علی ترکها)) (باب ما یقول اذا سلم الکوکب الدری ۲۹۱/۲)
ترجمه : بلکې پدې وخت کې ضروری ده چې مستقل جدا دعاء وکړی شی پدې وجه د لمونځونو نه وروسته د دعاء پرېښودونکی ته باید سزا ورکړی شی او د دعاء په پرېښودو دی معذور ونه ګڼل شي ، او په حاشیه کی ذی :
((و فی شرح شرعة الاسلام و یغتنم الدعاء بعد المکتوبة فانه مستجاب بالحدیث و قد قال النبی صلی الله علیه فی حدیث رواه ابن عباس من یفعل ذلک فهو خدا ج ای من لم یدع بعد الصلوة رفعا یدیه الی ربه مستقلاً ببطونها الی وجهه و لم یطلب حاجاته قائلاً یا رب یا رب فما فعله من الصلوة ناقصة عند الحق سبحانه کذا حقق فی التنویر و روی انه کان للحسن جار یحتطب علی ظهره فکان اذا سلم الامام خرج من المسجد سریعا فقال له الحسن یوماًیا هذا لم لم تجلس ساعة ان لم تکن لک حاجة فی الاخرة افلا حاجة لک فی الدنیا قف بعد الصلوة و ادع الله و اساله حمولة تحمل علی ظهرها ذکره فی الخلاصة)) (حاشیه علی الکوکب الدری ص ۲۹۱ ج ۲ باب ما یقول اذا سلم)
ترجمه : په شرح د شرعة الاسلام کی دی : د فرض لمانځه نه وروسته دعاء کول غنیمت وګڼی ځکه چې دا دعاء د حدیث له مخې قبلېږي ، یقیناً رسول الله (ص) په هغه حدیث کی چې عبد الله بن عباس (رض) روایت کړی دی فرمایلی دی ((من لم یفعل ... چا چی داسې ونه کړ هغه ناقص دی (الحدیث) یعنی چا چی د خپل رب په وړاندې لاسونه پورته کولو سره (چې د لاسونو ورغوی یې دوه مخ طرف ته وی) دعاء

ونه کړه او په یا رب یا رب ویلو سره خپل حاجتونه د الله نه ونـه غوښتـل نـو د لمانځـه کوم افعال چې هغه ادا کړی هغه د الله تعالی په نزد باندې بالکل هیڅ دی ، او همدا شان په تنویر کی دی او نقل شـوی دی چـې د حضـرت حسـن بصـری رحمـه الله یـو ګاونډی ؤ چې په شا باندې به یې لرګي راوړل ، کله چې به امام سلام ګرځولو نو هغه فوراً جلتی سره د جومات نه وتلو یوه ورځ حسن بصری ورته وویل : ای سړیه لږ غونډې ولی نه ایساریږی که تاته د آخرت ضرورت نه وي ایا دنیاوی ضرورت هم نشته ؟ چې الله تعالی ته دعاء وکړی او د سورلی سوال ورنه وکـړی چـې بـار وربانـدې راوړی ، دا په خلاصه ذکر شوی دی .

غور وکړئ په اسلافو کی دا طریقه جاری ده چې د لمانځه نه وروسته به یې دعاء کوله (چې ددینه اجتماعی صورت پخپله پیدا کیږي) نو ځکه نو حضرت حسـن بصـری خپـل ګاونډی ته د امام د سلام ګرځولو نه وروسته د دعـاء کولـو لپـاره وویـل کـه د دعـاء دا طریقه جاری نه وای نو حسن بصری به هرګز هغـه تـه د دعـاء ترغیـب نـه ورکولـو ، د حضرت ابو امامه (رض) حدیث چـې د رسـول الله (ص) دا ارشـاد پکـی دی لـه ده څخه تپوس وشو ((ای الدعاء اسمع ؟ کومه دعاء زیاتـه قبلیږي ، نـو رسـول الله (ص) ورته وفرمائل : جوف اللیل الاخر و دبر الصلوات المکتوبات)) د شپې آخری حصـه کـی او د فرض لمانځه نه وروسته (دا حدیث په همدې جواب کی مخکې نقل کـړی شـوی دی) ددې حدیث په تشریح کی صاحب د اعلاء السنن مولانا ظفر احمد تهانوی رحمه الله فرمایی :

((قوله عن ابی امامة الخ قلت فیه اثبات الدعاء بعد الصلوة فانه حض به مـا اورده ابـن القیم ان الدعاء بعد السلام من الصلوة مستقبل القبلة او المامومین فلم یکـن مـن هدیـه صلی الله علیه وسلم اصلا و لا روی عنه باسناد صحیح و لاحسن اه)) (زاد المعاد ص ٦٧ ج١).

ترجمه : یعنی د حضرت ابو امامة (رض) ددې حدیث نه د لمانځه نه وروسـته د دعـاء ثبوت کیږي لهذا کومه خبره چې علامه ابن قیم (رح) کړې ده چې د سلام نه وروسته مخ په قبله او یا مقتدیانو طرف ته مخ کولو سره دعاء کول دا د رسول الله (ص) سـنت او دده طریقه نه ده ، دا شئ د رسول الله (ص) څخه نه په صحیح سند سره نقل دی او نه په حسن سند سره ، (زاد المعاد ٦٧/١) ((قلت قد ثبت ذلک عنه صلی الله علیه وسلم

قولا و فعلا فهذا حدیث ابی امامة فیه ارشاد الامامة بالدعاء بعد الصلوات المکتوبات ›› (اعلاء السنن ص۹۹ ج ۳).
ترجمه : پدې حدیث سره د علامه ابن قیم دعوی رد کېږي ، زه وایم د لمانځه نه وروسته د رسول الله دعاء کول قولاً او فعلاً ثابت دی او پدې حدیث کې د فرض لمانځه نه وروسته د دعاء ترغیب دی نو د صلحاؤ معمول چې د فرض لمانځه نه وروسته دعاء کول بې اصل نه شو (اعلاء السنن ۱۹۹/۳ مع حاشیه)
د حضرت ابو امامه ذکر شوی حدیث او د حضرت معاذ بن جبل حدیث) چې پدې جواب کې مخکې ذکر شوی) دغه دواړه حدیثونه مولانا نواب صدیق حسن خان صاحب خپل کتاب ‹‹ دلیل الطالب علی ارجح المطالب ›› کې نقل کولو نه وروسته لیکلی دی : ‹‹ و این هر دو حدیث دلالت دارد بر آن که دعاء بعد فریضه می باید ››
یعنی دا دواړه حدیثونه د فرض لمانځه نه وروسته د دعاء په مسنون کېدو باندې دلالت کوی . (دلیل الطالب علی ارحج المطالب) (۳۲۳ صفحه)
ظاهر دا ده چې دا مسنونیت هر یو لپاره دی او چې ټول پدې سنت باندې عمل وکړی نو اجتماع کېږي یا نه ؟ (دا حواله مخکې ذکر شوی د موقع په مناسبت سره دوباره ذکر کړی شو) په فتاوی بزازیه کی دی :
‹‹ یدعو الامام جهراً لتعلیم القوم و یخافته القوم اذا تعلم القوم و یخافت هو ایضاً و ان جهر فهو بدعة ›› (فتاوی زازیه جلد اول مع الهندیة کتاب الصلوة الحادی عشر فی القراة ص ۴۲ ج ۴)
ترجمه : امام به مقتدیانو ته د تعلیم لپاره په زوره دعاء کوی او قوم به په ورو آواز دعاء کوی او کله چې مقتدیان زده کړی نو بیا به امام او مقتدي ټول په پټه دعاء کوی ، که په زوره دعاء وکړی نو بدعت ده ؟ په امداد الفتاوی شرح نور الایضاح کې دی : ‹‹ ثم یدعون لانفسهم و للمسلمین بالادعیة الماثورة الجامعة لقول ابی امامة قیل یا رسول الله ای الدعاء اسمع قال جوف اللیل الاخر و دبر الصلوات المکتوبات رواه الترمذی والنسائی و کان صلی الله علیه وسلم یدعو دبر کل صلوة رواه البخاری فی تاریخه الاوسط الی قوله . رافعی ایدیهم حذو الصدور و بطونها مما یلی الوجه بخشوع و سکون ثم یختمون بقول سبحان ربک رب العزة عما یصفون الایة الی (قوله) ثم یمسحون بها ای بایدیهم وجوههم فی آخره یعنی‌عنه الفراغ منه لقول ابن عباس رضی الله عنهما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا دعوت الله فادع بباطن کفیک و لا تدع بظهورهما

فاذا فرغت فامسح بها وجهک رواه ابن ماجه و لقول ابن عمر رضی الله عنهما کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا رفع یده فی الدعا لم یحطهما و فی روایة لم یردهما حتی یمسح بهما وجهه رواه الترمذی)) (امداد الفتاوی شرح نور الایضاح فصل فی الا ذکار الواردة بعد الفرض ص ۱۳۷ ص ۱۳۸) (نور الایضاح ص ۸۵)

ترجمه : بیا (د تسبیحاتو نه وروسته امام او مقتدیان) خپل ځان او مسلمانانو لپاره په جامع او منقول دعاګانو سره دعاء وکړی ، د حضرت ابو امامه (رض) د هغه حدیث له مخې چې د رسول الله (ص) نه تپوس وشو ، کومه یوه دعاء زیاته قبلیږي ؟ رسول الله (ص) ارشاد وفرمائل : د شپې آخری حصه کې او د فرض لمانځه نه وروسته ، دا حدیث ترمذی او نسائی روایت کړی دی ، او پخپله رسول الله (ص) به د لمانځه نه وروسته دعاء کوله رواه البخاری فی تاریخه الاوسط)

خپل لاسونه د سینې پورې اوچتولو سره پداسې حال کی چې ورغوی مخ طریف ته دی په ډېر خشوع او سکون سره او بیا سبحان ربک رب العزة عما یصفون ویلو سره دعاء ختم کړی او لاسونه پخپل مخ باندې راکاږي ، د عبد الله بن عباس (رض) د هغه حدیث په بناء چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : کله چې تاسو د الله نه دعاء غواړی د لاسونو په ورغوو سره غواړئ ، د لاسونو په شا باندې مه غواړئ او کله چې له دعا نه فارغ شوئ چې لاسونه پخپلو مخونو باندې راکاږی (رواه ابن ماجه) او د حضرت عبد الله بن عمر (رض) د هغه حدیث په وجه چې رسول الله (ص) به کله دواړه لاسونه د دعاء لپاره اوچتول نو تر هغې پورې به یې نه ښکته کول څو پورې چې به یې په مخ باندې نه وو راښکلی (رواه الترمذی)

په امداد الفتاوی کی حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله لیکی : بسم الله الرحمن الرحیم ، نحمده و نصلی علی رسوله الکریم ، له حمد او صلوٰة نه وروسته واضحه دی وی چې دا رساله د ((مسلک السادات الی سبیل الدعوات)) کتاب خلاصه ده چې علامه فاضل شیخ محمد علی بن شیخ حسین مرحوم مفتی مالکیه و مکه مکرمی استوګن په ۱۳۲۱ هـ کی لیکلی ده او پدې کی عام طور سره د دعاء د احکامو تحقیق او بالخصوص هر منفرد او امام او جماعت لپاره د دعاء مستحب کیدل (د معتبرو حدیثونو او د څلورو مذهبونو له فقهی روایاتو نه) ثابت کړی دی ، ما ددې رساله خلاصه ولیکله تر څو ددې بیباکو خلکو خولی بندې شی کوم چې لمانځه نه وروسته دعاء باندې د بدعت حکم کوی او ددی تلخیص نوم استحباب الدعوات عقیب

الصلوات)) کیښود ، دا ټوله رساله د مطالعه کولو ده (امداد الفتاوی ٧٩٦/١-٨١٦ حبوب مع حاشیه جدیده مولانا مفتی سعید احمد صاحب پالن پوری)
د هند مفتی اعظیم حضرت مولانا مفتی محمد کفتایت صاحب لیکی : ((د فرضو نه وروسته دعاء کول د رسول الله (ص) طریقه او دده سنت دی)) (النفائس المرغوبة فی الدعاء بعد المکتوبة) (١٠ صفحه) (دا ټوله رساله مطالعه کول پکار دی)

مفتی اعظم پاکستان حضرت مفتی محمد شفیع رحمه الله فرمایی :

((امام او مقتدیان دی رو رو دعاء غواړی)) (احکام دعاء) (١١ صفحه)
په مفتاح الجنة کی دی : ((امام چې سلام وګرځوی بیا به ښی یا ګس طرف ته راوګرځي او کومه دعاء چې خوښه يې وی وکړی مګر بهتر دا دی چې يو ځل اية الکرسی ولولی او بیا به دواړه لاسونه د غوږونو برابر اوچت کړی پدې شان سره چې دواړه تخرګونه يې ښکاره شی او څه حاجت يې رچې وی الله پاک نه دې وغواړی او که وغواړی نو دا دعاء دی وکړی (ربنا لا تزع قلوبنا الخ) (مفتاح الجنة) (٦٨ صفحه) د مولانا شاه کراهت علی جون پوري)
او په بهشتی ګوهر کی هم دی : مسئله : د فرض لمونځ ختمولو نه وروسته به دواړه لاسونه تر سینې پورې اوچت کړی او د الله تعالی نه ځان لپاره دعاء وغواړی او که امام وی نو ټولو مقتدیانو لپاره هم او د دعاء نه وروسته به دواړه لاسونه په خپل مخ باندې راکاږي ، او مقتدیان که هر یو ځان ځانته دعاء غواړی او یا کـه د امام دعاء اوري نو وربانديې دی امین وایی ، (بهشتی ګوهر) (١٠٦ صفحه) (فرض لمانځه نه وروسته مسائل ٦ مسئله).
او په بهشتی ګوهر کی دا هم دی:-
مسئله : د کومو لمونځونو څخه وروسته چې سنت وی لکه ماسپښين ، ماښام او ماسخوتن لدې لمونځونو نه وروسته به ډېر اوږده دعاء نه کوی بلکی مختصر دعاء کولو سره بـه د سنتو په ادا کولو مشغول شي ، او د کومو لمونځونو څخه وروسته چې سنت نه وی لکه سحر او مازدیګر لدې لمونځونو نه وروسته چې څومره وخته پورې غـواړی دعـاء دې وغواړی ، او که امام وی نو ښی او یا ګس طرف ته به مقتدیانو ته مخ کړی او بیا به داء وغواړی ، په شرط ددی چې کوم مسبوق مخامخ لمونځ نه کوی ، په حاشیه کی د عالمګیری عبارت نقل کړی دی :-

و يستقبل القوم بوجهه اذا لم يكن بحذائه مسبوق فان كان ينحرف يمنة او يسرة والصيف والشتاء سواء هو الصحيح و في الحجة الامام اذا فرغ من الظهر والمغرب والعشاء يشرع في السنة و لا يشتغل بادعية طويلة)) (بهشتي گوهر ص ۲٦)
حضرت مولانا يوسف لدهيانوى صاحب رحمه الله ډېر عمده خبره کړې ده : ((يا مثلاً د شريعت حکم دا دی چې کوم عبادت اجتماعی طور باندې ادا شوی وی د هغه نه وروسته خو به اجتماعی دعاء کوی مگر کوم عبادت چې جدا جدا ادا شو ی وی د هغه نه وروسته دعاء هم انفرادی طور سره پکار ده)) (بنيات ، اختلاف امت او صراط مستقيم ۱۱۸ صفحه)
د مذکوره تفصيل نه ثابت شو چې د فتاوی رحيميه فتوه الحمد لله د حديثونو او د فقه او د اسلافو د تعامل سره موافق ده ، فقط والله اعلم ، سيد عبدالرحيم لاجپوری ۱۴ رجب ۱۴۰۷ هـ .

ـ مؤذن لره د دعاء شروع کيدو په وخت د اللهم آمين ويلو پابند گرځول :

(۲۳ سوال) زه يو جومات کی مؤذن يم د جومات متولی راته وايی کله چې د جمعې لمانځه نه وروسته امام صاحب دعاء لپاره لاس اوچت کړی نو ته اللهم آمين وايه او کله چې د دعاء نه فارغ شي نو بيا برحمتک يا ارحم الراحمين وايه ، کله چې دعاء په زوره وی نو د متولی صاحب په خبره باندې عمل کول څنگه دی ؟ او ما ددې پابند جوړولی شی ؟ وضاحت وکړی خير يوسئی ،
(جواب) د لمانځه نه وروسته دعاء په پټه پکار ده (تفصيل لپاره فتاوی رحيميه ۳۲٦/۴ ـ ۳۳۴ ، او نوی ترتيب مطابق پدې باب کی د فرض لمانځه نه وروسته امام په زوره دعاء وغواړی يا په پټه ؟ عنوان لاندې ۷۰/٦ کی وگوری (مرتب)) مقتدی د دعاء په شروع او ختمولو کی د امام پابند ندی د امام نه مخکې هم دعاء شروع کولی شی او د امام دعاء ختمولو نه وروسته هم دعاء کولی شی ، لهذا په سوال کی د ذکر شوو جملو ويلو

ضرورت نشته [1] په مؤذن باندې دا پابندی او ذمه واری اچول زیاتی دی ، فقط والله اعلم

د اختر په ورځ د خطبی نه وروسته اهتمام او التزام سره دعاء کول:

(۲۴ سوال) زمونږ پدې ځای کی د اختر په ورځ عیدګاه کی یوه دعاء د لمانځه نه وروسته او بله دعاء د خطبی نه ورسته په ډېر اهتمام او التزام سره کېږي ما سږ کال د خطبی نه وروسته دعاء ختمولو کوشش وکړ پدې وجه نا واقف عوام لږ شک او تردد لری نو په اهتمام او التزام سره د خطبی وروسته دعاء کول څنګه دی او څه حکم لری؟

(جواب) د اختر لمونځ یا د خطبی نه وروسته د موقع د تعیین او تخصیص سره په حدیث کی د دعاء ذکر نشته ، البته د اختر په خطبه کی د دعاء ثبوت شته او پدې باندې ماشاء الله هر ځای کی عمل کېږي او کله چې په خطبه کی د ماثوره وغیره دعاګانو ډېر اهتمام کېږي نو د خطبی نه وروسته د اجتماعی دعاء د اهتمام او التزام څه ضرورت پاتې کېږي ؟ لهذا د اختر لمانځه نه وروسته په اهتمام او التزام سره دعاء کول بې اصل او د سنت خلاف ده د اختر لمانځه نه وروسته د مختصر دعاء کولو ګنجائش شته ځکه چې د لمانځه نه وروسته د دعاء کولو ثبوت شته او نصوص عام دی ، ددی مسئلی متعلق یوه فتوی په فتاوی رحیمیه پنځم جلد (۸۱-۸۴) صفحو کی چاپ شوې ده هغه هم وګوری (نوی ترتیب مطابق په همدې باب کی د اختر لمانځه نه وروسته دعاء کول عنوان لاندې ٦٨/٦ وګوری مرتب) فقط والله اعلم.

سحر او مازدیګر کی امام د سلام ګرځولو نه وروسته دعاء لپاره کوم طرف ته کینی ؟

(۲۵ سوال) د کومو لمونځونو نه وروسته چې سنت مؤکد نشته لکه سحر او مازدیګر پدې لمونځونو کی امام کوم طرف ته مخ واړوی ؟ ښی طرف یا ګس طرف یا مقتدیانو طرف ته ؟ زمونږ پدې ځای کی پدې مسئله کی اختلاف دی خالد وایی چې ښی طرف

---

[1] ((فی المنیة ان کان فی صلاة لا تطوع بعدها فان شاء انحرف عن یمینه او یساره او ذهب الی حوائجه او استقبل الناس بوجهه و ان کان بعد ها تطوع و قام یصلیه یتقدم او یتاخر او ینحرف یمیناً او شمالاً او یذهب الی بیته فیتطوع ثمة شامی آخر صفة الصلوة قبیل فصل فی القراة ج۱ ص ٤٩٦))

نه به مخ کوی او حامد وایی چې مقتدیانو طرف ته به مخ اړوی ، او حامد پخپله خبره باندې زیات کلک دی د کوم یو قول صحیح دی ؟ د حوالو سره جواب راکړی ، جزاکم الله ، فقط والله اعلم؟

(جواب) ښی طرف ته مخ اړول غوره دی مګر پدې باندې به همیشه والی نه کوی کله دې ګس طرف ته هم راګرځی تر څو خلک ښی طرف ته کیناستل ضروری ونه ګڼی او که څوک مخامخ لمونځ نه کوی نو بیا مقتدیانو ته مخامخ کیناستل هم جائز دی ، د رسول الله (ص) نه دا هم ثابت دی په مشکوة شریف کی دی : ((عن سمرة بن جندب (ر ض) قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا صلی صلوة اقبل علینا بوجهه رواه البخاری عن البراء قال کنا اذا صلینا خلف رسول الله صلی الله علیه وسلم احببنا ان نکون عن یمینه یقبل علینا بوجهه قال فسمعته یقول رب قنی عذابک یوم تبعث او تجمع عبادک رواه مسلم)) (مشکوة شریف باب الدعاء فی التشهد ص ۸۷)

او په مراقی الفلاح کی دی :-

((و عقب الفرض ان لم یکن بعده نافلة یستقبل (الناس) ان شاء ان لم یکن فی مقابلة مصل لما فی الصحیحین کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا صلی اقبل علینا بوجهه و ان شاء الامام انحرف عن یساره جعل القبلة عن یمینه و ان شاء انحرف عن یمینه و جعل القبلة من یساره و هذا اولی لما فی مسلم کنا اذا صلینا خلف رسول الله صلی الله علیه وسلم احببنا ان نکون عن یمینه حتی یقبل علینا بوجهه ... الخ)) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۱۷۱ باب الامامة فصل فی الصفة الاذکار)

د ذکر شوی حدیثونو او عبادت نه ثابت شو چې درې واړه قسمه کیناستل صحیح دی البته ښی طرف ته متوجه کیدل غوره دی لیکن یو طرف باندې الزام او اصرار کول صحیح نه دی د حضرت عبدالله بن مسعود (رض) نه روایت دی :-

((لا یجعل احدکم الشیطان شیئاً من صلوته یری ان حقاً علیه ان لا ینصرف الا عن یمینه لقد رایت رسول الله صلی الله علیه وسلم کثیراً ینصرف عن یساره، متفق علیه ، مشکوة ص ۸۷))

یعنی په تاسو کی دې څوک خپل لمانځه کی شیطان ته حصه نه جوړوی (چې ښی طرف ته راګرځیدل لازمی او ضروری وګڼی) بیشکه ما رسول الله (ص) ډیر خلی لیدلی دی چې ګس طرف ته به راګرځیدو ، په مرقات شرح مشکوة کی دی ((و فیه ان من اصر علی امر مندوب و جعله عزماً و لم یعمل بالرخصة قد اصاب منه الشیطان من

الاضلال فكيف من اصر على بدعة او منكر)) یعنی څوک چې په یو مستحب کار باندې داسې اصرار وکړي چې هغه لازم او واجب وګڼي) او که هم په رخصت باندې عمل ونه کړي نو شیطان د داسې سړي په ګمراه کولو باندې کامیاب شوی دی (کله چې په مستحب باندې د اصرار دا حال دی) نو کوم سړی چې په بدعت او منکر باندې اصرار وکړي د هغه به څه حال وی ، مرقات شرح مشکوة باب الدعاء فی التشهد ۳۵۳/۲ ، مطبع امدادیه ملتان ، فتاوی رحیمیه ۵۷/٦ فتاو ی محمودیه ص ۱۳۴، ۱۳۵ فقط والله اعلم.

د فرض لمانځه نه وروسته دعاء په زوره وغواړی یا په پټه ؟

(۲٦ سوال) د فرض لمانځه نه وروسته دعاء پـه زوره پکـار ده یـا پـه ورو؟ د شریعت د اصولو مطابق د کتاب د نوم تعیین سره راته وښایی.

(جواب) حنفی ، شافعی ، مالکی او حنبلی په څلور واړو مسلک کی امام او منفرد لپاره په پټه دعاء کول مستحب دی ، شیخ منصور بن ادریس لیکی :-

((والدعاء سراً افضل منه جهراً لقوله تعالى ادعوا ربكم تضرعاً و خفية لانـه اقـرب الـى الاخلاص و يكره رفع الصوت به فی الصلوة و غیره ها الا الحـاج فانـه رفـع الصـوت لـه افضل لحديث افضل الحجب العج والثج))

ترجمه : او دعاء په پټه افضل ده د جهری په نسبت څکه چې د الله تعالی ارشاد دی (ادعوا ربکم تضرعاً و خفیة) یعنی خپل رب نه په زاری او عاجزی او پـه پټـه سـره دعـاء وغواړی ، پدې وجه سری (خفیه) دعـاء کـی اخـلاص زیـات وی او شـیخ منصـور بـن ادریس فرمایی چې په لمانځه کی او د لمانځه نه باهر په زوره دعـاء کـول مکـروه دی مګر حاجی لدی حکم نه وتلی دی څکه چې د حدیث له مخې حاجی لپاره پـه نبیـک وغیره دعاګانو کی اوچت اواز افضل دی (مسلک السادات الی سبیل الدعوات)

مالکی او شافعی علماء په زوره دعاء کول دې لپاره جائز ګڼـی چـې حاضـرین یـې یـاد کړی یا آمین پرې ووایی مګر پدې شرط چې کوم لمونځ ګذار ته تکلیف نه وی او که د لمونځ ګذارو په لمانځه کی خلل راته بیا د هیچا په نزد هم په زوره دعاء جـائز نـه ده ، امامانو ته پکار دی چې د مکروه او ناجائز مرتکب کیدو سره خان ګنهګـار نـه کـړی ، د سنت په خلاف رواج جوړول د ګناه کار دی ، فقط والله اعلم.

ـ د فرض لمانځه نه وروسته په زوره دعاء کول :

(۲۷ سوال) په ډېرو ځایو کې د لمانځه نه وروسته امام په زوره زوره دعاء کوی. مسبوق وغیره لمونځ کونکو ته ډېر تشویش کېږي ، لمانځه کې غلطیږي ، ایا پدې طریقه دعاء کول شرعاً منع ده ؟

(جواب) په ورو او ټیټ آواز سره دعاء کول غوره ده ، او ددې لپاره چې لمونځ گذار دعاء یاد کړی یا د دعائیه جملې په آخر کې آمین ویلی نشي که پدې غرض لږ اوچت آواز دعاء وکړی نو پروا نلری دا هم پدې شرط چې لمونځ گذارو ته تکلیف نه وی ، او پدې قسم دعاء کول چې لمونځ گذار پریشان شي او په لمونځونو کې خلل او غلطی واقع شي جائز نده او امام گنهگارېږي او کوم خلک چې امام دې قسم دعاء ته مجبوروي هغوی هم گنهگارېږي (روح المعانی ۱۲۲/۸)[۱] فقط والله اعلم

ـ د لمانځه نه وروسته په زوره دعاء وغواړی یا په ورو؟

(۲۸ سوال) با جماعت فرض نه وروسته دعاء په ورو وکړی یا په زوره ، که د ورو حکم وی نو څومره اندازه ؟ او که په زوره حکم وی نو څومره اندازه ؟ په دواړو کې کوم یو افضل دی ؟

په حدیث کې د لمانځه نه وروسته څومره دعاگانی راغلی دی چې وکړی شی ؟ او دا د اوریدو نه بغیر څنگه نقل شوی دي ؟ وضاحت وکړئ .

(جواب) دعاء په پټه بهتر ده ، او که لمونځ گذارو ته تکلیف نه وی نو کله کله په زوره سره هم جائز ده او همیشه په زوره دعاء کولو عادت مکروه دی[۲] په حدیثو کې څنگه

---

[۱] ـ من هنا جمع بكراهة رفع الصوت به و فى الانتصاف حسبك فى تعين الاسرار فى اقتر انه فى الآية بالتضرع فالاخلال به كالاخلال بالضراعة الى الله تعالى و ان دعاء لا تضرع فيه و لا خشوع لقليل الجدوى فكذا لك دعاء لا خفية فيه و لا وقار بصحبه و ترى كثيراً من اهل زمانك يعتمدون الصرخ فى الدعاء خصوصاً فى الجوامع حتى يعظم للفظ و بتشدد و تسكت المسامع و تسدد و لا يدرون انهم جمعوا بين بدعتين رفع الصوت فى الدعاء كون ذلك فى المسجد سورة اعراف تحت ادعو ربكم تضرعاً .

[۲] ـ و فصل آخرون فقالوا الاخفاء افضل عند خوف الرياء والاجهار افضل عند عدم خوفه و اولى منه القول بتقديم الاخفاء على الجهر فيما اذا خيف الرياء او كان فى الجهر تشوش على نحو مصل او نائم او قارى او مشتغل بعلم شرعى و بتقديم الجهر على الاخفاء فيما اذا خلا عن ذلك و كان بينه قصد تعليم جاهل روح المعانى سورة اعراف تحت قوله ادعوا ربكم تضرعاً ج ۸ ص ۲۰۸ .

چې د دعاء باره کې روایتونه دی چې رسول الله (ص) دا دعاء کړې ده ، همدا شان دا هم دی چې رسول الله (ص) په رکوع کی سبحان ربی العظیم او په سجده کی سبحان ربی الاعلی لوستی دی لیکن لکه څنګه چې د رکوع او د سجدې له تسبیحاتو نه روایتونو څخه جهر نه ثابتیږي نو د دعاء له روایتونو څخه هم جهر نه ثابتیږي ، فقط والله اعلم .

ـ د فرض لمانځه نه وروسته کومه دعاء وکړی شی ؟

(۲۹ سوال) د ماسپښین ، ماښام او ماسخوتن لمونځونو نه وروسته چې د فرضو نه وروسته سنت او نفل کولی شی د اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذوالجلال والاکرام ، سره نوری دعاء ګانی لوستلی کېدی شی یا نه؟ زمونږه امام صاحب منع کوی او خلاف سنت یې ګنی او په دلیل کی د فتاوی عالمګیری عبارت وړاندې کوی ((الامام اذا فرغ من الظهر والمغرب والعشاء یشرع فی السنة و لا یشتغل بادعیة طویلة)) یعنی کله چې امام د ماسپښین ، ماښام او ماسخوتن لمونځ نه فارغ شي نو سنت به شروع کوی او اوږدو دعاګانو کی به نه مشغولیږي ، لهذا ددې لږ تفصیل وکړی ؟ !.

(جواب) د ماسپښین ، ماښام او ماسخوتن لمونځونو نه وروسته د اللهم انت السلام او سره څو نوری ماثوره دعاءګانی لوستل جائز بلکی بهتر دی ، خلاف سنت ندی ، ددی ډېر فضیلت راغلی ، د رسول الله (ص) نه تپوس وشو چې کومه دعاء قبلیږي ؟ رسول الله (ص) وفرمائل : د شپې آخری حصه کی او د فرض لمونځ نه وروسته ، په بل حدیث کی دی چې رسول الله (ص) حضرت معاذ (رض) ته وفرمائل : د هیڅ لمانځه نه وروسته دا دعاء مه پریږده ((اللهم اعنی علی ذکرک و شکر و حسن عبادتک))

په ((دلیل الطالب علی ارجح المطالب)) کی دی دواړو حدیثو بیانولو نه وروسته لیکلی دی : ((و این هر دو حدیث دلالت دارد بر آن که دعاء بعد فریضه می باید)) یعنی دا دواړه حدیثونه د فرض لمانځه نه وروسته د دعاء په مسنون کیدو باندې دلالت کوی (۳۲۳ صفحه) حضرت ابو هریرة (رض) نه تپوس وشو چې تا هغه کلمات یاد کړی دی کوم چې رسول الله (ص) به د سلام ګرځولو نه وروسته لوستل ؟ وی فرمائل او ! رسول الله (ص) دا کلمات لوستل : ((سبحان ربک رب العزة عما یصفون و سلام علی المرسلین والحمد لله رب العالمین)) (مجمع الزوائد (۱۰۲) صفحه باب ما یقول من الذکر والدعاء عقیب الصلوة) او بخاری شریف کی دی : رسول الله (ص) به هر فرض لمانځه نه وروسته ((لا اله الاالله وحده لا شریک له ، له الملک و له الحمد وهو

علی کل شئی قدیر اللهم لا مانع لما اعطیت و لا معطی لما منعت و لا ینفع ذا الجد منک الجد)) لوستل (۱۱۷/۱ باب الذکر بعد الصلوة)
سحر او ماښام د ټولو نه فارغیدو سره په هغه ځای باندې لس ځلی لا اله الا الله وحده لا شریک له ، لک الملک و له الحمد وهو علی کل شئی قدیر)) لوستو هم ډیر فضیلت په حدیثو کی راغلی دی .

ــ د فرض لمانځه نه وروسته مسنون دعاء :

(۳۰ سوال) د فرض لمانځه نه وروسته یواځی اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام لوستل مسنون دی یا ددې په ځای بل کوم دعاء ویلو سره هم سنت ادا کیږي ؟ یو سړی دعوه کوی چې یواځی اللهم انت السلام لوستلو سره سنت ادا کیږي په بل کوم دعاء سره نه ادا کیږي بلکې خلاف سنت ویل کیږي ایا دا خبره صحیح ده؟
(جواب) بیشکه د فرضو نه وروسته ((اللهم انت السلام)) دعاءمسنون او افضل ده پدې وجه زیاتره همدا ویل کیږئ ، لیکن په نورو دعاګانو ، درود شریف ویلو بلکې دومره اندازه چپ کیاستو سره هم سنت ادا کیږي لهذا بل کوم دعاء نه خلاف سنت ویل صحیح نه دی:-
((فالمسنون القعود بهذا المقدار سواء قرا هذا الدعاء او دعاء آخر او صلی علی النبی صلی الله علیه وسلم او سکت)) (رسائل الارکان ص ۱۳۳ فصل فی النوافل الراتبة الفرائض) فقط والله اعلم.

ــ سحر او مازدیګر لمانځه کی امام دعاء لپاره کوم طرف مخ واړوی ؟

(۳۱ سوال) د سحر او مازدیګر لمانځه کی د سلام نه وروسته امام ته کوم طرف کیناستل بهتر دی؟
(جواب) ښی طرف ته راګرځیدل بهتر دی لیکن پدې به همیشه والی نه کوی کله کله به ګس طرف ته هم راګرځی تر څو خلک ښی طرف ته راګرځیدل ضروری ونه ګنی ، د حضرت عبد الله بن مسعود (رض) نه نقل دی:
((لا یجعل احدکم للشیطان شیئا من صلوته بری ان حقا علیه ان لا ینصرف الا عن یمینه لقدر ایت رسول الله صلی الله علیه وسلم کثیراً ینصرف عن یساره)) (متفق علیه)

یعنی تاسو داسې مه کوی چې خپل لمانځه کی شیطان لپاره حصه پریدی پدې چې دا لازم وګڼی چې یواځې ښی طرف ته راګرځیدل دی بیشکه ما رسول الله (ص) لیدلی دی چې ډېر ځلی به ګس طرف ته راګرځیده ، (مشکوة شریف ص ۸۷ باب الدعاء فی التشهد)

((و فیه ان من اصر علی امر مندوب و جعله عزماً و لم یعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشیطان من الاضلال فکیف من اصر علی بدعة او منکر)) (مرقاة شرح مشکوة ایضاً ص ۳۵۳ ج۲ امدادیه ملتان)

ترجمه : کله چې یو مستحب او مندوب شئی باندې داسې اصرار وکړی چې هغه لازم او واجب وګرځوی او کله هم په رخصت باندې عمل نه کوی نو بیشکه شیطان دداسې کس په ګمراه کولو کی کامیاب شوی دی (کله چې د مستحب دا حال وی چې اصرار کول او د ضرورت نه زیات اهمیت ورکول ګمراهی وی نو لږ غور وکړی کوم سړی چې په بدعت او منکر کار باندې اصرار کوی د هغه به څه حکم وی) او صاحب د مجمع البحار پدې حدیث باندې استدلال کولو سره لیکلی دی ((ان المندوب ینقلب مکروهاً اذا خیف ان یرفع رتبته))

ترجمه : بیشکه کوم مستحب کار چې د خپل مرتبې نه اوچت کړی شی یعنی هغه ضروری وګڼل شي په عقیده کی او یا په عمل کی نو هغه مکروه کېږي (۲۲۳/۲) فقط والله اعلم.

پدې وجه حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی د فرض لمانځه نه وروسته درې ځلی استغفر الله او اللهم انت السلام او لا اله الا الله وغیره څو وضائفو نقل کولو نه وروسته فرمایي ((و الاولی ان یاتی بهذه الاذکار قبل الرواتب فانه جاء فی بعض الاذکار ما یدل علی ذلک نصاً)) (حجة الله البالغة ۴۹/۲ ، اذکار الصلاة وهیأ تها المندوب الیها ، اذکار ما بعد الصلاة)

ترجمه : غوره دا ده چې دغه اذکار (دعاګانی) د سنتو نه مخکې ولولی ځکه چې د خینو اذکارو متعلق داسې ارشادات موجود دی چې صراحتاً پدې باندې دلالت کوی ، غرض دا چې داسې ډېر وظائف او دعاګانې شته چې د فرض لمانځه نه وروسته د کولو فضیلت په حدیثو کی راغلی دی ، دا ضروری نه ده چې ټولی دعاګانی د هر لمانځه نه وروسته وکړی شی بلکی په دوی کی د خینو لوستل د سنت ادا کیدو لپاره کافی کېږي

حضرت شاه عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرمایي : ((ظاهر آنست که فعل آنحضرت (ص) هم برین نمط بوده و آن که بر جمیع دعوات در جمیع اوقات مواظبت نموده)) (شرح سفر السعادة (۱۱۸ صفحه))

حاصل دا چې د اللهم انت السلام الخ سره نورې دعاګانې هم یو ځای کولی شي ، که د سنتو په لوستو کې تاخیر کېږي نو دا داسې تاخیر دی لکه کورته تلو سره چې سنتو ادا کولو کې کېږي پداسې تاخیر سره ثواب کې کمی نه راځي ، حضرت شاه عبدالحق فرمايي ((د سنت ادا کولو کې د تاخیر حکم و سنت نه مخکې د ایت الکرسی او داسې نورو اذکارو مخالف ندی)) (اشعة اللمعات ۱۹۸/۱ باب الذکر بعد الصلوة)

البته امام ته د اوږده اوږده دعاګانو عادت جوړول نه دی پکار چې په سنتو کې تاخیر راشي (او لمونځ ګذارو باندې هم بوج شي) د فتاوی عالمګیری د عبارت هم همدا مطلب دی ، او زیات تفصیل لپاره ((النفائس المرغوبة فی حکم الدعاء بعد المکتوبة)) وګورئ ، فقط والله اعلم.

_ با جماعت لمونځ نه وروسته په اردو کې دعاء غوښتل :

(سوال) د جماعت سره لمونځ نه وروسته په اردو کې دعاء غوښتل څنګه دی ؟ وضاحت وکړئ .

(جواب) د با جماعت نه وروسته دعاء په عربی کې مسنون ده په نورو ژبو کې خلاف اولی ده ، لهذا ددې عادت جوړول ندی پکار ، والله اعلم.

_ په ماثوره دعاء کې اضافه :

(۳۲ سوال) د فرض لمانځه نه وروسته په اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام ځینی امامان (منک السلام نه وروسته و الیک یرجع السلام حینا ربنا بالسلام و ادخلنا دار السلام)) زیاتوی ، ایا دا جائز دی ؟

(جواب) فرض لمانځه نه وروسته په مسنون دعاګانو کې د خپل ځان نه ددې الفاظو ور زیاتولو عادت د سنت خلاف ده ، حضرت علامه جزری فرمایی ((د منک السلام نه وروسته مذکوره الفاظ زیات کړی شوی دا د حدیث نه ثابت نه دی ، بې اصل او د واعظینو ایجاد دی))

((قال الشیخ الجزری رحمه الله فی تصحیح المصابیح و اماما یزاد بعد قوله و منک السلام من نحو و الیک یرجع السلام فحینا ربنا بالسلام و ادخلنا دارک دار السلام فلا

اصل له بل مختلق بعض القصاص)) (مرقاة المفاتیح شرح مشکوة ج۲ ص ۲۵۸ ایضـا) (مطبوعه مکتبه امدادیه ملتان) فقط

ـ د فرض لمانځه نه وروسته د سـنت او نفلـو نـه فارغیـدو سـره دویمه دعاء:

(۳۳ سوال) د ماسپښین ، ماښام او ماسخوتن لمونځ نه وروسته د دعاء کولو دوه طریقی لیدلی شی ، اوله طریقه دا ده چې د لمانځه نه وروسته امام او مقتدیان یـو ځـای اللهـم انت السلام الخ سره نور څو ماثوره دعاګانی لوستل کېږي (مګر زیـاتـی اوږدی نـه وی) او لدینه وروسته سنت او نفل جماعت یا کور کی ادا کولو سره ځان ځانتـه دعـاء کـوی یعنی امام او مقتدیان یو ځای کیدو سره دعاء نه کوی .

دویمه طریقه دا ده چې د فرضو نه وروسته فقط اللهم انت السلام الـخ والادعـاء کـولی شی او بیا سنت وغیره جومات کی ادا کولو سره امام او مقتدیان یو ځای کیدو سـره او الفاتحة ویلو سره په جمع سره دعاء کولی شی ، لدینه لمونځ ګذارو ته ډېر تشویش پیـدا کېږي ، او دا طریقه (یعنی د سنتو نه وروسته یو ځای په زوره زوره دعاء کول) ضـروری ګڼل کېږي ، په ډېر اهتمام ، التزام او پابندی سره کولی شی کله یـې هـم نـه پریـدی ، امام باندې شرط کولی شی چې پدې طریقه به دعاء کوی ، او ددې طریقی پـه ثبـوت کی قرآنی آیت (فاذا فرغت فانصب و الی ربک فارغب) یعنی کله چـې فـارغ شـي نـو دعاء کی کوشش کوه او خپل رب طرف ته رغبت کوه او د رسول الله (ص) حـدیث ((الدعاء مخ العبادة)) یعنی دعاء د عبادت مغز ده ، وړاندې کوی، او اولنـی طریقـه والاو ته د دعاء منکر ، وهابی او بد عقیده وایی او د اهل سنت والجماعت نه خارج ګڼـی او لمونځ وریسې نه کوی ، پدې دواړو کی کومه یوه طریقه د سنت مطـابق ده اولنـی کـه دویمه ؟

(جواب) سنت دا دی چې لکه څنګه فـرض لمـونځ جماعـت سـره وکـړی دعـاء هـم جماعت سره وکړی شی یعنی امام او مقتدیان ټول یو ځای دعاء وغواړی ، او لکه څنګه چې سنت او نفل ځان ځانته ادا کړی نو دعاء به هم ځان ځانته غواړی .

لهذا په دې دواړو طریقو کی اولنی طریقه د سنت مطابق ده او دویمـه خـلاف سـنت د خانه جوړ شوی او بې دلیله ده ، ځان ځانته سنت او نفل ادا کولو نه وروسته د ټولو یـو ځای کیدو سره دعاء کول نه د رسول الله (ص) د کوم عمل او فرمان نـه ثابـت ده او

نه د صحابه كرامو ، تابعينو ، تبع تابعينو او ددين له امامانو څخه د كوم امام د قول او عمل نه ثابت ده ، د رسول الله (ص) صحابه كرامو او سلف صالحينو طريقه دا ده چې فرض لمونځ جماعت سره ادا كولو نه وروسته دعاء هم جماعت سره (امام او مقتديان ټولو يو ځای) دعاء كولو او سنت او نفلونه به يې ځان ځانته كول نو دعاء به يې هم جدا جدا كوله ، د صحيح حديثونو څخه ثابت دی چې د رسول الله (ص) عادت مبارک دا ؤ چې سنت به يې كور كی كول او صحابه كرامو ته به هم هدايت كولو ، يو ځل رسول اكرم (ص) د بنو عبدالاشهل په جومات كی د ماښام لمونځ كولو ، د لمانځه نه وروسته يې وليدل چې خلک په جومات كی سنت او نفلونه كوی وی فرمائل : دا لمونځونه خو په كور كی د كولو دی (ابو داؤد ، ترمذی ، نسائی ، مشكوة شريف ۱۰۵ صفحه)[1]

په هر حال كله چې دا ثابت دی چې رسول الله (ص) او صحابهٔ كرامو به زياتره وخت سنت به كورو كی كول نو د امام او مقتدی يو ځای دعاء كولو سوال له سره پيدا كېږي نه ، ايا سنت په كور كی ادا كولو نه وروسته دوباره جومات ته راتلل ؟ او يو ځای به يې دعاء كوله ؟ د دعاء كولو لپاره د كور نه جومات ته راتلل خو پريږده حقيقت دا دی چې كله د څه مصلحت يا ضرورت په وجه رسول الله (ص) لپاره جومات كی د سنت كولو اتفاق شوی بيا هم رسول الله (ص) مقتديانو سره يو ځای دعاء نه ده كړی بلكی رسول الله (ص) په سنتو كی مشغول ؤ او مقتديانو به خپل خپل لمونځونو څخه فارغيدو سره د رسول الله (ص) د فارغيدو انتظار نه بغير يو يو تلل.

د حضرت ابن عباس (رض) نه روايت دی چې رسول الله (ص) د ماښام لمانځه نه وروسته په سنتو كی دومره اوږده قرائت كولو چې لمونځ گذار به د جومات نه لاړل (ابو داؤد ۱۹۱/۱ باب ركعتی المغرب ان تصليان) ((كان رسول الله (ص) يطيل القراة فی الركعتين بعد المغرب حتی يتفرق اهل المسجد))

او حضرت ابن عباس (رض) فرمايي : يوه شپه زهٔ د رسول الله (ص) په خدمت كی حاضر شوم رسول اكرم د ماسخوتن لمونځ وكړ او بيا په لمانځه كی مشغول شو تر دې

---

[1] ـ ((عن كعب بن عجرة قال ان النبی صلی الله عليه وسلم اتی مسجد نبی عبدالاشهل و صلی فيه المغرب فلما قضوا صلوتهم راهم يسبحون بعد ها فقال هذه الصلوة البيوت ، باب السنن و فضلها))

چې جوماتٍ کې دده نه بغیر بل ځوک پاتې نشو (شرح معانی الاثار ۱ ۲۰۱ باب التطوع فی المسجد)

لدینه هم ثابت شو چې د امام او مقتدیانو د سنتو نه وروسته یو ځای دعاء کولو دستور له سره ؤ نه ، لهذا دا دستور او طریقه د سنت نه خلاف ده ، ددې پرېښودل لازم دی ځکه چې د عمل د قبولیت لپاره یو ضروری شرط دا هم دی چې هغه دا سنت مطابق وی . حضرت فضیل بن عیاض د ((لیبلو کم ایکم احسن عملاً)) ایت په تفسیر کی فرمایي :

((لان العمل اذا کان خالصاً غیر صواب لم یقبل و کذلک اذا کان صواباً غیر خالص فالخالص ان یکون لوجه الله والصواب ان یکون علی السنة))

یعنی کوم عمل چې خالص (خاص د الله لپاره وی) مګر صواب (یعنی د سنت مطابق) نه وی نو هغه مقبول نه دی ، او همداشان کوم عمل چې صواب (سنت مطابق) وی مګر خالص نه وی نو هغه هم مقبول ندی ، هغه عمل قبلېږي چې خالص هم وی او صواب هم وی (تفسیر کبیر ۲۴۳/۸ ، العبودیة (۱۹، ۲۰) صفحې) او د حضرت سفیان ثوری (رح) قول دی :

((لا یستقیم قول و عمل و نیة الا لموافقة السنة)) یعنی یو قول عمل او نیت تر هغې پورې نه صحیح کېږي ځو پورې چې د رسول الله (ص) د سنت مطابق نه وی (تلبیس ابلیس (۹) صفحه) د شیخ عبدالقادر جیلانی ارشاد دی ((و لا عمل بلا اخلاص و اصابة السنة))

یعنی هیڅ یو عمل د اخلاص او د سنتِ مطابق کیدو نه بغیر نه قبلېږي (الفتح الربانی م ۲ ص ۱۴) د حضرت امام غزالی ارشاد دی : ((که چیرته تاسو کوم کار د شارع علیه السلام د حکم نه بغیر وکړی اګر که هغه د عبادت په شکل کی وی هغه عبادت نه بلکې ګناه دی)) (د یو خاص شاګرد په نوم د امام غزالی خط ۷ صحفه)

حضرت خواجه محمد معصوم سر هندی (رح) خپل یو مکتوب کی لیکی : ((د دارینو سعادت د سرور کونین په اتباع او پیروی باندې موقوف دی ، د جهنم نه نجات او جنت ته داخلیدل د سید الابرار قدرة الانبیاء (ص) په اطاعت باندې موقوف دی ، همدا شان د الله تعالی رضا د رسول الله (ص) پیروی سره مشروط دی ، توبه ، زهد ،تقوی ، توکل و تبتل د رسول الله (ص) د طریقی نه بغیر مقبول نه دی او ذکر و فکر ، ذوق و

شوق د رسول الله (ص) سره تعلق نه بغیر ناقابل اعتبار دی)) (مکتوب نمبر ۱۰ د خواجه محمد دینار په نوم)

او فرمایي ((د نبوی سنت د رڼا نه بغیر صراط مستقیم مشکل او د نبوت د لاری اختیارولو نه بغیر د نجات حاصلول تش خیال دی)) (نمبر ۲۲ مکتوب د محمد حنیف په نوم) د یو بزرګ ارشاد دی ،

(۱) به زهدو ورع کوش و صدق و صفا و لیکن میفزادیی بر مصطفی

ترجمه : پرهیزګاری ، عبادت او صدق صفائی که کوشش کوه لیکن د رسول الله (ص) نه به وړاندې کېږه ، مطلب دا چې ښتګه او ښومره کړی همغسی او هماغه اندازه کوه او د خپل خان نه زیات مه کوه .

(۲) خلاف پیغمبر کسی ره ګزید – هرګز بمنزل نخواهد رسید

ترجمه : یعنی کوم سړی چې د پیغبر خلاف لاره اختیار کړی هغه هیڅکله مقصد ته نه رسي .

(۳) پندار سعدی که راه صفا _ توان یافت جز در پئی مصطفی

ترجمه : سعدیه داسي ګمان هیڅکله مه کوه چې د رسول الله (ص) د پیروی او دده په نقش قدم باندې تللو نه بغیر صراط مستقیم او صفا لاره بیا موندلی شی ،

حضرت ابو العالیه جلیل القدر تابعی دی هغه فرمایي ((علیکم بالامر الاول الذی کانوا علیه قبل ان یفترقوا)) په تاسو باندې هغه اولنی طریقه لازمه ده چې هغه باندې مؤمنان مختلف کیدو نه مخکی متفق وو (تبلیس ابلیس (۸) صفحه)

حضرت امام اوزاعی (رح) فرمایي : ((اصبر نفسک علی السنة وقف حدیث وقف القوم و قل بما قالوا و کف عما کفوا عنه و اسلک سبیل سلفک الصالحین))

یعنی په طریقه د سنت باندې خان محکم او ټینګ کړه کوم ځای چې قوم (صحابه کرام) ودریدل هلته ودرېږه ، کومه خبره چې دغو بزرګانو کړی وی هغه ته هم کوه او د کومې خبرې له بیانولو نه چې دغه حضرات منع شوی ته هم منع شه (عقل مه چلوه) او د خپل سلف صالحینو په لاره ځه (تلبیس ابلیس)

حضرت علامه ابن الحاج فرمایي : ((فنحن متبعون لا مبتدعون فحیث وقف سلفنا و قفنا)) یعنی مونږ د سلف صالحینو (صحابه کرام وغیره) پیروی کونکی یو ایجاد کونکی نه یو نو کوم ځای چې خمونږ سلف (مشران) ودریدلی هلته مونږه هم ودرېږو (طحطاوی علی مراقی الفلاح (۳۵۴) صفحه)

پدې وجه د کسوف (لمر تندر نیول) لمونځ جماعت سره کېږي ځکه چې ثابت دی او د خسوف (سپوږمی تندر نیول) لمونځ ځان ځانته کېږي ځکه چې جماعت سره ثابت نه دی ،
په لوی اختر کی عیدګاه ته تګ راتګ کی په زوره تکبیرونه وایو ځکه چې ثابت دی او وړوکی اختر کی په رو رو وایو ځکه چې په زوره ویل ثابت نه دی ، د جمعې لمونځ لپاره دوه اذانه او یو اقامت کولی شی ځکه چې ثابت دی او اختر لمونځ لپاره نه اذان کولی شی او نه اقامت ځکه چې ثابت نه دی.
د رمضان میاشتی په لیدو سره وتر جماعت سره ادا کولی شی ځکه چې ثابت دی او د وړوکی اختر میاشتی په لیدو سره ځان ځانته کولی شی ځکه چې جماعت سره ثابت نه دی همدا شان وغیره ځانته کولو سره دعاء هم ځان ځانته کولی شی ځکه چې یو ځای ثابت نده ، پدې کې کوم څیز غلط دی ؟
غرض دا چې په سوال کی چې کومه دویمه طریقه بیان شوی ده دا یو دینی کار ګڼل او د سنت په شان مضبوط نیول پهٔ دین کی له ځانه کمی زیاتی کولو سره مترادف (یو شان) دی کوم چې بالکل ناجائز او ګناه ده ، امیر المؤمنین حضرت علی (رض) د اختر په ورځ په عیدګاه کی د لمانځه نه مخکې یو سړی په نفل کولو ولید نو منع یې کړ ، هغه سړی وویل ای امیر المؤمنین الله تعالی خو په لمونځ کولو باندې عذاب نه ورکوی (نو بیا ما ولی د لمونځ کولو نه منع کوی ؟) حضرت علی (رض) وفرمایل : زه ښه پوهېږم چې الله تعالی په څه کار باندې هغې پورې ثواب نه ورکوی څو پورې چې رسول الله (ص) هغه کار کړی نه وی یا یې ورته ترغیب نه وی ورکړی ، ستا دا لمونځ عبث شو او (عبادت کی) عبث کار حرام دی یعنی کیدی شی تاته الله تعالی پدې عذاب درکړی چې تا د پیغمبر نه خلاف کار وکړ ، (مجالس الابرار (۱۲۹) صفحه)
حضرت امام مالک (رح) فرمایی : چا چې په اسلام کی نوی خبره پیدا کړه او هغه یې بهتر وګڼله نو هغه حضرت محمد (ص) د الهی احکامو په تبلیغ کی (معاذ الله) خیانت، کوونکی او زیاتی کونکی وګرځولو ، د الله تعالی ارشاد دی : (الیوم اکملت لکم دینکم) نن ورځ ما دین مکمل کړ ، نو کوم کار چې د رسول الله (ص) په مبارکه زمانه کی دین کی داخل ؤ (چې هغه کار نه خپله رسول الله کړی او نه یې د کولو ترغیب ورکړی) هغه نن هم په دین کی نشي شاملیدلی : ((فما لم یکن یؤمئذ دینا فلا یکون الیوم دیناً)) (الاعتصام ۴۸/۱)

غرض دا هر یو انفرادی او اجتماعی کار چې په کوم شان سید الانبیاء محبوب رب العالمین کړی په هماغه شان کول اطاعت او تابعداری دی او څومره چې مشابهت زیاتېږي هومره د هغه کار فضیلت زیاتېږي او هغه کی کمال پیدا کېږي او څومره چې مشابهت او یو شان کیدل کېږي هومره به ناقص ګرځی او چې بالکل ختم شي نو بدعت او ضلالت ګرځی .

د اشراق او د څاښت نفلونه ډېر فضیلت لری مګر رسول الله دا نفلونه بغیر د جماعت نه خانته خپل کور کی کړی دی نو دا په اعلان او ښکاره جومات کی ادا کول او یا جماعت سره ادا کول شروع شو نو د سیدنا عبد الله بن عمر (رض) پشان عاشق رسول هم ورته بدعت وویل :-

((عن مجاهد قال دخلت انا و عروة بن الزبیر المسجد فاذا عبدالله بن عمر جالس الی حجرة عائشة و اذا اناس یصلون فی المسجد صلوة الضحی قال فسالناه عن صلوتهم فقال بدعة)) (بخاری شریف ابو اب العمرة باب کم اعتمر النبی صلی الله علیه وسلم ج ۱ ص ۲۳۸ و اماما) عن ابن عمر انه قال فی الضحی هی بدعة فمحمول علی ان صلوتها فی المسجد والتظاهر بها کما کانوا یفعلونه بدعة (نوری شرح مسلم ج ۱ ص ۲۴۹ باب استحباب صلوة الضحی الخ)

د حضرت ابن مسعود (رض) ارشاد دی ((ان کان و لا بد ففی بیوتکم)) یعنی که چیرته تاسو د څاښت لمونځ خامخا کول غواړی نو په کورو کی کوئ (فتح الباری ۴۳/۳ ابواب العمرة باب کم اعتمر النبی (ص))

حضرت ابن مسعود (ر ض) ته خبر ورکړی شو چې یوه ډله د ماښام نه وروسته کینې یو کس ترینه وایی دومره ځلی الله اکبر دومره ځلی سبحان الله او دومره ځلی الحمد لله ووایئ او نور خلک یې وایی ، حضرت ابن مسعود (رض) ورته ورغی او د هغوی عمل یې ولید نو وی فرمایل : زه عبد الله بن مسعود یم په هغه الله قسم چې د هغه نه سوا بل هیڅ معبود بر حق نشته ، ډېر ناکاره بدعت دی کوم چې تاسو پکې اخته یې ، او که نه داسې ووایی چې تاسو دومره لوی علم والا یې چې د حضرت محمد (ص) د صحابه کرامو نه هم وړاندې شولی بیا یې هغوی د جومات نه وویستل (مجالس الابرار م ۰۸، ص ۱۲۵) (الاعتصام ۱۶۵/۲)

وګورئ پدې تسبیحاتو ویلو کی کوم اختلاف یا د اعتراض قابل څه خبره نشته مګر د ویلو طریقه او ددې التزام د سنت خلاف ؤ نو د حضرت ابن مسعود (رض) پشان جلیل القدر صحابی پرې د بدعت فتوی ورکړه .
پدې بناء امام شاطبی (رح) فرمایی : ((په عباداتو کی مخصوص کیفیات او مخصوصی طریقی او وختو نه مقررول کوم چې شریعت کی ندی راغلی بدعت او ناجائز دی (الاعتصام ۲۴/۱)
حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوی فرمایی : هر هغه کار چې هغه باره کی صاحب د شریعت له طرفه ترغیب نه وي د هغه ترغیب او د کوم چې وخت مقرر نه وی د هغه وخت مقررول د سید الانام له سنت نه خلاف دی او د سنت مخالفت حرام دی)) (مجموعه فتاوی عزیزی ۹۹/۱)
((و لان ذکر الله تعالی اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئی دون شئی لم یکن مشروعاً حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع)) (بحرالرائق ج ۲ ص ۱۵۹ باب العیدین تحت قوله غیر مکبرو متنفل قبلها)
او حضرت امام قرطبی فرمایی : ((یو عبادت کوم خاص وخت یا ځای لپاره خاص کول چې د نبی اکرم (ص) حدیث یا حکم ورته نه وی ممنوع دی او دا عقیده جوړول حرام دی))
پدې وجه فقهاء کرام لیکی : اخترونو ، د برات شپه ، د رمضان آخری لس شپې او د ذی الحجة او لس شپو بیدار پاتې کیدل او عبادت کول مستحب دی مګر دې لپار ه جوماتو کی جمع کیدل مکروه دی ځکه چې نه د رسول الله (ص) نه ثابت دئ نه د صحابه کرامو نه ،
((و من المدوبات احیاء لیالی العشر عن رمضان و لیلتی العیدین و لیالی عشر ذی الحجة و لیلة النصف من شعبان کما وردت به الا حادیث و ذکر ها فی الترغیب و الترهیب مفصلة و المراد باحیاء اللیل قیامه ، و ظاهره الاستیعاب و یجوزان یراد غالبه و یکره الاجتماع علی احیاء لیلة من اللیالی فی المساجد)) (بحر الرائق ج ۲ ص ۵۲ باب الوتر والنوافل تحت قوله و ندب الاربع قبل العصر الخ)
حضرت امام ربانی مجدد الف ثانی (رح) فرمایی : ((افسوس هزار افسوس بعضی از بدعتها که در سلاسل دیگر اصلاً موجود نیست درین طریقه علیه احداث نموده اند و نماز تهجد را بجماعت میگزراند ، اطراف و جوانب د رآنوقت مردم از برای نماز تهجد

جمع میکردند بجمعیت تمام ادا می کنند و این عمل مکروه است بکراهت تحریمه)) ؛
مکتوبات امام ربانی ۱۴۴/۱ (۱۳۱) نمبر مکتوب)

ترجمه : افسوس زر خله افسوس کوم بدعتونه چې د بزرگانو په نورو سلسلو (طریقو) کې بالکل وجود نلری پدې عظیم الشان طریقه (نقش بندیه) کی پیدا کړی شوی دی او د تهجد لمونځ جماعت سره پدې وخت کی د شاوخوا خلک راټولېږي او تهجد ادا کوی او ډېره لویه ډله کی ادا کوی او دا کار مکروه تحریمی دی .

وګورئ ! د تهجد لمونځ د خانته کولو په ځای جماعت سره ادا کولو دستور جوړ کړی شوی نو امام ربانی سخت ممانعت کوی او مکروه تحریمی ورته وایی .

د سنت او نفلو نه وروسته د اجتماعی دعاء ثبوت لپاره قرآنی آیت (فاذا فرغت فانصب) او ذکر شوی حدیث (الدعاء مخ العبادة) وړاندې کول د جهالت دلیل دی ، د لمانځه نه وروسته له دعاء نه څوک منکر دی ؟ سوا ل خو د سنت نه وروسته اجتماعی طور سره دعاء کولو باره کی دی او دې لپاره قرآنی آیت او صحیح حدیث خو پریده ضعیف حدیث هم نشي وړاندې کولی ، که ذکر شوی ایت د سنت نه وروسته اجتماعی دعاء په باره کی وی نو بیا بیا رسول الله (ص) د فرض ادا کولو نه وروسته خپلی حجری مبارکی ته ولی تلو ؟

داسې یو بې اصل او بلا دلیل خلاف سنت طریقه د اسلامی عقیدی او د اهل سنت والجماعت علامه او نبه جوړول او نه کونکو ته د دعاء منکر او وهابی ، او بد عقیده او اهل سنت والجماعت نه خارج بنودل د کوم ځای شریعت او د کوم ځای سنت او د کوم ځای انصاف دی ؟؟؟

بیشکه دا هغه زمانه راغلی کومی وړاندوینه چې (۱۳) سوه کاله مخکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابی حضرت عبد الله بن مسعود (رض) په ژبه باندې شوی وه چې ستاسو به څه حال وی کله چې نشر شوی بدعت سنت وګرځول شي که تاسو پکې تغیر راولی نو وایی به چې په سنت کی تغیر کوئ منکر سنت په نوم سره به مو مشهوروی : -

(۱) حدیث د ویده کیدو ، ویښیدو په وخت دعاګانی راغلی دی او ثابت دی.
(۲) د کور نه وتلو او کورته د ننوتلو وخت کی دعاګانی.
(۳) جومات ته د ننوتو او وتو په وخت کی دعاګانی.
(۴) د خوراک نه مخکې او وروسته دعاء .

(۵) د سحر او ماښام دعاګانی .
(٦) د اودس نه وړاندې او وروسته او په منځ کی دعاګانی.
(۷) د میاشت (سپوږمی) لیدو او د لمر ، سپوږمی تندر نیولو دعاګانی.
(۸) د کپړو اغوستو دعاء.
(۹) سفر ته د تلو او سفر نه راتلو وخت کی دعاګانی.
(۱۰) د وداع (رخصتول) دعاء .
مبارکبادی ، بیمار تپوسی ، ماتم او تر دی پورې چې د جماع (ښځی سره نزدیکت) نه وړاندې او وروسته او بیت الله الخلاء ته تلو نه وړاندې او وتو نه وروسته هم دعاګانې راغلی دی .
حاصل دا چې سحر تر ماښامه پورې په سوونو دعاګانی مسنون دی چې هیڅوک یې نه لولی چاته یاد هم ندی او چا سره یې غم او فکر هم نشته ، که فکر دی نو د بدعت یا د مسنون دعاګانو پرېښودو سره غیر مسنون ، غیر ثابت او خلاف سنت کارونو پخپله او نورو باندې کولو او ددې د باقی ساتلو د وس نه باهر کوشش کولی شی ، افسوس دا هغه زمانه راغلې ده د کومې وړاندوینه چې حضرت ابن عباس (رض) کړې ده ((لا یاتی علی الناس زمان الا اما توا فیه سنة و احیوا بدعةً)) یعنی داسې زمانه به راځی چې خلک به ست طریقی ختموي او بدعت به ژوندی او جاری کوی (غنیة الطالبین ۵۸ صفحه)
د رخصتولو په وخت کی چې ځنګه نهایت ضروری او اهم نصیحتونه کولی شی همدا شان رسول الله (ص) چې امت ته کوم نصیحتونه فرمایلی دی پدې ټولو کی زیات اهم وصیت دا دی : رسول الله (ص) وفرمایل : ما نه وروسته به ډېر زیات اختلاف پیدا شي نو په تاسو باندې لازم او ضروری دی چې زما سنت (زما طریقه) او د خلفاء راشدینو طریقه (کوم چې د الله له طرفه هدایت یافته دی) مضبوط ونیسئ او د جامی په غاښو باندې کلک ونیسی او د نوو خبرو نه چې له خپل ځان نه را پیدا کړ ی شوی وی مکمل احتیاط وکړی او قطعاً ترینه جدا ووسی ځکه چې هر نوي پیدا کړی شوی فعل بدعت دی او هر بدعت ګمراهی ده (مشکوة شریف (۳۰) صفحه باب الاعتصام)
همدا وجه ده چې صحابه کراماو ددوی په نقش قدم باندې تلونکو سلف صالحینو به داسې کوم څیز نه برداشت کولو چې د رسول الله (ص) له سنت څخه به ثابت نه ؤ که هغه هر څومره معمولی کار معلومېدو ، مثلاً :-

حضرت عمارة بن رویبة (رض) بشر بن مروان په خطبه کی لاس اوچتولو سره په دعاء کولو ولید نو خیرې یې وکړی چې الله تعالی دا دواړه واړه واړه ناکاره لاسونه خراب کړی ، بیا یې وفرمایل : ما رسول الله (ص) هم په خطبه ویلو باندې لیدلی دی ، حضرت عمارة د شهادت ګوتی طرف ته اشاره وکړه او وې فرمایل رسول الله (ص) به چیری او کله هم لدینه زیات نه کول یعنی لاسونه به یې نه خوزول (ترمذی شریف ۶۸/۱ باب ماجاء فی کراهیة رفع الایدی علی المنبر)

د حضرت عبدالله بن مغفل (رض) څوی په لمانځه کې د الحمد لله په شروع کی په زوره بسم الله وویل نو حضرت عبد الله بن مغفل (رض) وفرمایل : څویه ! بدعت دې لدینه احتیاط کوه او د بدعت نزدې هم مه ګرځه د صحابه کرامو نه هم بدعت نه زیات بل شئی سره بغض کونکی ما ندی لیدلی (ترمذی شریف ۳۳/۱ باب ماجاء فی ترک الجهر بسم الله الرحمن الرحیم)

ما رسول الله (ص) بیا حضرت ابو بکر ، حضرت عمر، حضرت عثمان (رض) پسې لمونځ کړی دی په دوی کی د یو نه هم ما په زوره بسم الله ندی اوریدلی .

حضرت امام نافع فرمایی : د ابن عمر (رض) په خوا کی یو سړی پرنجی وکړ او هغه ((الحمد لله والسلام علی رسول الله)) وویل نو ابن عمر (رض) باندې د والسلام علی رسول الله زیات بنه ونه لګید او فوراً یې وفرمایل : رسول الله (ص) د داسې ویلو تعلیم ندی ورکړی ده خو یواځی ((الحمد لله علی کل حال)) ویلو تعلیم ورکړی دی (ترمذی ۱۰۳/۲ ، باب ما یقول العاطس اذا عطس)

حضرت ابن مالک اشجعی فرمایی : ما د خپل پلار طارق (رض) نه تپوس وکړ چې تا رسول الله (ص)، حضرت ابو بکر ، حضرت عمر ، حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله عنهم پسې لمونځ کړی دی ایا دوی د سحر لمانځه کی دعاء قنوت ویلو .؟ جواب یې راکړ چې څویه بدعت دی د ترمذی شریف ۵۳/۱ باب فی ترک القنوت ، نسایي شریف ۱۳۲/۱)

ـ یوه بنیادی نکته چې هیڅکله هیرول نه دی پکار :

صحابهٔ کرام (رض) د حق معیار دی او ددوی جذبات او رحجانات ، د صراط مستقیم مقدس علامې او د کامل دین عملی تصویرونه دی ، څکه چې د دین حق بانی حضرت حق جل مجده خپل پاک کلام کی شهادت ورکړی چې همدوی په نیغه لاره دی (أولئک هم الراشدو ن) (سورت حجرات) او همدوی هغه پاک نفسونه دی چې الله

تعالی ددوی په زړونو کی د ایمان له محبت نه ډک کړی او ایمان یې ددوی په زړونو کی خای کړی دی ، د کفر ، فسق او معصیت سره یې د دوی ډېر سخت بغض او نفرت پیدا کړی دی (سورت حجرات) او په پرهېزګاری باندې یې دوی پوخ کړی دی د تقوی کلمه یې ددی سره لازمه کړی او دوی د تقوی او پرهېزګاری د ټولو نه زیات حقدار او اهل دی (سورت فتح)

غور وکړئ ، د الله تعالی نه اوچت شهادت د چا کیدی شی ؟ دغه شهادتونه بیا بیا وګورئ او بیا فیصله وکړئ کله چې زمونږ دغه اکابر (مشران) د سنت خلاف معمولې غوندې خبرې ته هم بدعت ویل او بدعت نه یې دومره نفرت کولو چې بل شی سره یې دومره نفرت نه کولو نو بیا کوم مسلمان لپاره کوم خای ددې ګنجائش پیدا کېږي چې هغه کوم بدعت اختیار کړی او وظیفه وګرخوی (معاذ الله) بلکې حقیقت دا دی چې د بدعت نه نفرت د صحابه کرامو د محبت علامه ده خومره چې صحابه کرامو سره محبت زیات وی هومره به له بدعت نه نفرت هم زیات کوی ، الله تعالی دې مونږ ته د خپل خبیب په وسیله ، صحیح پوهه ، د سنت حقیقی محبت او له بدعت نه حقیقی نفرت نصیب کړی ، آمین ، و صلی الله تعالی ....

ـ لمانځه نه وروسته اجتماعی طور لاس اوچتولو سره دعاء کول:

(٣۴ سوال) دینی عالمان او مفتیان صاحبان پدې مسئله کی څه فرمایی چې د فرض لمانځه نه وروسته امام سره د مقتدیانو اجتماعی حیثیت سره لاس اوچتولو سره دعاء کول د کوم صحیح یا ضعیف حدیث یا کوم دلیل نه ثابت دی یا نه؟ خمونږ پدې خای کی پدې مسئله کی ډېر زیات اختلاف شروع دی ، مهربانی وکړی د مسئلی حقیقت واضح کړئ (له بنګله دیش نه)

(جواب) له فرض لمانځه نه وروسته مسنونه دعاء کی دواړه لاسونه اوچتول منقول او ثابت دی ، د احقر له بزرګانو څخه محدث حضرت سید قاضی رحمت الله لاجپوری ثم راندیری رحمه الله د غیر مقلدینو د اعتراضاتو په سلسله کی خو رسالی لیکلی دی د هغو له جملی نه یوه رساله ((ترتیب المسائل علی اقوی الدلائل)) ده ددی په آخر کی خاص په همدې موضوع باندې یوه فتوی نقل کړی ده چې په هغه باندې د مقلدینو او غیر مقلدینو لویو لویو علماؤ تصدیقی دستخطونه دی چې لوستونکو ته په لاندې ډول وړاندې کولو سعادت حاصلوم ، فالحمد لله علی ذلک .

حضرت مولانا سید قاضی رحمت الله صاحب د خپلی رسالی په آخر کی لیکی : -

,, اوس زه خپله رساله په یوه ضروری او کثیر الوقوع مسئله باندې ختموم او دا مسئله د لمانځه نه وروسته لاس اوچتولو سره د دعاء کولو ده چې حنفي علماء او غیر مقلدین دغه مسئله بعینها نقل کولو سره کتونکو ته وړاندې کوم ، چونکې هغه په فارسی ژبه کې ده او عوام ورباندې نه پوهېږي لهذا د هغه ترجمه مې په اردو کې کړې ده تر څو په پوهېدو کې مشکل نه وی او الله تعالی راته اجر راکړی ، حسبنا الله و نعم الوکیل نعم المولی .... ،

تپوس . دینی عالممان او شرعی مفتیان پدې مسئله کې څه فرمایی چې د لمانځه نه وروسته په دعاء کې دواړه لاسونه اوچتول لکه چې د امامانو معمول دی ، د قوی یا فعلی حدیثو څخه ثابت دی یا نه ؟ اګر که فقهاء ورته مستحسن وایی او له حدیثونو څخه په مطلق دعاء کې لاسونه اوچتول ثابت دی ، لیکن پدې باره کې خاص طور سره کوم حدیث شته یا نه ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ .

(جوا ب) یو حدیث شته لکه چې حافظ اکبر احمد بن محمد بن اسحاق بن السنی (رح) په ((عمل الیوم واللیلة)) کتاب کې نقل کړی دی :-

((حدثنی احمد بن الحسن حدثنا ابو اسحق یعقوب بن خالد بن یزید الیالسی حدثنا عبدالعزیز بن عبدالرحمن القرشی عن حفیف عن انس عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال ما من عبد بسط کفیه فی دبر کل صلوة ثم یقول اللهم الهی و اله ابراهیم و اسحاق و یعقوب و اله جبریل و میکائیل و اسرافیل اسئلک ان تستجیب دعوتی فانی مضطر و تعصمنی فی دینی فانی مبتلی و تنالنی برحمتک فانی مذنب و تنفی عنی الفقر فان ممسکن الاکان حقا علی الله عز و جل ان لا یرد یدیه خائبین))

او که څوک دا ووایی چې د حدیث په سند کې عبد العزیز بن عبدالرحمن دی او هغه متکلم فیه دی لکه په میزان الاعتدال وغیره کې چې تصریح شوی ، نو ددې په جواب کې دا ویل کېږي چې د استحباب ثابتولو لپاره ضعیف حدیث هم کافي دی لکه چې ابن همام د فتح القدیر کتاب الجنائز کې لیکي : ((و الاستحباب یثبت بالضعیف غیر الموضوع انتهی ، والله اعلم . حرره الراجی عفو ربه القوی ابو الحسنات محمد عبدالحی تجاوز اله عن ذنبه الجلی والخفی)) (ابو الحسنات محمد عبدالحی ۸۱ ، ۲۱) (محمد سعد الله)

دا صحیح جواب او قوی رایه ده او ددې تائید هغه حدیث کوی چې ابو بکر بن ابی شیبة خپل مصنف کې د اسود العامری نه نقل کړی دی او هغه د خپل پلار نه ((قال

صلیت مع رسول الله (ص) الفجر فلما سلم انحرف و رفع یدیه و دعاء)) نو د فرضو لمونځونو نه وروسته په دعاء کې لاس اوچتول د سید الانبیاء (ص) نه ثابت شو لکه چې له پاکو علماء کرامو نه محتفی ندی ، حرره السید شریف حسین عفا الله عنه فی الدارین ، (سید شریف حسین ۸۸ ، ۱۲) (حسبنا الله حفیظ الله) (محمد عبدالرب) (سید احمد حسین ۸٦ ، ۱۲) سید محمد نذیر حسین ۱۲۰۸)

لکه څنګه چې په جواب کی د ذکر شوی حدیث نه د لمانځه نه وروسته په دعاء کی د لاسونو اوچتول ثابت دی او همدا شان د هغه حدیث نه چې ابن ماجه قزوینی نقل کړی هم ثابتیږي :

((حدثنا ابو بکر بن ابی شیبة ثنا شبابة بن سوار نا شعبة حدثنی عبد الله بن سعید عن انس بن انس عن عبد الله بن نافع بن العمیاء عن عبد الله بن الحارث عن المطلب یعنی ابن ابی وداعة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم صلوة اللیل مثنی مثنی و تشهد فی کل رکعتین و لا باس و تمسکن و تقنع و تقول اللهم اغفرلی فمن لم یفعل ذلک فهی خداج قوله تقنع من باب الافعال ای ترفع یدیک بعد الصلوة وقت الدعاء ۱۲ .

تقریر مولانا و مرشدنا حاجی الحرمین الشریفین المهاجر فی سبیل الله تعالی محمد اسحاق المشهور فی آفاق المحدث الدهلوی مولداً و المکی مضجعاً غفر الله لی و له طاب الله ثراه و جعل الجنة مثواه و منه حدیث الدعا تقنع یدیک ای ترفعها (نهایة الجزری) و منه حدیث الدعاء تقنع یدیک ای ترفعهما الی الله بالدعاء)) (مجمع البحار).

لیکن ددې حدیث په سند کی عبد الله بن نافع بن العمیاء دی او دا مجهول دی لکه چې په تقریب کی لیکلی دی ((مجهول من الثانیة)) لیکن د راوی په جهالت سره حدیث نه موضوعی کیږي البته ضعیف کیږي او په فضائلو کی په ضعیف حدیث باندې هم عمل جائز دی اتفاقاً ، لکه چې ملا علی قاری په رساله د فضل شعبان کی لیکلی دی ((قلت جهالة بعض الرواة لا تقتضی کون الحدیث موضوعاً کذا نکارة الالفاظ فینبغی ان یحکم بانه ضعیف ثم یعمل بالضعیف فی فضائل الاعمال اتفاقاً)) او د ځینو په نزد ضعیف حدیث باندې په ځینو احکامو کی هغه وخت عمل جائز دی چې په هغه کی احتیاط وی ، لکه چې شامی کی لیکلی دی ((قال السیوطی : و یعمل به ایضا فی الاحکام اذا کان فیه احتیاط))

او کله چې د دعاء په وخت کې د لاسونو اوچتولو مطلقاً صحیح حدیث نه ثابت دی لهذا پدې مذکور ضعیف حدیث باندې عمل کول جائز دی ، او کوم وخت کې چې د عمل د سنت والي عقیده نه وی بلکې د استحباب وی نو بیا هم په ضعیف حدیث باندې عمل جائزاو صحیح دی لیکن شرط دا دی چې زیات ضعیف نه وی یعنی کذاب او متهم بالکذاب نه وی ، مجهول وی لکه چې په در مختار کې دی : - ((شرط العمل بالحدیث الضعیف عدم شدة ضعفه و ان یدخل تحت اصل عام و ان لا یعتقد سنیة ذلک الحدیث)) او په شامی کې دی : ((شدید الضعف هو الذی لا یخلو طریق من طرقه عن کذاب او منهم بالکذاب قال ابن حجر)) او په شامی کې دی ((ای سنیة العمل به)) نو لدینه معلوم شو چې پدې ذکر شوی ضعیف حدیث باندې استحباب ثابتول جائز دی ، دې لپاره چې د ضعیف حدیث نه استحباب ثابتېږي ، لکه چې مجیب خپل جواب کې لیکلی دی ، فقط والله اعلم ، (محمد عالم عفی عنه ۱۲۸۳ هـ) (از ترتیب المسائل علی اقوی الدلائل) (۶۲ – ۶۴) صفحې.

ـ د اختر لمونځ نه وروسته دعاء کول :

(۳۵ سوال) زمونږه کلی ته زمونږه یو کلیوال عالم او حافظ له افریقی نه راغلی په رمضان المبارک کې په جامع جومات کې پنځه وخته لمونځ او تراویح ورکولې د اختر لمونځ هم هغه ورکړ ، د افریقي د دستور مطابق د اختر خطبې نه وروسته د منبر نه کوزیدو سره لاندې کیناست او دعاء یې شروع کړه ، پدې دوران کې د کلی یو مولوی صاحب غصه شو او په منبر باندې کیناست او امام صاحب ته یې وویل دعاء بنده کړه مگر هغوی دعاء جاری وساتلو او زر یې ختم کړو ، لدینه وروسته مولوی صاحب وفرمایل: د اختر لمانځه نه وروسته رسول اکرم (ص) دعاء کړې ده خو د خطبې نه وروسته یې دعاء نه ده کړی لهذا دا بدعت ده ، پدې سره د اختر د خوشحالی په ځای خفگان او بې باوری فضا پیدا شوه ، هوښیارو خلکو وویل : د ټولو په وړاندې پداسې توهین آمیز لهجه کې د وینا ضرورت نه وه ، وروسته جدا یا د علماؤ په مجلس کې باید ویلی وای حاصل دا چې دده دا طریقه صحیح ده یا نه ؟ پدې باره کې شرعی هدایات څه دی ؟ وضاحت وکړئ خیر یوسئ.

(جواب) هو الموفق للجواب : - زمونږ اکابر (مشران) د عید (اختر) په موقع مستقل اجتماعی دعاء متعلق مختلف رایې لری ،ځینې خو ددی د ثبوت بالکل قائل نه دی لکه امام المحققین علامه ابو الحسنات مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله فرمایی : د

حدیث له روایاتو نه دومره قدری معلومېږي چې رسول الله (ص) به د اختر لمانځه نه فارغیدو سره خطبه ویله او د خطبې نه وروسته به واپس کیدو او د لمانځه نه وروسته یا د خطبې نه وروسته دعاء کول د رسول اکرم (ص) نه ثابته نه ده او همدا شان د صحابه کرامو او تابعین عظامو نه هم ددی ثبوت له نظر نه ندی تیر شوی (مجموعه فتاوی قدیم ۱/۱۲۰)

رئیس المحدثین حضرت علامه انور شاه کشمیر رحمه الله فرمایی: ((**د حضرت ام عطیه (رض) قول: مونږ ته دا حکم ؤ چې حایضی ښځی هم عیدګاه ته لاړی شی تر څو له سرو سره تکبیرونه ووایی او ددوی په دعاګانو کی شریکی شی، الی قوله، لدې څخه دی دا مطلب وانخستی شی چې د اختر نه وروسته به دعاء کیدلو لکه چې پنځه وخته لمونځونو نه وروسته کېږي، او پدې باره کی اطلاقاتو باندې استلال او تمسک صحیح ندی، ځکه چې پدې باندې د استدلال ګنجائش هغه وخت کی پیدا کېږي چې هلته خاص موقع او مقام کی کومه بله خبره نه وی او دلته دویم صورت موجود دی چې تر نهو کالو پورې د اختر لمونځ شوی دی (ټول اته لس لمونځونه شو) چا هم د لمانځه نه وروسته دعاء نقل کړې نه ده، لهذا د عامو اطلاقاتو څخه چې د عام لمونځونه نه وروسته دعاء ثابت ده دلته خاص اختر لمانځه نه وروسته دعاء نشي ثابتولی، الی قوله، او بله دا چې دلته (د اختر په لمانځه کی) د لمونځ او د خطبې اتصال مطلوب دی پدې وجه ددوی تر منځ دعاء پکار نه ده (چې پدې سره د لمونځ او خطبې تر منځ انقطاع او جدائی لازمېږي) او په حدیث کی چې کوم د دعاء او دعوت او پدې کی د ښځو د شرکت ذکر شوی لدې نه هغه اذکار مراد دی کوم چې خطبه او د وعظ و نصیحت په دوران کی کېږي، ځکه چې دعاء او دعوت عام دی، الخ (فیض الباری ۲/۳٦۲)، العرف الشندی ۲۴۱، انوار الباری شرح صحیح بخاری اردو ۸/۹۰، ۹۱)**

امام اهل سنت حضرت مولانا عبدالشکور صاحب فرمایی: ((د اختر لمانځه نه وروسته دعاء کول د رسول الله (ص) او دده صحابهٔ کرام، تابعین او تبع تابعین رحمه الله علیهم اجمعین نه نقل نه ده، او که دغو حضراتو کله دعاء کړی وای نو ضرور به نقل شوی وه لهذا د اتباع په غرض د دعاء کولو څخه نه کول بهتر دی)) (علم الفقه ۲/۱۷۱).

او د هند مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی کفایت الله صاحب رحمه الله له فتوی نه د دعاء اجازت معلومېږي مګر دې د موقع د تعیین ثبوت قائل ندی، فرمایي: د اختر نه

وروسته د دعاء غوښتلو في الجمله ثبوت خو نشته مګر د موقع التعیین سره ثبوت نشته چې د لمانځه نه وروسته یا د خطبې نه وروسته د دواړو موقع څخه یوه موقع کې (لمانځه نه وروسته یا د خطبې نه وروسته) دعاء کولو کې څه پروا نشته)) (کفایت المفتي ۲۵۱/۳)

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوی صاحب فرمایي : ((واقعي د اختر لمونځ یا د خطبې نه وروسته دعاء کول خاص طور سره نقل شوی نده او له ((دعوتهم)) باندې استدلال ناتمام دی ځکه چې پدې کې د کوم محل تصریح نشته چې دعاء کوم وخت کېږي بیا په خاص کل محل کې پدې باندې استدلال کول ظاهر ده چې ناتمام دی ، کیدی شي دا هغه دعاء وي چې په لمونځ کې دننه کېږي یا په خطبه کې په عامو صیغو سره کېږي کومه چې ټولو مسلمانانو ته شاملېږي او اول برکات یې په حاضرینو باندې کېږي ، لیکن په خاص طور باندې نه تقلیدو سره د بدعت حکم لګول هم مشکل دی ځکه چې د نصوصو له عموم څخه د دعاء بعد الصلوة فضیلت ثابت دی نو پدې عموم کې ددې دداخلیدو ګنجایش شته ، او که کوم سړی په خاص طور باندې د نه نقلیدو په وجه ترک کړی هغه باندې هم ملامتیا نشته ، په هر حال دا دومره مهتمم بالشان مسئله نه ده ، په دواړو طرفونو کې توسع او فراخي ده ((امداد الفاوی ۳۷۷/۱ باب صلوة الجمعة والعیدین)

لدې پورته ذکر شوی اقوالو او فتاواګانو څخه لاندې درج شوی خبری راوځي : -

(۱) د اختر لمونځونو لپاره کومه مستقله اجتماعي دعاء ثابته نه ده ، په خطبه کې چې کوم دعاء کېږي هماغه اصل دعاء ده ،

(۲) د خطبې نه وروسته د دعاء ګنجائش شته (کفایت المفتي ۲۵۱/۳ ، او فتاوی رحیمیه ۷٦/٦ فتوی مطلب هم دا دی چې ددې عادت جوړول او دغه طریقه سنت ګڼل مکروه او خلاف سنت دی لکه چې د فتاوی رحیمیه د سوال نه معلومېږي چې د هغوی په خای کې د خطبې نه وروسته د دعاء کولو دستور ؤ ، او وایي سنت طریقه ګڼله او د دینه خلاف کولو ته تیار نه وو)

(۳) د اختر لمانځه نه وروسته دعاء کول اولی او بهتر ده ، تاکیدی حکم نه دی (امداد الفتاوی) لهذا پدې ذکر شوی مسئله کې په عام مجلس کې چې کوم کار شوی دا غلط شوی . چا چې دا نامناسب حرکت کړی د هغوی په ذمه ددې تلافي او جبران لازم دی . فقط والله اعلم ۵ شوال المکرم ۱۴۰۰ هـ

ــ د فرض لمانځه نه وروسته امام په زوره دعاء وکړئ یا په پټه ؟

(۳٦ سوال) پنځه وخته لمونځ نه وروسته امام لپاره مستحب او مسنون جهری دعاء ده یا په پټه ؟ عام طور باندې خلک جهرا (زوره) دعاء کول خوښوی د امام په دعاء باندې آمین آمین ویل فضیلت گڼی ، کوم امام چې په پټه دعاء کوی د هغه نه خفه وی او اعتراض کوی چې مونږه د آمین ویلو نه محروموی ، شرعی حکم څه دی ؟

(جواب) د فرض لمونځ نه وروسته د امام او مقتدیانو یو ځای دعاء کولو ډېر فضیلت دی او ددې مسنون او افضل طریقه دا ده چې امام او مقتدیان ټول رو رو دعاء وغواړی، دا طریقه د اخلاص نه ډک ، د خشوع او خضوع ، زړه باندې اثر کونکی قبولیت ته نزدې او ریا کاری نه لری ده ، په دعاء کی اصل پټوالی دی کما قال الله تعالی (ادعوا ربکم تضرعاً و خفیة انه لا یحب المعتدین) یعنی ای بندگانو د خپل رب نه په زړا فریاد او غلی غلی دعاء وغواړئ ، په زوره دعاء کول د حد نه تجاوز کول دی او بیشکه الله تعالی د حد نه تجاوز کونکی نه خوښوی ،

پدې ذکر شوی ایت کی الله عز و جل د دعاء دوه آداب بیان کړی (۱) دعاء په عاجزی او زړا فریاد سره پکار ده (۲) دعاء غلی غلی کول پکار دی ،

د حضرت زکریا علی بنینا و علیه الصلوة والسلام هم همدا طریقه ده کما قال تعالی : - (اذ نادی ربه نداءً خفیاً) یعنی (زکریا علیه السلام) خپل رب ته په پټه آواز وکړ (دعاء یې وکړه).

او په حدیث شریف کی هم دی : ((خیر الدعاء الخفی)) یعنی بهترینه دعاء په پټه ده ، او بل حدیث کی دی : ((یا ایها الناس اربعوا علی انفسکم انکم لیس تدعون اصم و لا غائباً انکم ندعون سمیعاً و قریباً وهو معکم (بخاری شریف ج ۲ باب غزوة خیبر ص ٦۰۵ ، مسلم شریف باب استحباب حفض الصوت بالذکر الخ ج ۲ ص ۳۴٦)

ای خلکو په خپلو ځانو باندې نرمی وکړی تاسو هغه ذات نه رابلئ چې کوڼ وی او غائب دی تاسو خو سمیع او قریب ذات ته بلنه کوی او هغه هر وخت تاسو سره موجود دی .

په تفسیر کبیر کی علامه امام رازی رحمه الله فرمایی :

((و اعلم ان الاخفاء معتبر فی الدعاء یدل علیه وجوه (اول) هذه الایة (ای ادعوا ربکم الخ) فانها تدل علی انه تعالی امر بالدعاء مقروناً بالاخفاء و ظاهر الامر للوجوب فان لم یحصل الوجوب فلا اقل من کونه ندباً ثم قال تعالی بعده انه لا یحب المعتدین

و الاظهر ان المراد انه لا یحب المتدین فی ترک هـذین الامرین المـذکورین و هما التضرع و الاخفاء فان الله تعالی لا یحبه و محبة الله عبارة عن الثواب فکـان المعنـی ان من ترک فی الدعاء التضرع و الاخفاء فان الله لا یثیبه و لا یحسن الیه و من کـان کـذلک کان من اهل العقاب لا محالة فظهر ان قوله تعالی انـه لا یحـب المعتـدین کالتهدیـد الشدید علی ترک التضرع والاخفاء فی الدعاء ، التفسیر ج ۴ ص ۳۴۷ سورة اعراف تحت قوله و ادعو ربکم تضرعاً الخ))

د علامه رازی (رح) د کلام خلاصه او لنډیز دا دی : ښه پوهه شی چـې پـه دعـاء کـی خاص اخفاء (پټوالی) قابل عمل دی او ددی خـو دلیلونـه دی (اول دلیـل) د ذکـر شوی ایت (ادعوا ربکم ... انه لا یحب المعتدین) دا ایت کریمـه پـدې دلالـت کـوی چې الله تعالی خپلو بندګانو ته د رو رو دعاء کولـو حکـم کـړی او د امـر صـیغه ظـاهراً وجوب لپاره وی او که نه کم نه کم دِندب لپاره خو خامخا وی ، او بیا وروسته الله تعالی وفرمایل (انه لا یحب المعتیدن) او ددې ظاهری معنی دا ده چې الله تعـالی پـه ذکـر شوی دوه څیزونو (تضرع او اخفاء) کی د حد نه تجاوز کونکی نه خوښوی او په ایـت کی (لا یحب) نه (لا یثیبه) مراد دی ،اوس د ایت معنی دا شو چـې کـوم خلـک پـه دعاء کی تضرع او اخفاء پریدی نو د الله تعالی په نزد هغوی د ثـواب مسـتحق نـه دی بلکی د سزا حقدار دی ،

په تفسیر بیضاوی کی دی : ((فان الاخفاء دلیل الاخلاص)) (ص ۲۹۴)

یعنی په رو رو دعاء کول د اخلاص دلیل دی (او الله تعالی ته اخلاص والا عمل د حـد نه زیات خوښ دی) ، او فتاوی سراجیه کی دی : ((یستحب فی الدعاء الاخفاء و رفع الصوت بالدعاء بدعة ص ۷۲)) یعنی دعاء په پټه کول مستحب دی او پـه اوچـت آواز سره دعاء کول بدعت دی ، او فتاوی بزازیه کی دی :

((یدعو الامام جهراً لتعلیم القوم و یخافته القوم اذا تعلم القوم و یخافـت هـو ایضـاً و ان جهر فهو بدعة)) (فتاوی بزازیه جلد اول مع الهندیه ج ۴ ص ۴۲ کتاب الصلوة الحـادی عشر فی القراة)

یعنی امام به مقتدیانو ته زده کولو لپاره په زوره دعـاء کـوی او کلـه چـې مقتـدیان زده کړی نو بیا به مقتدیان او امام ټول په پټه دعاء کوی او که په زوره دعاء وکړی نو بدعت دی معلومه شوه چې په زوره دعاء کولو باندې همیشه والی ندی پکار .

حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی : ((والمختار ان الامام والماموم یخفیان الذکر الا ان احتاج الی التعلیم)) (فتح الباری ۲۶۹/۲) یعنی غوره طریقه دا ده چې امام او مقتدیان ذکر (دعاء) په پټه وکړی البته که چیرته د دعاء د زده کولو ضرورت و نو بیا (تر زده کولو پورې) څه پروا نه لری ، او په عالمگیری کی دی : ((والسنة ان یخفی صوته بالدعاء کذا فی الجوهرة النیرة)) (۱۴۸/۱ ، الباب الخامس فی کیفیة اداء الحج)
یعنی سنت طریقه دا ده چی په پټه دعاء وغواړی ، او په بحر الرائق کی دی : ((لقوله تعالی : انه لا یحب المعتدین ، ای الجاهرین بالدعاء)) (۱۹۲/۲ کتاب الجنائز تحت قوله : و شرفد امها) یعنی د الله تعالی د فرمان ((انه لا یحب المعتدین)) مطلب دا دی چې په زوره زوره دعاء کونکی الله تعالی نه خوښوی ، په تفسیر روح المعانی کی دی :-
((تری کثیراً من اهل زمانک یعتمدون الصراخ فی الدعاء خصوصاً فی الجوامع حتی یعظم اللغط و یشتد و تستک المسامع و تستدو لا یدرون انهم جمعوا بین بدعتین رفع الصوت فی الدعاء و کون ذلک فی المسجد و روی ابن جریر عن ابن جریح ان رفع الصوت بالدعاء من الاعتداء المنشار الیه بقوله سبحانه انه لا یحب المعتدین ؛)) (ج ۸ ص ۱۳۹ سورة اعراف تحت قوله و ادعوا ربکم تضراعاً و خفیه الخ)
یعنی ته به ډېر امامان وګورې چې په زوره دعاء کوی خاص طور په جامع جوماتو کې تر دې پورې چې چیغی وهی چې غوږونه پرې کانه او بندېږي او حال دا چې هغوی نه پوهېږي چې دوه بدعتونه سره یو ځای کوی (۱) په زوره دعاء کول (۲) په جومات کی دا کار کول ، ابن جریر له ابن حریج نه نقل کړی دی چې په دعاء کی آواز اوچتول هغه اعتداء (د حد نه تجاوز کول) ده کوم ته چې الله تعالی پخپل کلام کی (انه لا یحب المعتدین) سره اشاره کړې ده .
خلاصه د کلام دا چې مذکوره محدثین ، مفسرین او فقهاو له اقوالو نه صراحتاً معلومېږي چې په پټه دعاء کول امام ، منفرد او مقتدی ټولو لپاره افضل او مسنون دی امام لپاره په زوره دعاء کولو عادت جوړول مکروه او خلاف اولی ده ، امامانو ته پکار دی چې د سنت عظمت او اهمیت وپیژنی ، او پدې باندې د عمل کولو کوشش وکړی ، د عوامو او نفسی خواهشاتو پیروی ونه کړی .
د ذکر شوو اقوالو نه علاوه د اکابرینو اقوال هم وګورئ :-
حضرت مفتی اعظم مولانا مفتی کفایت الله صاحب رحمه الله فرمایی :

،، او د امام زوره زوره دعاء کول هم مکروه دی ، اګر که تنزیهی او خلاف اولی دی لیکن ددې اختیارولو او عادت جوړولو ضرورت څه دی ؟ مکروه په هر حال مکروه دی ددې پریښودل بهتر دی ، او لویت او بهتر ددې په خلاف دی (النفائس المرغوبة ۵۰۴)).
په تفسیر روح المعانی کی دی : ((و الافضل فی الدعاء الاخفاء فان الاخفاء دلیل الاخلاص ،)) (سورت اعراف تحت قوله ادعوا ربکم تضرعاً الخ) یعنی په دعاء کی پټوالی غوره دی څکه چې دا طریقه اخلاص ته قریب ده ، او په تفسیر روح البیان کی دی :

((ادعوا ربکم الخ ای متضرعین متذللین مخفین الدعاء لیکون اقرب الی الاجابة لکون الاخفاء دلیل الاخلاص والاحتراز عن الریاء)) (۱۷۷/۳) ادعوا ربکم الخ یعنی خشوع خضوع ، عاجزی او غلی غوندی دعاء کوی څکه چې دا قبولیت ته نزدې ده ، او په پټه دعاء کول د اخلاص نښه هم ده او د ریا کاری نه د لرې والی دلیل هم ، په تفسیر فتح البیان کی دی : ((والخفیة الاسرار به فان ذلک اقطع لعرق الریاء)) (۴۰/۲)
یعنی په ایت د ((ادعوا ربکم تضرعاً و خفیة)) کی د خفیه معنی په پټه دعاء کول دی څکه چې دا په پټه دعاء کول د ریا کاری جرړی پریکولو لپاره ډیر مؤثر دی ، او تفسیر مظهری کی دی : ((و یدل علی کون ذکر السر افضل و مجمعاً علیه من الصحابة من تبعهم قول الحسن ان بین دعوة السر و دعوة العلانیة سبعون ضعفاً و لقد کان المسلمون یجتهدون فی الدعاء و ما یسمع لهم صوتا الا همسا بینهم و بین ربهم و ذلک ان الله سبحانه و تعالی یقول ادعوا ربکم تضرعاً و خفیة و ان الله ذکر عبداً صالحاً و رضی فعله فقال اذ نادی ربه نداء خفیاً و ایضاً یدل علی فضل الذکر الخفی حدیث سعد بن ابی وقاص قال رسول الله صلی الله علیه وسلم خیر الذکر الخفی و خیر الرزق ما یکفی اه))
خفیه او په پټه ذکر بهتر دی ، د صحابه کرامو او تابعینو په همدې باندې اتفاق دی ، د حسن بصری رحمه الله قول دی چې خفیه او جهری دعاء کی او یا درجی فرق دی ، مسلمانانو به په ډیر شوق سره دعاء کولو مګر آواز به یې قطعاً نه اوریدل کیدو ، یواځې د شونډو حرکت او خوزیدل به معلومېدو ، څکه چې الله تعالی فرمایي : (ادعوا ربکم تضرعاً و خفیة) او د صالح بنده حضرت زکریا علیه السلام باره کی فرمایي (اذ نادی ربه نداءً خفیاً) د حضرت سعد بن ابی وقاص (ر ض) روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : بهترین ذکر په پټه دعاء کول دی او بهترین رزق هغه دی چې په قدر د کفایت وی (تفسیر مظهری ۳۱۷/۴ ، هکذا فی تفسیر روح المعانی ۱۳۹/۸)

په همدې وجه د امت په څلورو امامانو کی پدې باره کی هیڅ اختلاف نشته چې دعاء په پټه افضل ده ، لکه چې امداد الفتاوی کی د ((مسلک السادات الی سبیل الدعوات)) (چې علامه فاضل شیخ محمد علی بن شیخ حسین مرحوم مفتی مالکیه د مکې مکرمې ستوګن په ۱۳۲۱ هـ کی تالیف کړی) په حواله نقل کړی :-

((اعلم انه لا خلاف بان المذاهب الاربعة فی ندب الدعاء سرا للامام والفذ و اجاز المالکیة والشافعیة جهر الامام به لتعلیم المامونین او تامینهم علی دعائه)) (امداد الفتاوی ج ۱ ص ۵۴۹)

یعنی ښه پوهه شی چې د څلورو امامانو مذهبونو ، حنفی ، شافعی ، مالکی ، حنبلی) تر منځ پدې باره کی کوم اختلاف نشته چې (د لمانځه نه وروسته) امام او منفرد لپاره په پټه دعاء کول مستحب دی ، مالکیان او شوافع امام لپاره ددې اجازه ورکوی چې دومره آواز سره دعاء وکړی چې مقتدیان پرې آمین وویلی شی .

همدا شان امام نووی رحمه الله فرمایی : ((اما الدعاء فیسر به بلا خلاف)) (نووی ۳۱۱/۱) .

یعنی پدې کی د هیچا اختلاف نشته چې دعاء په پټه کول پکار ده ، په آخر کی د پاکستان مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله فتوی وګورئ ((د ټولو نه لوی خرابی دا ده چې امام په اوچت آواز سره دعاء وکړی او عام طور سره ډیر خلک مسبوق دی کوم چې د پاتې شوی لمونځ په ادا کولو کی مشغول وی ، ددوی په لمانځه کی خلل راځی ، همدا وجه ده چې د رسول الله (ص) صحابه کرام تابعین او ددین امامانو څخه د چا نه هم دا صورت ندی نقل چې د لمانځه نه وروسته امام دعاء وکړی او مقتدیان یواځی آمین ووایی .))

خلاصه دا ده چې مروجه طریقه د قرآن کریم د ښودلی طریقی نه هم خلاف ده او د رسول الله (ص) ، صحابه کرامو د سنت او طریقی نه هم خلاف ده ، پدې بناء لدې څخه په عام حالاتو باید اجتناب وکړی ، امام او مقتدیان ټول رو رو آواز سره دعاء وغواړی ، البته په کوم خاص موقع باندې چې هلته ذکر شوی خرابیانی نه وی یو څوک په زوره دعاء وکړی او نورورباندې آمین ووایی ، پدې کی هم څه باک نشته (احکام دعاء (۱۱) صفحه)

حضرت شیخ الهند رحمه الله لیکی : -

د بدعت جرړه او بیخ دا دی چې د خپل ځان نه څه مصلحت ګڼلو سره د سلف صالحینو او شرعی نصوصو په خلاف کوم فعل اختیار کړی شي ، بدعت په یو ځل نه راځی ، دغه شان رو رو پیدا کېږي ، د پوهی خاوندان اول نه وربانـدې پوهېږي ، او منع کوی او نور خلک ورته وروسته متوجه کېږي ، (الورد الشذی علی جامع الترمذی (۷۰) صفحه)

امامانو ته پکار دی چې په ذکر شوی اقوالو کی غور و فکر وکړی مقتدیانو ته هم پکار دی چې امام په زوره دعاء کولو باندې مجبور نه کړی ، الله تعالی د هر یو دعاء اوری ، که په عربی کی یاد نه وی نو په فارسی ، اردو او ګجراتی وغیره کی چې کومه ژبه یې وي دعاء وکړی الله پاک دی ځمونږ عبادات له بدعتونو او مکروهاتو نه محفوظ وساتی ، آمین .

د جوماتونو امامان ، مقتدیان او مقتدر علماء چې غفلت وکړی نو بدعتونه به پیدا کېږي او زیاتېږي او د سنت د نورانیت او د دعاء له برکاتو نـه امـت محرومېږي، پـدې وجـه حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله فرمایی :-

((و اجتناب از اسم و رسم بدعت تا از بدعت حسنه در رنگ بدعت سیئه احتـراز نمایـد بوی ازین دولت بمشام جان او نرسد و این معنی امروز متعشر است که عالم در دریـائی بدعت غرق گشته است ، و بظلمات بدعت آرام گرفته کر امجـال اسـت کـه دم از دفـع بدعت زنده با حیای سنت لب کشاید اکثر علماء این وقت رواج دهند های بدعت اند و محو کنند های سنت بدعتها پهن شده تعامل خلق دانسته بجواز بلکـه باستحسـان آن فتوی مید هند و مردم را به بدعت دلالت مینمایند چه می گوینـد اګـر ضـلالت شـیوع پیدا کند و باطل متعارف شود تعامل گردد مگر نمی دانـد کـه تعامـل دلیـل استحسـان نیست تعاملی که معتبرست همانست که از صدر اول آمده است یا با جماع جمیع مـردم حاصل گشته کماذ کر فی الفتاوی الغیاثیه الخ)) (مکتوبات امام ربانی مجدد الف ثـانی ص ۱۰۳ جلد ثانی مکتوب ص ۵۴)

ترجمه : څو پورې چې له بدعت حسنه څخه بدعة سیئة پشان پرهیز ونه کـړی تـر هغې پورې دده دولت (د سنت نورانیت) اثر او بوی دماغ ته نه رسي ، نـن خبـره مشـکل ښکاری څکه چې ټوله دنیا د بدعت په دریاب کی ډوب شوی او د بدعت په تیارو کـی

ګیر شوی ، مجال نشته چې څوک د بدعت ختمولو همت وکړی او د سنت د ژوندی کولو دعوه وکړی .
ددې زمانی زیاتره علماء بدعتونه رواج کوی او سنت محوه کوی ، عام او خور شوی بدعتونه تعامل ګڼلو سره د جواز بلکی د استحسان فتوی ورکوی او خلکو ته د بدعت لاری چاری ښایی او وایی : که چیری ګمراهی خور شي او باطل متعارف او مشهور شی نو هغه تعامل ګرځی ، مګر پدې نه پوهیږي چې دا تعامل د استحسان دلیل نه دی ، کوم تعامل ګرځی ، مګر پدې نه پوهیږي چې دا تعامل د استحسان دلیل ندی ، کوم تعامل چې معتبر دی هغه د صدر اول (زمانی) تعامل دی او یا هغه چې د ټولو خلکو اجماع سره حاصل شوی دی لکه چې فتاوی غیاثیه کی ذکر دی ، الخ (ترجمه مکتوبات م ۵۴ ، ص ۱۷۰ رفتر دوم ، فقط والله اعلم ۲ ربیع الاول ۱۳۹۷ هـ

ــ د فتاوی رحیمیه یوه فتوی باندې اشکال او د هغه جواب :

(۳۷ سوال) ستا د فتاوی رحیمیه (۲۴۱ ، ۲۴۲) صفحو باندې دا سوال (د نوی ترتیب مطابق پدې باب کی په ((ماثوره دعاء کی اضافه)) عنوان لاندې ۵۸،٦ مرتب) دا سوال دی.
(جواب) فرض لمانځه نه وروسته په مسنون دعاګانو کی د خپل طرف نه دا الفاظ ((و الیک یرجع السلام حینا ربنا بالسلام و ادخلنا دار السلام)) اضافه کول د سنت خلاف دی ... الخ
مګر نظام الفتاوی (۱٦۵) صفحه کی دی ((دا د لمانځهٔ نه وروسته په دعاء کی شاملول ناجائز و نادرست یا دنیوی تعلیم نه خلاف نه دی ، ستاسو څه رایه ده ؟ وضاحت وکړی ، خیر یوسی .
(جواب) د فتاوی رحیمیه فتوی په احتیاط باندې بنا ده ، په ماثوره دعاء کی زیاتوالی یا رد بدل ښه کار ندی ، رسول الله (ص) خپل یو صحابی ته د دعاء تعلیم ورکولو چې په هغه کی د ((بنبیک الذی ارسلت)) الفاظ وو صحابی د تعظیم په غرض د نبي لفظ په ځای د رسول لفظ یعنی ((برسولک الذی ارسلت)) وویل نو فوراً منع کړی شو او خپل ورښودلی شوی کلماتو ویلو هدایت وفرمایل (ترمذی ۱۷۵/۲ باب ما جاء فی الدعاء اذا آوی الی فراشه)
د هند مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی کفایت الله رحمه الله هم همدا اختیار کړی ، فرمایی : ((د ماثوره دعاء څومره الفاظ چې په حدیثو کی ثابت او نقل دی هماغه

الفاظ سائل په کار دی الی قوله ـ همدا شان په کوم ماثوره دعاء کـی د خپـل خان زیادت مکروه دی ، محمد کفایت الله عفی عنه (کفات المفتی ۱۰/۳ ، ۱۱)
دویمه فتوی :
(سوال) د آذان په دعاء کی د والفضیلة نـه وروسـته الدرجـة الرفیعـة او د وعدتـه نه وروسته وارزقنا شفاعته زیاتولو څه حکم دی ؟
(جواب) ... والدرجة الرفیعة او د وارزقنا شفاعته یوم القیامة) ثبوت نشته دی نـو د غیر ثابت الفاظو نه زیاتول بهتر دی ، لیکن که یو څوک پـدې عقیـده چـې دا الفـاظ ثابت ندی او ولولی نو څه پرواه هم نه کوی (کفایت المفتی ۲۱/۳)
دا د انفرادی دعاء موقع ده او فرضو نه وروسته د اجتماعی دعاء موقـع ده او د عوامو نه د غیر کلماتو باره کی د عدم اعتقادتوقع سائل مشکل دی بلکې دوی خـو یې مسنون گڼی فقط والله اعلم .

ـ دعاء به د لمانځه نه وروسته کوی د خطبی نه وروسـته ثابـت نه ده:

(۳۸ سوال) د اخترلمانځه نه وروسته دعای وکړی یا د خطبی نه وروسته ؟ دلته خمونږ په ځای کی د خطبی نه وروسته دعاء کولی شی ، صحیح کوم یو دی ؟
(جواب) ستاسو په ځای کی چې عیدګاه کی د خطبی نه وروسته دعـاء کبـړي دا بې اصل او د سنت خلاف دی ، د اجتماعی دعاء وخت د اختر لمانځه نه وروسته دی نه د خطبی نه وروسته ، امام ته پکار دی چې د لمانځه نه وروسـته مختصـر دعـاء وکـړی په دویمه خطبه کی هم دعاء کیږي ، د اختر مخصوص دعاء هماغه ده ، فقط والله اعلم .

ـ دویمه دعاء څنګه ده ؟

(۳۹ سـوال) د مسـنون سـلام نـه وروسـته دلتـه خمـونږ پـدې علاقـه مـور پشـي (MURPITIUS) کـی پـه درو جومـاتو کـی تقریبـاً د (۱۰۰) و (۱۲۵) کلونـو څخـه د لمانځه نه وروسته د دویم دعاء کولو او د جنازی نه وروسته په التـزام سـره فاتحـه ویلـو دستور را روان دی ، په همداسی یو جومات کی یو ځوان عالم امام مقرر کړی شو او دا شرط وربانديې ولګول شو چې دویمه دعاء به کوی تر شپږو میاشتو پورې هغه پدې شرط بانديې عمل وکړ خو وروسته یې ویل چې دا بدعت دی او زه پدې رواج بانديې عمل نه کوم خلک وایی چې خمونږ پلرونو او نیکونو له وخت نه پدې بانديې عمل را روان دی

نو دا څنګه بدعت کیدی شی ؟ او امام په دویمه دعـاء بانـدې مجبـورولی شـی . امـام صاحب ددوی خبرې منلو ته تیار نه دی ، متولی حیران او پریشان دی چـې مسـلمانانو کی دده په وجه اختلاف را پیدا کیږي ، او خپل منځی جګړو په وجه د مسلمانانو وقـار ته نقصان رسیږي په دې وجه د متولی صاحب رایه دا ده چې داسې واړه واړه خبرو پـه وجه خپل منځ کی د رز او اختلاف مه اچوی او د مخکی نه چـې د دویـم دعـاء کومـه طریقه رواج ده پدې باندې عمل کوئ ، د نجات دارو مدار د اسلام پنځه ارکانو باندې دی ، دویم دعاء په کولو نه او نه کولو باندې نه دی .

محترم مفتي صاحب ستاسو کتاب فتاوی رحیمیه مونږ سره دی مـونږ ورنـه فایـده اخلـو پدې مسئله باندې هم کافی رڼایی اچولی شوی ده خو مونږه په خپله خبره باندې قایم یو ، اوس پوس دا دی چې هغه ایا حق بجانب دی ؟ او د خلکو دا خبره چې زمـونږ دا عمل د پلرونو او نیکونو معمول پاتې شوی ، ددوی دا خبـره صـحیح ده ؟ امیـد دی چې تفصیل سره جواب راکړی ، مهربانی.

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : بیشـکه ستاسـو علاقـه موریشـش کـی د (۱۰۰ ، ۱۲۵) کلونو نه د سنت او نفلونو نه وروسته اجتماعی دعاء رواج دی او د جنـازی لمانځـه نـه وروسته په التزام سره همیشه د فاتحه لوستو دستور هم د پلرونو او نیکونو لـه وخـت نـه جاری دی ، مګر وروره دا کوم شرعی دلیل نه دی او پدې باندې اعتماد کول ستاسو د شان مناسب نه دی ، دا خو د باطل پرستو خلکو منت دی ، د قرآن پاک پـه ګـڼو ځـایو کی ددې بیان دی وګورئ:

(۱) (و اذا قیل لهم اتبعوا ما انزل الله قالوا بل نتبع مـا الفینـا علیـه آباءنـا او لـو کـان آباءهم لا یعقلون شیئاً و لا یهتدون) (سورت بقرة) یعنی : او کله چې دې مشـرکانو تـه وویل شي الله تعالی چې کوم حکم (خپل پیغمبر) نازل کړی د هغه پیروی وکړی (پـه جواب) کې وایی (چې نه) بلکی مونږ خو په هغه (طریقه) بانـدې چلیـږو پـه کومـه طریقه چې مونږ خپل پلرونه او نیکونه موندلی دی ، اګر که ددوی پلرونه او نیکونـه نـه څه پوهیږي او نه هدایت او شرعی دلیل لری .

(۲) (و اذا قیل لهم تعالوا الی ما انزل الله قالوا حسبنا ما وجدنا علیـه آباءنـا) (سـورت مائدة)

یعنی : کله چې دوی ته وویل شی چې الله تعالی کوم احکام نازل کړی هغـې طـرف او رسول الله (ص) طرف ته رجوع وکړئ (یعنی شرعی دلیل معلوم کړی) نو وایی : مـونږ

ته هغه طریقه کافي ده په کومه طریقه چې مونږ پلرونه او نیکونـه عمـل کـونکی لیدلي دي .

(۳) (و نذر ماکان یعبد آباءنا) (سورت اعراف)

یعنی : (مشرک د بت پرستی د مخالفت په جواب کی وایی) ایا څه چې زمونږ پلرونو او نیکونو کول هغه پریدو ؟

(۴) (اجئتنا لتلفتن عما وجدنا علیه اباءنا) (سورت یونس)

یعنی : (حضرت موسی او هارون علیهما السلام ته وویل شول) ایا تاسو مونږ ته دې لپاره راغلی یې چې مونږه د هغې طریقی نه واړوی په کومه چې مونږ خپل پلرونه او نیکونه بیا موندلي ؟

(۵) (اتنهانا نعبد ما یعبد آباءنا) (سورت هود)

یعنی : (حضرت صالح علیه السلام ته دده قوم وویـل) ایـا تـه مـونږ د هغـو څیزونـو له عبادت نه منع کوی د کومو عبادت چې زمونږه (مشرانو) پلرونو او نیکونو کولو ؟

(٦) (ان نترک ما یعبد آباءنا) (سورت هود)

یعنی : (حضرت شعیب علیه السلام ته دده قوم وویل : ایا) مونږ هغـه څیزونـه پریـدو د کومو عبادت چې څمونږه پلار او نیکونو کولو ؟

(۷) (و اذا قیل لهم اتبعوا ما انزل الله قالوا بل نتبع مـا وجـدنا علیـه آباءنـا) (سـورت لقمان)

یعنی : او کله چې دوی ته وویل شی چې د هغه څه پیروی وکړئ چې الله تعالی نـازل کړی نو وایی دوی، نه مونږ خو د هغه څه اتباع کوو په کوم څیز چې پـلار او نیکـه مو بیا موندلی دی .

(۸) (بل قالوا انا وجدنا آباءنا علی امة و انا علی آثارهم مهتدون) (سورت زخرف)

یعنی : بلکی دوی وایی مونږه خپل پلار او نیکه په همدې طریقه باندې موندلی دی او مونږه هم ددوی په نقش قدم باندې څو.

(۹) (و کذلک انا وجدنا آباء نا علی امة و انا علی آثارهم مهتدون) (سورت زخرف)

یعنی : او همدا شان مونږ له تا نه مخکې په کوم کلي کی یو پیغمبر نـدی لیږلـی مګر د هغه خای خوشحال (مالدار) خلکو همدا خبره کوله چې مونږه خپل پلرونه او نیکونه په یوه طریقه باندې موندلی دی او مونږه هم ددوی په نقش قـدم روان یـو ، ستاسو د شان مناسب خو دادی چې د الله تعالی او دده د رسـول (ص) او د اولـو الامر ، او د

انبیاء کرامو وارثان علماء ، مجتهدین او د دین د امامانو اطاعت او پیروی وکړی ، مسلمان لپاره ددغو خلکو پیروی ضروری دی د رسول مقبول (ص) فرمان ته غوږ نیسول واجب دی : ((علیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین المهدیین تمسکوا بها و عضوا علیها بالنواجذ و ایاکم و محدثات الامور فان کل محدثه بدعة و کل بدعة ضلالة))

یعنی : زما طریقه او زما د هدایت یافته خلفاء راشدینو طریقه لازم ونیسی او دا په غاښونو سره مضبوط کړئ، او کوم نوی نوی خبرې چې پیدا کولی شی د هغو نه ځان وساتئ ځکه چې هر هغه نوی رسم چې (ددین په نوم) پیدا کړی شوی هغه بدعت او هر بدعت گمراهی ده (ابو داؤد شریف ۲۸۷/۲ ، ترمذی شریف ۹۲/۲/۲ ، ابن ماجه ۵ مشکوة شریف ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

په حدیثو کی د ویده کیدو او ویښیدو وخت کی دعاگانی نقل دی ، جومات ته د ننوتو او د راوتو دعاگانی هم ذکر دی ، د جماع (کورو الی) نه مخکې او وروسته دعاء هم شته ، بیت الخلاء ته ننوتو نه مخکې او راوتلو نه وروسته دعاء گانی هم ثابت او نقل دی ، نو دسنت او نفلو نه وروسته دعاگانی ولی نقل ندی ؟ که ثابت وای نو ضرور به نقل شوی وو ، حقیقت دا دی چې رسول اکرم (ص) د فرض لمونځونو نه وروسته سنت لپاره خپلی حجرې ته تشریف وړلو او صحابهٔ کرامو (رض) به هم دده پیروی کولو سره خپلو کورو کی سنت ادا کول او د لمانځه نه وروسته فارغیدو سره په کور کی دعاء کولو د ټولو واپسی جومات راتلل او دعاء کول چیرته هم نقل ندی ، که کله رسول اکرم او صحابه کرامو په څه وجه باندې سنت او نفلونه جومات کی ادا کړی دی مگر بیا هم د ټولو یو ځای دعاء کول چیرته ندی ثابت ، صحابه کرام به خپل خپل لمونځ ادا ټولو سره تلل لکه چې په حدیث کی دی : رسول الله (ص) د ماښام لمانځه نه وروسته په سنتو کی دومره اوږده قرائت کولو چې لمونځ گذار به ټول له جومات نه لاړل : ((کان رسول الله (ص) یطیل القراة فی الرکعتین بعد المغرب حتی یتفرق اهل المسجد)) (ابو داؤد شریف ۱۹۱/۱ باب رکعتی المغرب ابن مصلیان) او د حضرت عبد الله بن عباس (رض) بیان دی چې یوه شپه رسول الله (ص) سره پاتې وم نو رسول اکرم (ص) د ماسخوتن لمانځه نه وروسته په لمانځه کی مشغول شو تر دې چې جومات د رسول الله (ص) نه علاوه بل څوک پاتې نه شو (شرح معانی الآثار ۲۰۱/۱ باب التطوع فی المساجد)

لدینه معلوم شو چې د سنتو نه وروسته د امام او مقتدیانو یو ځای دعاء کولو دستور بالکل نه ؤ لهذا ددې طریقې په بدعت والې کې هیڅ شک نشته نو پدې بناء دا محکم نیول او پدې باندې اصرار کول او امام ددې پابند ګرځول څنګه صحیح کېدی شي ؟ هغه عمل مقبول دی چې خالص کیدو باوجود صواب یعنې د سنت موافق هم وي ، حضرت سفیان ثوری رحمه الله فرمایي : ((لا یستقیم قول و لا عمل و نیة الا بموافقة السنة)) (تلبیس ابلیس ص ۱)

او شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله فرمایي : ((و لا عمل بلا اخلاص و اصابة السنة)) یعنې هیڅ یو عمل بغیر د اخلاص او موافقت د سنت نه مقبول ندی (الفتح الرباني ص ۱۴ (۲) مجلس)

مشهور بزرګ حضرت احمد بن الحواری رحمه الله فرمایي : ((من عمل عملاً بلا اتباع سنة فعمله باطل)) چاچې د سنت د موافقت نه پرته کوم عمل وکړ هغه باطل دی (کتاب الاعتصام ۱۱۴/۱)

مولانا ! څو پورې به په مصلحت باندې اعتماد کولو سره وخت تیروی ؟ بیشکه د فتنې نه ځان ساتل ضروري دی ، په دې وجه د سختی او تلوار نه کار مه اخله او په تدریج سره د صحیح مسئلو نشر او اشاعت کوه او د لمونځ ګذارو په جمع کولو سره فتوی واوروه او بار بار یې واوروه او حکمت عملي سره د ټولو د متفق کولو کوشش کوه ، کله چې امام او متولي دا معمولي خبره وګڼي او د فتنې ویره څرګندولو سره خلاف سنت طریقه محکم ونیسي نو ایا ددې ختمولو لپاره به د آسمان نه فرشتې راکوزیږي ؟ د چا انتظار دی ؟ (۱۲۵) کاله څو وشول ، د الله تعالی لپاره د سنت قدر وپیژني او د بدعت په نحوست باندې ځان پوهه کړئ ، شیخ سعدی رحمه الله فرمایي :

خلاف پیغمبر ره ګزید – که هرګز بمنزل نخواهد رسید

پندار سعدی که راه صفا – توان یافت جز در پئی مصطفی

ترجمه : چا چې د رسول الله (ص) نه خلاف لاره اختیار کړه هغه هیڅکله منزل مقصود ته نشي رسیدلی ، ای سعدی دا خیال مه کوه چې د محمد مصطفی (ص) د پیروی نه بغیر به نیغه لاره حاصل کړی شي .

به زهدو ورع کوش و صدق و صفا – ولیکن میفزای بر مصطفی

لهذا ددی سنت د ژوندی کولو پوره کوشش باید وشي ، په حدیث کې دی :

د مږ (خاوری شوی) سنت را ژوندی کونکی د (۱۰۰) شهیدانو د اجر و ثواب حقدار ګرځی ، کوم مسلمان به وی چې د (۱۰۰) شهیدانو د اجر و ثواب حاصلولو ارزو او تمنی به نه کوی ؟ او په حدیث کی هم دی : ((من احببی سنتی فقد احیانی و من احیانی کان معی فی الجنة))
چاچې زما سنت ژوندی کړل هغه زه ژوندی کړم او چا چې زه ژوندی کړم هغه به جنت کی ما سره وی (ترمذی شریف ۹۲/۲)
او بل حدیث کی دی : ((من حفظ سنتی اکرمه الله باربع خصال المحبة فی قلوب البررة والهیبة فی قلوب الفجرة والسنة فی الرزق والثقة فی الدین))
یعنی چا چې زما د سنتو حفاظت وکړ نو الله تعالی به په څلورو خبرو د هغه اکرام کوی (۱) د پاکو خلکو په زړونو کی به دده محبت پیدا کړی (۲) بد کارو خلکو په زړونو کی به دده هیبت او ویره پیدا کړی (۳) رزق به ورته فراخ کړی . (۴) او په دین کی به ورته پوخوالی نصیب کړی (شرح شرعة السلام ص ۸ سید علیزاده)
د امام زهری مقوله ده : ((الاعتصام بالسنة نجاة)) د سنت په مضبوط نیولو کی نجات دی ، د امام مالک رحمه الله ارشاد دی : ((ان السنة مثل سفینة نوح من رکبها نجا و من تخلف منها غرق))
یعنی : د سنت مثال د نوح علیه السلام د کشتی دی څوک چې پکې سور شو هغه (د ګمراهی نه) بچ شو او څوک چې ترینه پاتې شو هغه غرق شو (یعنی د ګمراهی په کنده کی پریوت)
الله تعالی دې ټولو ته د رسول الله (ص) په سنت او د صحابه کرامو (رض) په طریقه باندې د عمل کولو توفیق را نصیب کړی ، آمین یا رب العالمین ، فقط والله اعلم .

ـ د دعاء کولو بهتره طریقه کومه ده؟

(۴۰ سوال) د لمانځه نه وروسته د دعاء کولو په وخت لاسونه خلاص پریدی یا یو ځای کړی ؟ بغلونه خلاص کړی یا بند ؟ یعنی متی د بغل نه جدا ونیسي یا یو ځای پیوست ؟ وضاحت وکړئ خیر یوسی .
(جواب) د دعاء له آدابو څخه دا دی چې دواړه لاسونه تر سینی پورې اوچتولو سره دعا وکړی اوَ د دواړو تر منځ لږ غوندې فاصله وی یو ځای ساتل خلاف اولی دی ((فیکون بینهما الاذکار بعد الصلوة فرجة (در مختار) (قوله فیکون بینهما فرجة) ای و ان قلت قنیة (شامی ۴۷۴/۱) فقط والله اعلم.

د فرض لمانځه نه وروسته د دعاء مقدار :

(۴۱ سوال) زمونږه امام صاحب د سحر او مازدیګر لمانځه نه وروسته لږ اوږده دعا کوی . او ماسپښین ، ماښام او ماسخوتن کې د فرض لمانځه نه وروسته دریځ څلور دعاګانی کوی او د اختر مانځهٔ نه وروسته هم اوږده دعاء کوی پدې باره کې وضاحت وکړی چې سنت څه دی؟

(جواب) د سحر او مازدیګر (یعنی د هغو لمونځونو نه وروسته چې سنت وغیره نشته) د کمزور ، بیمار او د محنت مزدوری کونکو لمونځ ګذارو لحاظ ساتلو سره د اوږده دعاء ګنجائش شته ، وروسته به مختصر غوندې دعاء کوی یعنی اللهم انت السلام اه سره خینی ماثوره دعاګانی غوښتل غوره دی ، او چونکې د جمعې لمانځه نه وروسته هم سنت شته لهذا باید مختصره دعاء وکړی شی ، مزید تفصیل او دلائلو لپاره فتاوی رحیمیه ګجراتی اوله حصه ۱۱۸ ، او انګریزی ۱۵۲/۱ ، او اردو ۲۰۳/۱) (نوی ترتیب مطابق په همدې باب کې ((فرض لمونځ نه وروسته کومه دعاء وویل شی ؟)) عنوان لاندې ۵۵/۶ کې وګورئی – مرتب)

او همدا شان د اختر لمونځ نه وروسته خطبه ده نو دلته هم د مختصر دعاء ګنجائش شته او د دعاء اوږدیدو په صورت کې د لمانځه او خطبې تر منځ اتصال نه پاتې کېږي بلکې فاصله او جدائی راځی او حال دا چې په لمانځه او خطبه کې اتصال مطلوب او مسنون دی ، د اختر په اجتماع کې چې د کوم دعاء اهمیت او ضرورت دی هغه خو په خطبه کې کولی شی ، د اختر لمونځ نه وروسته د دعاء د اهتمام حکم نشته بلکې د اختر د خطبې نه وروسته خو د دعاء ثبوت بالکل نشته ، وګورئی مجموعه فتاوی قدیم ۱۴۴/۱ عدم ثبوت دعاء بعد نماز عیدین یا خطبهٔ آن از آنحضرت (ص) و صحابه کرام و تابعین عظام و مولانا عبد الحی لکهنوی تصنیف ، علم الفقه دویمه حصه ۳۲۶ و مولانا عبد الشکور لکهنوی ، العرف الشذی شرح ترمذی ۲۴۱/۱ و علامه انور شاه کشمیر ، فیض الباری شرح بخاری ۳۶۲/۲ کې دی : ((و یدعو بدعائهم ای بدعائهم للمؤمنین فی خلاف الخطبة لانه لم یثبت عنه صلی الله علیه وسلم بعد صلوة العید دعاء فالسنة الخاصة فی ذلک قاضیة علی عموم الاحادیث فی الاذکار بعد الصلوة)) فقط

د سحر او مازدیګر لمانځه نه وروسته د امام له دعاء نه مخکې تلل :

(۴۲ سوال) د سحر او مازدیګر د لمانځه نه وروسته خانته دعاء کولو سره د امام د دعاء نه مخکې تلل څنګه دی ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ .

(جواب) بغیر د عذر نه داسې کول خلاف سنت او مکروه تنزیهي دی او ددی عادت جوړول ګناه ده ((عن انس ان النبی (ص) حضهم علی الصلوة و نهاهم ان ینصرفوا قبل انصرافه من الصلوة))
یعنی نهی کرد ازین که بر گردند پیش از برگشتن وی (ص) از نماز خود چنانکه پیشتر از حضرت سلام بدهند و از نماز بر آیند یا بعد از سلام دادن پیشتر از آن که آن حضرت برخیزد و برخیزند و بروند و منتظر ذکر و دعا نه نشینند و نهی بر معنی اول تحریمی و برثانی تنزیهی است (اشعة اللمات شرح مشکوة ۱/۴۴۷) فقط والله اعلم.

ـ د جمعې لمانځه نه وروسته دعاء:

(۴۳ سوال) د جمعې فرض لمانځه نه وروسته د ماثوره سره د قرآن او حدیث نورې دعاګانی یو ځای کولی شی ؟وضاحت وکړی خیر یوسئ.
(جواب) د جمعې لمانځه نه وروسته ماثوره دعاء سره نوری دعاګانی شاملولی شی لیکن مختصر کیدل پکار دی ، په اوږدولو سره د خلکو تنګول او د سنت مؤکد په ادا کولو کی تاخیر کول مناسب ندی ځکه چې په لوی او زیاته ګڼه کی کمزور ، بیمار ، مزدورکار هر قسم خلک دی امام ته ددوی لحاظ کول پکار دی ، فقط والله اعلم.

ـ با جماعت لمانځه نه وروسته په اردو کی دعاء کول:

(۴۴ سوال) با جماعت لمانځه نه وروسته په اردو کی دعاء کول څنګه دی ؟ وضاحت وکړی .
(جواب) با جماعت لمانځه نه وروسته دعاء په عربی کی مسنون ده په نورو ژبو کی خلاف اولی ده لهذا ددې عادت باید جوړ نه کړای شی[1] فقط والله اعلم .

[1] ـ و لهذا کان الدعاء بالعربیة اقرب الی الاجابة فلا یقع غیر ها من الالسن الرضا والمحبة لها موقع کلام العرب او و ظاهر التعلیل ان الدعاء بغیر العربیة خلاف الاولی شامی صفة الصلوة مطلب فی الدعاء بغیر العربیة ج ۱ ص ۴۸۲ .

كتاب الجُمعة

(۴۵ سوال) په جومات کی د خای د نشتوالی په وجه خو کسانو څخه د جمعې جماعت پاتې شي او بيا ورته خيال راشي چې د ماسپښين لمونځ به جومات کی جماعت سره ادا کړو ليکن امام صاحب ورته ووايي چې جومات کی دويم جماعت نشي کولی ، او ورته ووايي چې ټول د ماسپښين لمونځ خان خانته ادا کړئ اوس سوال دا دی چې د امام صاحب خبره صحيح ده ؟ ايا جومات کی دويم جماعت نشي کولی ؟ که چېرته د جمعې لمونځ ادا کول وی لو ددی څه صورت کېدی شی ؟ وضاحت وکړی .

(جواب) کوم خلک چې د جمعې ادا کولو نه پاتې شوی هغه دويم جماعت نشي کولی ، مکروه تحريمی دی ، البته دويم جومات چی د جمعې لمونځ پکې نه وی ادا شوی هلته تلو سره با قاعده خطبه ورکولو سره د جمعې لمونځ ادا کولی شی ، يا په کوم کور کی هم کولی شی ، که ماسپښين لمونځ کوی نو خان خانته به کوی ، په ښارونو او قريو کی کوم خای چې جمعې لمونځ کولی شی نو د ماسپښين لمونځ په جومات يا کور کی با جماعت ادا کول منع دی ، په اطراف کلو او باندو کــی چــې د جمعې لمونځ نه کېږي هلته ماسپښين جماعت سره ادا کېږي ، په مالا بد منه کی دی ((معذور و مسجون را روز جمعه نماز ظهر بـا جماعـت گـذاردن مکـروه اسـت (۵٦ صفحه) فقط والله اعلم.

ـ د جمعې آذان نه بعد غير مسلم ملازم دوکان کــی کينــول او دکان کولاو ساتل :

(۴٦ سوال) د جمعې آذان نه مخکې زه جومات ته خم مګر دوکان کولاو وی يو غير مسلم ملازم مال خرخوی پدې کی څه بدي شته ؟ وضاحت وکړی ، مهرباني.

(جواب) غير مسلم ملازم چې د جمعې ادا اوريدو سره سعی ورباندې واجب نــه وی په دوکان کی کيناستل او سودا خرخول ناجائز ندی :-

((و قد خص منه من لا جمعة عليه ذكره المصنف (در مختـار) والحاصـل ان الـدليل خص من و جوب السعى جماعة كالمريض والمسافر الـخ)) (شـامی ج ۴ ص ۱۸۲ بـاب بيع الفاسد تحت مطلب فى البيع المكروه)
لیکن احتیاط او د جمعې د فضیلت تقاضا دا ده چې اول اذان سره ذوکان بند کـړی شی تر څو غافل قسم خلک لدینه غلط فهمی ونه کړی ، د دوکان په بند ساتلو سـره د جمعې د ورځی عظمت او شان و شوکت زیاتیږی ، اسلامی مدرسی هم بند وی نو که یوه ساعت دوکان بند شي څه نقصان به وشي (ذلکـم خیـر لکـم ان کنـتم تعلمـون) (سورت جمعة)فقط والله اعلم.

ـ د جُمعې اول اذان نه وروسته امام کوم ځای کینی ؟

(۴۷ سوال) امام صاحب د جمعې اذان له وروسته محـراب او منبـر کـی نـه کینـی د جومات په حجره یا برانده کی کینی او هلته سنت او نفـل کـوی او د خطبـی وخـت کی منبر ته راځی ، نو بهتر څه دی وضاحت وکړی ، مهربانی
(جواب) د جمعې امام لپاره مستحب او مسنون طریقه دا ده چې د خطبی نه مخکې حجره کی پاتې شي او که حجره نه وی نو د منبی ښی طرف کوم خـاص ځـای کـی کینی چې سکون او آرام وی هلته به سنت وغیره ادا کیږي او د خطبی په وخت کـی منبر باندې کینی ، رسول الله (ص) بـه عـین خطبـی وخـت کـی د خپلـی مبـارکی حجرې نه (چې د منبی ښی طرف ته ؤ) راوتو سره منبر تـه تشریف راوړلـو او دده د خلفاء راشدینو هم دغه عمل ؤ او پدې زمانه کی هم حـرمین شـریفینو (زاد همـا الله شرفا و کرامة) خطیب پدې باندې عمل کوی او د خطبی په وخت کـی راځـی ، پـه حدیث کی دی : ((اذا خرج الامام فلا صلوٰة ولا کلام))
ترجمه : کله چې امام خطبی لپاره د حجرې نه راوځی له همدې وخت نه لمـونځ او خبرې منع دی ، په حدیث کی د اذا قام لفظ ندی بلکی د اذا خرج لفـظ دی پـدې کی هم اشاره ده چې د خطیب ځای محراب نه بلکی د محراب نه لری او د عوامـو نه جدا مخصوص ځای دی ، روایت دی چې د حضرت امیر المؤمنین عمـر فـاروق او امیر المؤمنین حضرت عثمان (رض) په مبارکه زمانه کی حضرت ابو هریرة او حضـرت تمیم داری (رض) د خطبی نه مخکې منبر په خوا کی وعظ کولو کلـه چـې بـه امیـر المؤمنین خطبی لپاره د خپلی حجری نه راووت نو فـوراً بـه یـې بنـد کـړ (مسـتدرک

حاکم ۱ ۱۰۸ ، ۲۸۸ ، سند امام احمد ۴۴۹/۳ ، موضـوعات کبیـر مـلا علـی قـاری ۱۴ . اصابة فی تذکرة الصحابة ۱۸۴/۱ ، اقامة الحجة ص ۵)

او په تفسیر مواهب الرحمن کی دی : ((امام لپاره سنت طریقه دا ده چې د خطبې وخت کی راووځی لکه چې رسول الله (ص) او دده خلفاء راشـدینو کولـو ، (تفسیر مواهب الرحمن ۴۰۹/۶ سورت جمعه)

پدې وجه فقهاء کرام لیکی : ((و من السنة جلوسه فی مخدعه عـن یمـین المنبـر (در مختار) یعنی خطیب لپاره سنت دا دی چې د منبر ښی طرف ته حجره کـی کینـی او که حجره (کوټه) نه وی نو دې طرف ته په کنج کی کینی ، او کـه ښـی طـرف تـه د آرام او سکون ځای نه وی نو کوم ځای کی چې آرام او سکون وی هلته بـه کینـی ، خطیب لپاره د خطبی نه مخکې سنت په محراب کی کول مکروه دی ، په شامی کـی دی : ((قوله عن یمین المنبر قید لمخدعه قال فی البحر فان لـم یکـن ففـی جهتـه او ناحیته و تکره صلاته فی المحراب قبل الخطبة)) (شامی ۷۶۰/۱ باب الجمعة)

ستاسو د امام صاحب عمل د سنت مطابق دی ، نن صبا دا سـنت متـروک العمـل دی الله تعالی دی امامانو ته پدې سنت باندې د عمل کولـو توفیـق ورکـړی ، فقـط والله اعلم.

ـ د جُمعې اول آذان ته عثمانی بدعت ویل :

(۴۸ سـوال) د جمعې په ورځ اول آذان په مناره باندې کولی شی ، غیر مقلدین دیتـه عثمانی بدعت وایی او ناجائز یې ګنی ، په دې چې دا د رسول اکرم (ص) په زمانـه کی نه ؤ ایا ددوی قول صحیح دی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) د رسول مقبول (ص) په زمانه کی مسلمانان کم وو یو آذان کوم چې د منبر په خوا کی کیدو کافی ؤ بیا وروسته مسلمانان ډېر زیات لری لری پورې خور شول نـو د منبر آذان ورته کافی پاتې نه شو پدې وجه د حضرت عثمان رضی الله عنه په مبارکه زمانه کی د صحابهٔ کرامو په اجماع سره اوَلنی اذان زیات کړی شو او اجمـاع شـرعی صحت دی او بل حضرت عثمان (رض) د خلفاء راشدین مهـدیین څخـه هـم دی او رسول مقبول (ص) د خلفاء راشدینو طریقی ته سنت ویلـی دی ((فعلـیکم بسـنتی و سنة الخلفاء الراشدین المهدیین)) الحـدیث (مشـکوة شـریف ص ۳۱ بـاب الاعتصـام بالکتاب والسنة)

په تفسير مواهب الرحمن كى دى (يا يها الذين امنوا اذا نودى للصلوة) اى مؤمنانو كله چې د مانځه لپاره اذان وكړى شى ، ف : يعنى د جمعې ماتخه لپاره اذان وكړى شى او دا اولنى اذان دى او لدينه هغه اذان مراد ذى كله چې خطبى ويلو لپاره منبر باندې كينى نو ده ته مخامخ اوريدو سره اذان كولى شى ، ځكه چې د رسول الله (ص) په دور كى او د حضرت ابو بكر او عمر رضى الله عنهما په خلافت كى هم د جمعې لپاره همدا اولنى اذان ؤ بيا د حضرت عثمان (رض) په خلافت كى هم جمعې لپاره همدا اولنى اذان و او بيا د حضرت عثمان (رض) په خلافت كى خلك زيات شول او آبادى هم تر لرى لرى پورې ورسيد نو دوى د زوراء په مقام باندې يو اذان اضافه كړ چې ددى په اوريدو سره به خلكو لين دين اخستل خرخول پرېښودو او جمعې ته به متوجه كيدل او بيا كله چې به خطيب منبر باندې كيناست نو د پخوانى دستور مطابق دده په وړاندې به اذان كولى شو او بيا د خطبى څخه فارغيدو نه وروسته مانځه لپاره به اقامت ويل كيدو ديته هم اذان ويل كېږي او د هغه وخت همدا شان معمول پاتى شوى او په هغه زمانه كى مهاجرين او انصار صحابه كرام ډير زيات موجود ؤ مګر چا هم مخالفت ونه كړ نو دا هم معمول سنت جوړ شو ، ځكه چې په حديث كى راغلى ((عليكم بسنتى و سنة الخلفاء الراشدين من بعدى)) يعنى تاسو په خپل ځان زما سنت (طريقه) او زما نه وروسته د خلفاء راشدينو طريقه په غاښو سره مضبوط ونيسئ او خبردار د هغو خبرو نه ځان وساتى چې نوى را پيدا كړى شوى ځكه چې په دين كى هره نوى خبره ګمراهى ده او هره ګمراهى په دوزخ كى ده – الى قوله – نو حاصل دا چې د جمعې په ورځ اول په مناره باندې اذان كول جائز دى او ددينه وروسته د خطيب په وړاندې ودريدو سره اذان كولى شى (تفسير مواهب الرحمن ۴۰۳/۶ سورت جمعة) فقط والله اعلم.

ـ د جُمعې د صحت لپاره د آذن عامَ په مسئله د يو مفتى صاحب اشكال او د هغه مفصل جواب :

(۴۹ سوال) سيدى رسيد المؤمنين حضرت مفتى صاحب د امت بركاتهم ، السلام عليكم ورحمة الله د مسنون سلام نه وروسته په خيريت يم ، د ډېرو ورځو نه مې اوريدلى ؤ چې جناب عالى د ورور په معرفت د فتاوى رحيميه دريم جلد د احقر لپاره د هديه په طور رالېږلى دى نن راته هغه د خلوص نه ډكه هديه راورسيده ، په دومره

خلوص سره دی دغه هدیه لیږلی ده چې د نورو ټولو کتـابونو مطالعـه مـی پریښـی د همدې په کتو لګیدلی یم تقریباً درې ربع نه زیات مې (۲۴) ساعتو کی وکتلو ، د ډیرو شیانو په کتو سره مې معلوماتو کی زیادت وشو جزاکم الله خیـر الجـزاء فـی الـدارین خیرا.

د فتاوی رحیمیه ۵۹/۳ (د نوی ترتیب مطابق پـه همـدې اب کـی ((ایـا د بمبـی پـه ګودی کستم) کی ولاړ جهاز کی د جمعې لمونځ کېږي ؟)) تر عنوان لاندې ۹۷/۶ کی وګوری – مرتب)

کی مسئله . د بمبئ اوسیدونکو حاجیانو ته په کستم (ګمرک) کی ولاړ جهاز کی خلک مقیم ګرځولو سره د پوره لمونځ کولو حکم ورکـړی شـوی دی ، ځکـه چـې ګـودی (کېتم) د ښار سره متعلقه علاقه ده لیکن د جمعې لمونځ ادا کولو نه پدې وجـه منـع کړی شوی چې په جهاز کی اذن عام نشته او د جمعې له شرطونو څخه اذن عام هـم دی کوم چې دلته موجود ندی))

د شامی په کتو سره معلومېږي چې جمعه صحیح کیدل په کار دی بلکی په دوی باندې فرض کیدل پکار دی ځکه چې د اذن عام شرط په شامی کی هلته ښودلی شوی کوم ځای کی چې جمعه یواځې یو ځای کی کېږي تر څو د چا نه جمعه پاتې نشـي مګـر کوم ځای چې جمعه په ګڼو ځایونو کی ادا کولی شی که هلته دا (د اذن عام شرط) موجود شي بیا هم همغو خلکو باندې جمعه فرض کېږي پدې شرط چې نورو شرطونه یې موجود وی ، ځکه چې پدې صورت کی د اذن عـام نـه موجودیـدو بـاوجود هـم خلک جمعة په بل ځای کی ادا کولی شی او د بمبئ هم همدا حـال دی ((قلـت و ینبغی ان یکون محل النزاع کما افاده التعلیل)) او بیا مې په فتاوی دار العلوم ۱۰۶/۵ کی هم د حاشیې نمبر ۵ کی همدا ولید چې جمعه پدې خلکو بانـدې فـرض کیـدل پکار دی باقی جناب عالی هم د الله تعالی په فضل سره علمی قوت کم نلری ، کیدی شی د شامی رحمه الله او د حضرت مفتی صاحب رایه د دلایلو په اعتبار سره ستاسو په نزد کمزوری وی ، فقط والله اعلم.

(جواب) و بالله التوفیق ، مکرم جناب مولانا صاحب زید معالیکم ، د مسنون سلام نـه بعد د طرفینو مطلوب دی ، کافی ورځی کېږي چې ستاسو عقیدتمندانه مکتـوب چـې احوال پرسی پکې ؤ رسیدلی ، دا چې مو په شوق او جـذبې او توجـه سـره د فتـاوی رحیمیه دریم جلد مطالعه کړی ددغه قدر دانی دې د زړه له کومې شکریه ادا کوم ،

تاسو چې د جمعې د اذن عام والا مسئلې باندې د نظر ثاني ضرورت بيان كړی ددی هم شکر گذار یم ، مگر وروره فتوی د الله تعالی په فضل سره صحیح ده د اصلاح ضرورت نه لري ، فالحمد لله على ذلك ، د علامه شامي رحمه الله توجيه د زياترو متون او شروحو نه خلاف ده ، په بل ځای يا بل جومات کی که جمعه نه ادا کيدو نو اذن عام شرط دی ، او که نه شرط نه دی ، دده دا تحقیق مجروح معلومیږي د اذن عام شرط على الاطلاق دی او همدا منشاء د شرح مطابق ده ، د جمعې لمونځ يو مخصوص او مهتم بالشان عبادت دی د اسلام او د دين شعائرو څخه هم دی دا باید د نورو عبادتونو پشان ادا نه کړی شی ، د جمعې د موځ څو خصوصیات دی که ددی مطابق ادا کړی شي صحيح کيږي او که نه ماسپښين لمونځ به کول غواړی ، يو خصوصيت دا دی چې مصر (یعنی ښار او لوی آبادی) کی ادا کولی شی وړوکی او کمه آبادی ددې لائق نه ده پدې وجه که په وړوکي کلی کی ادا کړی شی نو نه صحيح کيږي ،

(۲) د امير (يا دده د نائب) اجازت شرط دی که بغير د اجازت نه ادا کړی شی نو نه صحيح کيږي ، ماسپښين پرې لازم گرځی .

(۳) د ماسپښين په وخت کی به ادا کولی شی او که د ماسپښين نه وروسته ادا کړی شو ، نه صحيح کيږي بيا هم ماسپښين پرې لازميږي .

(۴) خطبه ورته شرط ده ، که بغير د خطبی نه ادا کړی شو نه صحيح کيږي .

(۵) جماعت شرط دی . بغير د جماعت نه ادا کول دده د شان سره مناسب ندی نو پدې وجه نه صحيح کيږي.

(٦) اذن عام شرط دی يعني على الاعلان او على سبيل الاشتهار او په ښکاره باید ادا کړی شی په پټه ادا کول دده د شان سره لائق ندی ، پدې وجه نه ادا کیږي ، او د لمونځ گذارو د راتلو نه منع کول د اذن عام خلاف دی پدې وجه جیلخانه (مجلس) کی جمعه نه صحيح کيږي او د نه صحیح کیدو په وجه د اذن عام نشتوالی وی ، چا هم دا ندی ليکلی چې په ښار کی بل ځای جمعه نه ادا کيږي ، پدې وجه جيلخانه کی جمعه صحیح نه ده ، ایا په کوم ځای کی چې جيلخانه وی په هغه ښار کی جمعه نه ادا کيږي ؟ ضرور ادا کيږي او په گڼو ځایو کی کیږي ، لهذا د اذن عام شرط مطلق دی که په بل ځای کی جمعه کيږي او که نه کيږي ، د حضرت عارف بالله مفتی عزیز الرحمن صاحب فتوی دده بلی فتوی سره ټکر کوی ، وگورئ .

(سوال ٣۴١٧) یوه کلا کی د ټک راټک لپاره عام اجازت نشته ، پدې وجه ویل کیږي چې پدې کلا کی جمعې لمونځ جائز نه دی . او باهر جائز دی کوم ځـای چـې عام خلک شریک شي ،

(جواب بیشکه د جمعې د صحت لپاره اذن عام شرط دی نو کله چې پدې کلا کی د عامو لمونځ گذارو لپاره اجازت نشته نو هلته جمعې لمونځ نه کیږي ، کـذا فـی الـدر مختار والشامی وغیرهما (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ٥/٩٠)

دا فتوی د فتاوی رحیمیه سره عین مطابق ده ، د حضرت مفتی صاحب عزیز الـرحمن په زمانه کی په ګڼو ځایو کی د جمعې د ادا کولو رواج ؤ بیا دوی داسې فتـوی ولـی ورکړ ؟ مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی کفایت الله صاحب رحمه الله په تعلیم الاسـلام کی لیکی :-

((پنځم شرط اذن عام دی د اذن معنی اجازت ده اذن نه مطلب دا دی چې ټولو ته اجازه وی هر څوک چې غواړی په راتلو سره مانځه کی شریک کیدی شـی ، پـه هغـه ځای کی د جمعې لمونځ نه کیږي چې هلته خاص خلک راتلی شی خوهر چـا تـه د راتلو اجازت نه وی (تعلیم الاسلام ۴ حصه ۴٧ صفحه) حضرت مفتی صاحب ته معلوم ؤ چې دهلی وغیره ټولو ښارو کی په ګڼو ځایو کـی جمعـه ادا کیـږي ، بـاوجود ددی هغه مطلق فتوی ورکړه او په بل ځای کی د جمعې ادا کیدو قید یـې ونـه لګولـو ، او همدا قول صحیح دی))

امام اهل سنت والجماعت حضرت مولانا عبدالشکور صـاحب رحمـه الله هـم پـه بـل ځای کی د جمعې د ادا کیدو قید ندی لګولی ، فرمایی : ((عـام اجـازت سـره علـی الاشتهار د جمعې لمونځ کول ، او په کوم خاص ځای کی په پټه جمعې لمـونځ کـول صحیح نه دی (علم الفقه ٢/١١٦)

پدې کی هم بل خای کی د جمعې ادا کیدو قید نشته او د مولانا په زمانـه کـی هـم ګڼو خایو کی د جمعې لمونځ د ادا کولو رواج ؤ ، حکیم الامت حضرت مولانا اشـرف علی تهانوی رحمه الله هم دا قول اختیار کړی دی وګورئ : ((عام اجازی سره علـی الاشتهار لمونځ کول)) نو په کوم خاص ځای کی په پټه د جمعې ادا کول صحیح نـه دی . که په کوم داسې ځای کی جمعې لمونځ وکړی شی چې هلته عامو خلکو تـه د راتلو اجازه نه وی یا د جمعې په ورځ د جومات دروازې بند کړی شی نو لمـونځ نـه

کېږي . (بهشتي ګوهر ۹۳) د حضرت قدس سره په زمانه کې هم په ګڼو ځايو کـې د جمعې ادا کولو عام دستور ؤ .
شيخ الاسلام حضرت مولانا حسين احمد مدنی قدس سره هـم دا قـول غـوره کـړی او ګوری : .
((د شرعی قواعد مطابق په جيل کی د عام اجازت نه کيدو په وجه د جمعې لمـونځ واجب نه دی .)) (مکتوبات شيخ الاسلام ۳۰۱/۱)
حضرت مولانا سيد محمـد ميـا صـاحب (د دهلـی د امينيـه مدرسـی پخـوانی شـيخ الحديث او صدر مفتی) ليکی :
((د جمعې لمونځ ادا کول اسلامی شعار دی دا علی الاعلان او شهرت سره ادا کـول پکار دی ، او که پخپله د وخت بادشاه د خپل محل دروازی په بندولو سره د جمعې لمونځ ادا کول غواړی نو صحيح نه دی ، خو که عام اجازت وی نو بيا صحيح کېږي ، (فلاح) پدې بناء په جيلخانه کی هم جائز ندی (نورالاصباح ترجمه نـور الايضـاح ۱۲۵) .
او دا هم ليکی : ((پنځم شرط اذن عام يعنی داسې ځای چې هلته د رسيدو تهولـو تـه اجازه وی چې خوک وغواړی په مانځه کی شريک کيدی شی ، که خاص خلک راتلی شی او هر چاته د راتلو اجازه نه وی هلتـه د جمعـې لمـونځ نـه صـحيح کـېږي ، پـه جيلخانه کی قيديانو باندې د جمعې لمـونځ واجـب نـه دی او کـه ادا کـړی نـو پـه جيلخانه کی د جمعې لمونځ صحيح کېږي هم نه (حاشيه)
حضرت تهانوی رحمه الله په امداد الفتاوی کی ليکی :
(جواب) کله چې اذن عام وی نو صحيح دی او که نه باهر وتو سره پـه ميـدان کـی دی ادا کړی (امداد الفتاوی ۳۸۳/۱ باب صلوة الجمعة مطبوعه کراچی)
((و الاذن العام هذا الشرط لم يذكر فی الهداية و لا اثر له في ظاهر الرواية وانمـا هـو مذكور فی النوادرو مشی عليه اصحاب المتون و استنبط ذلـک مـن قولـه تعـالی يايهـا الذين امنوا اذا نودی للصلوة مـن يـوم الجمعـة فاسـعوا الـی ذکـر الله ، فـان النـداء للاشتهار و فيه نظر و لا يخفی معنی الاذن العام ان لا يمنع احداً ممن يصح منه الجمعة عن دخول الموضع الذی يصلی فی الجمعة وهو يحصل بفتح ابواب الجامع فلو دخل امير خصاً او قصراً و اغلق بابه و صلی باصحابه لم تنعقد كذا فی الكافی وغيره (عمـدة الرعاية فی حل شرح الوقاية باب صلوة الجمعة)

السادس الاذن العام حتى لو ان السلطان او الامير اذا اغلق باب قصره و صلى في بحشمه لا تجوز جمعته و ان فتحه و اذن للناس بالدخول جازت سواء دخلو او لا، ذلك لما مرمن غيرمرة انها شرعت بخصوصيات لا تجوز بدونها و الاذن العام والاداء على سبيل الشهرة من جملة تلك الخصوصيات فلا تجوز بدونه (فصل فی صلوة الجمعة كبيری ص ۵۱۸)

والسادس من تلك الشرط الاذن العام وهو ان يفتح باب الجامع و يؤذن للناس حتى لو اجتمعوا في الجامع و اغلقوا بابه و صلوا فيه الجمعة لا يجوز و كذا السلطان لو اغلق باب قصره و صلى فيه بحشمه لا يجوز لانها من شعائر الاسلام و خصائص الدين فلا بد من اقمتها على طريق الاشتهار و ان فتح باب قصره و اذن للناس بالدخول فيه يجوز سواء دخلوا او لا يكن يكره لعدم قضاء حق المسجد الجامع (مجالس الابرار ص ۵۹۵ و ص ۵۹۶ مجلس نمبر ۴۹)

و منها الاذن العام حتى لو غلق الامام باب حصته و صلى مع رفقائه لم يجزء في فتح القدير ان اغلق باب المدينة لم يجز و فيه تامل فانه لا ينا في الاذن العام لمن في البلدوا ما من خارج البلد فالظاهر انه م لا يجئيون لاقامة الجمعة بل ربما يجيئون للشرو الفساد و هذا الشرط ايضاً لا يوجد في تب الشافعية وجه قولنا ان مبنى الجمعة على الاشتهار لانه من شعائر الاسلام والمسلمين ولا اشتهار من دون الاذن فتامل (فصل في الجمعة رسائل الركان ص ۱۱۵ ، ص ۱۱۴)

(قوله والاذن العام) اى شرط صحتها الاداء على سبيل الاشتهار الى قوله . و في المحيط فان فتح باب قصره و اذن للناس بدخول جاز و يكره لانه لم يقض حق المسجد الجامع و عللوا بانها من شعائر الاسلام و خصائص الدين . فيجب اقامتها على سبيل الاشتهار . الى قوله . و لم يذكر هذا الشرط صاحب الهداية لانه غير مذكور في ظاهر الرواية و انما هو رواية النوادر كما في البدائع (البحر الرائق ج ۲ ص ۱۵۱ باب الصلوة الجمعة)

و منها الاذن العام وهو ان تفتح ابواب الجامع فيوذن للناس كافة حتى ان جماعة لو اجتمعوا في الجامع واغلقواابواب المسجد و جمعوا لم يجزو كذا السلطان اذا اراد ان يجمع بحشمه في داره فان فتح باب الدار و اذن اذناً عاماً جازت صلوته شهدها العامة او لم يشهد هكذا في المحيط (فتاوى عالمگيرى ج ۱ ص ۶۵ الباب السادس عشر في صلوة الجمعة)

ستة في غير لامصلى وهى المصرا لجامع والسلطان والجماعة والخطبة والوقت والاظهار السلطان اذا فتح باب قصره و اذن للناس بالدخول فيه يجوز و يكره لانه ضيع حق الجامع كذا في تبيين الحقائق (نفع المفتى والسائل ص ۱۰۵) ايضاً

قال رضي الله عنه ما ذكر نا من الشرائط الخمس في غير المصلى و من جملة ذلك الاذن العام يعنى الاداء على سبيل الاشتهار حتى ان امير الو اغلق ابواب الحصن و صلى في باهله و عسكره وصلوة الجمعة لا يجوز في الجامع الصغير لصدر الشهيد . فصار ستة (خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۲۱۰)

(قوله الاذن العام) لانها من شعائر الاسلام و خصائص الدين فيجب اقامتها على سبيل الاشتهار ذكره الشيخ زين و احترز بالعام عن لاذن الخاص بجماعة فيه لا تصح اقامتها (طحطاوى على الدر مختار ج ۱ ص ۵۴۷ باب الجمعة)

ششم اذن عام . (مالا بد منه م ص ۵۵)

و شرائط في غيره المصر والجماعة والخطبة والسلطان والوقت و الاذن العام حتى لو ان والياً اغلق باب بلد و جمع بحشمه و خدمه و منع الناس عن الدخول لم تجزا خذاً من اشارة قوله تعالى نودى للصلوة فانه تشهير الخ (فتح القدير ج ۲ ص ۲۲ باب الجمعة .

و منها ما هو في غيره كالمصر الجامع والسلطان والجماعة والخطبة والوقت والاظهار حتى ان الو الى لو اغلق باب المصر و جمع فيه بحشمه و خدمه و لم ياذن للناس بالدخول لم يجزه (عناية مع فتح القدير ج ۲ ص ۲۲ ايضاً).

(الاذن العام) لا نها من شعائر الاسلام فتودى بالشهرة بين الا نام وهو يحصل بفتح باب الجامع او دار السلطان او القلعة بلا ممانع و قد حررته في شرح التنوير (در ر المنتقى شرح الملتقى ص ١٦٦)

قال في مجمع الانهر ناقلا عن عيون المذاهب و لا يضر غلق باب القلعة لعدوا و عادة قديمة لان الاذن العام حاصل لاهله و غلق الباب ليس لمنع المصلى و لكن عمد غلقه احسن (طحطاوى على المراقى الفلا ح ص ٢٩٦ ايضاً)

(والاذن العام) اى و شرط لا دائها الا ذن العام لانها من شعائر الاسلام فيجب اقامتها على سبيل الاشتهار بين الانام حتى لو اغلق الا مير باب قصره و صلى بعسكره لم يجزه و لو فتح باب قصره و اذن بالدخول جازت مع الكراهة كذا ذكره الشمنى . وفى المبسوط ان الاذن العام هو ان يفتح ابواب الجامع و يؤذن للناس حتى لو اجتمعت

جماعة فی الجامع واغلقوا الابواب لم تجز و کذا السلطان اذا اراد ان یصلی بحشمه فی قصره فان فتح بابه و اذن للنا س اذناً عاماً جازت صلوته شهد تها العامة اولا ، و ان لم یفتح بابه و لم یؤذن لهم بالدخول لا تجزه لان اشتراط السلطان للمتحرز عن تفویتها علی الناس واذا لا یحصل الا بالا ذن العام و کما یحتاج العامة الی السلطان فی اقامتها فالسلطان یحتاج الیهم بان یؤذن لهم اذناً عاماً فبهذا یعتدل النظر من الجانبین (شرح نقایه ج ۱ ص ۱۲۵ باب الجمعة)

و ذکر فی النوادر شرطاً آخر لم یذکره فی ظاهر الروایة وهو ادا الجمعة بطریق الاشتهار حتی ان امیراً لو جمع جیشه فی الحصن و اغلق الابواب و صلی بهم الجمعة لا تجزئهم کذا ذکر فی النوادر فانه قال السلطان اذا صلی فی فهندرة والقوم مع المراء السلطان فی المسجد الجامع قال ان فتح باب داره و اذن للعامة بالدخول فی فهندرة جازو تکون الصلوة فی موضعین الی ذکر الله والنداء للاشتهار و لذا یسمی جمعة لا جتماع الجماعات فیها فاقتضی ان تکون الجماعات کلها ما ذونین بالحضور اذناً عاماً تحقیقاً لمعنی الاسم (بدائع الصنائع ج ۱ ص ۲۶۹ فصل فی بیان شرائط الجمعة)))

پدې ټولو عبارتو کی ددې تصریح دی چې که په خپل محل او کلا کی جمعې لمونځ وکړی نو د جمعې د صحت لپاره اذن عام ضروری دې ، ظاهره ده چې ددې ښار په جامع جوماټ کی د جمعې لمونځ خو کېږي مګر ددې باوجود په کلاء کی د جمعې لمونځ کولو لپاره اذن عام شرط دی ، او د بدائع الصنائع په عبارت کی خو ((و تکون الصلوة فی موضعین)) تصریح دی او په رسائل الارکان وغیره کی ((ان مبنی الجمعة علی الاشتهار)) صراحت دی لهذا اوس خو اشکال رفع کیدل پکار دی ، فقط والله اعلم.

مسافر لپاره د جُمعې للمونځ:

(۵۰ سوال) تبلیغی جماعت د جمعې په ورځ د ښار داسې جوماټ ته ورسید چې د کلی یو سړی هم جوماټ ته رانغی که چیرته دوی چې شرعی مسافر دی د جمعې لمونځ ادا کړی نو د ماسپښین لمونځ ورنه ساقطیږي ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) ددوی جمعه صحیح کېږي او ماسپښین لمونځ ترینه هم ساقطیږي ، په مالا بد منه کی دی :

مسئله : اگر جماعت مسافران در مصر نماز جمعه گذارند د رآنها مقیم کسی نباشد نزد امام اعظم جمعه صحیح باشد الخ (۵٦ فصل در نماز جمعه) فقط والله اعلم.

ـ د (۲۵۰۰) کورونو علاقه او کلی دی هلته جمعې لمونځ صحیح دی یا نه؟

(۵۱ سوال) یو بانډه او اطراف کی (۲۵۰۰) آبادی ده او قریه پنځه میله لری ده نو پدې علاقه کی د جمعې لمونځ جائز دی یا ناجائز ؟

(جواب) ستاسو علاقه ښار وی یا قریه یا د قریې پشان لوی کلی وی او کسب گر خلک (چاته چې زیات ضرور پیدا کیږي) موجود وي او د خلکو ضروری حاجتونه پوره کیږي او د خوراک څښکاک سامان اوکپړې وغیره خرڅیږي نو جمعې لمونځ کیږي ، او که نه د جمعې ادا کولو اجازه نشته ماسپښین لمونځ کول به لازم وی او که همت او شوق وی نو نزدې ښار ته په ورتلو سره دې ادا کړي ، په رسائل الارکان کی علامه بحر العلوم لیکي : ((فالقابل للفتوی فی مذهبنا الرواية المختارة للبلخي و كان مطلع الاسرار ابی قدس سره . يفتي بان المصر موضع فيه حاجة الانسان الضرورية من الاكل بان يكون هناک من يبيع طعاماً والكسوة الضرورية و ان يكون هناک اهل حرف يحتاج اليهم كثيراً ولا ادری هذا كان عن اجتهاده قدس سره او وجد رواية والله اعلم)) (ص ۱۱۴ فصل فی الجمعة)

ـ مسافر د جمعې لمونځ ورکولی شی یا نه؟

(۵۲ سوال) شرعی مسافر د جمعې لمونځ ورکولی شی یا نه؟ پدې باره کی اختلاف شروع دی نو وضاحت وکړی ډېر مهربانی به مو وی ، جزاکم الله .

(جواب) مسافر پخپله هم د جمعې لمونځ کولی شی او نورو ته هم ورکولی شی ، په در مختار کی دی : ((و يصلح للامامة فيها (ای فی الجمعة) من صلح لغيرها فجازت لمسافرو عبد و مريض الخ (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۶۴ باب الجمعة) ((ان المسافر لما التزم الجمعة صارت واجبة عليه و لذا صحت امامته ، فيها)) (شامی ج ۱ ص ۷۶۷) فقط والله اعلم.

ـ (۱) اول آذان نه وروسته کاروبار کول (۲) د سنتو ادا کولو نه مخکې دنیوی کار :

(۵۳ سوال) زه عطر خرڅوم او د عطرو بکسه ځان سره یو ځای بل ځای گرځوم د جمعې په ورځ اول آذان نه وروسته جومات ته زیات خلک راځی نو پدې وخت کی عطر زیات خرڅیږي نو ایا زه اول اذان نه وروسته څپل کاروبار جاری ساتلی شم ، د جمعې اولنی سنت هم ادا کوم او خطبه هم پوره آورم او د جمعې مانځهٔ نه وروسته فوراً باهر راځم او کاروبار کی لگیا کیږم او کله چې تولخلک ووځی پدې وخت کی وروستی سنت ادا کوم نو دا جائز دی یا نه ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) د جمعې اول اذان اوریدو سره کاروبار بندولو سره د لمونځ او خطبې لپاره تیاریدل پکار دی ، په در مختار کی دی :-

((ووجب سعی الیها و ترک البیع و لو مع السعی و فـی المسـجد اعظـم وزراً و الا ذان الاول فی الاصح (در مختار) (قوله و فی المسجد) او علی بابه بحر)) (در مختار مع شامی ج ۱ ص ۷۷۰ باب الجمعة)

د جمعې لمونځ (دوه رکعت فرض) نه وروسته متصل سـنت ادا کـول پکـار دی ، په دنیوی کار کی مشغولیدو سره سنتو کی تاخیر کول مکروه تنزیهی دی ، لهـذا مختصر دعائت کولو سره څلور رکعته ادا کولو نه وروسته کاروبـار کـی مشـغولیدلی شـی ، ((و یکره تاخیر السنة الا بقدر اللهم انت السلام الخ قال الحلوانی لا باس بالفصل بالاوراد واختاره الکمال)) (در مختار مع الشامی ۴۹۴/۱ باب تالیف الصلوة) فقط والله اعلـم . ۸ ذی قعده ۱۳۹۹ هـ

ـ وران عیدګاه آبادول او د توسیع په وخـت محـراب و منبـر ماتول او منځ کی جوړول :

(۵۴ سوال) محترم جناب مفتی صاحب د امت برکاتهم ، د مسنون سلام نـه وروسـته عرض دا دی چې زمونږ په ښار کی یو ډیر زوړ او پخوانی عیدګاه ده لیکن د څو کـالو نه ددې اطراف او شاوخوا حصی د پردو په قبضه کی دی او عیدګاه ناقابـل اسـتفاده ګرځیدلی یواځی دومره نه بلکی په عیدګاه کی د شراب نوشی او د قمارو اډه او وړو او لویو بولو باندې ګنده وی ، عیدګاه ته نزدې اوسیدونکی یو څو ځوانانو دې طرف ته توجه وشوه او په ډیر کوشش او محنت سره پوخ دیوال جوړ کـړ او د پـردو قبضـی ختمولو باندې کامیاب شول فالحمد الله علی ذلک ، د عیـدګاه د فراخولـو پـه غـرض محراب او منبر د خپل اصل ځای نه لرې کولو سره منځ ته راوستلو کی څه نقصان خو نشته ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) جوماتونو او عیدګاه کی د امام د ودریدو ځای او محراب بالکل په منځ کی کیدل ضروری دی تر څو دواړه طرفه صفونه برابر وی ، یو طرف ته زیاتېدل د کراهت

باعث دی لهذا محراب باید بالکل په منځ کی جوړ کړی شی او منبر هم محراب ته نژدې کیدل پکار دی[1] پداسې کولو کی هیڅ نقصان او بدی نشته .
د اخترونو لمونځ د ښار په عیدګاه کول سنت مؤکد دی[2] سورت لوی ښار دی د مناسب عیدګاه نیشتوالی په وجه د ښار تقریباً په ټولو ورو او لویو جوماتو کی د اختر لمونځ کولی شی او خلک راندیر ته تلو ته مجبوریږي ، پدې وجه د سورت په ښار کی د مناسب عیدګاه انتظام ضروری دی ، دا قدیمی عیدګاه د مسلمانانو د غفلت او بې پرواهی په وجه کالعدم ګرځیدلی ؤ او ددې کافی حصه د ناجائز قبضی ښکار شوی وه . په کوم ځای کی چې زرګونو مسلمانانو لمونځ کړی په لکونو سجدی لګولی دی افسوس چې هلته اوس شراب نوشی او قمار (جواری) اډی جوړی شوی دی او په ګلونه ګلونه واره او لوېې بولی پکې کېږي کوم چې د ښار والاو لپاره موجب د وبال دی د الله تعالی خینو نیکو بندګانو ته ددې احساس وشو هغوی دا د ناجائز قبضی نه راخلاص کړ او د ګندګی نه پاک او صاف کړ او عیدګاه یې فراخه کړ ، دا حضرت په حقیقت کی د مبارکباد لائق دی ، مسلمانانو ته پکار دی چې ددوی لاسونه مضبوط کړی او پوره پوره امداد ورسره وکړی او ددې پخوانی عیدګاه په آبادولو کی کوشش وکړی ، کوم خلک چې پدې خیر کار کی مالی یا جانی امداد کی حصه اخلی هغوی د سنت ژوندی کولو په بناء انشاء الله د سلو شهیدانو د اجر و ثواب مستحق ګرځی ،
فقط والله اعلم ۴ ذی قعدة ۱۳۹۹ هـ

ـ په وړوکی جومات کی د جُمعې لمونځ کول :

(۵۵ سوال) د سورت په لویه محله کی یو جومات خراب ؤ تقریباً پنځه میاشتی وشوې چې هغه دوباره مرمت او اباد کړی شوی دی جومات خوا کی د یو مسلمان کور هم نشته د نورو محلو نه خلک دلته لمونځ کولو لپاره راځی ، جومات ډیر وړوکی دی تقریباً (۱۵ ، ۲۰) کسان پکې لمونځ کولی شی د خینو خلکو خیال دی چې دلته د

---

[1] ـ قلت ای لان المحراب انما بنی علامة لمحل قیام الامام لیکون قیامه وسط الصف کما هو السنة ، شامی مکروهات الصلوة ج ۱ ص ۶۰۴

[2] ـ والخروج الیها ای الجبانة الصلوة العید سنة و ان وسعهم المسجد الجامع هو الصحیح . در مختار مع الشامی باب العیدین ج ۱ ص ۷۷۲ .

جمعې لمونځ هم جاری کړی شی تر څو جومات مکمل طور سره آباد شي ، نو دلته د جمعې لمونځ جاری کول څنګه دی ؟ وضاحت وکړی .
(جواب) ذکر شوی جومات ډېر زیات وړوکی دی ددی د آبادی لپاره دومره کافی دی چې پنځه وخته آذان او جماعت سره لمونځ وکړی شی ، د جمعې لمونځ په ادا کولو باندې د جومات آبادی موقوف ندی ، د جمعې لمونځ ادا کول د اسلام د شعائرو څخه دی ددې عظیم مقصد دا دی چې د دینی شعائرو عظیم الشان مظاهره وشي او دا هلته کیدی شی چې جمعه عظیم الشان جماعت سره ادا کړی شی ، د محلی په واړه واړه جوماتو کی واړه واړه جماعتو سره د جمعې ادا کولو کی د اقامت جمعه مقصد فوت کېږي او په نورو جوماتو کي هم اثر غورځوی ((و اقامة الجمعة من اعلام الدين فلا يجوز القول بما يؤدى الى تقليلها)) (مبسوط سرخسی ۱۲۱/۱ باب الجمعة)
لهذا پدې جومات کی د جمعې ادا کولو اجازه نشته ، فقط والله اعلم.

ـ د جُمعې لمونځ فضیلت او کاروبار بندول :

(٥٦ سوال) د جمعې په ورځ مونږ غرمه د جمعې مانځه نه مخکې دوکان بندوو ، مونږ ته کوم وخت کی دوکان بندول پکار دی ؟ نن صبا (۴۵ – ۱۲) باندې زوال کېږي او یوه بجه اذان کېږي او (۱۰-۱) د خطبی وخت دی ، وضاحت وکړی ، جزاکم الله .
(جواب) په حدیثو کی د جمعې د ورځی او د جمعې لمونځ ډېر زیات فضیلت بیان کړی شوی دی دا د اختر د ورځی پشان دی بلکی لدینه هم افضل دی ، لهذا غوره خو دا ه چې د سحر نه د جمعې د مانځه په تیاری کی لګیا وی ، زر تر زره غسل وکړی او ښه نه ښه جامی واغوندی ، خوشبوئی ولګوی ، سورت کهف ولولی او څومره زر چې کیدلی شی د آذان نه وړاندې جامع جومات کی ځان ورسوی ، نفلونه ، صلوة التسبيح ، د قرآن پاک تلاوت ، ذکر او اذکار او درود شریف لوستو کی لګیا ووسی نو د ډېر فضیلت حقدار ګرځی په حدیث کی دی : ((قال رسول الله (ص) لا يغتسل رجل يوم الجمعة و يتطهر ما استطاع من طهر و يدهن من دهنه او يمس من طيب بيته ثم يخرج فلا يفرق بين اثنين ثم يصلى ما كتب له ثم ينصت اذا تكلم الامام الا غفر له ما بينه و بين الجمعة الا اخرى)) (رواه بخاری)
یعنی : کوم سړی چې د جمعې په ورځ غسل او حتی الامکان ځان صفا کړی او بیا وروسته خپلو ویښتانو کی تیل ولګوی او خوشبویی استعمال کړی او بیا وروسته مانځه

لپاره لاړشي، او کله چې جومات ته ورسي بل څوک د خپل ځای نه اوچت نه کړي او بیا خوبره ،فلونه چې د هغه په قسمت کې وی ادا کړی او کله چې امام خطبه شروع کړی خو چپ شی نو د تیر شوی جمعې تر دې وخته پورې دده ګناهونه معاف کېږي. په بل حدیث کې دی چې د تیر شوی جمعې نه تر دې جمعې پوې او ددرې ورځو علاوه ګناهونه یې معاف کېږي (مشکوة ۱۲۲)

او یو حدیث کې دی : ((قال رسول الله (ص) من غسل یوم الجمعة و اغتسل و بکروا بتکر و مشی، و لم یرکب ودنا من الامام واستمع و لم یلغ کان له بکل خطوة عمل سنة اجرصیا مها و قیامها)) (رواه الترمذی و ابو داؤد و النسائی و ابن ماجه)

یعنی : کوم سړی چې د جمعې په ورځ په ښځی باندې هم غسل وکوی او پخپله هم غسل وکړی او وختی پیاده جومات ته لاړ شي سور نشی او امام ته نزدې کېني او په غوره سره خطبه واوری او پدې دوران څه لغوه کارونه کړی نو د هغه هر قدم په بدل کی د یو کال کامل عبادت ثواب ملاوېږي ، د یو کال روژو او د یو کال د لمونځونو (مشکوة ۱۲۲ باب التنظیف والتکبیر)

او بیا د جمعې مانځه څخه فارغیدو سره روټی وخوری او بیا وروسته دوکان خلاص کړی ، که پدې باندې عمل کوی او د سحر نه دوکان بندول مشکل وی نو د اول آذان نه دومره مخکې دوکان بند کړی شی چې د سنت موافق غسل وکړ او کپړې واغوندې او خوشبویی ولګوی او اول آذان په وخت کی جامع جومات ته ورسي ((ووجب سعی الیها و ترک البیع و لو مع السعی و فی المسجد اعظم وزراً بالاذان الاول فی الصح)) (در مختار مع الشامی ۷۷۰/۱ باب الجمعة)

د جمعې پا ورځ چې څومره د جمعې احترام کوی او د سنت موافق د جمعې لمونځ چې څومرد اهتمام کوئی د دې موافق به د برکاتو سره ونازولی شی ، فقط والله اعلم.

ــ په وړوکی کلی کی د جُمعې لمونځ ولی نه صحیح کېږي ؟

(۵۷ سوال) زمونږ په کلی کی د کلونو راهیسی د جمعې لمونځ کیدو او د جمعې د عظمت او احترام په وجه ډېرو زیاتو خلکو د جمعې لمونځ ادا کولو (اته ، لس میاشتی کېږي چې زمونږ په ځای کی قریه صغیره کیدو په وجه د جمعې لمونځ بند کړی شوی نو پدې وجه کومو خلکو چې په هغه کی یواځی یو ځل جومات ته راتلل هغوی جومات ته راتلل بالکل بند کړل پدې بناء زمونږ اراده ده چې داسې خلک د جمعې

لمونځ په وجه جومات ته راشي ، د جمعې لمونځ شروع کړي ایا پدې مقصد باندې د جمعې لمونځ ادا کول جائز دی ؟ وضاحت وکړی جزاکم الله

(جواب) :- هر شئی څه اصول او قواعد وی که د دغو اصولو او قواعدو مطابق عمل وکړی شو نو هله به هغه عمل صحیح وی او که نه ، صحیح او قابل قبول نه دی مثلاً نا بالغ هلک یا جینی خپل نکاح پخپله نشي کولی او که وکړی نو نکاح یې نه صحیح کېږي ځکه چې خپل نکاح په خپله کولو لپاره بالغ کیدل شرط دی ، که نا بالغ هلک طلاق ورکړی نو طلاق یې نه واقع کېږي ځکه چې د طلاق صحیح او واقع کیدو لپاره د بالغ طلاق ورکول ضروری دی او نا بالغ هلک د بالغانو امام نشي جوړیدلی ځکه چې امامت لپاره بالغ کیدل شرط دی که د وخت نه مخکې لمونځ وکړی شی نو لمونځ نه صحیح کېږي ، همدا شان د حج ادا کولو لپاره د حج میاشتی او د ارکانو ادا کولو لپاره چې کوم ځایونه مقرر شوی هلته په تلو سره د ارکانو ادا کول ضروری دی او که نه د حج فریضه نه ادا کېږي ، همدا شان د جمعې لمونځ د صحیح کیدو لپاره ښار یا لویه قریه کیدل شرط دی ، پدې وجه وړوکی کلی کی د جمعې او اخترونو پشان اهم عبادت چې د اسلام د عریم شعائرو څخه دی نشي ادا کیدلی[1] وګورئ د عرفات میدان په ښار کی داخل ندی پدې بناء هلته د جمعې لمونځ نه ادا کېږي حال دا چې په لکونو حاجیان وی هغوی تول ماسپین لمونځ کوی ، همدا شان ستاسو کلی وړوکی دی ښار یا لویه قریه نه ده پدې وجه د جمعې یا د اختر لمونځ نشي ادا کولی ، کوم خلک چې بیلما زان دی په هغوی باندې دې محنت او خواری وکړی شی د لمونځ اهمیت ورکی پیدا کړی شی نو انشاء الله د ماسپښین لمونځ کول به هم شروع کړي ، فقط والله اعلم.

د جمعې لمونځ جماعت دوباره کول :

(۵۸ سوال) په جامع جومات کی د جمعې لمونځ داسې امام ورکړ چې قرائت یې صحیح نه ؤ خینو لمونځ ونه کړ ، تول دوباره جماعت ادا کولی شی یا نه؟

[1] ((قوله و شرط ادائها المصر ای شرط صحتها تؤدی فی مصر حتی لا تصح فی قریة و لا مفازة لقول علی رضی الله عنه لا جمعة و لا تشریق و لا صلوة فطر و لا اضحی الا فی مصر جامع او مدینة عظیمة)) (رواه ابن ابی شیبة و صححه ابن حزم بحر الرائق باب صلوة الجمعة ج ۲ ص ۱۰))

(جواب) کوم جومات کی چې یو ځل د جمعې لمونځ باقاعده ادا کړی شــی هلتــه دويم ځلی د جمعې لمونځ صحیح نه دی ، چا چې لمونځ نه دی کړی هغـوی دويـم جومات ته تلو سره دې ادا کړی او که نه بغیر د اذان او اقامت او بغیر د جماعـت نـه خان ځانته د ماسپښين لمونځ وکړی (شامی ۷٦٦/۱)[2] والله اعلم

ـ د جمعې په ورځ زوال په وخت کی نفل کول :

(۵۹ سوال ، د جمعې په ورځ زوال په وخت کی نفل وکړ یا نه؟

(جواب) د جمعې په ورځ هم زوال په وخت کی لمونځ کـول مکـروه او منـع دی ((صلوة الجمعة رسائل الارکان ص ٦۴)) وقع منا ایضاً ترجیح قول الامام بکراهة النافلـة فی وقت الاستواء یومها ، فانهم (شامی ۷۷۳/۱ آخر صلوة الجمعة) فقط والله اعلم

ـ په کلی کی جومات نشته د جمعې لمونځ کیږي یا نه ؟

(٦۰ سوال) په کلی کی جومات نشته د جمعې او اخترونو لپاره تکلیف دی د جومات نقشه او بنیاد اچولې ده ، پنځه وخته لمونځ په کوم ځای کی ادا کړی شی ؟ امام هم نشته اوس پدې کلی کی جمعه او اختر لمونځ کول صحیح دی یا نه؟

(جواب) د جمعې او اخترونو د وجوب او صحت لپاره ښار او لوی قریه کیـدل شـرط دی د جومات کیدل شرط ندی او همدا شان د مانځه د ځای وقف کیدل هـم شـرط نه دی په کور یا د کرایی په ځای کی ادا کیدلی شی ، په شرط ددې چې هلته ټولـو خلکو لپاره (ورتلو اجازه وی که اجازت نه وی نو بیا جمعـه او اخترونـه ، نـه صـحیح کیږي (د مختار مع الشامی) (۷۴۷/۱-۷٦۱)[1]

تاسو حضرات موجوده حالاتو کی لمونځ لپاره یو ځای مقرر کړی او په صفا ساتلو سره د با جماعت لمونځ کولو انتظام وکړی او یو نیک او دیندار سړی امامت لپـاره مقرر کړی د جمعې او د اخترونو د لمونځ صحت لپاره دا شرط هـم دی چـې د امـام نـه علاوه درې تنه نور وی فقط والله اعلم .

---

[2] ـ و كذا اهل مصر فاتهم الجمعة فانهم يصلون الظهر و لا اقامة و لا جماعة قال فی الشامية تحت قوله و كـــذا اهل مصر عن المضمرات يصلون و حدانا باب الجمعة .

[1] ـ و يشترط لصحتها سبعة اشياء الاول المصر .. والسابع الاذن العام من الامام الخ باب الجمعة كه ذكر شوی ځای ښار يا قريه نه وی بلکی کلی او بانډه وی نو بيا د جمعې مونځ كول جائز ندی .

ـ کوم ځای چې د جمعې لمونځ نه کېږي بل ځـای تـه تلـل څنګه دی ؟

(٦١ سوال) کوم ځای چې جمعه نه صحیح کېږي د هغه ځای نه قصداً بل ځای تـه تلل منع دی ، داسې فتوی ورکړې ده ، نو تلونکی ته څه ګناه شته ؟ زمونږ د ځای نه د ریل یا موټر په ذریعه (۳۰) یا (۴۰) میله لرې سفر کولو سره د جمعې لپاره ځـی نـو دا څنګه دی ؟

(جواب) په کوم کلي کې چې جمعه جائز نه دی له هغه ځای نه ښـار تـه د جمعـې لپاره تلل لازم ندی ، البته په تلو سره د ثواب حقدار ګرځي او د تلو ممانعت هم نشته (در مختار مع الشامی ۷۷۲/۱ صلوة الجمعة)

ـ د ماسپښین او د جمعې سنت کی جماعت او خطبه شروع شی :

(٦۴ سوال) د ماسپښین او د جمعې نه مخکې څلور رکعته سـنت مؤکـد ادا کولـو پـه حالت کی د ماسپښین جماعت یا د جمعې خطبه شروع شي نو سنت پوره کړی یا دوه رکعتو باندې سلام وګرځوی ؟

(جواب) پدې مسئله کی دوه رکعتو باندې په سلام ګرځوی یـا څلـور رکعتـه مختصر قرائت سره وکړی دواړه صورتونه جائز دی ، بهتر دا دی چې دوه رکعته وکـړی البتـه که دریم د رکعت شروع کړی وی نو بیا مختصراً څلور رکعته پوره کړی (شامی ٦٦٨/۱ ادراک الفريضة) فقط والله اعلم.

ـ د جُمعې لمونځ په قعده کی شرکت :

(٦٥ سوال) د جمعې په مانځه کی یو سړی په آخر قعده کی شریک شي نو دوه رکعته وکړی یا څلور رکعته پوره کړی ؟

(جواب) د جمعې دوه رکعته به کوی ، د ماسپښين څلور رکعته کولو ته حاجت نشته ، (نور الايضاح ١٢٦)

ـ په جُمعه او اخترونو کی د لوډ سپیکر استعمال :

(٦٦ سوال) په لوډ سپیکر باندې د جمعې او د اخترونو خطبه او لمـونځ کـول جـائز دی ؟

(جواب) : خینو علماؤ په نزد د لوډ سپیکر په آواز باندې اقتداء او لمونځ نه صحیح کیږي کله چې ددوی په نزد د لوډ سپیکر آواز اصلی نه بلکې نقلی دی . اګر که د ډېرو علماؤ په نزد اقتداء او لمونځ صحیح دی ، فاسد یا واجب الاعاده نه دی ، لیکن په دوی کې محتاط او محققین علماء پدې کـې د زیـاتو خرابیـانو او د فائـدې نـه د نقصان اړخ غالب کیدو په وجه په مانځه ددې استعمالو اجازه نـه ورکـوی ، او همـدا مناسب دی او په همدې کی د سلف صالحینو کامل اتباع دی ، لهذا د سلف صـالحینو ساده محتاط او د با برکت طریقی پریښودو سره د لمونځ په شـان افضـل العبـادات او ددین اهم شعار په داسې مخدوش او اختلافی طریقی په ذریعه ادا کول هرګز مناسب ندی ، ددې په استعمال باندې اصرار کول غلطی ده ، په خطبه کې ددې استعمال د خطبی د شان سره مناسب نه دی ، که چیرته د خطبی او د قرائـت آواز حاضـرینو تـه رسیده نو بیا د هیڅ عالم پدې کی اختلاف نشته چې پدې صورت کـې د لـوډ سـپیکر استعمال جائز ندی ، فقط د اوسنی دور فتاوی وګوری لاندې نقل کولی شی :-

(۱) الجواب (ص ۱۴۷۰) دا مسئله اختلافی ده ، خینی علمـاء ورتـه فاسـد وایـی او خینی ورته صحیح وایی (سعید احمد د سهارنپور مظـاهر العلـوم مفتـی ، ذی الحجـة ۱۳۷۹ هـ)

(۲) مولانا مفتي محمود حسن صاحب ګنګوهی : لوډ سپیکر دې په مانځه کـی نشـي استعمالولی امام ته پکار دی چې دا منع کـړی (ماهنامـه نظـام کـانپور ، ذی الحجـة ۱۳۷۹ –۲ جون ۱۹٦۰ ع)

(۳) مفتي مهدی حسن صاحب الجواب (۵۳۳۹) څو پورې چې د احتیاط تقاضا ده باید په پخوانی طریقه باندې لمونځ ادا او ورکړی شی او لوډ سـپیکر پـه مانځـه کـی استعمال نشي ، اختلاف هم پکې شته یوه ډله ورته صحیح نه وایی او یوه ډله یې جائز ګنی پدې وجه بهتره دا معلومیږي چې د مانځه په شان اهـم عبـادت پـه هغـه طریقـه باندې ادا کړی شی چې د هر مکتب فکر علماؤ په نزد لمونځ صحیح او درست شي او که خلک ډېر زیات وی نو د پخوانی طریقی سره د مکبرینو په ذریعه د امـام تکبیـرات مقتدیانو ته ورسول شي ، (حضرت مفتی مهدی حسن صاحب دار العلوم دیوبند – ۲۳ ذی الحجة)

د جُمعې لمونځ مسنون قرائت :

(۶۷ سوال) زمونږه امام صاحب د جمعې لمونځ اول رکعت کی د سورت جمعة اوله رکوع او په دويم رکعت کی دويمه رکوع لولي او ديته سنت طريقه وايی نو ايا پدې طريقه قرائت سره سنت ادا کيږي ؟

(جواب) کله کله د جمعې په اول رکعت کی سورت اعلی او په دويم رکعت کی سورت غاشيه لوستل سنت دی ، همدا شان کله کله د جمعې اول رکعت کی د سورت جمعة او دويم رکعت کی سورت منافقون لوستل هم سنت دی ، ليکن په دواړو رکعتو کی يواځې سورت جمعة لوستل (يعنی اول رکعت کی اوله رکوع او دويم رکعت کی دويمه رکوع لوستل) لکه چې ستاسو امام صاحب کوی او ديته مسنون طريقه وايی دا صحيح نه دی ، همدا شان د جمعې اول رکعت کی د سورت جمعة آخری رکوع او دويم رکعت کی د سورت منافقون آخری رکوع لوستلو نه د سنت ادا والی لپاره کافی گڼل کيږي ، دا هم غلط دی ، په ((زاد المعاد)) کی دی ((ولا يستحب ان يقرء من كل سورة بعضها او يقرء احدهما فی الركعتين فانه خلاف السنة و جهال الائمة يداومون على ذلك)) يعنی دا طريقه سنت او مستحب نده چې د سورت جمعه يا د سورت منافقون يو څه حصه ولوستل شي يا يو سورت دواړه رکعتو کی ولوستل شي (لکه چې سوال شوی دی) دا طريقه د سنت خلاف ده ، جاهل امامانو پدې طريقه لوستلو عادت جوړ کړی دی او ددې پابندی کوی (۱۰۴/۱) والله اعلم.

د جُمعې لمونځ او د جمعې سحر لمونځ کی کوم سورتونه لوستل مسنون دی ؟

(۶۸ سوال) د جمعې لمونځ او د جمعې د سهار په لمونځ کی کوم خاص سورت يا ايتونه لوستل سنت دی ؟ او د جمعې سحر مانځه کی سورت سجدة لوستل سنت دی ؟ د کتابونو حوالو سره جواب راکړی مهربانی.

(جواب) رسول الله (ص) زياتره وختو کی د سحر د سنتو په اول رکعت کی سورت کافرون او دويم رکعت کی د سورت اخلاص لوستلو ، د وترو اول رکعت کی کله کله سورت اعلی او په دويمه کی سورت کافرون او په دريم کی سورت اخلاص لوستلو او کله کله به يې سورت اخلاص سره معوذتين هم لوستل ، همدا شان د جمعې اول رکعت کی سورت جمعة او دويم رکعت کی سورت منافقون او کله اول رکعت کی

سورت اعلی او دویم رکعت کی سورت غاشیه لوستلو ، او د جمعې په ورځ د سحر لمونځ اول رکعت کی سورت سجده او دویم رکعت کـی سـورت دهـر لوسـتلو . لهـذا پدې طریقا باندې کله کله لوستل پکار دی یعنی مسنون او مستحب دی سـنت مؤکـد ندی ، لهذا پدې به همیشه والی نه کوی چې عوام یې واجب او سنت مؤکد وګڼی . په ((در مختار)) کی دی : ((ویکره التعیین کالسجدة و هل اتی ، الفجر کل جمعة بل یندب قرائتهما احیاناً)) یعنی خاص سورتونه مقررول لکه دا مقررول چې د جمعې په ورځ د سحر مانځه کی سورت سجدة او سورت هل اتی (سورت دهر) بـه لـولی ، دا مکروه دی ، مستحب دا دی چې کله کله دا سورتونه هم ووایـی شـامی کـی دی : ((فلیستحب ان یقرا ذلک احیاناً تبرکاً بالماثوره)) د رسـول الله (ص) نـه چـې د کومـو سورتونو لوستل ثابت دی کله کله د برکت او ثواب په نیـت د هغـو لوسـتل مسـتحب دی (۵۰۸/۱ فصل فی القراة)

ـ ایا د بمبئ په کستم کی ولاړ جهاز کی د جُمعې لمونځ کولی شی ؟

(٦٩ سوال) مفتی صاحب مونږ ټول پرون پنجشنبی ورځ په جهاز سور شـول او نـن د جمعې ورځ ده ، اوس مونږ سره د بمبئ څو حاجیان دی او جهـاز اوس د بمبئـی پـه کستم (ګمرک) کی دی نو دا خلک جمعه ادا کړي یا ماسپښین ؟ او دوی قصر وکـړی یا پوره ادا کړی ؟

(جواب) څو پورې چې جهاز د بمبئ په کستم کی ولاړ وي نو د بمبئ کسان به پـوره لمونځ کوی دوی لا تر اوسه د خپل وطن په احاطه کی دی نو پدې بناء مقیم دی نه مسافر[1]

البته په دوی باندې د جمعې لمونځ نشته پدې چې جمعې لپاره ((اذن عام)) شرط او ضروری دی، او کله چې جهاز والا نبار ته او نبار والا جهاز ته نشي راتلـی نـو د ((اذن عام)) شرط موجود نه شو پدېوجه د جمعې لمونځ وربانديې لازم ندی ، لکـه د خپـل نبار جیلخانه کی چې څوک قید دی په هغو باندې د جمعې لمـونځ لازم نـدی ځکـه چې جیلخانی ته د تلو عام اجازه نشته نو هغوی به د ماسپښین لمونځ ځانته ادا کوی

[1] ـ و اشار الی انه مفارقة ما کان من توابع موضع الاقامة کربیض المصر وهو ما حول المدینة من بیوت و مساکن فانه فی حکم المصر ، شامی باب الصلوة المسافر .

همدا شان د بمبئ حاجیان هم خان خانته د ماسپښین لمونځ ادا کوی جماعت به نه کوی څکه چې داسې خلکو لپاره ښار کی د ماسپښین جماعت کول مکروه دی ((کره تحريماً لمعذور و مسجون و مسافر اداء ظهر بجماعة فی مصر)) (الدر مختار فی شروط الجمعة ۷٦٤/۱)

ـ د جمعې په ورځ د استواء په وخت د لمونځ حکم :

(۷۰ سوال) حضرت مفتی صاحب ، د سلام مسنون نه وروسته ، څوی مې له د مدراس ته راته لیکلی دی چې زه مظاهر حق وایم او یو حدیث مې پکې ولوست چې امام شافعی روایت کړی دی چې رسول اکرم (ص) د غرمې په وخت لمر زوال کیدو نه مخکې لمونځ کولو نه منع کړې ده لیکن د جمعې په ورځ (کولی شی) او کما قال .... نو شافعی مسئله خو دا ده چې د زوال په وخت کی جمعې په ورځ نفل کولی شی، د حضرت ابو حنیفه (رح) قول دی چې په هره ورځ باندې د زوال وخت مکروه دی ، لیکن یو کتاب در مختار کی لیکلی دی چې د جمعې په ورځ زوال په وخت کی لمونځ جائز دی او همدا قول ده د شاګرد حضرت امام ابو یوسف (رح) دی ، حضرت جابر (رض) هم دا روایت کړی دی او ویلې یې دی چې پدې باندې فتوی ده ، نو تا به جمعې په ورځ صلوة التسبيح د زوال وخت ته په کتو کتو ادا کولو اوس ددې ضرورت نشته ، د زوال په وخت کی هم څه باک نشته ، دا د حنفیانو فتوی ده (د جمعې نه علاوه د زوال په وخت کی مکروه دی) پدې مسله کی تاسو څه فرمایی ، او ماته څه کول پکار دی ؟ (رهنده - له بمبئ نه)

(جواب) بالکل غرمې په وخت کی څو پورې لمر زوال شوی نه وی لمونځ کول ممنوع او مکروه تحریمی دی ، په حدیث کی دی :

((عن عقبة بن عامر رضی الله عنه يقول ثلاث ساعات كان رسول الله صلى الله عليه وسلم ينهانا ان نصلی فيهن او نقبر فيهن موتانا حين تطلع شمس بازغة حتى تر تفع و حين يقوم قائم الظهرة حتى تميل المشس و حين تضيف الشمس للغروب حتى تغرب))

یعنی د حضرت عقبة بن عامر (رض) نه روایت دی چې فرمایی درې وختونه دي چې رسول الله (ص) مونږه منع کړي یو چې پدې وختو کی لمونځ وکړو او یا خپل مړی دفن کړو (یعنی د جنازې لمونځ وکړو) کوم وخت چې لمر راخیژی تر څو چې ښه اوچت شي او کوم وخت چې بالکل غرمه وی تر څو چې لمر زوال شي او کوم وخت کی چې لمر په ډوبیدو شي تر څو چې پریوځی (صحیح مسلم باب الاوقات التي نهی

عن الصلوة فيها ۲۷٦/۱) پدې حديث کی د منع حکم مطلق او عام دی پـدې کـی د جمعې د ورځی استثناء نشته اوپه کوم حديث کی چې د جمعې ورځـی اسـتثناء ده هغه دا دی

((عن ابی هريرة رضی الله عنه ان رسول الله (ص) نهـی عـن الصـلوة نصـف النهـار حتی تزول الا يوم الجمعة))

يعنی حضرت ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله د غرمې په وخـت کی د لمونځ کولو نه منع کړې ده ، تر څو چې لمر زوال شي مګر د جمعې پـه ورځ (منع ندی) او دا د جمعې د ورځی استثناء والا حديث پدې درجه کی نـدی چـې د عموم والا حديث مقابله وکړی شی ځکه چې دا د هغه په مقابل کی ضعيف دی او که ورسره برابر هم ومنل شي نو د اصول حديث په موجب د تحريم حـديث تـه تـرجيح ورکول کېږي ، په رسايل الارکان کی دی :-

((و فی التعارض يقدم المحرم علی المبيح و اجـاب الشـيخ ابـن الهمـام بـان هـذين الحديثين معارضان لحديث النهی المحرم راجع عند المعارضة فصل فـی المواقيـت (٦٢ (

والجواب عنه ان استثناء يوم الجمعة لم يرو فی حديث صحيح و کل ماجاء فيه ضعيف باسره قال الحافظ فی التلخيص بعد ذکر الحديث المذکور و اسحق و ابراهيم ضعيفان و رواه البيهقی من طريق ابی خالد الاحمر عن عبدالله شـيخ مـن اهـل المدينـة عـن سعيد به و رواه الاثرم (اعلاء السنن ص ۴۳ ج ۲ کراهة الصلوة عند الاستواء)))

يعنی حضرت اما شافعی (رح) او امام ابو يوسف (رح) چې په کومـو حـديثو بانـدې استدلال کوی هغه ضعيف دی ددې په راويانو کـی اسـحاق او ابـراهيم دی او دوی ضعيف دی .... او د بيهقی په روايت کی واقـدی دی او هغـه متـروک دی او پـه بـل روايت کی عطاء بن عجلان دی هغه هم متروک دی الخ .

نو د قومی دليل په وجه د امام ابو حنيفه (رح) قول اصح دی لکه په هدايه کی چی دی :-

((والحديث باطلاقه حجة علی الشافعی فی تخصـيص الفـرائض وغيـره بمکـة و حجـه علی ابی يوسف فی ابا حة النفل يوم الجمعة کتاب الصلوة باب المواقيت ج ۱ ص ۸۵ (ص ٦٨ ج ۱) ((قوله الا يوم الجمعة) لما رواه الشافعی فی مسنده نهی عـن الصـلوة نصف النهار حتی تزول الشمس الا يوم الجمعة قـال الحـافظ ابـن حجـر فـی اسـناده

انقطاع و ذكر البيهقي له شواهد ضعيفة اذا ضمت قوى الخ (قوله المصحح المعتمد) اعتراض بان المتون والشروح على خلافه (قوله و نقل الحلبي) اى صاحب الحلية العلامة المحقق ابن امير الحاج عن الحاوى اى الحاوى القدسي كما رايته فيه لكن شراح الهداية انتصر وا القول الامام و اجابو عن الحديث المذكور باحاديث النهي عن فيقدم بصحته و اتفاق الائمة علي العمل به و كونه حاظراً و قد امنع علماء عن سنة الوضوء و تحية المسجد و ركعتي الطواف ونحو ذلك فان الحاظر مقدم على المبيح (الى قوله) و رايت في البدائع ايضاً مانصه و ما ورد من النهي الا بمكة شاذ لا يقبل في معارضة المشهور و كذا رواية استثناء يوم الجمعة غريب فلا يجوز تخصيص المشهور به اه و لله الحمد (ج ١ ص ٣٤٥ كتاب الصلوة) و قد منا ايضاً ترجيح قول الامام بكراهة الصلوة في وقت الاستواء يومها (الجمعة) (شامى باب الجمعة ص ٧٧٣ ج ١)

په ((مظاهر حق)) كې دى د زوال په وخت كې كراهت زمونږ د حنفيانو په نزد په هر وخت او هر ځاى كې دى (د مكې او د جمعې استثناء نشته) او د امام شافعي او دده موافق علماؤ په نزد د جمعې په ورځ استواء په وخت كې جائز دى او په مكه معظمه كې هم په ټولو وختونو كې جائز دى ، او حنفي مذهب احوط دى ځكه كله چې مبيح (روا كونكى) او محرم (حرامونكى) سره جمع شي نو محرم ته ترجيح وركول كيږي ، والله اعلم . (١٤٢/١)

او په همدې كې بل ځاى ليكلي دى :

((امام ابو حنيفه (رح) په نزد د جمعې په ورځ هم زوال په وخت كې لمونځ كول صحيح نه دى ، ځكه په كومو حديثو كې چې د منع حكم دى هغه مشهور (معتبر) دى او دا حديث كوم چې د امام شافعي او امام ابو يوسف (رح) دليل دى هغه ضعيف دى ، د مشهورو حديثو مقابله نشي كولى او بل دا هم مسلمه قاعده ده چې په مبيح باندې محرم راجح دى ، ملخصاً (٣٤٦/١)

دا د حنفيانو اصلي مذهب دى نو بيا دا ځنګه ليكلي دى چې : ((د جمعې په ورځ به د صلوة التسبيح د زوال وخت ته په كتو كتو كې كول اوس ددى ضرورت نشته د زوال په وخت كې هم څه پرواه نه كوى دا د حنفيانو فتوى ده))

د حنفيانو مذهب و فتوى او دليل د مسلم صحيح حديث او د ((رسائل الاركان)) هدايه ، بدائع ، شامى او مظاهر حق)) كتابونو د عبارتونو څخه د رڼا ورځې پشان واضح دى چې د زوال په وخت كې لمونځ كول مكروه او ممنوع دى ، همدا قول د

صحیح حدیث نه ثابت دی او د دویم قول په مقابل کی راحج او احـوط دی . لهـذا پدې باندی عمل کول پکار دی ، لمونځ د اهمو عبادتو څخه دی پـدې کـی د ډېـر احتیاط ضرورت دی ، په ((شامی)) کی دی ((لما فـی مبسـوط السرخسـی ان الاخـذ بالاحتیاط ـی باب العبادات واجب آه)) (۱۰٦/۲) یعنی د عباداتو باره کی په احتیاط والا مسئله باندې عمل کول واجب دی ، فقط والله اعلم .

ـ د ښار د ډاګ نه باهر اوسیدونکو باندې جمعه واجب دی یا نه؟

(۷۱ سوال) راندیر ته نزدې دوه بانډی دی اراجن او پال د له دواړو ځایونو څخه د سحر اذان اوریدل کېږي کله چې په لوډ سپیکر باندې وویل شي نو د هغه ځای خلکو باندې د جمعې مانځه لپاره راندیر ته راتلل ضروری دی یا نه؟

(جواب) کله چې دا دواړه بانډی د راندیر نه جـدا او مسـتقل دی نـو د هغـوی پـه اوسیدونکو باندې جمعه واجب ندی :-

((ولا يجب على من كان خارجه و لو سمع النداء من المصر سواء كـان سـواده فريبـا من المصر او بعيداً على الاصح فلا يعمل بما قيل بخلافه و ان صحح ، باب الجمعة)) (مراقی الفلاح ص ۱۰۱) .

((لا يعمل بما قيل الخ قال فی الشرح قد علمت بنص الحديث و الاثـرو الروايـة عـن ائمتنا ابی حنيفة و صاحبيه و اختيار المحققين من اهل التـرجيح انـه لا عبـرة ببلـوغ النداء و لا بالعلوة و الاميال و انه ليس بشيئ فـلا عليـک مـن مخالفـة غيـره و ان ذكـر تصحيحه فـنه ما فی البدائع انه ان امكن ان يحضر الجمعـة و يبيـت باهلـه مـن غيـر تكلف يجب عليه الخ ای لان من جاوز هذا الحد بنية السفر كان مسافراً فلو وجبت ثمه لوجبت علی المسافر وهو خلاف النص ،)) (طحطاوی علـی مراقـی الفـلاخ ص ۲۹۳ ، ۲۹۲ ، ایضاً)

ـ وړوکی کلی کی د جُمعې حکم :

(۷۲ سوال) زه نوی کلی بورجائی کی ملازم یم مدرسه او امامت هم زما په غـاړه ده په کلی کی لس ، دولس کورونه دی له پخوا نه جمعې لمونځ پکی نه کیده او د اختر لمونځ کیدړ ایا فی الحال جمعې لمونځ کول واجب دی او که د اختر لمونځ واجب دی ، او نیت د واجبو وکړی شی یا د نفلو ؟ ځینی وایی چې د واجب په نیت سـره د

اختر لمونځ نه صحیح کېږي او د نفلو په نیت سره صحیح دی نو ایا که د نفلو په نیت سره د اختر لمونځ وکړی شی نو صحیح کېږي ؟

(جواب) ستاسو کلی وړوکی دی پداسې کلی کی د جمعه او اختر لمونځ صحیح نه دی ، د نفلو سره هم د اختر لمونځ کولو اجازه نشته ، مکروه تحریمی دی ، په در مختار کی دی ((صلوة العید فی القری تحریماً ای لانه اشتغال بما لا یصح لان المصر شرط الصحة))

او په شامی کی دی : ((قوله ما لا یصح ای علی انه عید و الا فهو نفل مکروه لا دائه بالجماعة (۱/۷۷۵ باب العیدین) فقط والله اعلم.

- کلی چې قریه جوړ شی نو د جمعې او د اختر لمونځ حکم :

(۷۳ سوال) دینی عالمان او مفتیان صاحبان پدې مسئله کی څه فرمایی چې زمونږ قریه ((چهاپی)) نن نه څلور پنځه کاله مخکې د یوې معمولی باندې حیثیت لرلو مگر پدې اوس وخت د قریې پشان دی او ددې پوره ابادی تقریباً څلور زره ده ، او که د انگریزی او عربی مدرسې طلباء هم حساب کړی شی نو تقریباً (٦٠٠) نور هم زیاتېږي پدې قریه کی مستقل بازار دی چې د ژوند هر قسم ضروری شیان پکې موجود دی او د ټول بازار دوکانونه کوم چې با قاعده کمیټی ته ټیکی ورکوی (۲۵۰) دی ، ریلوی ستیشن شته چې هلته ډاک میل نه علاوه ټول گاډی ودرېږي ، او دا قریه خپل شاوخوا ډېرو باندو بپاره د تهوک منډی شمارېږي ، د باندې تاجران دلته راتلو سره ضروری شیان اخلی او دلته د کمیټی دفتر ، ډاکخانه ، ټیلی گرام ، ټیلیفون ، بجلی ، د پولیس تهانه ، او سرکاری ، غیر سرکاری شفاخانې (هسپتالونه) د څارو دواخانه ، بینک هم شته ، دلته دوه جوماتونه یوه عربی مدرسه ده چې ۳۵۰ طلباء پکی درس او سبق وایی ، پرائمری او سیکنډری اسکول موجود دی اوس تپوس دا دی چې پدې ځای کی جمعه او اختر لمونځونه واجب دی یا نه؟ تر ننه پورې دلته جمعه او اختر لمونځونه نشی ادا کولی ، کله چې د باهر نه علماء کرام راځی نو ددې ځای په لیدو سره وایی چې ددې ځای خلک د جمعې ترک کوونکی دی ، نو جمعه او اخترونه واجب دی یا نه؟ او د جمعې نه ادا کولو په صورت کی واقعاً د ترک جمعه د گناه مرتکب کېږي یا نه ؟

(جواب) د قریې لوی او وړوکی کیدو مدار په عرف باندې دی که چیرته واقعاً چهاپی علاقه قریې پشان ده ، د علاقی او شاوخوا خلک ورته قریه وایی نو دا عرفاً او شرعاً د

ښار قائمقام دی ، لهذا دلته بغیر د شک او شبهې نه د جمعې او اختر لمونځ صحیح دی ((و تقع فرضاً فی القصبات والقری الکبیر التی فیها اسواق)) (شامی ۷۳۸/۱ باب الجمعة) لهذا دلته د جمعې او اختر لمونځ کول ضروری دی ، فقط والله اعلم .

ــ د جُمعې لمانځه لپاره جومات شرط نه دی :

(۷۴ سوال) د پروده ښار د آبادی نه باهر تبلیغی جتماع اراده ده ((خای د ښار په حدودو کی دی، دلته پنډال (د اجتماع خای) کی د جمعې لمونځ صحیح دی یا نه؟ د ځلور پنځه زره کسانو ښار ته تلل مشکل دی .

(جواب) دا اجتماع د ښار په ډاګکی ده لهذا پنډال کی د جمعې لمونځ صحیح دی ، د جمعې د صحت لپاره جومات شرط نه دی ، ښار یا د ښار په ډاګکی چیرته چې د جومات په شان د لمونځ کولو عام اجازت وی ، د جمعې لمونځ ادا کولی شی مګر په جوماتو کی د ادا کولو ثواب نه ملاوېږي :-

((اوفناءه بکسر الفاء وهو ما حوله اتصل به اولاً کما صرره ابن الکمال وغیره لاجل مصالحه کدفن الموتی و رکض الخیل)) (در مختار مع الشامی ۷۴۹/۱)

د ښار فناء یعنی د ښار شاوخوا کار آمد میدان چې د ښار د مصالحو لکه مقبره او د آسونو ځغلول او فوجی اجتماع لپاره وی ، فقط والله اعلم.

ــ د جُمعې دصحت لپاره څومره آبادی شرط ده ؟

(۷۵ سوال) پدې مسئله کی دینی عالمان څه فرمایی : (۱) زمونږ د کلی آبادی (۳۰۰۰) دی او مسلمانان (۳۰۰) دی

(۲) دوه قبرستانونه دی یو اوه جریبه او بل یو جریب (۳) پنځه ، اوه دوکانه دی ، ضروری شیان د سورت او بارډولی نه راغوښتل کیږي ،

(۴) تهانه . ریل ، د اوبو نظام ، بجلی ، سیند او بازار وغیره نشته ،

(۵) اوه جریبه کی یو تالاب دی

(٦) پورب کی بارډولی پنځه میله لری دی پچهم سورت ، بیشور دولس میله کی دی .

(۷) مدرسه او جومات شته د جمعې او اختر لمونځ جماعت سره ادا کیږي ، د ذکر شوو حالاتو په وړاندې د جمعې د صحت لپاره څه حکم دی ؟ ځینی خلک د جمعې په ځای ماسپښین ادا کوی ایا دوی ګنهکار دی ؟ که دې نو کفاره یې څه ده؟

(جواب) د جمعې او اخترونو لپاره ښار یا لویه قریه ضروری ده ، ستاسو کلی ته که څه هم لوی کلی قریه ویل کیږي نو بیا جمعه او اختر لمونځونه صحیح دی ، مګر پورته ذکر شوی سورتونو (ډاکخانه ، ریلوی وغیره نیشتوالی) نه واضح کیږي چې قریه نده لهذا د جمعې او اختر لمونځ صحیح نه دی ، که ادا کړی شی نه صحیح کیږي نفل ګرځی او نفل جماعت سره کولو کراهت او د ماسپښین جماعت پرېښودو لو ګناه پرې لازمیږي په کلیوالو باندې جمعه نشته ماسپښین جماعت سره لازم دی ، د اختر لمونځ هم واجب ندی ، او که همت او شوق وی نو نزدی قریه او ښار کی دی په تلو سره ادا کړی ، بهتر دی او واجب ندی[1] فقط والله اعلم .

ـ په رویدار کی د جمعې او اختر لمونځ صحیح دی یا نه؟

(۷٦ سوال) الله پاک دې ستاسو سوری تر ډېری زمانی پورې قائم لری ، ستاسو محترم په خدمت کی عرض دا د ی چې زمونږ کلی ته نزدی بل کلئ دی په دواړو کلو کی یو یو جومات دی د یو کلی نوم ((رویدار)) او د بل کلی نوم ((کرمالی)) دی د رویدار آبادی (۱۵۰۰) پنځلس سوه دی ، او د کرمالی آبادی (۴۰۰) څلور سوه دی ، په رویدار کی دواخانه ، لس ، دولس دوکانه او ژرنده (د اوړو مشین) او د اوبو نظام هم شته غرض دا چې د ژوند ضروریات په سهولت سره حاصلیږي ، او علاوه لا دا چې دلته د جمعې او اختر لمونځونه هم ادا کیږي ، مګر ځینی خلک د عدم وجوب او د عدم جواز قائل دی او هغوی نه کوی لهذا پدې باره کی شرعی حکم څه دی ؟ واضح کړی

(جواب) د تحقیق نه معلوم شو چې دواړه کلی اسماً او عرفاً مستقل دی او په یو کی هم د جمعې د صحت شرطونه موجود ندی ، لهذا د جمعې لمونځ کول صحیح نه دی[2] فقط والله اعلم (کتبه السید عبدالرحیم غفرله)

(جوا ب ۱) دا خو ظاهر دی چې د جمعې د صحت او د عدم صحت مدار د شرائطو په موجودیدو او عدم موجودیدو باندې دی ، نو پدې ذکر شوی مسئله کی کله چې

---

[1] و من لا تجب علیهم الجمعة من اهل القری والبوادی لهم ان یصلوا الظهر بجماعة یوم الجمعة باذان و اقامه عالمګیری صلاة الجمعة ص ۱٤٥

[2] و شرط ادائها المصر ای شرط صحتها ان تؤدی فی مصر حتی لا تصح فی قریة و لا مفازة الخ بحر الرائق ج ۲ ۱٤٠ باب الصلوة الجمعة .

دوه کلی جدا جدا نومونو سره مشهور او نومول شوی او انفرادی طور سره به یو کی هم د جمعې د صحت صلاحیت نشته نو بیا هیڅ وجه نشته چې دواړه خامخا یو فرض کولو سره د لزوم جمعې حکم وکړی شی ، ځکه چې پدې کـی هـیڅ خفـا او پټوالی نشته چې فقهاء کرامو په دوه مستقل علاقو کی د جمعې د صحیح کیدو او نه صحیح کیدو مدار په فصل او عدم فصل باندې ندی ګرځولی بلکی حقیقی مـدار د هـر یـو علاقی په صلاحیت او عدم صلاحیت باندې دی یعنی که چیرته په هره علاقـه کـی د جمعې د صحت شرطونه وموندل شي نو جمعه صحیح دی . او که نه صحیح نه دی ، په حقیقت کی دا ډیره لویه اصولی غلطی ده چې یواځی د جمعې پـه شـروطو کـی دوه مستقل آبادئ یو کولو لپاره پیمائش شروع کیږي ، خبره دا ده چې کلـه دا دواړه کلی مستقل نومونو سره یادیږي نو بیا په شرعی احکامو کـی هـم ددوی استقلال تـه کتلی شی . البته که چیرته حقیقتاً دوه علاقـی نـه بلکـی دوه محلـی دی او د دواړو محلو مجموعی حیثیت سره کوم بل نوم دی نو بیا یواځی دا د لارو فاصله د جمعې د صحت لپاره مخل او نقصانی ندی ، لیکن که چیرته داسې نه وی ، او پـه ظـاهره هـم نشته نو یقیناً پداسې علاقو کی جمعه صحیح نه دی د جمعې د فرضیت دعویـدار لـره پدې باندې بې ځایه او غیر شرعی اصـرار تـه ضـرورت نشـته (کتبـه عتیـق الرحمـان عثمانی).

(جواب ۲) د مفتی عزیز الرحمان صاحب : -

اصل دا دی چې د حنفیانو په نزد جمعه او د اخترونو لمونځ پداسې لوی قریه او ښار کی فرض او صحیح کیږي چې هلته بازار وی او د ضرورت شیان پکې پیدا کیږي

((قال فی رد المختار نقلاً عن القهستانی و تقع فرضاً فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ و فیما ذکر نا اشارة الی انها لا تجـوز فـی الصـغیرة الـخ و فـی الـدر المختار صلوة العید فی القری تکره تحریماً الخ و مثله الجمعة)) (شامی)

نو کله چې دواړو ذکر شوو کلو کی یو هم دومره لوی نشته چې هغه کـی د جمعې د صحت شرطونه موجود شي نو د دواړو یو ځنلو سره جمعه نه صحیح کیږي ، نو پورتنی جواب صحیح دی ، فقط . عزیز الرحمن مفتی دار العلوم (د فتاوی دار العلوم مـدلل و مکمل ۱۲۴/۵ ، ۱۲۵)

د ملازمت په وجه جمعه معاف او ساقطیږی نه :

(۷۷ سوال) يو داسې سړی چې پنځه وخته فرض لمونځونو څخه يـو دوه لمونځونه ضرور كوی ليكن د جمعې لمونځ ضرور ادا كوی اوس په داسې ځای كی كـار كـوی چې هلته د جمعې مانځه لپاره وخت نه ملاوېږي ، هفته وار رخصتی (چهټی) ضرور ملاوېږي ليكن د جمعې نه علاوه كوم بل ورځ مثلاً اتوار (يكشنبه) وی يا منګـل (سه شنبه) وغيره اوس دا سړی كه د جمعې په ورځ كار ته ځی نو د جمعـې لمـونځ پـاتې كېږي ، او كه جمعې مانځه ته ځی نو بيا د جمعې په ورځ كار پاتې كېږي ګويا د يوې ورځی آمدنی او ګټه كمېږي او د نومونړی شخص اقتصادی حالت هم د ويلو نه دی ، اوس څه وكړی شی ؟ ايا د جمعې لمونځ پرېږدی يا د جمعې پـه ورځ كـار پرېـږدی ، د كار پرېښودو په سلسله كی دا خبره ضرور نظر لاندې ونيسی چې كه چهټی (رخصتی) منظور شي نو يواځی آمدنی به كم شي او كه رخصتی منظور نـه شـي او نومـوړی لاړ شي نو د آمدنی كميدو نه علاوه پدې ورځ هغه غير حاضر حسابېږي او غير حاضر ته په بله ورځ كار وركول يا نه وركول د كار وركونكی مرضی وی كله كله د تنبيـه پـه طـور كار نه وركوی او علاوه لدينه د كال غير حاضريانی هم شميرلی شی او ددې اثر په كار باندې پريوځی ، نو براې كرم پورتنی ټولی خبرې تر نظر لانـدې نيولـو سـره جـواب وليكی ، جزاكم الله ،

(جواب) ملازمت په وجه د جمعې لمـونځ معـاف نـدی او ددې پـه وجـه د جمعې پرېښودو اجازه هم نشته ،

((وجب السعي اليها و ترک البيع اراد کل عمـل ينـافي السـعی (شـامی ص ۷۷۰ بـاب الجمعة) و الاصح وجوبها علی مکاتب و مبعض و اجير و يسقط مـن الاجـر بحسـابه لـو بعيداً (در مختار) (قوله بحسابه لو بعيداً) فان کان قدر ربع النهار حط عنه ربع الاخرة و ليس للاجيران يطالبه عن الربع المحطوط بمقدار باشتغاله بالصلوة تتـار خانيـه)) (شامی ص ۷٦۳ ج ۱ ايضاً)

مطلب دا دی چې په مزدور باندې هم لازم دی چې د جمعې اذان پـه اوريـدو سـره ټول كارونه پريدی او د جمعې مانځه ته روان شي ، په ټګ او راتګ كی د كافی وخت لګيدو او تكليف كيدو په وجه كه تنخوا كټ شي نو دا دی منظور كړی په همدې كی خير دی . الله تعالی فرمايی (يا ايها الذين امنوا اذا نودی للصـلوة مـن يـوم الجمعـة فاسعوا الی ذكر الله و ذروا البيع ذلكم خير لكم ان كنتم تعلمون)

ترجمه ای مؤمنانو کله چې د جمعې په ورځ مانځه لپاره اذان وکړی شـی نـو د الله تعالی ذکر یعنی لمونځ او خطبی طرف ته روان شئ ، او اخـستل خرڅـول (او همـدا شان نور کارونه کوم چې د سعی مانع دی) پریدئ دا تلل (کاروبار پرینښـودل) تاسـو لپاره زیات بهتر دی که چیرته تاسو پوهېږی (او ددیـن قـدر درسـره وی) خکـه چـې ددی نفع باقی ده او د بیع وغیره نفع فانی ده (بیان القرآن ملخصاً)

لهذا د تنخوا په کټ کولو سره د جمعې په ورځ یوه ساعت (گهنته) رخصت واخلئ او که اجازت ملاؤ نشي یا ناقابل برداشت نقصان اوچتول لازم شي نو بیا دې بل ملازمت غوره کړی شی ۰ دا قوله تعالی (والله خیر الرازقین) او الله پاک د ټولو نـه ښـه روزی ورکونکی دی (سورت جمعة) فقط والله اعلم.

ـ په ښار کی چې زیات جوماتونه وی نو جُمعه کوم ځای کـی ادا کړی شی؟

(۷۸ سوال) زما په قریه کی اته محلی او اته جومات دی ، نو ښـپږ جومـاتونو والا پـه شاهی جومات کی لمونځ کوی او دوه محلـی والا دَ خپلـو محلـو پـه جومـاتونو کـی کوی. او چې تپوس ترینه وشي نو بیا وایی چې په شاهی جومـات کـی لمـونځ کولـو سره د مجلی جومات خالی پاتې کېږي او پدې سره د جومات پـه احتـرام کـی خلـل راځی نو اوس تپوس دا دی چې د جمعې په ورځ د محلی جومات بندولو سره شاهی جومات کی لمونځ وکړی نو د محلی جومات په احترام کی څه خلل یا نقصـان واقـع کېږي یا نه؟

(جواب) سړو ته پنځه وخته لمونځ لپاره جومات کی حاضریدل تاکیـدی امـر دی ، د محلی جومات د ثواب په حیثیت باندې (شاهی جومات په شـان دی بغیـر د شـرعی عذر نه ددې د پرینښودو اجازه نشته) ټول یو لمونځ دی مګر د جمعې لمونځ د محلی جومات په بندولو او یا جامع جومات کی د کولو حکم دی ، که لمونځ ګذار زیات وی په یو جومات کی نه ځایږي او یا جامع جومات کافی لری وی چې هلته رسـیدو کـی وخت لګی نو بیا په بل جومات کی د جمعې انتظام کولی شی بلا عذره جمعې لمونځ محله په محله کولو کی شرعی مصـلحت او مقصـد فـوت کېـږي ، او اسـلامی شـان او شوکت ختمېږي ۰ د جمعې مانځه ته ((جامعة الجماعات)) ویل کېږي او ددې مطلـب دا دی چې د محلو جوماتونه بند کړی شی او ددې ټولو جماعتونـه یـو ځـای جـامع

جومات کی وی ، او خلک چې د محلو جوماتونه بنـدولو سره جمعې مانځـه لپاره شاهی جومات ته لاړ شي پدې سره دجومات په احترام کی د فرق راتلو خیال غلط دی ، احترام هغه دی چې د شریعت د منشاء مطابق وی او د اسلام شان او شوکت هم پدې کی دی نو تاسو د محلی جومات بند کړئ او په شاهی جومات کی جمعې لمونځ ادا کړئ ، د شریعت د منشاء پوره کولو ثواب هم درته ملاوېږي او د اسلام شان او شوکت اوچتولو هم ، او د مبارک رسم او طریقې جاری کولو ثواب به هم انشاء الله تر قیامته پورې تاسو ته ملاوېږي[1]

د رسول الله (ص) ارشاد دی : ((من سن فی الاسلام سنة حسنة فله اجرها و اجر من عمل بهٔ من بعده)) (مشکوة المصابیح کتاب العلم ص ۲۳)

یعنی چا چې په اسلام کی یوه ښه طریقه (چې د شریعت د منشاء مطابق وی او سنت سیئه یعنی بدعت نه وی) جاری کړی هغه ددې خپل عمل ثواب هم ملاوېږي او ددینه وروسته چې پرې بل څوک عمل کوی د هغه ثواب هم ملاوېږي پدې شان چې د عمل کونکو په ثواب کی هیڅ کمی نه راځی ، (صحاح) فقط والله اعلم.

ـ د جمعې په شپه د جماع فضیلت :

(۷۹ سوال) د جمعې په شپه ښځی سره صحبت او نزدیکت کول افضل دی ددې دلیل څه دی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) دلیل دا دی چې په حدیث کی راغلی دی ((من غسل او اغتسل الخ)) (مشکوة شریف ص ۱۲۲ باب الجمعة باب التنظیف والتکبیر)

چې ددې مطلب دا هم بیان شوی دی چې جماع (کوروالی) وکړی چې پدې سره ښځی ته د غسل ضرورت پیښ شی : ((قوله غسل یوم الجمعة و اغتسل . قال التور پشتی رحمه الله تعالی اختلف اهل الروایة فی قوله غسل و منهم من قال فی معناه یطا

[1] ـ ثم اقامة الجمعة فی فی موضعین او اکثر من مصر واحد فی جوامع الفقه عن ابی حنیفة روایتان والاظهر عنـــه ، عدم جواز ها فی موضعین انتهی و قال شمس الائمة السرخسی فی المبسوط الصحیح من قول ابی حنیفة و محمـــد جواز ها و عن ابی یوسف تجوز فی موضعین لا غیر ...... و اما من حیث جواز التعدد و عدمــــه قـــالا و ل هـــو الاحتیاط لان فیه قوی اذا لجمعة جامعة للجماعات و لم یکن فی زمن السلف تصلی الا فی موضع و احد من المصر و کون الصحیح جواز التعدد للضرورة للفتوی لا یمنع شرعیة الاحتیاط للقدی حلی کبیر فصل فی صلوة الجمعة ص ۵۵۱ ، ۵۵۲ .

صاحبته و منه عبدالرحمان بن السود و هلال بن يساف و هما من التابعين و كانهم ذهبوا الى هذا المعنى لما فيه من غض البصر و صيانة النفس عن الخواطر الخ .
و قال المظهر من غسل يوم الجمعة و اغتسل روی بالتشديد والتخفيف فالتشديد معناه من و طی امراته الخ (التعليق الصبيح ص ۱۴۲ ج ۱ ايضاً) قال التور پشتی روی بالتشديد اهله و كذالک فسره و كيع (زاد المعاد ص ۱۰۵ ج ۱ ايضاً) قال التوورپشتی روی بالتشديد والتخفيف.فان شدد فمعناه حمل غيره علی الغسل بان يطا امراته و به قال عبدالرحمن بن الاسود و هلال و هما من التابعين كان من قال ذلک ذهب الی ان فيه عضة للبصرو صيانة للنفس عن الخواطر التی تمنعه من التوجه الی الله بالكلية الخ .
و فی حاشية سيد جمال الدين قال زين العرب غسل بالتشديد قال كثير انه المجمامعة قبل الخروج الی الصلوة لانه مجمع غض الطرف فی الطريق يقال غسل الرجل امراته بالتشديد والتخفيف اذا جامعها و قيل بالتشديد معناه اغسل بعده الجماع ثم اغتسل للجمعة فكر لهذا المعنی .)) (مرقاة ص ۲۵۵ ج ۲ باب الجمعة)
په مظاهر حق كی دی : ((من غسل الخ بل و لا مبوی او پخپله هم ولامبی الخ
ف : ولامبوی يعنی خپله ښځه مراد دا دی چې خپلی له ښځی سره صحبت او نزديكت وكړی او د جمعې په ورځ صحبت او همبستری كول پدې وجه بهتر دی چې پدې سره په زړه كی د زنا وسوسه نه راځی ، او په مانځه كی توجه ښه برابرېږي (۴۵۰/۱) فقط والله اعلم بالصواب .

ـ د جمعې په ورځ سحر مانځه كی سورت الم سجده او سورت دهر لوستل:

(۸۰ سوال) د جمعې په ورځ سحر مانځه كی امام صاحب اول ركعت كی الم سجدة او دويم ركعت كی سورت دهر لولی په مقتديانو كی ځو كسانو باندې بوج وی ، امام صاحب ته وويل شو چې دومره اوږد لمونځ ونه كړی هغه وايی چې دا مسنون دی او د نورو خبرې اوريدو ته تيار ندی نو ايا دده خبره صحيح ده ؟ د هرې جمعې په سحر مانځه كی دا سورتونه ويل پكار دی ؟ وضاحت وكړی ، جزاكم الله .
(جواب) د جمعې په ورځ د سحر په مانځه كی الم سجدة او سورت دهر ويل مسنون او مستحب دی مگر پدې باندې دوام ثابت ندی ، پدې وجه امام ته پكار دی چې

همیشوالی ونکړی کله کله دې لولی ، په در مختار کی دی ((و یکره التعیین کالسجدة وهل اتی کل جمعة بل یندب قرائتهما احیاناً)) یعنی مانځه لپاره د سورت معین کول مکروه دی لکه د جمعې په سحر اول رکعت کی الم سجدة او په دویم رکعت کی سورت دهر لوستل بلکی کله کله ددې دواړو سورتونو لوستل مستحب دی (در مختار مع الشامی ۵۰۸/۱ فصل فی القراة ، غایة الاوطار ۲۵۲/۱)

د دار العلوم دیوبند پخوانی مفتی اعظم مفتی عزیز الرحمن صاحب فتوی :

(جواب) بیشکه په حدیثو کی داسې راغلی دی لیکن حنفیان دا په ځینو وختو باندې حمل کوی او پدې باندې دوام نه خوښوی ځکه چې ددی هر مانځه لپاره د سورت تعیین منع کوی لهذا کله کله دې لولی څه پروا نشته خو دوام به پرې نه کوی ، په درمختار کی دی ((و یکره التعیین کالسجدة و هل اتی بفجر کل جمعة بل یندب قرائتهما احیاناً)) (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ۲۱۷/۲)

د جمعې نه علاوه نورو ورځو کی که کوم خاص عذر نه وی نو د طوال مفصل (سورت حجرات نه سورت بروج پورې) له سورتو څخه دوه سورتونه لوستل کېږي ، د آیتونو په حساب که د دې تعدا (۴۰) ایتونو څخه کم وی یا زیات ، د مقتدیانو خیال ساتلو سره دې د طوال مفصل واړه سورتونه ولولی ، او که اوږد سورت ولولی بیا دې هم د مقتدیانو خیال وکړی او د (۴۰) نه تر (٦۰) ایتونو باندې اکتفاء وکړی ((والاصل ان الامام یقرء علی وجه لا یؤدی الی تقلیل الجماعة)) (الاختیار تعلیل المختار ٥٦/۱ فصل فی القراة) لیکن رعایت حال مقتدیان ضرور است (مالا بد منه ص ۳۸ ،) فقط والله اعلم.

ـ د صفونو سیده کولو په وجه لمونځ شروع کولو کی تاخیر کول :

(۸۱ سوال) جمعې مانځه کی خطبې نه وروسته جماعت لپاره څومره وخت ایساریدل پکار دی ؟ جومات ناکامی دی او لمونځ گذار زیات وی نو د صفونو په سیده کولو کی لږ وخت لگی ، ایا د صفونو سیده کیدو پورې انتظار کولی شی ؟ یا فوراً اقامت شروع کول پکار دی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) کله چې لمونځ ګذار جومات ته راشي نو له اول نه هر يو بايد قبلې ته مخامخ کيناستو اهتمام وکړی تر څو فوراً صفونه برابر شی يو خوا بل خوا ګډوډ به نه کيني . په مجالس الابرار کی دی :

((و يستحب للقوم ان يستقبلوا الامام عند الخطبة لکن الرسم الآن انهم يستقبلون القبلة للخرج فی تسوية الصفوف لکثرة الزحام))

يعنی خلکو لپاره مستحب دا دی چې د خطبی په وخت کی خطيب طرف ته کينی ليکن پدې اوس وخت کی د زياتی ګڼی ګونی په وجه د صفونو په سيده کولو کی تکليف وی نو پدې بناء قبلې طرف ته کينی (مجالس الابرار ۲۹۶ صفحه (۴۹) مجلس ، صغيری ۲۸۱ صفحه ، د فتاوی رحيميه ۱۰۷/۴ حوال .

د خطبی نه وروسته بايد فوراً اقامت شروع شی ، په در مختار کی دی : ((فاذا اتم اقيمت و يکره الفصل)) يعنی کله چې امام خطبه مکمل کړی نو اقامت دې شروع کړی شی ، او پدې کی فاصله کول مکروه دی ، په شامی کی دی ((قوله اقيمت بحيث يفصل الاول الاقامة باخر الخطبة و تنتهی الاقامة بقيام الخطيب مقام الصلوة))

يعنی د خطبی په ختميدو سره به متصل اقامت شروع شی چې د اقامت اوله حصه د خطبی اخری حصی سره متصل شی او د خطيب مصلی (جای نماز) ته په رسيدو به اقامت ختم شي (در مختار و شامی ۷۷۰/۱ باب الجمعة)

که د اقامت تر ختميدو پورې صفونه برابر نشي نو د صفونو تر سيده کيدو پورې د لمونځ شروع کولو تاخير کولی شی ، په ترمذی شريف کی دی :

((روی عن عمر (رض) انه کان يؤکل رجلا باقامة الصفوف و لا يکبر حتی يخبران الصفوف قد استوت و روی عن علی رضی الله عنه و عثمان رضی الله عنه انهما کانا يتعا هدان ذلک و يقولان استووا))

يعنی حضرت عمر (رض) د صفونو سيده کولو لپاره يو سړی مقرر کړی ؤ او څو پورې چې به د صفونو برابريدو خبر نه ؤ ورکړی شوی تر هغې پورې به تکبير تحريمه نه ويلو، امام ترمذی ددی حديث روايت کولو سره فرمايی : چې حضرت علی او حضرت عثمان (رض) به هم ددې اهتمام کولو او فرمايل به يې برابر اوسيده ودرېږئ (ترمذی شريف ۳۱/۱ باب ما جاء فی اقامة الصفوف) .

په موطا ، امام مالک کی دی : ((مالک عن ابی النضر مولی عمر بن عبيد الله عن مالک بن ابی عامر ان عثمان بن عفان رضی الله عنه کان يقول فی خطبته قل ما يدع

ذلک اذا خطب . اذا قام الامام یخطب یوم الجمعة فاستمعوا و انصتوا فـان للمنصت الذی لا یسمع من الحظ مثل ما للمنصت السامع فاذا قامت الصلوة فاعدلوا الصـفوف و حاذوا بالمناکب فان اعتدال الصفوف من تمام الصلوة ثم لا یکبر حتی یاتیه رجال قدو کلهم بتسویة الصفوف فیخبرونه ان قد استوت فیکبر)) (موطا امام مالک ص ۳٦ ماجـاء فی انصات یوم الجمعة و الامام یخطب)

یعنی حضرت عثمان بن عفان (رض) به اکثر خپله خطبه کی دا ارشاد فرمـایلو : کله چې امام جمعې په ورځ خطبه وایی نو په غور سره واورئ او چپ ووسی څـوک چـې خطبه نه آوری او چپ ووسی نو هغه ته هم دومره اجر ملاوېږي څومره ثواب چې هغه کس ته ملاوېږي چې خطبه آوری او چُپ وی ، او کله چې لمونځ ودرېږي نـو صـفونه برابر وی او اوږه له اوږو سره یو ځای کړی ، د صفونو سیده کول د لمـونځ تکمیلـول دی ، ثم . . . . .

حضرت عثمان (رض) چې کوم کسان د صفونو سیده کولـو لپـاره مقـرر کـړی وو څـو پورې چې به هغو ورته د صفونو برابریدو اطلاع نـه وه ورکـړی تـر هغـې پـورې بـه (جمعې مانځه) تکبیر تحریمه نه ویلو چې هغو به خبر ورکړ نو بیا به یې الله اکبر ویلو او لمونځ به یې شروع کولو (موطاء امام مالک ۳٦) فقط والله اعلم.

ـ د جمعې په ورځ زوال نه وروسته اذان کله وویل شی ؟

(۸۲ سوال) د زوال نه وروسته مکروه وخت څـومره وی ؟ د جمعـې آذان کلـه ویـل کېږي ؟

(جواب) فتـاوی رحیمیـه کـی دی چـې قلـم یـا لرګـی ودرولـو سـره د زوال وخـت معلومولی شی د زوال وخت نه لس منټه مخکې لمونځ بند کړی او لـس منټـه وروسـته هم بند وساتی ، د وریځ په وخت کی د زوال وخت معلومول مشکل وی پدې وجـه د تقویم (جنتری) په حساب سره (۱۰-۱۲) منټه مخکې لمونځ بنـد کـړی او (۱۰-۱۲) منټه وروسته پورې بند وساتئ ، پدې کی احتیـاط دی او دا قـول دی چـې د شـرعی نصف النهار نه وروسته تر زوال پورې لمونځ مه کوی ، دا زیـات احتیـاط بانـدې بنـاء دی الخ (فتاوی رحیمیه څلورم جلد (۲۸۴، ۲۸۵) صـفحی (نـوی ترتیـب مطـابق ((اوقات مکروه کی د زوال نه څومره وخت مخکې لمـونځ بنـدول پکـار دی)) عنـوان لاندې ۳ ۸٦ کی وګورئ – مرتب)

لهذا د جمعې په ورځ اته ، اس منټه بلکې زيات احتياط باندې عمل کولو سره (۱۲
۱۳) منټه وروسته باند اذان وکړی شي چـونکی عـام طـور خلـک د جمعـې اذان نـه
وروسته سنت ادا کول شروع کوی پدې وجه آذان کی تـاخير کـول پکـار دی . فقـط
والله اعلم.

ـ د جُمعې په ورځ دويـم آذان د خطيـب پـه وړانـدې کـول څنګه دی ؟

(۸۳ سوال) زمونږ پدې ځای کی د ځو کسانو دا خيـال دی چـې د جمعـې پـه ورځ دويم آذان جومات کی کول ندی پکار بلکی د جومات نه باهر کول پکاردی دې باره کی څه حکم دی ؟ تاسو پوره وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) د جمعې په ورځ د خطبی په وخت منبر ته نزدې اذان کولو طريقه د پخـوا زمانی څخه را روانه ده او د فقه کتابو کی دی اذان لپـاره داســې الفـاظ ذکـر کـړی شوی چې د هغو مطلب همدا جوړيږي چې دا آذان د منبر پـه وړانـدې يـا منبـر تـه نزدې وکړی شی ، په اول هدايه کی دی ((و اذا صـعد الامـام المنبـر جلـس و اذان المؤذن بين يدی المنبـر بـذلک جـری التـوارث)) (هدايـه اولـين ۱۵۱ بـاب صـلوة الجمعة).

يعنی کله چې امام منبر باندې کينی نو مؤذن د منبر په وړاندې آذان وکړی او همـدا متوارثه طريقه ده ((بذلک جری التوارث)) نه ثابتيږي چې د اسلافو نه همـدا طريقـه جاری ده چې د جمعې په ورځ دويم آذان د خطيب په وړانـدې جومـات کـی دننـه کولی شي او د يو شي توارث سره نقل کيدل ددې د ثبوت ډير لوی دليل دی او پـه فقه کی د توارث ډير زيات اهميت دی ، په مسائلو کی فقهاء د دليل پـه طـور همـدا توارث وړاندې کوی ، ملاً د جمعې په ورځ په دويمه خطبه کی خلفاء راشدين (رض) او د رسول الله (ص) دواړه ترونه ذکر کولی شي او دليل همدا وړاندې کيږي چـې دا د توارث نه ثابت دی لکه چې پـه فتـاوی عـالمګيری کـی دی ((و ذکـر الخلفـاء الراشـدين رضـوان الله تعالیٰ علـيهم اجمـيعن مستحسـن بـذلک جـری التـوارث)) (عالمګيری ۱۴۷/۱ باب الصلوة الجمعة)

او په البحر الرائق کی دی : ((ذکر الخلفاء الراشدين مستحسن بذلک جری التوارث و يذکر العمين)) (البحر الرائق ۱۴۷/۲)

حجة الاسلام حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی (رح) د توارث اهمیت بیانوی او لیکی : ((انفاق سلف و توارث ایشان اصل عظیم است در فقه یعنی د سلفو اتفاق او ددوی توارث په فقه کی لوی اصل دی (ازالة الخلفاء ص ۸۵ مطبع بریلـی) او دې خبرې ته باید نظر وکړی شي چې دا عبارت یواځی په هدایه اولین کی نه دی بلکی د فقه په نورو کتابو کی هم شته ، مراقی الفلاح کی دی ((و الاذان بین بدیه جری التوارث کالاقامة بعد الخطبة)) (مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص ۱۸۰ باب الصلوة الجمعة)

په البحر الرائق کی دی : ((قوله فاذا جلس على المنبر اذن بين يديه و اقيم بعد تمام الخطبة بذلک جری التوارث والضمير في قوله بين يديه عائد الى الخطيب الجالس)) (البحر الرائق ۱۵۷/۱) مجمع الانهر کی دی ((فاذا جلس على المنبر اذن بين يديه ثانيا و بذلک جری التوارث)) (مجمع الانهر ض۱۷۱/۱) او فتاوی عالمگیری کی دی :-

((و اذا جلس على المنبر اذن بين يديه و اقيم بعد تمام الخطبة بذلک جری التوارث كذا فی البحر الرائق (عالمگیری ج ۱ ص ۴۹ باب ایضاً مع خانیة))

پدې مذکوره حوالو کی غور وکړئ دا ټول حضرات همدا بیانوی چې دویم اذان به د خطیب په وړاندې کولی شي او دا طریقه په توارث سره را روانه ده ، په در مختار کی دی ((و یؤذن ثانیاً بین یدیه ای الخطیب)) (در مختار علی رد المختار ۷۷۰/۱ باب الجمعة)

په غایة الاوطار ترجمه در مختار کی دی : ((او مؤذن به د خطیب په وړاندې اذان کوی کله چې په منبر باندې کینی یعنی د خطبې ویلو لپاره (غایة الاوطار ۳۸۰/۱) په مجالس الابرار کی دی : ((و اذا جلس على المنبر يؤذن المؤذن بين يديه الاذان الثاني و اذا تم الاذان يقوم و يخطب خطبتين)) او کله چې امام په منبر باندې کینی نو مؤذن دده په وړاندې دویم اذان وکړی او چې اذان ختم شي نو امام به ودرېږي او دوه خطبې به ووایی (مجالس الابرار ص ۲۹٦ (۴۹) مجلس)

د هدایه شرح عینی کی دی :-

((و عن الحسن بن زیاد عن ابی حنیفة هو اذان المنارة لانه لو اشترطوالاذان عن المنبربفوته اذاء السنة و سماع الخطبة و ربما بفوته اذان الجمعة اذا كان المصر بعيد الاطراف))

یعنی حسن بن زیاد د امام ابو حنیفه (رح) نه روایت کوی چې (د کوم اذان په وجه چې سعی الی الجمعة لازم دی) هغه په مناره باندې اذان دې ځکه که چیرته منبر په وړاندې کیدونکی اذان شرط کړی شی نو سنت او د خطبی اوریدل به فوت شي او که ښار لوی وی نو پدې صورت کی د جمعې لمونځ هم فوت کیدی شی ، (عینی شرح هدایه ۱۰۱۴/۱) او په مراقی الفلاح کی دی : ((و يجب ترک البيع ...... (بالاذان الاول فی الاصح) لحصول الا علام به لانه لو انتظر الا ذان الثانی الذی عند المنبر تفوته السنة و ربما لا يدرک الجمعة لبعد محله وهو اختيار شمس الائمة الحلوانی)).

یعنی د اصح قول مطابق د اول اذان نه اخستل خرڅول وغیره پرېښودل واجب دی د اعلان حاصلیدو په وجه ځکه که چیرته د دویم اذان کوم چې منبر سره کولی شی انتظار وکړی نو د سنت فوت کیدو ویره ده او که لمونځ ګذاران چی له جومات نه لری اوسیږي نو زیات امکان لری چې د جمعې لمونځ هم لاندې نه کړی شي او دا د شمس الائمة الحلوانی مختار قول دی (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۲۸۲ باب الجمعة)

د عینی شرح هدایه او مراقی الفلاح په عبارت کی ((عند المنبر)) دی چې ددې متبادر معنی او صحیح مطلب دا دی چې دا اذان منبر ته نزدې وی (د عند په لفظ کی کوم تاویل هم نه کیږي) که چیرته د نورو آذانو پشان دا اذان هم جومات کی کول مکروه وای نو فقهاء کرامو به ددې تذکره کولو په وخت کی یقیناً د دې هم وضاحت کړی ؤ چې دا اذان به هم د جومات نه باهر کولی شی ، ((بین یدی المنبر بین یدی الخطیب)) او ((عند المنبر)) الفاظ به یې نه لیکل ، او حقیقت کی خبره دا ده چې منبر والا آذان د اقامت په شان دی یعنی ددې اذان مقصد یواځې د حاضرینو متوجه کول دی ، (غائبینو ته خو اول اذان سره اطلاع شوی ده) چې اوس خطبه شروع کیږي تر څوحاضرین خپل انفرادی عبادت نفل ، تسبیح او تلاوت وغیره ختمولو سره د خطبی اوریدو ته متوجه شي لکه چې د اقامت مقصد د حاضرینو متوجه کول وی چې اوس جماعت شروع کیږي تر څو جماعت کی شریکیدو لپاره صفونه سیده کولو سره تیاری شروع کړی او اقامت په جومات کی کول په اتفاق سره مکروه ندی همدا شان دا اذان به هم جومات کی کول مکروه نه وی ، لکه چې همدا طریقه د پخوا زمانی څخه را روانه ده لکه چې پورته بیان شو مونږه دا آذان د اقامت په شان

ذكر شوي ددي ثبوت لاندني عبارتو څخه هم كېږي په مراقي الفلاح كې دي ((والاذان بين يديه جرى به التوارث كالاقامة بعد الخطبة)) (مراقي الفلاح ص ۲۸۰ مع طحطاوي)

او په سعايه كې دي : -

((لغز اى اذان لا يستحب رفع الصوت فيه قال هو الاذان الثانى يوم الجمعة الذى يكون بين يدى الخطيب لانه كالاقامة لا علام الحاضرين صرح به جماعة الفقهاء)) (سعايه شرح شرح وقايه ص ۳۸ ج ۲ ، باب الاذان ، ذكر احوال المؤذن مطبوعه پاكستان بحواله فتاوى محموديه ص ۵۸ ج۲)

مزيد وضاحت داسې پوهه شى چې د جمعې خطبه فرض مانځه سره زيات مشابهت لرى فقهاؤ د خطبى حكم هغه بيان كړى كومه چې د مانځه دى ، همدا وجه ده كوم شيان چې مانځه كې ممنوع دى هغه ټول شيان خطبه كې هم ممنوع دى ، په طحطاوى على مراقي الفلاح كې دي : -

((و في النهر عن البدائع يكره الكلام حال الخطبة و كذا كل عمل يشغله عن سماعها من قراءة قرآن او صلوة او تسبيح او كتابة و نحو ها بل يجب عليه ان يستمع و يسكت و في شرح الزاهدى يكره لمستمع الخطبة ما يكره فى الصلوة من اكل و شرب و عبث والتفات و نحو ذلك اه و فى الخلاصة كل ماحرم في الصلوة حرم حال الخطبة))

يعنى په نهر كې له بدائع نه نقل كړى دى چې د خطبه په حالت كې خبرى كول مكروه دى او همدا شان هر هغه كار چې د خطبى اوريدو كې مخل وى لكه د قرآن پاك تلاوت ، لمونځ كول ، تسبيح كول ، يا څه ليكل يا ددې پشان نور ، بلكې هغه باندې واجب دى چې توجه سره خطبه واورى او چپ پاتې شي ، په شرح زاهدى كې دى : د خطبى اوريدونكى لپاره هغه ټول كارونه مكروه دى كوم چې په مانځه كې مكروه دى ، يعنى خوراك ، څښكاك ، عبث حركت كول او ديخوا هغه خوا كتل او ددې پشان نور ، په خلاصه كې دى : كوم څيزونه چې په مانځه كې حرام دى د خطبى په وخت كې هم حرام دى (طحطاوى على مراقي الفلاح ۲۸۲ باب الجمعة)

دا خبرې هم پدې باندې دلالت كوى چې منبر والا آذان اقامت سره زيات مشابهت لرى پدې باره كې يو مختصر جواب فتاوى رحيميه ۸٦/۵ ، ۸۷ (نوى ترتيب مطابق په همدې باب كې ((د خطبى په وخت دويم اذان جومات كې كول)) عنوان لاندې ص ۱۳۰ كې وګورى – مرتب)) نشر شوى هغه هم ضرور مطالعه كړى ، فقط والله اعلم.

ـ د جُــمعې نه وروسته سنت مؤکد څلور رکعتــه دی یــا شپږ رکعته ؟

(۸۴ سوال) د جمعې مانځه نه وروسته څلور رکعته سنت مؤکد دی یا شپږ رکعته ؟ امام صاحب په نزد څو رکعته دی او د امام ابو یوسف په نزد څو دی ؟ مفتی به قــول کوم دی ؟ څوک چې یواځې څلور رکعته کوی نو ګنهګاریږي یا نه؟ وضاحت وکړی

(جواب) په ظاهر روایت کی د جمعې نه وروسته څلور رکعته یو سلام سره سنت مؤکد دی او د امام ابو یوسف په نزد شپږ رکعته دی لهذا د جمعې نه وروسته څلور رکعته یو سلام سره سنت مؤکد ګڼلو سره وکړئ او بیا وروسته دوه رکعته سنت غیر مؤکـد ګڼلــو سره وکړی ، څوک چې په څلورو باندې اکتفاء کوی هغه د ملامتیا وړ ندی ، په بدائع الصنائع کی دی : ((و اما السنة قبل الجمعة و بعدها فقد ذكر في الاصل و اربــع قبـل الجمعة و اربع بعدها و كذاذكر الكرخي و ذكر الطحطاوى عن ابــى يوسـف انــه قــال يصلى بعدها ستا و بعد ها وقيل هو مذهب علي رضى الله عنه ومـا ذكرنـا انـه يصـلى اربعاً مذهب ابن مسعود رضى الله عنه (الى قوله) و جه ظـاهر الروايـة مـا روى عـن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال من كان مصلياً بعد الجمعة فليصل اربعـاً و مـا روى من فعله صلى الله عليه وسلم فليس فيه ما يـدل علـى المواظبـة و نحـن لا نمنـع مـن يصلى بعد ها كم شاء غير انا نقول السنة بعدها اربع ركعات لا غير لما روينـا)) (بــدائع الصنائع ص ۲۸۵ ج ۱ فصل فى الصلوة المسنونة)

ـ د هند مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی محمد کفایت الله لیکی :

(سوال) څومره لمونځونه سنت مؤکد دی ؟

(جواب) .... او څلور رکعته (یو سلام سره) د جمعې مانځه نـه وروســته .... بـل خای کی لیکی

(سوال) څومره لمونځونه سنت غیر مؤکد دی ؟

(جواب) .... او د جمعې نه وروسته سنت مؤکد نه وروسته دوه رکعته (تعلیم الاسلام ۴ حصه)

په امداد الفتاوی کی دی :

(سوال) د جمعې ړومبی سنت مؤکد دی یا نه او وروستی سنتونو کی څلور مؤکد دی یا دوه یا ټول ؟

جواب) د جمعې روسبې سنت مؤكد دى كذا فى الدر مختار . او وروستى خلور مؤكد دى كذا فى الدر مختار (امداد الفتاوى ۱/۶۸۷ و ۶۷۹ مطبوعه ديوبند) فقط والله اعلم

ـ د جمعې لمونځ د زوال نه مخكې صحيح نه دى :

(۸۵ سوال) د جمعې مانځه لپاره زوال كيدل ضرورى دى يا نه؟ د ځينو خلكو خيال دا دى چې د جمعې لپاره زوال كيدل ضرورى نه دى د زوال نه مخكې هم لمونځ كېږي ، مدلل او د مفصل جواب ضرورت دى هغه خلك پخپله خبره باندې ډېر ټينګ دى د نورو خلكو هم فكر جوړولو په كوشش كى لگيا دى ، فقط وضاحت وكړى خير بوسى .

(جواب جمعې لمونځ د صحيح كيدو لپاره يو شرط وخت دى او هغه وخت ماسپښين دى او د ماسپښين وخت كه لدينه وړاندې جمعې لمونځ وكړى نو نه صحيح كېږي ځكه چې جمعه د ماسپښين قائمقام دى پدې وجه جمعه په همدې وخت كى ادا كول پكار دى ، د رسول الله (ص) د قول او عمل نه همدا ثابتېږي ، كله چې رسول الله (ص) حضرت مصعب بن عمير (رض) مدينى منورى ته ولېږلو نو وى فرمايل : ((اذا مالت الشمس فصل بالناس الجمعة))

كله چې لمر زوال شي نو خلكو ته د جمعې لمونځ وركړه ، (هدايه اولين ص ۱۴۸ باب صلوة الجمعة) ، بدائع الصنائع ۱/۲۶۸ فصل في بيان شرائط الجمعة ، مراقى الفلاح مع طحطاوى ص ۲۷۷))

مشكوة شريف كى د بخارى په حواله د حضرت انس (رض) نه روايت دى :

((ان النبى صلى الله عليه وسلم كان يصلى الجمعة حين تميل الشمس))

حضرت انس (رض) فرمايي نبى اكرم (ص) به د جمعې لمونځ هغه وخت كى كولو كله چې به لمر زوال شوه (مشكوة ص ۱۲۳ باب الخطبة والصلوة فصل نمبر ۱)

په مسلم شريف كى دى :

((عن سلمة بن الاكوع كنا نجمع مع رسول الله (ص) اذا زالت الشمس))

حضرت سلمة بن اكوع فرمايي : مونږ رسول الله (ص) سره هغه وخت د جمعې لمونځ كولو كله چې به لمر زوال شوه (مسلم شريف ۱/۲۸۳ كتاب الجمعة ، فتح القدير ۲/۵۶)

جمعه د ماسپښين قائمقام دى پدې وجه په جمعه كى د هغو ټولو خصوصياتو رعايت ضرورى دى كوم چې شرعاً وارد دى ، لكه چې فتح القدير كى دى :

((و يجاب بان شرعية الجمعة مقام الظهر على خلاف القياس لانه سقوط اربع بركعتين ، فتراعى الخصوصيات التى ورد الشرع بها ما لم يثبت دليـل علـى نفـى اشـتراطها و لـم يصلها خارج الوقت فى عمره و لا بدون الخطبة فيه فثبت اشتراطها و كون الخطبة فى الوقت حتى لو خطب قبله لا يقع الشرط الخ))

يعنى د ماسپښين په ځاى د جمعې مشروعيت خلاف القياس دى ځكه چـې پـه جمعـه كى د څلورو په ځاى دوه ركعته دى لهذا د هغو ټولو خصوصياتو رعايت ضرورى دى كوم چې په شريعت كى وارد شوى څو پورې چې د هغه شرط پـه نفـى بانـدې كـوم دليل موجود نه وى او دا خبره ثابته ده چې رسول الله (ص) په ټول عمر كـى نـه خارج د وخت نه د جمعې لمونځ كړى او نه بغير د خطبى نه نو د شرط پـه طـور دا ثابتيږي چې لمونځ او خطبه په وخت كى دننه وى ، تر دې پورې كه خطبه د وخـت نه مخكې وركړى شوه نو شرط نه واقع كيږي (فتح القدير ۲/۵٦ صلوة الجمعة)

طحطاوى على المراقى الفلاح كى هم همدا شان مضمون دى :

((لقوله صلى الله عليه وسلم الخ و لانها شرعت على خلاف القياس لسقوط الركعتين مع الاقامة فيراعى فيها جميع الخصوصيات التى ورد الشرع بها و لم يرو قط انـه صلـى الله عليه وسلم صلاها قبل الوقت و لا بعده و كذا الخلفاء الراشدون و من بعدهم الى يومنا هذا و لو كان جائزاً لفعله مرة تعليما للجواز كذا فى الحلبى))

يعنى جمعه خلاف قياس مشروع ده چې مقيم كيدو باوجود دوه ركعته ادا كول دى نو پدې كې د هغو ټولو خصوصياتو رعايت ضرورى دى كوم چې په شرع كى راغلى دى او دا خبره په كوم روايت كى نشته چې رسول الله (ص) د وخت نه مخكې د جمعې لمونځ ادا كړى وى او يا يې د وخت وتو نه وروسته اذا كـړى وى او همـدا طريقـه د خلفاء راشدينو او ددوى نه وروستو خلكو پاتې شوې ده ، كه چيرته د وخت نه مخكې (يا د وخت وتو نه وروسته) ادا كول جائز واى نو بيا د جواز لپاره خـو بـه يـو خـل كړى وا ى.... (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۲۷۷ باب صلوة الجمعة)

دغه ټولې خبرې په پام كى نيولو سره فقهاء كرامو بيان كړى دى چې د جمعې لمونځ صحيح كيدو لپاره دا ضرورى دى چې د زوال نه وروسته ادا كړى شى لكه چې د فقه مشهور هدايه اولين كى دى : ((و من شرائطها الوقت فتصح فى وقت الظهر و لا تصح بعده لقوله عليه السلام اذا مالت الشمس فصل بالناس الجمعة)) (هداية اولين ص ۱۴۸ باب الجمعة) ((و اما الوقت فمـن شـرائط الجمعـة وهـو وقـت الظهـر حتـى لا يجوز

تقدیمها علی زوال الشمس لما روی عن النبی صلی الله انه لما بعث مصعب بـن عمیر رضی الله عنه الی المدینة قال له اذا مالت الشمس فصـل بالنـاس الجمعـة)) (بـدائع الصنائع ج ۱ ص ۲٦۸ فصل فی بیان شرائط الجمعة)

او په الاختیار شرح المختار کی دی :

((و وقتها وقت الظهر لحدیث انس کنا نصلی الجمعـة مـع رسـول الله صـلی الله علیـه وسلم اذا مالت الشمس و لا نها خلف عن الظهر و قد سقطت الظهر فتکون فی وقتها)) (الاختیار لتعلیل المختار ج ۱ ص ۸۳ کتاب الجمعة)

او په مراقی الفلاح کی دی :

((و الثالث وقت الظهر لقوله صـلی الله علیـه وسـلم اذا مالـت الشـمس فصـل بالنـاس الجمعة (فلا تصح) الجمعة (قبله و تبطل بخروجه) لفوات الشرط)) (مراقـی الفـلاح مع طحطاوی ص ۲۷۷)

او علامه نووی د مسلم شریف په شرح کی لیکی :

((هذا الاحادیث ظاهرة فی تعجیل الجمعة و قد قال مالک و ابـو حنیفـة والشـافعی و جماهیر العلماء من الصحابة والتـابعین فمـن بعـدهم لا یجـوز الجمعـة الا بعد زوال الشمس . الی قوله . قال القاضی و روی فی هذا اشیاء عن الصحابة لا یصح منهـا شـئ الا ما علیه الجمهور و حمل الجمهور هذه الحدیث علی المبالغة و انهم کانوا یـؤخرون الغداء والقیلولة فی هذا الیوم الی ما بعد صلوة الجمعة لانهم ندابوا الی التکبیـر الیهـا فلو اشتغلوا بشئی من ذلک قبلها خافوا فوتها او فوت التکبیر))

یعنی دا احادیث په ظاهر کی د جمعې په تعجیل باندې دلالـت کـوی ، او محقـق او ثابته خبره دا ده چې امام مالک امام ابو حنیفه ، امام شافعی (رح) او جمهور علماء ، صحابه کرام او تابعین او ددوی نه وروسته علماء ټول همدا فرمایی چې جمعه د زوال نه وروسته صحیح کیږي . الی قوله . قاضی عیاض فرمـایی : پـدې بـاره کـی چـې د صحابهٔ کرامو نه څه روایتونه شوی دی پدې کې یو هـم صـحیح نـه دی ، د جمهـور علماؤ چې کوم قول دی همدا ثابت دی ، او جمهور علمـاؤ دغـه احـادث پـه مبالغـه باندې حمل کړی دی او مقصد یې دا بیان کړی دی چې صـحابه کـرام (رضـی الله عنهم) به د جمعې په ورځ د غرمې روټی او قیلوله وروسته کوله (او د جمعې مانځه نه وروسته به یې دا کار کولو) پدې وجه دغه حضرات د جمعې مانځه لپـاره ډېـر وختـی

تلل که خوراک وغیره کی مشغول وای نو په وختی تلو کی به خلل راتلو (نووی شرح مسلم ۱ : ۲۸۳ کتاب الجمعة) فقط والله اعلم.

ـ ایا د جُمعې اول اذان نه وروسته د غسل ګنجائش شته ؟

(۸٦ سوال) علماء کرام او مفتیان صاحبان پدې مسئله کی څه فرمایی . په سورت جمعه کی چې (فاسعوا الی ذکر الله) دې دا وجوبی دې یا استحبابی ؟ که وجوبی دی نو د اول اذان نه وروسته د لمونځ تیاری مثلاً غسل کول ، جامی بدلول څنګه دی ؟

او بل څه کار کول مثلاً اخستل او خرڅول او خبرې اترې کول څنګه دی ؟ مکروه تحریمی دی یا مکروه تنزیهی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) په قرآن مجید کی چې د جمعې آذان نه وروسته د سعی الی الجمعة کوم امر دی هغه وجوب لپاره دی استحباب لپاره نه دی او د اول اذان نه وروسته سعی الی الجمعة واجب او ضروری دی په کوم داسې کار کی مشغولیدل چې سعی الی الجمعة لپاره مخل او رکاوټ وی هغه جائز نه مکروه تحریمی دی البته داسې کار چې د جمعې د تیاری لپاره وی د هغه ګنجائش شته ،

په مراقی الفلاح کی دی :

((و یجب بمعنی یفترض (ترک البیع) و کذا کل شئی یؤدی الی الاشتغال عن السعی الیها او یخل کالبیع ما شیاً الیها لا طلاق الامر (بالاذان الاول) الواقع بعد الزوال فی الاصح لحصول الاعلام لانه لو انتظ الثانی الذی عند المنبر تفوته السنة و ربما لا یدرک الجمعة لبعد محله وهو اختیار شمس الائمة ،)) ((قوله ویجب ترک البیع فیکره تحریماً من الطرفین علی المذهب و یصح اطلاق الحزام علیه کما وقع فی الهدایة .... و الا فهذه المکروهات کلها تحریمة لا نعلم خلافاً فی الاثم بها اه (قوله فی الاصح) و قال الطحطاوی المعتبر هو الاذان الثانی عند المنبر لانه الذی کان فی زمنه صلی الله علیه وسلم والشیخین بعده قال فی البحر وهو ضعیف)) (مراقی الفلاح و طحطاوی ص ۲۸۲ باب الجمعة)

په در مختار کی دی :

((و وجب السعی الیها و ترک البیع و لو مع السعی و فی المسجد اعظم وزراً (بالاذان الاول) فی الاصح و ان لم یکن فی زمن الرسول الله صلی الله علیه وسلم بل فی زمن عثمان و افاد فی البحر صحة اطلاق الحرمة علی المکروه تحریماً)) (در مختار) ((

قوله و ترک البیع اراد به کل عمل ینافی السعی و خصه اتباعاً للآیة نهـر . والاصـح انـه الاول باعتبار الوقت وهو الذی یکون علی المنارة بعد الزوال »» (در مختار شامی ج ۱ ص ۷۷۰ باب الجمعة)

په غاية الاوطار ترجمه در مختار کی دی : «« و وجب السعی الخ او جمعې للمـونخ تـه تلل واجب دی او اخستل او خرخول پرینښودل هم اګر که جومات ته په تلو تلـو کـی بیع کوی د اول اذان نه وروسته د صحیح قول مطابق ، اګر که دا اذان د رسـول الله (ص) په دور کی نه و بلکی د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کی شـوی ، او پـه جومات کی دننه یا دروازه باندې په لین دین او سودا کی مشغولیدل لویه ګناه ده ، د بیع نه مراد هغه کار دی چې د جمعې مانځهٔ نه پاتې کوی ، او که د بیع نه علاوه کوم بل کار کی مشغول شي او سعی ونه کړی نو هغه مکروه تحریمی ګرځی ، او د سعی په حالت کی بیع کول که سعی لپاره خلل پیدا کونکی نه وی نو په سراج کی ویلی دی چې مکروه ندی لکه چې شارح هم د باب البیع الفاسد په آخـر کـی «« لا بـاس بـه »» لیکلی دی . الی قوله . او اصح (زیات صحیح) قول دا دی چې اول اذان هغـه دی کوم چې په اول وخت کی وی یعنی هغه اذان چې د زوال نه وروسته په مناره باندې کولی شی ، کذا فی الشامی (غاية الاوطار ۳۸۰/۱ باب الجمعة)

په نفع المفتی والسائل کی دی :

«« اذا اذن للجمعة اولاً حرم البیع ووجب السعی و کره البیع و کذا کلً شئي مـا یشـغله عن السعی کراهة تحریمیة »» (نفع المفتی والسائل ص ۴۴) (هدایه اولین ص ۱۵۱) (مجمع الانهر ج ۱ ص ۱۷۱)

حضرت اقدس مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله لیکی : د نودی نه مـراد پـه قـرآن کی هغه اذان دی چې د ایت د نزول په وخـت کـی ؤ یعنـی کـوم چـې د امـام پـه وړاندې کېږي ځکه چې دا اول اذان د صحابه کرامو پـه اجمـاع سـره وروسـته مقرر شوی لیکن د بیع په حرمت کی ددې هم حکم د قدیمی اذان په شان دی ځکه چې په علت کی د اشتراک په وجه حکم کی هم اشتراک راځی البته په قدیمی اذان کـی دا حکم قطعی او منصوص دی او په نوی اذان کی دا حکم مجتهد فیه او ظنی دی ، پدې سره ټول علمی اشکالات رفع شو (بیان القرآن ۷/۱۲ سورت الجمعة)

په معارف القرآن کی دی : «« او د امت د فقهاؤ پـه اتفـاق سـره دلتـه د بیـع نـه مـراد یواځی خرخول نه دی بلکی هر هغه کار دی چې جمعې مانځه ته د تلو پـه اهتمـام

کی مخل وی ، هغ ټول د بیع په مفهوم کی داخل دی ، پدې وجه د جمعې اذان نه وروسته خوراک څښکاک ، خوب د چا سره خبرې کـول تـر دې چـې د کتـاب مطالعـه کول وغیره ټول ممنوع دی ، بواځی د جمعې د تیاری متعلق چې کوم کـار وی هغـه کولی شی الخ (معارف القرآن ۴۴۱/۸ ، ۴۴۲ مفتی شفیع صاحب)
په خلاصه التفاسير کی دی :
مسئله : د آذان په آوریدو سره واجب دی چې جمعې تـه حاضـریدو لپـاره تیـار شـی[1] اودس او پاکی ، د جامو برابرول وغیره په همدې سعی کی داخل دی ، مګر په دومره طوالت او تکلف سره نه چی حاضریدو کی توقف وی . (خلاصة التفاسير ۴۳۸/۳)

۱ـ لدې حکم څخ امام وتلی دی ، امام لپاره د جمعې په ورځ سنت طريقـه دا ده چې خپـل حجرې کـی پاتې شی او د خطبی وخت کـی خپلی حجرې نه راووځی ، پـه تفسير مواهب الرحمـان کـی دی : خطيـب (رح فرمایلی دی : واضح دی وی چې جامع جومات تـه اول وخت کـې تلو سره کيناسـتل عـلاوه د امـام نـه نورو لپاره دی او امام لپاره سنت طريقه دا ده چې د خطبی په وخت کی دراشي لکه چې رسـول الله (ص) او دده خلفاء راشدينو (رض) به کولو (تفسير المواهب الرحمـان ۴۰۹/۲ سـورت جمعـه) د اول اذان نـه بعـد امـام چيرته کينی او ده لپاره سنت طريقه څه ده ؟ دی باره کی فتـاوی رحيميـه کـی يـو جـواب دی چـې د مطالعی قابل دی ، ضروری ده چې دا سنت ژوندی او عمـل وربـاندې وکړی شی ، دا سـنت تقريبـاً متـروک العمـل کيدو کی دی « خطيب لپاره مستحب او مسنون طريقه دا ده چې د خطبی نه وړاندې په حجره کی پاتې شي او که حجره نه وی نو د منبر ښی طرف ته کوم خاص خای کی دی کينی چې هلتـه سـکون او آرام وی او هلتـه به سنت وغيره ادا کړی او د خطبی په وخت منبر ته راشي ، رسول الله (ص) بالکـل د خطبـی پـه وخـت کـی د خپلی مبارکی حجری نه (کوم چې د منبر ښی طرف تـه وه) راووت او منبـر تـه بـه يـې تشـريف راوړ او دده د خلفاء راشدينو (رض) هم همدا عمل ؤ ، او پدې اوسنی زمانـه کـی هـم د حرمين او شـريفينو (زاد همـا الله شرفاً و كرامةً) خطيب پدې باندې عمل کوی او د خطبی په وخت کی راځی په حديث کی راځی : « اذا خرج الامام فلا صلوة ولا کلام » ترجمه : کله چې امام خطبی لپاره راوځی له همـدې وخـت نـه مـونځ او خبـرې منـع دی ، په حديث کی دی (اذا قام لفظ نشته (و اذا خرج لفظ دی پـدې کـی هـم اشـاره ده چـې د خطيـب خـای محراب ندی بلکی د محراب نه لری او د عوامونه جدا مخصوص خای دی)
روايت دی چې د امير المومنين حضرت عمر فـاروق (رض) او امير المؤمنين حضرت عثمـان (رض) پـه زمانه کی حضرت ابو هريرة (رض) او حضرت تميم داری (رض) به د خطبی نه وړاندې منبر ته نژدې وعـظ کولو او کله چې به امير المومنين د خپل حجرې نه راووت نو فـوراً بـه يـې بنـدولو ، (مسـتدرک ۱۰۸/۱ ؤ ۲۸۸ ، مسند امام احمد ۴۴۹/۳ ، موضوعات کبير ص ۱۴ ملا علی قاری ، (اصابة فی تـذکرة الصـحابة ۱۸۴/۱ . اقامة الحجة ص ۵) . الی قوله . پدې وجه فقهاء کرام ليکی : « و من السـنة جلوسـة فـی مخدعـه عن يمين المنبر » (در مختار) يعنـی خطيـب لپـاره مسـنون دا دی چې د منبر ښـی طـرف تـه پـه حجـره کـی کينی او که حجره نه وی هغه طرف کنج کی دی کينی او که ښی طرف ته د آرام خای نه وی نو کوم خـای کـی

په احسن الفتاوی کی دی : (سوال) د جمعې اول اذان نه وروسته د دینی کتابونو مطالعه کول یا مسائل او حدیث لیکل پداسې حال کی چې د خطبی اذان نه مخکې جومات ته ورسي جائز دی یا نه ؟ وضاحت وکړی . جزاکم الله .

(جواب) د اول اذان نه وروسته د جمعې د تیاری نه غیر بل هیڅ کار جائز ندی ، اګر که دینی کار دی ((قال فی التنویر وجب السعی الیها و ترک البیع بالاذان الاولی و فی الشامیة اراد به کل عمل ینا فی السعی و حصه اتباعاً للایة)) (رد المختار ص ۷۷۰ جلد اول) (احسن الفتاوی ص ۱۴۱ ج ۴)

حاصل د خبرې دا دی چې خومره زر کېږي د غسل وغیره نه فارغیدو سره جامع جومات ته خان ورسوی ، که د سحر نه خپل کاروبار او خپل مصروفیاتو بندول مشکل وی نو د اول اذان نه دومره وخت مخکې دوکان بند کړی شی چې د سنت مطابق غسل کولو سره کپړی بدل او خوشبویی استعمال کړی او اول اذان وخت کی جامع جومات ته ورسي ، که چیرته الله مه کړه کومه ورځ ډېر ضروری کار کی مشغول ؤ او د اول اذان نه مخکې د جمعې د غسل موقع ملاو نشي نو د کپړو د برابرولو سره سره زر غسل کولو ګنجائش کیدی شی پدې شرط چې د جمعې ړومبی سنت او خطبه پاتې نشي ، مګر دا به هرګز عادت نه ګرځوی او که چیرته د سنت یا د خطبی پاتې کیدو ګمان ؤ نو پدې صورت کی به یواځې اودس باندې اکتفاء کوی ،

د جمعې ورځ ډېر زیات د عظمت او برکت ورځ ده ، په حدیث کی د تکبیر (سحر وختی جامع جومات ته تلل) ډېر زیات ترغیب او فضیلت راغلی دی کوم سړی چې خومره وختی خي هومره زیات ثواب ورته ملاویږي ، یو حدیث کی دی :

((عن ابی هریرة (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا کان یوم الجمعة قفت الملائکة علی باب المسجد یکتبون الاول فالا ول و مثل المهجر کمثل الذی یهدی بدنة ثم کالذی یهدی بقرة ثم کبشا ثم دجاجة ثم بیضة فاذا خرج الامام طووا صحفهم و یستمعون الذکر متفق علیه))

ترجمه : حضرت ابو هریرة (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : د جمعې په ورځ ملائکی د جامع جومات په درواز ه باندې ودرېږي ، څوک چې د

چې سکون وی هلته دې کینی ، خطیب لپاره د خطبی نه مخکې سنت په محراب کی کول مکروه دی ، شامی کی دی ((قوله عن یمین المنبر لمخدعه قال فی البحر فان لم یکن ففی جهته او ناحیته و تکره صلاته فی المحراب الخطبة (شامی ۱/ ۷۲۰ فتاوی رحیمیه ۲/ ۸۲ ، ۸۳)

تولو نه مخکې راشي د هغه نوم ولیکی او بیا چې د هغه نه وروسته راشي د هغـه هـم نوم ولیکی (پدې شان درجه پـه درجـه د تولـو نومونـه ولیکـی) د تولـو نـه مخکـې راتلونکی سړی داسې ثواب کېږي لکه چې د الله په لاره کی اوښ قربانی او خیـرات کړی (دویم نمبر کی د راتلونکی داسې ثواب کېږي) لکه غوا چې قربـانی کـړی . او دریم نمبر والا لکه بیزه چې قربانی کړی او د څلورم نمبر والا لکه چرګه چې قربـانی کړی‌او آخری کس ته لکه هګۍ چې قربانی کړی او بیا کله چې امام د خطبـی لپـاره راوځی نو ملائکی خپل دفتر بندوی او د خطبی په اوریدو کـی مشـغولیږي د بخـاری مسلم د مشکوة شریف ص ۱۲۲ باب التنظیف والتکبیر په حواله) او په بل حدیث کـی دی :

((عن اوس بن اوس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من غسـل یـوم الجمعـة واغتسل و یکبرو ابتکرو مشئ و لم یرکب و دنا من الامام و استمع و لم یلغ کان له بکل خطوة عمل سنة اجر صیامها و قیامها رواه الترمذی و ابو داؤد والنسائی و ابن ماجه))

د حضرت اوس بن اوس (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمـایلی دی : څوک چې د جمعې په ورځ په بل غسل وکړی او پخپله هم غسل وکړی او سحر وختی لاړ شي او پیاده لاړ شي سور نشي او اوله خطبه لاندې کړی او امام تـه نـزدې وی او خطبه واوری او پدې دوران کی څه لغوه کار ونکړی نو هغه ته په هر قدم باندې د یو پـوره کـال د عبـادت ثـواب ملاوېـږي د یـو کـال د روژو او د یـو کـال د لمونځونـو (ترمذی). ابو داؤد ، نسائی ، ابن ماجه ، بحواله مشکوة ص ۱۲۲)

لهذا چې څومره کیدی شی د زر تلو اهتمام کول پکار دی ، صحابه کـرام (رض) او اسلاف عظام ډېر زر جامع جومات ته د تلو اهتمام کولو ، په بهشتی ګوهر کـی د امـام غزالی په حواله لیکلی دی ((پخوا زمانه کی سحر وخت او د سحر مانځه نـه وروسـته لارې او کوڅی به د خلکو نه ډک ښکاریدل خلک به دومره وختـه جـامع جومـات تـه تلل او ډېر زیاته ګڼه به جوړېده لکه د اختر په ورځ پشـان او کلـه چـې دا طریقـه پـه ختمیدو شوه نو خلکووویل چې اولنی بدعت دی[1] چې په اسلام پیدا شوی ، ددې په لیکلو سره امام غزالی رحمه الله فرمایی : مسلمانان د یهـودو او نصـاراو نـه ولـی نـه شرمېږي چې دوی د خپل عبـادت پـه ورځ یعنـی یهـود د هغـی او نصـارای د اتـوار

[1] ـ یعنی وختی نه تلل . دلته د بدعت مراد دی یعنی نوی خبره . او شرعی بدعت مراد ندی چې معنی یې په دین کی عبادت ګڼلو سره نوی خبره پیدا کول ده څکه چې دا حرام دی او وختی نه تلل حرام ندی . محشی

(یکشنبی) په ورځ خپل عبادت خانه او ګرجو ته ځنګـه سـحر وختـی ځـی او د دنیا طالبان خوسره سحر وختی بازرواته د اخستو او خرڅولو لپاره ځان رسوی ، نـو ددیـن طالبان ولی وړاندې والی نه کوی ، (احیاء العلوم) په حقیقـت کـی مسـلمانانو پـدې زمانه کی ددې مبارکی ورځی قدر بالکل کم کړی ، دوی پدې هم ندی خبر چې نن د څه ورځ ده او دا څـومره مرتبـه لـری ، افسـوس هغـه ورځ چـې یـوه زمانـه کـی د مسلمانانو په نزد د اختر نه هم اوچته وه او په کومه ورځ چې رسول اکرم (ص) فخر کولو او کومه ورځ چې پخوانو امتونو ته نه وه نصیب شوی نن د مسلمانانو پـه لاس د هغې ورځی داسې ذلت او نا قدری کېږي ، د الله تعـالی ورکـړی نعمـت پـدې شـان ضایع کول ډېر سخته ناشکری ده چې ددی وبال مونږه په خپلو سترګو سره وینو ، انا لله و انا الیه راجعون (بهشتي ګوهر (۸۷ ؤ ۸۸) صفحی)

او دا هم بهشتی ګوهر کی دی :

((هر مسلمان تـه پکـار دی چـې د پنجشـنبی ورځـی نـه د جمعـې اهتمـام وکـړی د پنجشنبی ورځ مازدیګر نه وروسته استغفار وغیره زیات کړی او خپـل د اغوسـتو کپـړې صفا کړی وساتی او کومه خوشبویی (عطر) چې کور کی نه وی او کیدی شی نو پدې ورځ به راوړی تر څو د جمعې په ورځ پدې کارو کی مصروف پاتې نشي ، سلفو بزرګانو فرمایلی دی : د جمعې فایده د ټولو نه زیات هغـه چاتـه ملاوېـږي چـې ددې انتظـار کوی او د پنجشنبی نه ددې اهتمام کوی او د ټولو نه زیات بد نصیب هغـه دی چـې ددې پته هم ورته نه وی چې جمعه کله ده تر دې چې سحر د خلکو نه تپوس وکـړی چې نن د څه ورځ ده ؟ او ځینی بزرګان به د زیات اهتمام په غرض د جمعې شپه پـه جامع جومات کی پاتې کېدل (احیاء العلوم ۱۶۱/۱ ، بهشـتی ګـوهر ص ۸۷ دجمعـې آداب) فقط والله اعلم.

ـ په یو جومات کی د جُمعې دوه جماعته کول :

(۸۷ سوال) زمونږ جومات کی د ماسپښین او د جمعې مانځه کی خلک ډېر زیات وی او خاص طور په رمضان المبارک کی بالکل جومات کی خلـک نـه ځـایږي ، د ځینـو خلکو مشوره دا ده چې په رمضان المبارک کی دوه جماعتونه وکـړی شـی نـو پـه یـو جومات کی د جمعې یو بل پسې دوه جمـاعته کولی شو ؟ وضاحت وکـړی و جـزاکم الله .

(جواب) یو جومات کی دوه جماعته نشي کیدی ، چاته چې ځای پیدا نشـي هغـوی دې بل جومات ته لاړ شي او که بل جومات کی هم ځای نه وی یا جومات نه وی نو په کوم هال یا لوی کور کی (کوم ځای کی چې هر چا لپاره اجـازت وی) د جمعـې انتظام دی وکړی شی[1] فقط والله اعلم .

_ یو جومات کی دوباره جمعه :

(۸۸ سوال) زموږ پدې ځای لندن کی یو جومات دی چې تقریباً ځلور سـوه لمـونځ ګذار پکې لمونځ کولی شی ، جومات دوه منزله دی پدې جومات کی د عامو رخصتیو په موقع باندې (لکه وړوکی اختر ، لوی اختر ، کرسمس) د جمعې لمونځ دوبـاره پـه دویم ځل ادا کولو لپاره لاندې وجوهات دی :

(۱) جمعې لمانځهٔ ته تقریباً اته سوه لمونځ ګذاران راځی

(۲) د جومات په اطراف کی د مسـلمانانو داسـې کورونـه نشـته چـې هلتـه د دویـم جماعت انتظام وکړی شی.

(۳) پداسې موقع باندې دویم جماعت لپاره هال په کرایه نیول هم مشکل وی ځکـه چې دا ورځ د عیسایانو مذهبی ورځ وی او یا د بینک د رخصتی ورځی په وجه د هال ټول ذمه واران رخصت وی

(۴) که جومات کی د دویم جماعت انتظام ونکړی شی نـو کومـو خلکـو تـه چـې د جمعې لمونځ کی شرکت حاصل نشي هغوی متولی او د کمیټی ذمـه وار تـه بـدرد او کنځل کولو سره واپس ځی

(۵) دلته د موسمی حالاتو په اعتبار سره په کولا و میدان کـی هـم د جمعـې لمـونځ کول مناسب نـدی او بـل دې لپـاره د حکومـت اجـازت هـم ضـروری ده ، پـورتنی وجوهاتو په بناء باندې ځموږ پدې جومات کی دوه ځلی د جمعې لمـونځ ادا کـول څنګه دی ؟ وضاحت وکړی جزاکم الله .

(جواب) فقهاؤ د ضرورت په وخت کی په یو ښار کی ګڼو ځایو کی د جمعـې لمـونځ ادا کول جائز کړی دی ، په در مختار کی دی :

---

[1] ـو يكره تكرار الجماعة و اقامة فى مسجد محلة لا فى مسجد طريق ، در مختار مع الشامى باب الامامة مطلـب فى تكرار الجماعة فى المسجد .

،، و تؤدی فی مصر واحد بمواضع کثیرة مطلقاً علـی المـذهب و علیـه الفتـوی شـرح المجمع للبینی و امامة فتح القدیر دفعا للخرج ›› (قوله علی المذهب) فقد ذکر الامام السرخسی ان الصحیح من مذهب ابی حنیفة جواز اقامتها فی مصر واحد فی مسجدین و اکثرو به ناخذ . الی قوله . فان المذهب الجواز مطلقاً بحر ›› (در مختار و شـامی ج ۱ ص ۷۵۵ باب الجمعة)

کله چې د ضرورت په وجه د ښار په ګڼو ځایونو کی د جمعې لمونځ ادا کولو اجـازت دی نو د لمونځ ګذار د شمیر په اندازه کوم کوم ځای کـی چـې د جمعـې ادا کولـو ضرورت وی هلته د جمعې ادا کول پکار دی ، تر څو هر څوک پخپل علاقه کی جمعه ادا کړی ، د موجود جومات په اطرافو کی بل ځای کی د جمعـې د انتظـام ضـرورت نشته ، او دا خبره باید مخکې نه اعلان کړل شي چې فلانـی فلانـی ځـای کـی بـه د جمعې لمونځ کېږي ، تر څو خلک خپل نزدې علاقی ته د جمعـې ادا کولـو لپـاره لاړ شي ، که موجوده جومات د لمونځ ګذارو د شمیر په اعتبار کافی نه وی نو دا ایمـانی فریضه ده چې مونږه د خپلو عباداتو د ادا کولو لپاره انتظام وکـړو ، لمـونځ خـو هـره ورځ پنځهٔ وخته ادا کول دی یواځی د جمعې سوال ندی لهذا ضرورت دی نو د نورو جوماتو باید انتظام وکړو ، او که باقاعده د دویم جومات جوړول څه مشکل وی نو بیـا باید د عبادت خانی انتظام وکړی شی او هلته پنځه وخته د اذان او جماعـت لمـونځ اهتمام وی تر څو پنیا او پوهیدونکی هلکان هم جومات راتلل شروع کړی او له اوسه نه هغوی د لمونځ عادت پیدا کړی ، په حدیث کی دی رسول الله (ص) فرمایی : ((مروا اولادکم بالصلوة وهم ابناء سبع سنین و اضربوهم علیها و هم ابناء عشر سـنین)) یعنی خپلو اولادو ته د مانځه حکم کوئ کله چې د اوه کـالو وی او چـې کلـه د لسـو کالو شي نو بیا د لمونځ په نه کولو باندې یې ووهئ ، (مشـکوة شـریف ص ۵۸ کتـاب الصلوة فصل نمبر ۲)

او لدې سره سره د ماشومانو د دینـی تعلیم هـم انتظـام کـول پکـار دی ، ستاسـو د خطرناک ماحول نه تاسو پخپله ښه واقف یې ، کـه چیرتـه د ماشـومانو د دینـی تعلیم صحیح انتظام ونشي او له ماشوموالی نه اسلامی عقائـد او اسـلامی تعلیم ددوی پـه ذهن کی وانه چولی شی نو بیا په آینده کی ددوی قابو اوکنټرول مشـکل ګرځـی او خطره ده چې نوی نسل چیرته خمونږ له لاسه ونه وځی ، پدې وجه د ماشومانو آینده په نظر کی نیولو سره له اوسه نه ددوی د دین او ایمـان د حفاظـت اسـباب برابـرول

پکار دی نو پدېوجه ددوی د تعلیم صحیح طریقی سره انتظام کول ضروری دی . او پدې بناء کوم کوم ځای کی چې د جومات ضرورت وی د جومات انتظام وکړی شــی او دجمعې لمونځ هم ادا کړی شی ، او کوم جومات کی چې یو ځل د جمعې لمونځ وشي نو هلته دوباره جمعې لمونځ کولو باره کی شامی کی لیکلی :
په جامع جومات کی یو ځل د جمعې لمونځ ادا کړی شی نو جومات دې بند کړی شی تر څو خلک دوباره جمعې لپاره راغونډ نشي :
((قوله الا الجامع ای الذی تقام فیه الجمعة فان فتحه فی وقت الظهر ضروری والظاهر انه یغلق ایضاً بعد اقامة الجمعة لئلا یجتمع فیه احد بعدها الخ)) (شامی ج ۱ ص ۷٦٦ کتاب الجمعة)
لهذا پدې مسئله کی کوم کوم ځای کی چې مسلمانان اوسیږی د هغوی نزدې ځایونو کی دې د جمعې لمونځ انتظام وکړی شی او مخکې نه ددې اعلان وکړی شی تر څو خلک خپلې نزدې علاقی ته لاړ شي ، په جومات کی دې دوباره د جمعې لمونځ کولو اجازت ورنکړی شی او که نه عام رواج به وګرځی ، له وړاندې څخه دې د هال نیولو کوشش وکړی ، واده وغیره پروګرام لپاره له مخکې نه انتظام کولی شــی همـدا شـان جمعې لپاره دې هم مخکې نه انتظام وکړی شی ، فقط والله اعلم .

ـ که وړوکی جومات کی د جمعې لمونځ کولو ته مجبور کـړی شی نو امام څه وکړی ؟

(۸۹ سوال) زمونږه کلی وړوکی دی او زه جومات کی امام یم او خلک جمعې لمونځ کولو لپاره اصرار کوی نو زه څه وکړم ، که په کولو مې مجبور کړی نو د څه نیت وکړم د جمعې یا د نفلو ؟ وضاحت وکړی خیر یوسی .
(جواب) که چیرته ستاسو کلی وړوکی وی د جمعې صحیح کیدو شرطونه موجود نـه وی نو هلته د جمعې لمونځ پخپله او بل ته ورکـول صـحیح نـه دی ، جماعـت سـره ماسپښین ادا کول پکار دی
په شامی کی دی : ((و تقع فرضاً فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسـواق . الـی قوله . و فیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض (شـامی ص ۷۴۸ ج ۱ کتاب الجمعة) و فی القنیة صلاة العیدین فی القری تکـره تحریمـاً ای لانـه

اشتغال بما لا يصح لان المصر شرط الصحة (قوله صلاة العيد) و مثلـه الجمعـة)) (در مختار و شامی ص ۷۷۵ ج ۱ ، باب العيدين)

اول دې خلک له مسئلې نه خبردار کړی شی که ددې باوجود هـم د جمعـې لمـونځ کولو لپاره تا باندې اصرار کوی نو بیا به هم نه ورکوی نه د جمعې پـه نیـت او نـه د نفلو په نیت ، او که هیڅ نه کیده بیا استعفی ورکړه ، فقط والله اعلم .

ـ په سوال کی ذکر شوی کلي کی جمعه صحیح دی یا نه؟

(۹۰ سوال) زمـونږ د کلـی ټولـه آبـادی تقریبـاً درې زره دی ، دلتـه کمیټـی نشـته، پرائمری سکول ، هائی سکول ، بینک ، پولیس سټیشن (تهانـه) هـم شـته ، سـرکاری هسپتال چې بیمارانو لپاره هر قسم انتظام دی شته ، ډاکخانه شته او د ژوند د ضرورت تقریباً ټول څیزونه ملاوېږي ، نو زمونږ پدې کلی کی د جمعې لمـونځ کـېږي یـا نـه ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) ستا د سوال مطـابق ستاسـو کلـی قریـه پشـان کیـدل پکـار دی ، د علاقـی شاوخوا کلي والا چې ستاسو کلی قریې پشان ګنـی او د ضـروری شـیانو اخـستو لپـاره هلته راځی او ستاسو علاقه کی بازار هم وی او کسب ګـر خلـک (چاتـه چـې زیـات ضرورت کیږي) موجود وی نو جمعې ومنځ کولی شئ او بهتـر دا دی چـې دوه درې معتبر او مسند علماو راوغواړی او له نږدې نه ووینی او د هغوی په مشـوره او هـدایت باندې عمل وکړی شی ، شامی کی دی

((و تقع فرضاً فی القصبات والقری الكبيرة التی فيها اسوق . الی قولـه . و فيمـا ذكرنـا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغيرة التی ليس فيهـا قـاض (شـامی ص ۷۴۸ ج ۱ كتـاب الجمعة)))

((فی التحفة عن ابی حنيفة رحمه الله انه بلدة كبيرة فيها سكک و اسواق و لها رساتيق و فيها و ان يقدر علی انصاف المظلوم من الظالم بحشمته و علمه او علـم غيـره يرجـع الناس اليه فيما يقع من الحوادث و هذا هو الاصـح اه)) (شـامی ج ۱ص ۷۴۸ كتـاب الجمعة) فقط والله اعلم.

ـ په ډېرو جوماتو کی د جمعې لمونځ ادا کول :

(۹۱ سوال) زمونږه په کلی ماشاء الله څو جوماتونه دی او یو پکـې وړوکـې جومـات دی او څو قدمه وړاندې ورنه جامع جوماتُ دی چې د جمعې لمونځ پکې ادا کېږي ،

لدینه علاوه د ذکر شوی جومات شاوخوا په لږه لږه فاصله بانـدې دریـو جومـاتو کـې دجمعې لمونځ ادا کېږي اوس د محلی خلـک پـدې وروکـی جومـات کـی د جمعې لمونځ کول غواړی ، نو ایا د جمعې لمونځ ادا کـول مناسـب دی ؟ وضـاحت وکـړئ جزاکم الله .

(جواب) پنځه وخته لمونځونو ادا کولو لپاره سړو ته د محلـی جومـات کـی د کولـو تاکیدی حکم دی او د جمعې لمونځ د محلی جومات په بندولو سـره جـامع جومـات کی د ادا کولو هدایت دی ، د جمعې مانځه ته ((جامعة الجماعـات)) ویـل کېـږي ، یعنی د ټولو جماعتونو جمع کونکی دی ، ددی مطلب دا دی چې د جمعې پـه ورځ د محلی واړه واړه جوماتونه بند کړی شی او ټول لمونځ ګـذاران یـو لـوی ډلـه کـی جامع جومات کی د جمعې لمونځ ادا کړی دا افضل او مستحسن دی ، او پدې کی د اسلام د شان او شوکت مظاهره ده بغیر د عذر نه د محلی په واړه واړه جوماتو کـی د جمعې لمونځ ادا کول د شریعت منشاء او مصلحت او د اسلام شان او شوکت ختمول دی ، او ددې اثر په جامع جومات باندې هم غورځېږي ، البته که څه عـذر وی مـثلاً جامع جومات کی ټول لمونځ ګذاران نه ځائیږي او یا جامع جومات دومره لـرې وی چې هلته د لمونځ ګذارو د رسیدو کی تکلیف وی نـو پـدې صـورت کـی د ضـرورت مطابق د یو نه علاوه زیاتو جوماتو کی د جمعې لمونځ ادا کولی شـی ، پـه در مختـار کی دی :

((افاذ ان المساجد تغلق یوم الجمعة الا الجامع))

(در مختار مع رد المختار ۷٦٦/۱ باب الجمعة)

او په رسائل الارکان کی دی :

((و لا جل ان الجمعة جامعة للجماعات قال الامام ابو یوسف لا یجوز تعدد الجمع فی مصر واحد وهو روایة عن الامام ابی حنیفة . الی قوله . و قال الامام محمد و رواه عن الامام ابی حنیفة وهذه الروایة هی المختارة و علیه الفتوی انـه یجـوز تعـدد الجمعـة مطلقا الخ)) (رسائل الارکان ص ۱۱۸ قبیل فصل فی العیدین)

په مبسوط سرخسی کی دی : ((و اقامة الجمعة من اعلام الدین فـلا یجـوز القـوم بمـا یؤدی الی تقلیلها)) (مبسوط سرخسی ۱۲۱/۱ باب الجمعة)

په کفایت المفتی کی دئ :

اولی او بهتر دا دی چې د جمعې لمونځ څو پورې چې کیدی شی باید چې یو ځای کې ادا کړی شی او که نه د ډېر ضرورت په وجه دوه یا درې ځایو کې دی ادا کړی شی بغیر د ضرورت نه په ګنو ځایو کې مکروه دی (کفایت المفتی ۲۴۱/۳)
پدی ذکر شوی مسئله کی کله چې په سوال کې د ذکر شوی جومات نه څو قدمه فاصله کې لوی جامع جومات شته او د هغه نه علاوه ګیر چاپیره لږه لږه فاصله کې په درې نورو ځایو کې هم جمعې لمونځ کېږي نو پدې صورت کې ستاسو د محلی وړوکی جومات کې د جمعې لمونځ ادا کول بالکل نا مناسب او ناخوښه کار دی، پدې سره د جمعې شان او شوکت نه ظاهرېږي ، دجمعې لمونځ په لوی جماعت سره ادا کولو کې زیات ثواب ملاوېږي او د جمعې شان اوچتېږي ، او د اسلامی شان او شوکت مظاهره کېږي ، پدې وجه رسول الله (ص) د اختر لمونځ مسجد نبوی (علی صاحبها الف الف تحیة و سلام) پرېښودو سره په (جبانه) عیدګاه کې به یې ادا کولو، فقط والله اعلم.

ـ په کلی کې پرېښودی شوی جمعې لمونځ دوباره شروع کول :

(۹۲ سوال) زمونږ په کلی (ایټالوا) کې شپېته اویا کوره آبادی ده دوه محلی او دوه جوماتونه دی (یو لوی او بل وړوکی) پخوا لوی جومات کې دجمعې لمونځ او وړوی جومات کې د ماسپښین لمونځ کیدلو ، ډېرو خلکو به د ماسپښین لمونځ کولو او ډېر خلک به د جمعې لمونځ لپاره بلیشور ، ولیسما ، یا سورت ته تلل ، او ځینو خلکو به د جمعې لمونځ کولو دې لپاره د ډابیل نه فتوی وغوښتی شوه ، او د هغه ځای دا جواب راغی چې وړوکی کلی کې جمعې لمونځ ناجائز دی ، جمعه نه ادا کېږي بلکی ماسپښین ادا کول ضروری دی، لدینه وروسته کلیوالو دا فیصله وکړه چې کله جمعې لمونځ صحیح ندی نو بیا ولی وکړی شی ؟
ځینو خلکو وویل چې د پلار او نیکه له وخت نه جاری دا به څنګه پریدو ؟ لیکن زیاتو خلکو د فتوی مطابق عمل کولو مشوره ورکړه ، او ویل چې په غلطه طریقه باندې روانیدل ندی پکار ، پدې بناء اعلان یې وکړه چې راتلونکی جمعه باندې د ماسپښین لمونځ کوو او لدینه وروسته څلور پنځه میاشتو پورې بغیر د جنګ جګړی نه ماسپښین لمونځ شروع شو او کله چې د اختر وخت راغی د جمعې د لمونځ خواهش لرونکو موقع ته په کتو د اختر لمونځ کولو اعلان وکړو (او حال دا چې کومه زمانه کې جمعه جاری وه هغه زمانه همدا خلک نورو ځایو ته تلل) مګر د یو غلط کار فیصله یې وکړه

او اوس پټ پلان او پروګرام دا دی چې آینده موقع پیدا کولو سره به جمعې لمونځ هم په همدې طریقه شروع کوی ، لهذا اوس له تاسو نه لاندې دا خو پوښتنې دی :
(۱) که د جمعې لمونځ ناجاز وی نو د اختر لمونځ کیدی شی ؟
(۲) د شرعی حکم مطابق جمعه نه صحیح کیدو په وجه پریښودل شوی ؤ اوس دوباره شروع کول څنګه دی ؟
(۳) د جمعې لمونځ دوباره جاری کولو کوشش کونکو ته د ګناه او د حرامو مرتکبین نه ویل کیږي ؟
(۴) د کلی ذمه وار حضرات او نورو خلکو باندې د جمعې د بندولو کوشش ضروری دی یا نه؟
امید دی چې مدلل او محقق جواب به راکوی تر څو د کلی فتنه ختمه شي او خلک په شرعی حکم باندې عمل وکړی ، (د ایګالوا له اوسیدونکو څخه)
(جواب) پنځه وخته لمونځ (چې پدې کی ماسپښین هم دی) صحیح کیدو لپاره ښار یا قریه شرط نه دی لیکن جمعه یو خاص عبادت او د اسلام له شعائرو څخه دی چې په ډیر زیات اهتمام سره ادا کولی شی پدې وجه زمونږ حنفی مسلک کی ددی صحیح کیدو لپاره څو شرطونه دی :
(۱) جماعت شرط دی (۲) خطبه (۳) اذن عام ، (۴) ښار یا قره او یا د قریې پشان لوی کلی هم شرط دی ، په بانډه یا ځنګل کی نه صحیح کیږي .
((و یشترط لصحتها ستة اشیاء المصر او فناؤه والخطبة والاذن العام والجماعة ملخصاً))
(نور الایضاح ۱۱۷، ۱۱۸ باب الجمعة)
په مالا بد منه کی دی : ((پس در دیهات نزد امام اعظم جمعه جائز نیست)) یعنی د امام اعظم ابو حنیفة په نزد په بانډه کی د جمعې لمونځ جائز نه دی (۵۴) د دار العلوم په نصاب کی داخل کتاب ((تعلیم الاسلام)) کی دی :
(سوال) د جمعې لمونځ د صحیح کیدو کوم شرطونه دی ؟
(جواب) د جمعې لمونځ صحیح کیدو لپاره څو شرطونه دی ، اول ښار یا قریه کی ادا کول په وړوکی کلی جمعی لمونځ نه کیږي (۵۷/۴)
په کلی او ځنګل کی د جمعې لمونځ نه کیږي (بهشتی ثمر ۱۴۳/۱)
په بانډه او ځنګل کی جمعې لمونځ نه کیږي پدې وجه د عرفات په میدان کی د لکونو حاجیانو اجتماع باوجود د جمعې لمونځ نشي ادا کولی ماسپښین لمونځ کیږي،

د حجة الوداع په وخت کی د جمعې ورځ وه (چې ددې په وجه حج اکبر شوی ؤ بیا هم د زرګونو صحابه کرامو په اجتماع کی جمعې لمونځ ونه کړی شو ، بلکې جماعت سره ماسپښين ادا کړی شو او تر ننه پورې ماسپښين لمونځ کېږي : ((ولا جمعة بعرفات فی قولهم جمیعاً)) (جامع الصغیر ص ۱۱۲ کتاب الجمعة)

لهذا تاسو هم جماعت سره د ماسپښين لمونځ ادا کوئ .

(۱) کوم ځای کی چې د جمعې لمونځ نه صحیح کېږي هلته داختر لمونځ هم نه صحیح کیږي ((صلوة العید واجبة فی الاصح علی من تجب علیه الجمعة بشرائطها)) (باب العیدین نور الایضاح ص ۱۲۱)

(۲) کله چې معتبرو علماؤ او مفتیانو ستاسو په کلي د جمعې د نه صحیح کیدو فتوی ورکړې ده نو اوس پدې باندې عمل کول ضروری دی ، د جمعې لمونځ په ادا کولو سره د شرعي حکم نه خلاف ورزی ناجائز او ګناه ده.

حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی (رح) فرمایي : ((کله چې تاسو علماء کرامو ته ورشئ او هغوی درته خبره وکړی او تاسو هغه ونه مني نو دا ستاسو ورتګ هغوی ته (یا د هغوی ستاسو خواته راتګ) تاسو باندې حجت جوړېږي او ددې ګناه په تاسو باندې داسې ده لکه چې تاسو رسول الله (ص) سره ملاقات وکړی او د هغه خبره ونه منئ : ((اذا حضرتم عند العلماء و لم تقبلوا ما یقول لکم کان حضورکم عندهم حجة علیکم یکون الم ذلک کما لقیتم الرسول الله صلی الله علیه وسلم و لم تقبلـوا منـه)) (الفتح الربانی ، المجلس مترجم ص ۴۱ و ص ۴۲)

او بل ځای فرمایي : ((ستاسو په منځ کی د نبی (ص) صورت موجود ندی چې تاسو د هغه اتباع وکړی نو کله چې تاسو د رسول الله (ص) د پیروانو او دده حقیقی فرمانبردارو پیروی وکړی‌نو لکه چې د رسول الله (ص) پیروی مو نه وی کړی دی : ((لیس بینکم نبی موجود بصورة حتی تتبعوه فاذا تبعتم المتبعین للنبی صلی الله علیه وسلم المحققین فی اتباعه فکانما قد اتبعتموه)) (ایضاً المجلس الرابع عشر ص ۹۳)

او پدې جوابونو سره د نورو سوالونو جوابونه هم حل کېږي ، الله تعالی دې د نیک عمل توفیق نصیب او د نفسی خواهشاتو نه محفوظ وساتی ، امین ، فقط والله اعلم.

ـ شافعي مذهبونو جوماتونو کی د جُمعې لمونځ:

(۹۳ سوال) په بمبئ ښار کی د مسلمانانو په ډېرو محلو کـی د شـافعی مـذهب والاو جوماتونه جمعې په ورځ باندې بند وی د شافعی مذهب امامانو نظریـه دا ده چـې د

جامع جومات نه علاوه نورو جوماتو کی د جمعې لمونځ نه کېږي . د دوی ددغې نظريې په وجه شافعی مسلک بلکې حنفی مسلک والاؤ ته هم دجمعې په ورځ ډېر زيات تکليف او پريشانی جوړېږي ځکه چې د خلکو د زياتوالی په وجه ټولو له په جامع جومات کی ځای پيدا کيدل مشکل وی بلکې د حنفيانو په جومالو کی هم ځای نه ملاوېږي ، او د باران په موسم کی ډېر شوافع او حنفيان د جمعې مانځه نه محروم پاتې کېږي ، ايا پداسې وخت کی هم د شافعی مذهب له مخې د يو نه زيات جوماتو کی د جمعې لمونځ ادا کولو اجازه نشته ؟ مهربانی وکړی ددې جواب راکړی .

(جواب) بيشکه د امام شافعی رحمه الله په نزد باندې د جمعې د صحت لپاره يو شرط دا هم دی چې په ښار کی يواځې يو ځای کی جُمعې لمونځ وکړی شی او که د يو نه زيات ځايو کی د جمعې لمونځ ادا کړی‌شی نو د کوم امام چې تکبير تحريمه مخکې وی د هغه لمونځ صحيح شو او په نورو جوماتو کی ادا شوی جمعی ته اعتبار نشته ، د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله نه هم يو روايت همداسې نقل شوی دی :

((در شهر چند جا جمعه جائز است و بروايتی از امام اعظم سوای يک جاجائز نيست))

(مالا بد من ص ۵۴)

ليکن د حضرت امام اعظم (رح) په بل روايت کی د ضرورت او د رفع کولو په غرض د يو نه زيات ځايو کی د جمعې لمونځ کولو اجازت شته ، همدا شان په شافعی مذهب کی هم د مجبوری په وجه د يو نه زيات ځايو کی د جمعې لمونځ کولو گنجائش شته .

((و تؤدی فی مصر واحد بمواضع کثيرة مطلقا علی المذهب و عليه الفتوی (الی قوله) دفعاً للحرج ، در مختار (قوله علی المذهب) فقد ذکر الامام السرخسی ان الصحيح من مذهب ابی حنيفة جواز اقامتها فی مصر واحد فی مسجدين و اکثرو به ناخذ)) (شامی ج ۱ ص ۷۵۵ باب الجمعة)

د شافعی مذهب د معتبر کتاب عربی ژبی کی ((الاساس)) (د محمد يحيی بيرونی شافعی تاليف) اردو ترجمه ((ارکان اسلام)) کی دی : ((د جمعې لمونځ د صحيح کيدو يو شرط دا هم دی چې علاقه کی يواځې يو ځای کی ادا کړی شی ، که يوه علاقه کی دوه درې ځايه جمعې لمونځ وکړی شو نو د کوم امام تکبير تحريمه چې مخکې شو د هغه جمعه صحيح شو او دويم او دريم باطل ليکن که چيرته يو ځای کی جامع جومات کافی نه وی نو بيا د يو ښار په گنو ځايو کی د جمعې لمونځ کول جائز

دی ، (رسائل ارکان ص ۷٦) (مترجم حضرت مولانا مفتی مرغوب احمد لاجپوری سورتی)

حاصل د کلام دا دی چې حنفی او شافعی مذهبو ته بغیر د عذر او مجبورئ نه په ګڼو ځایو کی د جمعې لمونځ کولو اجازه نشته ده [1] لکه چې په ډېرو ځایو کی محله په محله جمعې لمونځ کولی شی ، دا طریقه د جمعې د خاص مقصد او روح نه خلافه ده هلته کوم ځای کی چې جامع جومات ناکافی وی او یا د لرې والی په وجه ورته رسیدل مشکل وی او زیات تکلیف وی(لکه بمبئ کی) نو هلته د ضرورت مطابق ګڼو جوماتو کی جمعې لمونځ کول حنفی او شافعی مذهب کی هم صحیح دی ، فقط والله اعلم.

ـ د جمعې لمونځ په نوی جومات کی وکړو یا زوړ جومات کی :

(۹۴ سوال) زمونږ پدې ځای کی درې جوماتونه دی (۱) کناره جومات (۲) تاور جومات (۳) فتح اسلام جومات ، پدې ټولو کی کناره جومات پخوانی دی چې جمعې لمونځ پکې کېږي ، او ټول لمونځ ګذار پکې راتلی شی او د آرام وسائل هم پکې موجود دی او دویم نمبر ټاور والا جومات نوی جوړ شوی دا هم دومره لوی دی چې ټول لمونځ ګذار پکې ځائیږي او دریم نمبر فتح اسلام والا جومات داسې دی چې د ټولو لمونځ ګذار پکې ځائیدل مشکل دی ، او سوال دا دی چې مونږ یو ځای د جمعې لمونځ کول غواړو نو کوم یو جومات کی زیات غوره او بهتره دی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) په کوم پخوانی او لوی جومات کی چې جمعې لمونځ ادا کولی شی هغه ته به جامع جومات ویل کېږي په هغه کی جمعې لمونځ ادا کول غوره دی .

((عن انس بن مالک قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم صلوة الرجل فی بیته بصلاة و صلاته فی مسجد القباء بخمس و عشرین صلاة و صلاته فی المسجد الذی یجمع فیه بخمسمائة صلاة . الحدیث)) (مشکوة ص ۷۲ باب المساجد و واضع الصلوة).

---

[1] لان جواز التعدد دفعاً للحرج کما مر ، والحرج لا یو جد بدون الضرورة والضابطة الضرورة بقدر الضرورة کما فی الاشباه وغیره (مترجم)

بغیر د شرعی عذر نه ددې پرېښودل او نوی جومات کی جمعې لمونځ کـول مناسـب ندی اګر که لمونځ هلته هم کېږي ، فقط والله اعلم .

په کارخانه کی د جمعې لمونځ :

(۹۵ سوال) د ښار جامع جومات کافی لرې دی ، په کارخانه کی کار کونکی مسلمان مزدوران د کار خانی په کوم هال کی د جمعې لمونځ ادا کړی نو صحیح کېږي یا نه؟ د یو صاحب وینا ده چې د جمعې د صحت لپاره جومات شـرط دی ، لهـذا د حوالـو سره جواب راکړی ، مهربانی .

(جواب) د جمعې د صحیح کیدو لپاره جومات شرط ندی ، په ښار او د ښار د ډاګېپه هر ځای کی مثلاً په کور یا هال یا میدان کی د جمعې لمونځ صحیح کېږي خـو چـې اذن عام وی (یعنی هـر چاتـه د لمـونځ کولـو اجـازت وی) دا ضـروری ده لـیکن د جومات ثواب بیا هم نه ملاوېږي :

((و لا يشترط الصلوة فی البلد بالمسجد فتصح بفضاء فيها)) (طحطاوی علـی مراقـی الفلاح ص ۲۷۹ باب الجمعة) فقط والله اعلم.

په عبادت ګاه کی د جمعې لمونځ :

(۹٦ سوال) دلته (انګلیشور) کی بسونو اډی ته نزدې اسـلامی مسافر خانـه ده او د هغې پاس چت کی عبادت ګاه ده چې پنځه وخته جماعت سره لمونځ پکې کېـږي او ددې نزدې شاوخوا اوسیدونکی (لکه وی ، ټی کالج ، آئی ټـی ایـس ، ټـی عملـه او کارکنان وغیره) دی چې تعداد دوه سوه دی ، دا خلک پدې نوموړی عبادت ګاه کی د جمعې لمونځ کول غواړی ، ځکه چې ددې ځای (بس اډه) او جامع جومـات تـر منځ یو میل فاصله ده او ددې فاصلې او د وخت د کموالی په وجـه ډېـر خلـک اکثـر وخت د جمعې مانځه نه پاتې کېږي نو ایـا دلتـه د جمعـې لمـونځ کېـږي ؟ وضـاحت وکړی جزاکم الله ،

(جواب) د جمعې د لمونځ صحیح کیدو لپاره جومات شرط ندی ، ښار یا قریـه شـرط ده : ((و لا يشترط الصلوة فی البلد بالمسجد فتصح بفضاء فيها)) (طحطـاوی ص ۲۷۹ باب الجمعة)

لهذا په ذکر شوی عبادت ګاه کی جمعې لمونځ کیدلی شی ؟ لیکن د شـرعی جومـات نه کیدو په وجه په جومات کی د لمونځ کولو ثواب نه ملاوېږي ؟ فقط والله اعلم.

په عبادت خانه کی دوباره د جمعې لمونځ کول :

(۹۷ سوال) مونږه د ټورنټو (کینډا ۹ اوسیدونکی د جمعې لمـونځ بـاره لـږ غونـډې تفصیل معلومول غواړو پدې شان سره چې زمونږه څو مسلمان ورونه د جمعې پـه ورځ کار کوی د ډېر کوشش باوجود هم پخپل وخـت جمعـې لمـونځ نشـي ادا کـولی نـو مجبوری سره مونږه ځلورو نه زیات کسان د ماسپښین په وخت یو داسې ځـای کـی د جمعې لمونځ ادا کوو چې هلته پخپل مقرر وخت باندې د جمعـې لمـونځ ادا شـوی وی لهذا پدې صورت کی زمونږه جمعې لمونځ کیږي یا نه؟ د قرآن او حدیث پـه رڼـا کی جواب راکولو سره ممنون وګرځوی .

(جواب) د جمعې لمونځ په هر شان سره چې وی (اګر که مالی نقصان برداشت کولو سره وی) پخپل اصلی ځای یعنی جومات کی او که دا نه وی نو پـه عبـادت خانـه د لویې ډلې سره ادا کړئ او که کله نا کله هلته ونه رسئ نو یو امام او کم نه کـم دریـو مقتدیانو سره کوم بل ځای یا کارخانه کی جماعت سره ادا کـړئ ، کـوم ځـای چـې امام مقرر وی او پنځه وخته جماعت سره لمونځ پکې کیږي هلته دویم جماعت کـول مکروه دی ، په مبسوط سرخسی کی دی :

((قال و اذا دخل القوم مسجد اقد صلی فیه اهله کرهت لهم ان یصلوا جماعة باذان و اقامة و لکنهم یصلون و حداناً بغیر اذان و اقامة لحدیث الحسن قال کانت الصحابة اذا فانتهم الجماعة فمنهم من اتبع الجماعات و منهم من صلی فی مسجده بغیـر اذان و لا اقامة (مبسوط سرخسی ج ۱ ص ۱۳۵) (شامی ج ۱ ص ۳۶۷ باب الاذان)

او بل په دویم جماعت سره د اول جماعت اهمیت ختمیږي ، اصـل اولنـی جماعـت دی نو خلک به خیال کوی چې اول جماعت ملاو شي ښه او که نه دویم جماعت بـه وکړو دا طریقه غلطه ده ، الله تعالی انسانان خپل عبادت لپاره پیدا کړی دی نه روزی او روزګار لپاره ، د رزق ذمه واری خو الله تعالی پخپله کړې ده ، البته تدبیر (نـوکری او کاروبار) کولو اجازه کړې ده ، لیکن تدبیر پسې لګیدو سره همیشه جمعه پریښـودل د بد قسمتی او د نفاق علامه ده ((عن ابن عباس (رض) قال من تـرک الجمعـة مـن غیر ضرورة کتب منافقاً)) (مشکوة ص ۱۲۱ باب الجمعة)

داسې ملازمت چې د هغه په وجه همیشه د جمعې لمونځ نه محروم پـاتې شـي جـائز ندی ، د الله تعالی فرمان دی (و ما خلقت الجن والانس الا لیعبدون ، ما اریـد مـنهم من رزق و ما ارید ان یطعمون ، ان الله هو الرزاق ذوالقوة المتین)

ترجمه : او ما (الله) چې څه پیدا کړی پیریان او انسانان دا مې خپلې بندګۍ لپاره پیدا کړی دی ، او زه نه غواړم ددې مخلوق نه روزی ، او نه غواړم چې ماته خوراک راکړی بیشکه الله تعالی رزق ورکونکی او ډېر زور آور ذات دی (سورت ذاریت) نو بیا د ملازمت په خاطر د الله تعالی عبادت پرېښودل کوم عقلمندی او انسانیت دی فقط

ـ که فیکټری کی د جُمعې لمونځ اجازه ملاو نشي :

(۹۸ سوال) زه فیکټری کې د میاشتې تنخوا په عوض ټرېننګ کوم او اوس فی الحال راته د ټرېننګ په اندازه د میاشتې (۳۵۰) روپۍ ملاوېږي او زما کار د سحر له نهو بجو نه د ماښام پنځو بجو پورې دی ، او د غرمې دولس بجو نه تر یوې بجې پورې وقفه وی او لدینه علاوه د جمعې په ورځ هم د جمعې مانځه لپاره اجازه نشته ، پدې صورت کې ماته د جمعې مانځه لپاره څه کول پکار دی ؟ ماسپښین ادا کولو کې څه نقصان شته ؟ ! یا په فیکټری کی دوه درې کسان یو ځای د جمعې لمونځ وکړو ؟ او که ملازمت پرېږدم ، د ماسپښین لمونځ اجازت په صورت کې تر څه وخته پورې د ماسپښین اجازت دیٰ ؟ د ډېر کوشش باوجود په هیڅ شان سره کمپنی اجازت ورکولو نه راضی نده ، تر دې چې د تنخوا کټ کولو په صورت کې هم اجازت نه ورکوی ، پدې صورت کی څه وکړم ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) کله چې د جمعې پشان لمونځ (چې د اسلام له شعائرو څخه دی) لپاره اجازت نشته همیشه ماسپښین لمونځ کول غواړی نو داسې ملازمت د پرېښودو لائق دی ، بل ځای کی ملازمت پیدا کړه څو پورې چې نبه ملازمت نه وی پیدا شوی په فیکټری کی د جمعې لمونځ کویٔ اګر که د جومات ثواب نه ملاوېږي خو جمعه صحیح کېږي ، البته د امام نه علاوه درې نور کسان ضرور دی

((والسادس الجماعة و اقلها ثلثة رجال سوی الامام (در مختار مع شامی ج ۱ ص ۷۶۰ ج ۱ ص ۷۶۱ باب الجمعة) و یشترط لصحتها ستة اشیاء المصر او فنائه والخطبة الخ)) (نور الایضاح ص ۱۱۷ باب الجمعة) فقط والله اعلم .

جُمعې لمانځه لپاره دکان څه وخت بند کړو ؟

(۹۹ سوال) د جمعې په ورځ مونږه غرمه د مانځه مخکې دکان بندوو ، مونږ تـه څـه وخت دوکان بندول پکار دی ؟ نن صبا (۱۲/۴۵) او اذان یوه بجه او خطبه لس منټه دپاسه یوه بجه باندې شروع کېږي ، وضاحت وکړی ، مهربانی.

(جواب) په حدیثو کی د جمعې ورځ ډیر زیـات فضـیلت راغلـی دی تـر دې چـې د اختر د ورځې نه هم بهتر دی ، ((عن ابی لبابة بن عبدالمنذر قال قـال النبـی صـلی الله علیه وسلم ان یوم الجمعة سید الایام واعظمها عند الله وهو اعظم عند الله من یوم الاضحی و یوم الفطر الحدیث)) (مشکوٰة شریف ۱۲۰ ص، باب الجمعة)

پدې وجه غوره دا ده چې د سحر نه د جمعې تیـاری شـروع کـړی ، زر تـر زره غسـل وکړی او نبی جامی واغوندی ، خوشبوئی ولګوی ، سورت کهف ولولې ، خومره چې زر کیدی شی جامع جومات ته ځان ورسوی او نفلونو ، صلوة التسبیح ، د قـرآن پـاک تلاوت ، اذکار ، درود شریف وغیره کی مشغول شي او د جمعې مانځه نه فارغیدو سـره خوراک وکړی او لدینه وروسته به دکان کولاو کړی ، که پـدې بانـدې عمـل کـول او دکان بندول ګران وی نو بیا د اول آذان نه دومره مخکـې دکـان بنـد کـړئ چـې د سنت طریقی مطابق غسل او کپړې واغوندی او خوشـبویی ولګـوی او د آذان وخـت کی جامع جومات ته ورسي ،

((و وجب سعی الیها و ترک البیع بالاذان الاول (در مختـار مع الشـامی ج ۱ ص ۷۷۰ باب الجمعة) ((احیاء العلوم ج ۱ ص ۱٦۱ بیان آداب الجمعة بهشتی زیور حصـه نمبـر ۱۱ ص ۷۲)).

د جمعې د ورځې څومره تعظیم او تکریم وکړی او په سـنت طریقـه بانـدې د لمـونځ کولو اهتمام وکړی ددې په مقدار به ورته برکات نصیب کېږي ، فقط والله اعلم.

_ همیشه په ناسته باندې خطبه ویل د سنت خلاف دی :

(۱۰۰ سوال) دینی عالمان او مفتیان صاحبان پدې مسئله کـی څـه فرمـایی چـې یـو جومات کی امام صاحب شته هماغه خطیب هم دی او د علاقی خلک د بـل خطیـب مقررولو نه معذوره هم دی ، او نوموړی خطیب دائمی عـذر لـری مـثلاً سـر وربانـدې ګرځی او د کمزورئ له وجې په ولاړه خطبه نشي ورکولی نو ایا پداسې صورت کی په ناسته باندې خطبه ورکولی شی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) خطبه ویل په ولاړه بانـدې مسـنون دی حضـرت کعـب بـن عجـرة (رض) عبدالرحمن بن ام حکم خلاف سنت په ناسته خطبه ویلو باندې ولید نو په غصه کیدو سره یې وفرمایل : وګورئ دا خبیث په ناسته باندې خطبه وایی :
((عن ابی عبیدة عن کعب بن عجرة قال دخل المسجد و عبـدالرحمن بـن ام حکـم یخطب قاعداً فقال انظر و االی هذا الخبیث یخطب قاعداً)) (صحیح مسلم شریف ج ۱ ص ۲۸۴ کتاب الجمعة)
لهذا په ولاړه خطبه ویل پکاردی او که کوم وخت کی د عذر له وجې په ناسته باندې وویل شي نو صحیح ده مګر پدې باندې دائمی طور سره عمل کولو اجازه نشته . لهذا باید څه بل انتظام وکړی شی ، فقط والله اعلم ، ۲۳ ذی الحجه ۹۵ هـ

ـ بیان او خطبې وخت کی چنده کول :

(۱۰۱ سوال) د جمعې په ورځ اول اذان نه وروسته امام صاحب څـه بیـان کـوی او پدې دوران کی جومات لپاره د چندې بکس یا څادر ګرځول کېږي خینی خلـک پـه سنت باندې لګیا وی او خینی وختو کی خو خطبه هم شروع کېږي مګر د چندی کـار لا جاری وی ددې څه حکم دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی .

(جواب) د بیان په دوران کی چندی لپاره په صفونو کی د ګرځیدلو اجازه نشته څکه د بیان په اوریدو کی خلل راځی او د بیان مقصود فوت کیږي او سنت کونکو ته هـم خلل کېږي ، حضرت عمر فاروق (رض) په مانځه کی ؤ چې یو سـړی راغـی او خپـل سامان یې صف مخې ته واچولو او په مانځه کی شـریک شـو ، کلـه چـې عمـر فـاروق (رض) د مانځه نه فارغ شو هغه سړی ته یې سزا ورکړه چې تا لمونځ ګذاران پریشـانه کړل،(کتاب الاعتصام للامام الشاطبی) او همدا حکم خطبی لپاره هم دی بلکی لدینـه سخت دی ، یو روایت دی ((اذا خرج الامام فلا صلوة و لا کلام)) یعنی کله چې امام خطبی لپاره راووت نو بیا نه لمونځ جائز دی او نه خبرې اترې ، فقط والله اعلم.

ـ د خطبی په دوران کی هلکان له شرارت نه منع کول :

(۱۰۲ سوال) د جمعې د خطبی په وخت کی چې هلکان شور او شرارت کـوی نـو د دوی منع کول جائز دی یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) د سر او لاس په اشاره باندې منع کولی شي خو په ژبه به څه نـه وايـي په ژبه څه ویل حرام دي ، البته خطیب ته اجازه ده : ((و الاصح انه لا بـاس بـان یشیر براسه او یده عند رؤیه منکر)) (در مختار)

((و التکلم به من غیر الامام حرام)) (طحطاوی علی الدر مختار ۱/۵۵۲ باب الجمعة)

فقط والله اعلم.

د خطبې په وخت پکې (ببوزی) وهل:

(۱۰۳ سوال) د جمعې خطبې دوران کې د خلکو پکې وهـل څنګـه دي ؟ وضاحت وکړی :

(جواب) د کراهت نه خالي ندی ، په حدیث کې دي :

((و من مس الحصی فقد لغی)) رواه مسلم کتاب الجمعة

نو کله چې د ګیټو سره لوبې او لاس کې اخستل منع دي څکه چـې پـدې کـې غېر خطبې طرف ته مشغولېدل دی ، نو پکې وهلو کې لدینـه زیـات مشـغولېدل دی فقـط والله اعلم.

د دوه خطبو منځ کې لاس اوچتولو سره دعاء کول :

(۱۰۴ سوال) خطيب د جمعې او د اخترونو دوه خطبو تر منځ کینی پدې ناسته کـې حاضرین لاس اوچتولو سـره دعـاء غـواړی ، ایـا ددې ثبـوت شـته ؟وضـاحت وکـړی مهرباني.

(جواب) پدې ناسته کې د رسول الله (ص) نه کومه دعاء نده ثابت ، په غاية الاوطار کې ددې مسلم په تحقیق کې لیکلی دی : ((تنبیه ا نن صبا دا دسـتور شـروع شـوی چې کله خطب اوله خطبه ووايي او کینی نو خلک لاس اوچتولو سره دعـاء غـواړی ، پدې وجه پدې خای کې ددې مسئلې تحقیق مناسب دی ، په ابـو داؤد کـې د ابـن عمر (ر ض) نه روایت دی ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بـه دوه خطبـې ویـل پدې شان سره چې اول به منبر ته ختو رسره کیناستو او چې مؤذن بهٔ اذان ختم کړ نو بیا به ودریدو او خطبه به یې ویلو او بیا به کیناستو او خبرې به یې نهٔ کولی او بیـا بـه ودریدو او خطبه به یې ویلو ، طحطاوی ویلی دی چې پدې ناسته کی د رسـول الله (ص) نه کومه دعاء نده ثابت ، شمس الائمة سرخسی د هدایه په شرح کې ویلـی دی چې خطیب ته د دوه خطبو تر منځ جـدایی لپـاره دومـره ناسـته پکـار ده چـې تـول

اندامونه يې په آرام شي او پدې جلسه کې دعاء کول بدعت دی ، او صینعانی لیکلی دی چې دوه خطبو تر منځ دعاء لپاره لاسونه اوچتول حرام دی ، او شیخ عبدالحق د مشکوة په شرح کې د ذکر شوی حدیث لاندې لیکلی دی چې خبرې به يې نه کولې ، ددې معنیٰ دا ده چې نه به يې دعاء کوله او نه يې د دعاء نه عـلاوه بلـه څـه خبـره کوله ، او دا خبره چې په حدیث کې راځی چې په جمعه کې د دعاء قبلیدو وخـت ، امام منبر ته ختو وخت نه د لمونځ تر ختمیـدو پـورې دی نـو مـلا علـی قـاری ددې حدیث په شرح کې لیکلی دی : همدا وخت دی چې د امام نه غیر بـل چاتـه پـدې وخت کې خبرې کول حرام دی ، او د دعاء نه مراد هغه دعاء ده چـې امـام يـې پـه خطبه او مانځه کې د ټولو مسلمانانو لپاره کوی نو پدې سره دا نه ثابتېږي چې امام یا اوریدونکی په جلسه کې لاس اوچتولو سره دعاء وکړی الخ)) (غاية الاوطـار ۳۷۳/۱ ، شامی ۷۷۲/۱ باب الجمعة) فقط والله اعلم.

ــ د خطبې او اقامت تر منځ جدايي :

(۱۰۵ سوال) زمونږه امام صاحب کله چې د جمعې خطبې نه فارغيدو سره له منبر نه کوزېږي نو په مصلی (جای نماز) باندې کینی او بیا مکبر اقامت وايـی او چـې حـی علی الصلوة ووايي په دې وخت کې امام او مقتدیان پاڅیږي . هره جمعـه همداسـې کوی ایا دا طریقه سنت ده ؟ د حوالو سره جواب راکړئ مهربانی.

(جواب) ستاسو د امام صاحب دا طریقه بالکل نوی او د سنت خـلاف ده ، د رسـول الله (ص) او د صحابه کرامو دا طریقه نه ده ، د حنفی مذهب معتبر او مشـهور کتـاب در مختار کې دی ((فاذا اتم اقیمت و یکره الفصل)) یعنی کله امام خطبه پوره کـړی نو اقامت دی شروع کړی شی او فاصله مکروه ده ، په شامی کې دی ((قولـه اقیمـت بحیث يتصل الاول الاقامة بآخر الخطبة و تنتهی الاقامة بقيام الخطيب مقام الصـلوة)) یعنی د خطبې ختمیدو سره متصل اقامت شروع کـول پکـار دی پـدې شـان چـې د اقامت اوله حصه د خطبې آخری حصی سره پیوست وی او د خطیب مصـلی (جـای نماز) ته په رسیدو سره اقامت ختم شي (در مختار والشامی ۷۷۰/۱ باب الجمعة)

لدینه ثابتېږي چې ستاسو د امام صاحب طریقه بالکـل نـوی پیـدا شـوی مصـنوعی او مکروه ده ، دیته مسنون او مستحب ویل بالکل غلط دی او د ګناه باعث دی ، حضرت امام ربانی مجدد الف ثانی لیکی : ((مکروه را مستحسن دانستن از اعظم جنایاتست))

یعنی مکروه نه مستحسن ویل د لویو جناباتو څخه دی (مکتوبات امام ربانی ۱۰۴۹۳ مکتوب نمبر ۲۸۸)

د عبدالله بن مسعود (رض) ارشاد دی : ((ایهاالناس ستحدثون و یحدث لکم فاذا رایتم محدثة فعلیکم بالامر الاول)) یعنی تاسو به نوی نوی خبری راوباسی او نوی نوی خبرې به ورته وړاندې کېږي نو کله چې نوی خبره ووینی نو پخوانی طریقه لازم ونیسئ)) (ازالة الخلفاء ۳۰۱/۱) فقط والله اعلم.

ـ د خُطبی په شروع کی دوه ځلی الحمد لله ویل :

(۱۰۶ سوال) د خطبی شروع کولو وخت کی دوه ځلی الحمد لله ویل څنګه دی ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) په خطبه کی الحمد لله دوه ځلی ویل کېږي په دې کی هیڅ باک نشته خو چې دا ضروری ونه ګڼی ، ددین د بزرګانو طریقه پاتې شوې ده ، فقط والله اعلم.

ـ خطبی په وخت دویم اذان جومات کی کول :

( ) د جمعې د خطبی په وخت کی چې کوم آذان کېږي هغه عام طور لیدل کېږي چې د منبر خوا کی د خطیب په وړاندې کولی شی ، ځینی خلک وایی چې دا اذان په جومات کی دننه مکروه دی د جومات نه باهر پکار دی او وایی چې بهار شریف هم دیته مکروه ویلی دی ، ددې په وجه دلته اختلاف دی ، د صحیح جواب په راکولو سره مو ممنون وګرځوی وضاحت وکړی جزاکم الله (بروډا)

(جواب) د اذان دوه مقصدونه دی (۱) عام او غائب خلکو لپاره (۲) خاص حاضر خلکو لپاره ، اول اذان عام اعلان دی تر څو غائب خلکو ته اطلاع وشي دا اذان په جومات کی مکروه دی او دویم اذان کوم چې د خطیب په وړاندې کولی شی او اقامت چې د مانځه په وخت کی کېږي دا دواړه خاص حاضرینو او موجود خلکو لپاره دی او دا دواړه په جومات کول هرګز مکروه ندی ، په مراقی الفلاح کی دی : ((و الاذان بین یدیه جری به التوارث کالاقامة بعد الخطبة)) (مراقی الفلاح ص ۱۰۳ باب الجمعة)

پدې عبارت کی دویم اذان کوم چې د خطبی په وخت منبر په خوا کې د خطیب په وړاندې کولی شی د اقامت پشان ګرځول شوی دی لکه څنګه چې اقامت په جومات کی او عام طور اول صف کی کولی شی او دیته هیڅ مکروه نه وایی همدا شان دغه

اذان هم د خطیب په وړاندې کولی شی او د سلفو او خلفو همدا معمول او طریقه را روانه ده چې دلته په ((جری به التوارث)) سره اشاره شوې ده . لهذا دغه اذان او اقامت په جوماتونو کی هرگز مکروه نه دی ځکه چې د دواړو مقصد یو دی چې د حاضرینو متوجه کول او خبرول دی ، غائبینو سره ددې هیڅ تعلق نشته ، او په ځینی کتابو کی ((عند المنبر)) راغلی په عینی شرح هدایه کی دی :
((فی الاصح محصول الاعلام به (ای اذان المنارة) لانه لو انتظر الاذان الثانی عند المنبر تفوته السنة و ربما لا یدرک الجمعة لبعد محله وهو اختیار شمس الائمة)) (عینی شرح هدایه ص ۱۱۴ باب الجمعة) فقط والله اعلم اول ربیع الاول ۱۴۰۱ هـ

ـ د اختړونو په وخت کی چنده کول :

(۱۰۸ سوال) د اختړونو په وخت کی (کله په جوماتونو کی لمونځ کیږي او کله عیدگاه کی) جومات او دینی مدرسو یا لا وارث خلکو کفن وغیره لپاره په جومات کی دوه کسان څادر گرځوی او چنده کوی ، نو شرعاً دا کار څنگه دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی.
(جواب) که د مانځه نه مخکې یا د خطبی نه وروسته وي نو باک نشته ، او د خطبی په وخت کی د چندی اجازه نشته .

ـ ایا هره جُمعه نوی خطبه ویل ضروری دی ؟

(۱۰۹ سوال) پدې باره دینی علماء څه فرمایی چې زمونږ د جوماتونو امام حافظ اوقاری دی د سترگو نه معذور دی کتاب کی په کتو سره نشي لوستی پدې وجه دوی پنځه شپږ خطبی په یادو زدهکړی دی چې د جمعې په ورځ یو یو په نمبر لولی ، زمونږ د محلی ځینی خلک وایی چې ده پسې خطبه نه صحیح کیږي ځکه چې هره میاشت یوه خطبه لولی او حال دا چې د هری جمعې او هر میاشتی چې کوم جدا جدا خطبی دی هغه لوستل ضروری دی پدې بناء ځینی مقتدیان بل جومات ته ځی، پدې باره کی مفتیان صاحبان څه فرمایی ؟ وضاحت وکړی (سورت)
(جواب) کله چې امام د قرآن حافظ او قاری او خوش آواز دی ، قرآن صحیح لولی د مانځه ضروری مسئلو نه خبردار دی او د معذور کیدو باوجود پاک صفا اوسیدو اهتمام کوی . لهذا د هغه امامت بغیر د کراهت نه صحیح دی ، په حدیث کی دی ((عن انس (ر ض) قال استخلف رسول الله (ص) ابن ام مکتوم یؤم الناس وهو

اعمی)) رواه ابو داؤد ، یعنی د حضرت انس (رض) نه روایت دی چې رسـول الله (ص) عبدالله بن ام مکتوم (ر ض) امام جوړ کړ او خلکو ته یې امامت کولو او هغه نا بینا ؤ (مشکوة شریف ص ۱۷۰ باب الجمعة)

خطبه په عربی کی لوستل کېږي او حاضرین عموماً د عربی نه نا واقف دی نـو پـدې بناء هره جمعه نوی خطبه به څه فایده وکړی ؟ امام صاحب ته چې پنځه شپږ خطبـی یاد وی نو کافی دی په مانځه کی هیڅ قسم کراهت نه راځی ، او که د نوی خطبـی اوریدو شوق دی نو عربی زده کړئ او یو ښه عالم ، حافظ او قاری وسـاتی هغـه بـه د جمعې او د اخترونو د خطبو ترجمه کوی او لمونځ ګذار له شرعی احکامو نه خبـردار کړی او موجوده امام به د نائب امام په طور باندې وساتی ، او دا پـه رمضـان کـی د تراویحو ورکولو خدمت هم کما حقه تر سره کولی شی ، خلک د جومـات پـه عمـارت باندې خو په زرګونو او لکونو روپی لګوی مګر په امام او مؤذن باندې خرچ کولو کی تنګی کوی دا ښه کار ندی ،ځکه چې عمده عمده عمارت مقصـود نـدی البتـه قابـل امام او مؤذن شرعاً مطلوب دی ، فقط والله اعلم ۳۰ شعبان المعظم ۱۴۰۱ هـ

_ د اخترونو په خطبه کی د حاضرینو تکبیر ویل :

(۱۱۰ سوال) خطیب د اختر په خطبه کی تکبیرونه وایی نو حاضرین تکبیرونه ویلـی شی یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) او حاضرین رو رو تکبیرونه ویلی شی او خطیـب چـې د (ان الله و ملائکتـه یصلون علی النبی) ایت کریمه ولولی نو حاضرین به په زړه کی درود ووایی :

((و اذا اکبر الامام بالخطبة یکبر القوم معه و اذا صلی علی النبی صلی الله علیه وسلم یصلی الناس فی انفسهم)) (فتاوی عالمګیری ج ۱ ص ۱۵۱۰ البـاب السـابع عشـر فـی صلاة العیدین)

فقط والله اعلم ۹ رجب المرجب ۱۴۰۲ هـ

_ که د ماسپښین او جمعې سنت کی جماعت او خطبـه شـروع شي :

(۱۱۱ سوال) د ماسپښین او جمعې مانځه نه وړاندې څلور رکعته سـنت ادا کولـو پـه حالت کی د ماسپښین جماعت یا د جمعې خطبه شروع شي نو سنت پوره کړی یا دوه رکعتو باندې سلام وګرځوی ؟

(جواب) پدې مسئله کې په دوه رکعته باندې دې سلام وګرځوی او یا دې څلور رکعته په مختصر قرائت باندې پوره کړی دواړه صورتونه جائز دی بهتر دا دی چې دوه رکعته وکړی ، البته که دریم رکعت یې شروع کړی وی بیا دې اختصار سره څلور رکعته پوره کړی (شامی ٦٦٨/١)[1]

ـ په خطبه کې امسا نیول مسنون دی یا نه؟

(۱۱۳ سوال) خطبې په وخت کې امسا نیول جائز دی یا مکروه ؟

(جواب) صحیح دا دی چې د خطبې په وخت کې په لاس کې امسا نیول او تکیه ورباندې کول جائز دی مکروه ندی (شرح سفر السعادة ص ۲۰۹)

مګر دا ضروری ګڼل او امسا نه نیوونکی ملامتول مکروه دی ، یو مستحب (خپلې درجې نه اوچتول هم مکروه دی) (مجمع البحار ۲۲۴/۲)

ـ د خطبې په وخت کې درود شریف ووایی یا نه؟

(۱۱۴ سوال) د جمعې په دویمه خطبه کې چې امام صاحب د (ان الله و ملائکته يصلون على النبی الخ) ایت ولولی نو حاضرین درود شریف ووایی یا نه؟ افضل څه دی ؟

(جواب) د خطبې په وخت کې غوره دا ده چې چپ کینی او یا په زړه کې د درود شریف تصور وکړی په ژبه به نه وایی ، پدې وخت کې په زوره درود شریف ویل د هیچا په نزد باندې هم جائز ندی ، په کبیری شرح د منیه کې دی :

((و اذا قرا الامام ان الله و ملائکته فعن ابی حنیفه و محمد انه ینصت و عن ابی یوسف انه یصلی سراً و به اخذ بعض المشائخ و اکثرهم انه ینصت و فی الحجة لو سکت فهو افضل))

یعنی د امام ابو حنیفه او امام محمد رحمهما الله نه روایت دی چې کله امام د (ان الله و ملائکته اه) آیت ولولی نو چپ پاتې کیدل پکار دی او د امام ابو یوسف نه

---

[1] ثم اعلم ان هذا كله حيث لم يقم الى الثالثة اما ان قام اليها و قيدها سجدة ففى رواية النوا در يضيف اليها رابعة و سلم و ان لم يقيدها سجدة قال فى الخانية لم يذكر فى النوادر و اخلتف المشائخ فيه قيل تمها اربعا و يخفف القراة و قيل يعود الى القعدة و يسلم و هذا اشبه اه قال فى شرح المنية و الاوجه ان يتمها لانها ان كانت صلاة واحدة فظاهر و ان كانت كغير ها من النوافل كل شفع صلاة فالقيام الى الثالثة كالتحريمة المبداة و اذا كان اول ما تحرم يتم شفعا فكذا هنا . باب ادراک الفريضة .

... دی چې په زړه کې دی ولولي خينې مشائخو دا قول اختيار کړی دی مګر ... مشائخ چې پاتې کيدل خوښوي او په کتاب الحجة ص ۲۵۰) او په در مختار کې دی ((والصواب انه يصلي على النبي (ص) عند سماعه اسمعه في نفسه))
يعني صحيح دا دی چې په خطبه کې د اسم مبارک په اوريدو سره په زړه کې درود شريف ووايي . او په شامي کې دی : ((اذا ذکر النبي (ص) لا يجوز ان يصلي عليه بالجهر بل بالقلب و عليه الفتوى))
ترجمه : کله چې د نبي کريم (ص) مبارک نوم ياد شي نو پدې وخت کې په زوردرود شريف ويل جائز ندی بلکې په زړه کې به وايي ، پدې باندې فتوی ده (۷۶۸/۱ باب الصلوة الجمعة)
پدې مسئله کې د ديوبندی . بريلوی هم اختلاف نشته ، په بهار شريعت کې دی کله چې خطيب د رسول پاک نوم ياد کړی نو حاضرين به زړه کې درود شريف ووايي پدې وخت کې په ژبه درود شريف ويلو اجازه نشته (بهار شريعت ۱۰۰/۴) والله اعلم.

د جمعې د خُطبې په وخت کې يوه پښه په بله باندې اړولو سره کيناستل :

(۱۱۱ سوال) په جوماتو د خطبې يا د مانځه په وخت کې په زنګون باندې پښه کيښودو سره کيناستل لکه اميران چې کينې شرعاً څنګه دی ؟
(جواب) که په دې طريقه کيناستل د تکبر او غرور په وجه نه وی بلکې خالص ضرورت په وجه وي نو جائز دی (قاضی خان) مګر ددې عادت جوړول بالخصوص په جوماتو کې او بيا د خطبې په وخت کې مناسب ندی ، ((لانه من عادة الجبابرة)) په جوماتو کې په خشوع او عاجزی سره کيناستل پکار دی، والله اعلم.

په دويمه خطبه کې د خلفاء راشدينو يادول:

(۱۱۲ سوال) يو اردو اشتهار کې مې وليد چې په دويمه خطبه کې د خلفاء راشدينو چې کوم نومونه ذکر کولی شی ددې هيڅ اصل نشته بدعت او ناجائز دی لهذا خطيب ته پکار دی چې دا پريدی او که نه ګنهګاريږي ، ايا داخبره صحيح ده ؟
(جواب) په دويمه خطبه کې د خلفاء راشدينو يادول او صفت کول او دوی سره د خير دعاء کول بدعت ندی او نه بې اصل دی ، د خير القران د زمانې څخه جاری او د سلف صالحينو له عمل نه ثابت دی ديته بدعت او بې اصل ويل غلط دی ، ددې

د مستحب کیدو همدا دلیل کافی دی چې حضرت ابو موسی اشعری (ر ض) د صحابه کرامو په موجودګی کی د خلفاء راشدینو ذکر خیر وکړ او صفت یې وکړ او د خیر دعاء یې ورته وکړه ، (شامی ۱/۷۵۹)[1] د فقه په معتبر کتابو کی د خلفاء راشدینو تذکرې تـه مستحب ، قریب السنة بلکی د دین شعار او خصوصاً د اهـل سـنت والجماعـت شـعار وبلی دی ، د خلفاء راشدینو له تذکرې سره د رسول الله (ص) د دوه ترونو حضرت حمزه او حضرت عباس (رض) تذکره هم مستحب ده ، په رسائل الارکان کی دی : ((و ینبغی ان یدعوا للمسلمین و یبدؤ بذکر الخلفاء الراشدین و مدحهم والدعاء لهـم لان الرحمة تتنزل بذکر الصالحین و یرجی قبول الدعاء للمسـلمین ببرکـة ذکـر هـم وهـو المتوارث من وقت التابعین الی الا ن و لم ینکر ذلک احد فهو امر مندوب قریـب الـی السنة للاجماع الفعلی علی ذلک وهو من شعار الدین کالاذان فلا یترک))

ترجمه : یعنی امام ته پکار دی چې خطبه کی مسـلمانانو لپـاره دعـاء وکـړی او ددې شروع د خلفاء راشدینو لپاره د دعاء او صفت نه کوی ځکه چې دديـن د بزرګـانو پـه تذکره سره رحمت نازلیږي او ددوی د ذکر او یادولو په برکت سره د مسلمانانو لپـاره د دعاء قبلیدو زیات توقع کیږي او دا طریقه د تابعینو له دور نه تر ننه پورې جاری ده، هیچا ددې مخالفت نه دی کړی نو دا یو مستحب طریقه ده چې سنت ته قریـب ده ، پدې باندې اجماع فعلی ده او د اذان پشان د دیـن شـعار دی لهـذا ددې پرېښـودل ندی پکار (ص ۱۱٦).

او فتاوی عالمګیری وغیـره کـی دی : ((د خلفـاء راشـدینو او د رسـول الله (ص) د محترمو ترونو د حضرت حمزة او حضرت عباس (رض) یادول مستحب دی او د سلف صالحینو ښخه جاری دی (۱۴۷/۱)[1] د مراقی الفلاح ص ۱۳۰ ، (فتاوی جامع الرموز ۱۱۹/۱ ، نفع المفتی ص ۱۰۱)

امام ربانی مجدد الف ثانی فرمایی : اګر که په خطبه کی د خلفاء راشـدینو یـادول د خطبی له شرطونو ښخه ندی لـیکن د اهـل سـنت والجماعـت شـعار (علامـه) ده او یقینی خبره ده چې د هغه کس نه علاوه چې زړه یې بیما ر او بـاطن یـې خبیـث وی

---

[1] _ علی انه ثبت ابا موسی الاشعری وهو سرا الکوفة کان یدعو لعمر قبل الصدیق فانکر علیـــه تقـــدیم عمـــر فشکی الیه فاستحضر المنکر فقال انما انکرت تقدیمک علی ابی بکر قبلی و استغفره والصحابة حینئذ متوفرون لا یسکنون علی بدعة باب الجمعة

[1] _ و ذکر الخلفاء الراشدین والعمین (رض) مستحسن بذلک جری التوارث کذا فی التجنیس .

کوم بل خوک (چې د صحیح ایمان خاوند دی) دا نشي پرینبودی (بیا ارشاد دی) دا خبره ومنو چې خطیب د تعصب او دشمنی په وجه د خلفاء راشدینو ذکر نـدی پرینبی بیا هم د پرینبودونکو سره عملاً مشابهت خو وشو ، نو بیا د ((من تشبه بقوم فهو منهم)) د وعید او د ((اتقوا مواضع التهم)) د تاکید څه جواب دی ؟ یعنـی کلـه چې عملاً د روافضو (شیعه ګانو) سره مشابه شو نو هغه به رافضی (شیعه) خنګه نه ګرخول کیږي او کوم خای چې داسې الزام لګیدلی شـی هلتـه حکـم دا دی چـې احتیاط وکړی شی او تهمت ته موقع ورنکړی شی ، او ده تهمت تـه موقـع ورکـړه (مکتوبات امام ربانی ۲۷/۲ مکتوب نمبر ۱۵) فقط

ـ که د خطبې نه وروسته د اودس ضرورت شـي نـو خطبـه بـه دوباره کوی یا نه؟

(۱۱٦ سوال) د جمعې د خطبی ویلو نه وروسته امام بې اودسه شو او جومات کـی د اوبو نشتوالی په وجـه نـزدې کـور کـی اودس کولـو سـره واپـس راغـی او د خطبـی راګـرخولو نه بغیر جمعې لمونخ وکړ نولمونځ صحیح شو یا نه؟ د خطبـی راګرخـول شته ؟

(جواب) د خطبی راګرخولو ته ضرورت نشته او لمونځ یې صحیح دی : ((و لو خطب ثم ذهب توضا فی منزله ثم جاء فصلی تجوز)) (کبیری ص ۵۱۷ فصل صلوة الجمعـة) فقط

ـ خطبی او لمانځه لپاره د خلکو انتظار کول :

(۱۱۷ سوال) دلته جمعې په ورخ اول اذان نه وروسته خلک د سنت وغیره نـه فـارغ شوی وو او خطیب خطبی لپاره پاخیدلی ؤ چې پدې وخت کی آواز وشو اور لګیـدلی دی را منده کړی نو ډېر خلک لاړل او څه په جومات کی پاتې شول ، اوس تپوس دا دی چې کوم خلک اور مړ کولو لپاره تلی دی د هغو په انتظار کـی خطبـه او لمـونځ وروسته کړی شی ؟ او که نه د هغوی خطبه او لمونځ به خنګه شی ؟.

(جواب) پداسې موقع کې د لمونځ د وخت لحاظ کولو سره د لمونځ گذارو انتظار ضروري دی ، او که لمونځ وکړي نو د چا نه چې جمعه پاتې شوی هغوی به خان خانته د ماسپښين لمونځ ادا کړي[1] فقط والله اعلم.

که د جُمعې په ورځ اختر راشي نو د خطبې حکم :

(۱۱۸ سوال) یو سړی وایی : که د جمعې په ورځ اختر راشي نو دواړه خطبې (د جمعې او اختر) ویل ضروري لدي بلکې د دواړو څخه یوه لوستل کافي دي ایا دا خبره صحیح ده ؟

(جواب) دا خبره صحیح نه ده چې یوه خطبه کافي گڼړي بلکې د جمعې او د اختر دواړه خطبې ویل ضروري دي : ((محمد عن یعقوب عن ابی حنیفة رضی الله عنهم عید ان اجتمعا فی یوم واحد فالاول سنة والاخر فریضة و لا یترک واحد منهما (الجامع صغیر ص ۲۰ باب العیدین) (هدایة ج ۱ ص ۱۵۱ باب العیدین) (طحطاوی علی الدر مختار ج ۱ ص ۵۵۸)) فقط والله اعلم.

ـ د اختر خطبه د لمانځه نه مخکې ویل :

(۱۲۰ سوال) که د اختر خطبه مانځه نه مخکې ولولی نو د مانځه نه وروسته اعاده ضروري ده یا نه؟

(جواب) د اختر خطبه د مانځه نه وروسته ده که یې مخکې وویل نو غلط ده مگر د مانځه نه وروسته دوباره کولو ضرورت نشته ، په ((جوهرة نیرة)) کې دي ((و ان خطب قبل الصلوة اجزاه مع الاساءة و لا تعاد بعد الصلوة)) ۹۲/۱ باب الصلوة العیدین) فقط

ـ ایا خطیب لپاره نهی عن المنکر جائز دی ؟

(۱۲۲ سوال) که خطیب د خطبې په وخت خلک په خبرو یا ولاړ ووینی نو د چپ کیدو یا کیناستو حکم ورته کولی شي ؟

[1] ـ و کذا اهل مصر فاتتهم الجمعة فانهم يصلون الظهر بغير اذان و لا اقامة و لا جماعة در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۶۹ باب الجمعة .

(جواب) خطیب د خطبې په حالت کې امر بالمعروف او نهی عن المنکر کولی شي ((و یکره للخطیب ان یتکلم فی حال الخطبة الا ان یکون امرا بمعروف کذا فی فتح القدیر)) (فتاوی عالمگیری ۹۴/۱ باب الجمعة) فقط والله اعلم۔

ـ د خطبو تر منځ ناسته :

(۱۲۳ سوال) که د جمعې او د اخترونو خطبو تر منځ جلسه (ناسته) ونه کړی نو څه باک شته ؟

(جواب) قصداً جلسه نه کول بد او مکروه دی ((والاصح انه یکون مسیئاً بترک الجلسة بین الخطبتین کذا فی القنیة)) (فتاوی عالمگیری ۹۴/۱ باب الجمعة) فقط

ـ خطیب امساء په کوم لاس کی ونیسي ؟

(۱۲۴ سوال) خطیب د جمعې او اخترونو کی امساء ښی لاس کـی ونیســي یـا چـپ لاس کی ؟

(جواب) دواړه صورتونه جائز دی چاته چې کوم صورت موافق وی په هغه دې عمل وکړی ، که خطبه په لاس کی نه وی نو بیا امسا ښی لاس کی نیول اولی دی او که د خطبې کتاب یې لاس کی وی نو بیا به امسا کس لاس کی ونیسي :

((و فی الحاوی القدسی اذا فرغ المؤذون قام الامام والسیف فـی یسـاره وهـو متکـی علیه (مراقی الفلاح ص ۲۹۸ باب الجمعة بحر الرائق ص ۱۴۸ ج ۲)

و ینبغی له ان یاخذ السیف او العصا او غیرهما بیده الیمنی اذا انها السنة و لان تنـاول الطهارات انما یکون بالیمین والمستقذرات بالشمال و لا حجـة لمـن قـال انـه یاخـذه بالیسار لکونه الیسر علیه فی مناولته اذا اراد احد اغتیاله لان هذا المعنـی ممـا یختـص بالامراء الذین یخافون علی انفسهم الغیلة و هذا مامون فی هـذا الزمـان فـی الغالـب اذان الامام لیس له تعلق بالامارة فی الغالب حتی یغتاله احد)) (کتـاب المـدخل ص ۷۴ ج ۲)

ـ خطبه په کومه ژبه ولوستل شي ؟

(۱۲۵ سوال) دلته زمونږه په ځای کـی د جمعـې خطبـه عربی‌کـی خـو ورسـره اردو ترجمه هم لوستل کیدو مګر پدې کی د زیات وخت لګیدو په وجه خلک ستړی شول نو امام اردو ترجمه پریښوده لیکن خو رضاخانی (بریلوی) حضـرات اردو ویلـو لپاره

زور ورکوی نو اوس امام څه وکړی یواځی عربی خطبه ووایی یا اردو ترجمه هم ورسره شامل کړی ؟ سنت څه دی دلیل سره جواب راکړئ.

(جواب) لدې حقیقت نه انکار نشي کیدی چې د رسول الله (ص) ټولی خطبی په عربی کی وی صحابهٔ کرام د جزیرة العرب نه نورو ملکونو ته لاړل او د هغه ځای اوسیدونکی د همدغو صحابه کرامو او ددوی نه وروسته د تابعینو او تبع تابعینو څخه مستفیض کیدو سره مسلمانان شول ، پدې نوی مسلمان شوو قومونو کی د تعلیم ... مسائلو او د احکامو د تبلیغ ډیر سخت ضرورت ؤ په هغه زمانه کی نه اخبارونه وو او نه رسائل او نه چاپ خانې وی چې دینی کتابونه پکې شائع کیدلی ، یواځی د وعظ او تقریر او درس و تدریس په ذریعه د احکامو او مسائلو تبلیغ کیدو ددې ټولو ضرورتونو باوجود د صحابهٔ کرامو ، تابعین ، تبع تابعین ، محدثین حضرات ، مجتهدین متقدمین او متاخرینو فقهاؤ کی د چا نه هم ندی ثابت چې دوی د جمعې یا د اخترونو خطبی د عربی نه غیر په بله ژبه کی لوستلی وی او یا یې ددې هدایت کړی وی ، اوس ددې خبرې تحقیق پکار دی چې ایا دا یوه اتفاقی خبره ده چې بغیر د سوچ او فکر نه د عادت یا د رسم او رواج په طور باندې کیدلو او د شرعی اصولو او مصالحو په لحاظ سره هیڅ کوم اهمیت یې نه لرلو ؟ یا ښه سوچ و فکر یوه طریقه وه او خاص مصلحت ؤ چې د هغې په وجه قصداً داسې وکړی شو چې د جمعې او د اخترونو خطبی خاص په عربی کی لوستل کیدی ؟ ددې اول جواب خو دا دی : کوم عمل چې پدې طریقه د سلف صالحینو په هر دور او هره طبقه کی پابندی سره شوی وی ، هغه واجب الاتباع وی هغه اتفاقی یا رسم و رواج ګڼلو سره له نظره نشي غورځولی لکه چې علماؤ عربی ته هم هغه حیثیت ورکړی کوم چې د خطبی نورو اجزاؤ یعنی حمد و ثنا ، شهادتین ، په رسول الله باندې درود شریف او د خلفاء راشدینو تذکره وغیره ته ورکړی دی ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمایی : ((چون خطب آنحضرت (ص) و خلفاء و هلم جراً ملاحظه کردیم تنقیح آن وجود چند چیز است : حمد ، شهادتین و صلوة بر آنحضرت (ص) ـ الی آن قال ـ و عربی بودن نیز بجهت عمل مستمر مسلمین در مشارق و مغارب باوجود آن که در بسیاری اقالیم مخاطبان عجمی بودند)) (مسوی مصفی شرح موطاء امام مالک ۱۵۴/۲ کتاب الجمعة)

یعنی کله چې د رسول الله (ص) د خلفاء راشدینو ، صحابه کرام، تابعین ، تبع تابعین او مجتهدین ، محدثین وغیره رحمهم الله د خطبو تجزیه وکړی شی نو دا خبره ثرینه

واضحه کېږي چې پدې خطبو کی یو څو څیزونه ضرور وو : مثلاً د الله تعالی حمد . شهادتین . درود شریف د خلفاء راشدینو تذکره ، او ددې خطبو په عربی ژبه کی کېدل ، د عربی کیدو د اهمیت اندازه لدینه هم کیږي چې باوجود ددینه چې ډیرو ملکونو کی ددې خطبو مخاطبین عجمي خلک وو (چې په عربی نه پوهېدل) لیکن شرق او غرب په ټولو اسلامی ملکونو کی د مسلمانانو مستمر او دائمی عمل دا پاتې شوی چې خطبه په عربی کی لوستل شوی (۱۵۴/۱)

لهذا دا چې دغو خطبو لپاره عربی ژبه یواځې اتفاقی کار نـدی بلکـی دیته هـم د خطبې نورو اجزاؤ او شرطونو حیثیت ورکړی شوی .

(۲) ددې تعبیر دا هم کېدی شي چې عربی ژبی ته اسلامی ملت لپاره هغه اهمیت حاصل دی کوم چې د یو حکومت سرکاری ژبی ته حاصل وی ، او دا اهمیت لن هم باقي دی ، او لکه څنګه چې قرآن حکیم د اسلامی ملت دستور او اساسی قانون دی او د هر مسلمان د ملی حیات رشته قرآن حکیم سره ټړل شوی ، د قرآن کریم د ژبی سره هم کم له کمه دومره تعلق ضروری دی چې د جمعې او اخترونو پشان ملی او مذهبی اجتماع ګانو په خطبو کی دا ژبه استعمال کړی شي .

(۳) بنیادی خبره دا ده چې پخپله د خطبی په حقیقت باندې غور وکړی شی ، ایا دا یواځې وعظ او تقریر دی ، یا د شریعت په نظر کی ددې حقیقت بل څه دی ، علماؤ دا هم فرمایلی دی چې د جمعې په ورځ د څلور رکعتو په ځای یواځې دوه رکعته پاتې کړی شوی او د دوه رکعتو ځای خطبی ونیولو (البحر الرائق ۱۴۷/۲)[1] یعنی خطبه د لمونځ درجه لری ، نو لکه څنګه چې په مانځه کی خبری حرامی دی همدا شان د خطیب د کلام لپاره هغه ژبه ضروری ده کوم چې مانځه لپاره ده.

(۴) قران کریم د خطبی نه په ذکر الله سره تعبیر کړی دی (فاسعوا الـی ذکـر الله) (سورت جمعه) قال الحافظ عماد الدين بن كثير فی تفسيره المراد من ذكر الله الخطبة و قال السرخسی و لنا ان الخطبة ذكره (المبسوط ۲۶/۲ باب الصلوة الجمعة)

---

[1] و فی المضمرات معزياً الی افراد و هل تقوم الخطبة مقام الركعتين اختلف المشائخ عنهم من قال تقوم و هذا لا تجوز الا بعد دخول الوقت الخ باب صلوة الجمعة .

نو لکه څنګه چې بسم الله ، اعوذ بالله ، تسبیح ، تحمید ، التحیات وغیره د الله ذکر دی او په اتفاق سره دې لپاره عربی ژبه استعمالیږي د غیر عربی تصور هم نـه کیږي همدا شان خطبی لپاره هم عربی ژبه استعمالول پکار دی .

(۵) د وخت پابندی چې د جمعې په وخت کـی وی د زوال نـه مخکـې نـه وی ، د جمعې مانځه نه مخکې وی ، که د جمعې مانځه نه وروسته خطبه ولوستل شـوه نـو لمونځ نه کیږي مخاطبین سړی وی که یواځې ښځې وی نو خطبه نه صحیح کیږي ، مخاطبین باید چې واوریدلی شی ، که د شور شغب په وجه او یا پـدې بنـا چـې تـول کانه دی وانه وریدلی شی بیا به هم خامخا خطبه ولوستل شـي ، دغـه شـرطونه او احکام هم واضح کوی چې خطبه عبادت او ذکر ده که یواځې وعظ او تقریر وای یا د وعظ کیدو شان غالب وای نو بیا به دا شرطونه او احکـام نـه وو ، ددغـو وجوهـاتو او **ددغـی غوښتنو له مخې د فقهاء کرامو فیصله ده چې د جمعې او د اخترونو خطبه پـه عربی کی پکار ده ، عربی نه علاوه په بله ژبه کی خطبه لوستل مکروه تحریمی دی :**

((فانه لا شک فی ان الخطبه بغیر العربیه خلاف السنة التوارثة من النبی صلی الله علیه وسلم و الصحابة رضی الله عنهم اجمعین فیکون مکروها تحریما . عمدة الرعایـة شـرح الو ...... قایة ج ۱ ص ۳۴۲ باب صلوة الجمعة))

یعنی پدې کی هیڅ شک او شبهه نشته چې د عربی نه علاوه کومه بله ژبه کی خطبـه لوستل د هغه سنت او طریقی نه خلاف دی کوم چې د رسول الله (ص) او د صـحابه کرامو له دور نه متواتر او مسلسل طور سره را روانه ده ، لهذا مکروه تحریمی ده ،

غیر حنفی فقیه او محدث امام نووی شافعی رحمه الله په کتاب الاذکار کی فرمایی :

((یشترط کونها بالعربیة))

یعنی د خطبی لپاره دا شرط دی چې دا به عربی ژبه کی وی (شـرح احیـاء العلـوم للزبیدی (۳۲۶/۳)

او دا خبره چې عربی خطبی سره اردو ترجمه هم وویل شي نو اولنی قباحت خـو دا دی چې دا د سنت متواتره او متوارثه نه خلاف دی لهذا مکـروه دی ، اوبـل دا غیـر دینی کار به هم خلک دینی کار وګڼی کوم چې د بدعت حقیقت دی او ددې ګرامی ارشاد ((من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد)) په موجب قابل درد او ناقابل قبول دی ،

او دینه علاوه بله خرابی دا ده چې پدې صورت کی خطبه اوږدیږی یعنـی دو چنـده وخت به لګی ، سنت دا دی چې دواړه خطبی د طوال مفصل لـه یـو سـورت (مثلا سورت قاف یا سورتِ ملک) نه زیات نه وی : ((و تکره زیادتهما علـی قـدر سـورة مـن طوال المفصل)) (در مختار ص ۷۵۸ باب الجمعة)

حضرت عبـد الله بـن مسـعود (رض) د خطبـی اوږدوالـی د فتنـی علامـه او د ظـالم حاکمانو طریقه ښودلې ده :

((یطیلون الخطبة و یقصرون الصلوة)) (موطاء امام مالک ص ٦١)

نو که عربی سره ترجمه هم ولوستل شي نو خامخا به اوږدیږي کوم چې مکـروه دی ، او پاتې شو د تعلیم و تبلیغ او د وعظ د نصیحت ضرورت نو دې لپاره هم هغـه طریقه اختیارول پکار دی د کومې اثار چې د صحابه کرامو (رض) مبارک دور کی ملاوېږي : مثلاً :

(۱) د حدیثو مشهورکتاب مستدرک حاکم کی دی چې حضرت ابو هریرة (رض) به د جمعې په ورځ د خطبی نه مخکې منبر په خوا کی ودریدو او حدیثو نه به یې بیـانول او بیا به امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق (رض) خطبه لوستله (۱۰۸/۱) او (۵۵/۳)

(۲) حضرت ابو الضراری (رح) فرمایی چې حضرت عبـد الله بـن بسـر (رض) بـه د جمعې په ورځ او وعظ کولو او کله چې به خطیب خطبی لپاره تشریف راوړلو نو وعـظ به یې بندولو (مستدرک حاکم (۲۸۸/۱)

(۳) حضرت تمیم داری به د حضرت فاروق اعظم او حضـرت عثمـان (رض) پـه دور خلافت کی د خطبی نه مخکې وعظ کولو ، (مسند امام احمد ۴۴۹/۳ ، اقامـة الجمعـة ص ۵ ، موضوعات کبیر ملا علی قاری ص ۱۴ ، الاصابة فی تذکرة الصحابة ۱۸۴/۱)

ستاسو امام صاحب د مبارک باد قابـل دی چـې د اردو خطبـی رواج یـې پرینـود او خالص عربی خطبه یې رواج کړه ، دا لکه د یو سنت ژوندی کول دی او پـه حـدیث کی دی چې د مړ سنت ژوندی کول د سلو شهیدانو د اجر او ثواب حقدار ګرځی ، او په جنت کی به د رسول الله (ص) ملګری وی (مشکوة شریف ص ۳۰ باب الاعتصـام بالکتاب والسنة)

رضا خانی حضراتو ته مناسب نه دی چې پداسې نیک کار کـی رکـاوټ جـوړ شـي او کوم سنت چې ژوندی کړی شوی د هغه (معاذ الله) دوباره دفنولـو کوشـش وکـړی ،

ددوی ملي شوی مذهبی رهنما (رضا خانی علماء) هم د غیر عربی خطبی ویلو نه د سنت متوارثه خلاف او مکروه وایی

- د مولانا احمد رضا خان صاحب فتوی وګورئ:

(سوال) د جمعې خطبه په عربی کی اردو ترجمې سره لوستل صحیح دی یا نه؟
(جواب) (۱) په خطبه کی د عربی نه علاوه بله ژبه استعمالول مکروه او خلاف سنت دی د فتاوی افریقی ص ۳۵، السنة الانیقة ص ۳۴ او ص ۳۵، احکا شریعت ۳۱/۲)
دویم فتـوی (۲) دواړه صـورتونه د سـنت خـلاف دی، غیـر عربـی ژبـه خطبـه کـی استعمالول دسنت متوارثه پریښودل دی (احکام شریعت ۹۷/۲)
د رضا خان ډلی پیشوا مولوی ابو الاعلی امجد علی صاحب فتـوی هـم لانـدې ذکـر کېږي:
(۳) غیر عربی ژبه د خطبه ویل او یا عربی سره بله ژبـه خطبـه کـی ګـډول د سـنت متوارثه خلاف دی (بهار شریعت ۹۵/۴)فقط والله اعلم.

- د خطبی لوستلو طریقه:

(۱۲٦ سوال) زمونږ د کلی امام صاحب د خطبی په وخت نبی او ګس طرف تـه مـخ اړوی لکه واعظ چې دواړه طرف مخ اړوی او خبرې کوی او طرز یې هـم د واعـظ او مقرر پشان دی یواځی لاس نه خوځوی نو ایا پدې کی شرعاً څه باک شته؟
(جواب) په حدیث شریف کی دی: کله چې بـه رسـول الله (ص) خطبـه ویلـه نـو سترګی مبارکی به سری شوی او اواز به یې اوچت شو او د کلام په طرز کی به شدت او سختی راتلو او داسې ښکاریده چې کوم لښکر حمله کونکی دی او دې خلک لدې عظیمی خطری نه خبروی (مسلم شریف ۲۸۴/۱ کتاب الجمعة)
د جوشی مقررینو پشان به ده (ص) لاسونه نه خورول البتـه د پوهولـو او خبرولـو پـه موقع باندې د شهادت په ګوته اشاره کوله [1] لهذا کـه عـالم خطیـب د موقـع مطـابق حاضرینو ته خطاب کوی او ترغیبی مضمون د ترغیـب او ترهیبـی مضـمون د تنبیـه او ترهیب په انداز کی پیش کړی نو جائز او مسنون دی لیکن نبی او ګس طرف تـه مـخ

---

[1] - عن عمارة بن زويبة انه راى بشر بن مروان على المنبر رفعا يديه فقال قبح الله هاتين اليدين لقد رايت رسول الله صلى الله عليه وسلم ما يزيد على ان يول بيده هكذا و اشاره باصبعه المسبحة رواه مسلم، مشـــكوة بــــاب الخطبة والصلوة ص ١٢٤.

گرخول د رسول الله (ص) نه ثابت ندی ، په ((بدائع)) وغیره کی دی چې رسول الله (ص) به د خطبې په وخت کی قبلې ته شاه کولو او خلکو تـه مخامخ ودریدو (۱ ۲۶۲) [2] پدې وجه علامه بن حجر وغیره محققین ښی او گس طرف ته مخ گرخولـو ته بدعت وایی شامی (۷۵۹/۱)

البته مخامخ ودریدو سره ښی او گس طرف ته کتـو کـی څـه بـاک نشـته (رد المختار ۷۵۹/۱) [3]

او دا هم ښکاره ده چې د ترغیب او ترهیب مضامین هغه سړی صحیح انداز کـی ادا کولی شی چې د معنی او مضمون نه واقف وی ، نا واقف شخص داسې غلطی کـولی شی چې د واقف په نظر کی ښندونکی وی ، لهذا په خطبـه کـی هـر یـو انـداز چـې اختیارولی شی باید په سوچ او فکر سره اختیار کړی شی ، فقط والله اعلم.

ـ د خطبې نه وړاندې دینی احکامو بیان او وعظ :

(۱۲۷ سوال) د موجوده دور د مسلمانانو حالت ډیر زیات په ښکته کیدو روان دی ، د دینی احکامو او مذهبی تعلیم نه د بې خبرې په بناء د بې دینۍ زهر قاتـل ایمـان او عقیدی سره بربادوی ، د کلو او باندو د حالت نه خو الله تعالی پناه راکړی په میاشـتو بلکی ټول کال کی وعظ اوریدل نـه نصیب کیږي ، د جمعې پـه ورځ د مانځـه نـه وروسته خلک نه ایسارېږي که د خطبې نه مخکې لس ، پنځلس منټه دینی احکام بیان کړی شی نو حاضرین به ډیر څه زده کړی لیکن ځینی حضرات دیته ناجائز او بـدعت وایی او استدلال کوی چې په حدیث کی د جمعې په ورځ د جمعې مانځه نه مخکې د حلقو جوړولو نه منع شوی دی ، او ځینی حضرات دا نفل لمـونځ او تـلاوت وغیـره کی خلل گنړلو سره مخالفت کوئ ، لهذا ددې مشکل حل راته بیان کړئ .

[2] ـ و منها ان یستقبل القوم بوجهه و یستدیر القبلة لان النبی (ص) هکذا خطب صلوة الجمعة .

[3] ـ تنبیه ما یفعله بعض الخطباء من تحویل الوجه جهة الیمین وجهة الیسار عند الصلوة علی النبی صلی الله علیه وسلم فی الخطبة الثانیة لم اد من ذکره والظاهر انه بدعة ینبغی تر که لئلایتو هم انه سنة ثم رایـت فی المنـهـا ج النووی قال و لا یلتفت یمینا و شمالا فی شئ منها قال ابن حجر فی شرحه لان ذلک بدعة و یؤخذ ذلک عندنا من قول البدائع و من السنة ان یستقبل الناس بوجهه و یستدبرا القبلة لان النبی صلی الله علیه وسلم کـــان یخطـب هکذا باب الجمعة .

، جواب ، که لمونځ گذاران راضي وی نو د دویم اذان (یعنیٰ د خطبې اذان) نه مخکې مختصر ډول سره ضروری مسائل او دینی احکامو په بیانولو کی څه باک نشته . جائز بلکې مستحب دی د صحابه کرامو د عمل نه ثابت دی ، بدعت نه دی . حضرت ابو هریرة (رض) به د جمعې په ورځ د خطبی نه وړاندې د منبر په خوا کی ودریدو سره حدیثونه بیانول او وروسته به سیدنا عمر فاروق (رض) خطبه ورکوله ، مستدرک حاکم ۱/۱۰۸)

همدا شان د نوو صحابه کرامو باره کی هم روایتونه راغلی دی مثلاً حضرت تمیم داری (رض) به د امیر المؤمنین فاروق اعظم او حضرت عثمان رضی الله عنهما په دور خلافت کی، د خطبی نه مخکې بیان کولو (مسند احمد ۱/۴۴۹ ، اقامة الحجة ص ۵)
یقیناً د جمعې نه مخکې حلقه جوړولو سره کیناستو نه په حدیثو کی منع راغلی دی لیکن دا هم هر مجلس لپاره ندی او نه لدینه بیان او تقریر ناجائز والی ثابتېږي په کوم کې چې مسائل او احکام بیانېږي ، حضرت امام غزالی ددې حدیث نقل کولو نه وروسته فرمایی که چیرته کوم عالم د الله پاک نعمتونه او عذابونه بیانوی او د الله د دین خبرې کول او په جامع جومات کی د جمعې مانځه نه مخکې وعظ او تقریر کوی نو هلته کیني او واوری ، پدې کی دا فایده به هم وی چې جامع جومات ته اول وخت کی ورسیٔ او د دین خبرې به هم واوریٔ چې آخرت لپاره ډیره ده کوی . او بیا فرمایی داسې علم ته کیناستل او اوریدل په نفلو کی مشغولیدو نه افضل دی ، لکه چې صدیق اکبر (رض) روایت کوی چې علمی مجلس کی شرکت کول د زرو رکعتو نفلو نه افضل دی (احیاء العلوم ۱/۱۰۷ ترتیب درجات اعتقاد)
د پورتنی تفصیل او صحابه کرامو د عمل نه ثابت شو چې د جمعې په ورځ حلقه جوړولو سره کیناستل مطلقاً منع ندی بلکی داسې حلقی منع دی چې قصی او د دنیا خبرې پکې کېږي او یا د هغه په وجه د خطبی او لمونځ په اهتمام او اجتماع او خطبه اوریدو په شوق او ذوق کی خلل واقع کېږي ، لیکن داسې مختصر بیان چې هغه کی مسائل او احکام یا فضائل اعمال بیان کړی شی نه خلاف سنت دی او نه ممنوع ، علامه زبیدی (د احیاء العلوم شارح) د جمعې په ورځ قبل الزوال د دینی مجلس مشوره ورکولو سره لیکی : د اوریدونکو د احوالو له تبدیلی څخه په وخت کی هم تبدیلی کیدی شی ، نوموړی علامه د ابن ابی شیبة په حواله نقل کوی چې حضرت سائب (رض) حضرت عبد الله بن بسر (رض) ، حضرت ابن عمر (رض) او

حضرت ابو هریره (رض) د جمعې نه مخکې دینی مجلس جائز ګڼی (شرح احیاء العلوم ۳ ۲۷۷ ترتیب درجات اعتقاد)

په هر حال د خطبی نه مخکې بیان او تقریر کول بغیر د څه جرح نه جائز دی مګر دا به لازم نه ګرځول کیږي کله کله پریښودل هم پکار دی تر څو خلک یې ضروری ونه ګڼی ، بیان به مختصر وی او پداسې وخت به یې ختموی د خطبی د اذان نه مخکې څلور رکعته سنت ادا کړی شی ، بیا د جمعې خطبه هم مختصر پکار ده تر څو خلک ستړی او تنګ نشي ، او سنت هم دا دی چې خطبه به مختصر وی ، او بهتر دا دی چې خطیب او مقرر دواړه بیل وی ، کوم حضرات چې د خطبی نه مخکې په نفلو ، تلاوت وغیره کی مشغولوی هغوی ته لدې تجویز او طریقی سره مخالفت کول ندی پکار . ددینی احکامو زده کولو ډیر زیات فضیلت راغلی ، د طبرانی روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : د فقه په مجلس کی شاملیدل د شپیتو کالو عبادت نه افضل دی او په ابن ماجه کی حدیث دی چې رسول الله (ص) حضرت ابو ذر (رض) ته وفرمایل : ته چې یو ځای ته تلو سره یوه دینی مسئله زده کړی (بیا په هغه عمل وشي یا ونه شي) دا تا لپاره د زرو رکعتو نفل کولو نه افضل دی ، ابن ماجه ص ۲۰ باب فضل من تعلم القرآن و علمه)

(مطلب دا دی چې دا زده کړه پخپله دومره لوی عبادت دی)

د ابو ذر (رض) نه دا هم نقل دی چې فرمایی : دینی علم مجلس کی حاضریدل د زرو رکعتو نفلو نه افضل دی ، چا عرض وکړ چې د قرآن پاک له تلاوت نه هم ؟ وی فرمایل : قرآن د علم نه بغیر مفید کله وی ؟.

د حضرت ابن عباس (رض) نه روایت دی چې د شپې لږه حصه کی ددین خبرې زده کول او ښودل د ټولی شپې عبادت نه افضل دی (مشکوة ص ۳٦ کتاب العلم)

په فتاوی سراجیه کی حدیث بیان شوی دی چې د دینی خبرو په زده کولو کی یوه ورځ تیرول د الله تعالی په نزد د لسو زرو کالو عبادت نه افضل دی

((و یوم فی طلب العلم افضل عند الله تعالی من عبادة عشر الاف سنة)) (فتاوی سراجیه ص ۱۵۸)

په فتاوی عالمګیری کی دی : په علم کی سوچ او فکر کول د پنځه زره کرته ((قل هو الله احد ویلو نه بهتر دی : ((و عن ابن مقاتل النظر فی العلم افضل من قراة قل هو الله احد خمسة الاف مرة کذا فی التتارخانیه))

که دا طریقه جاری شی نو د هغه چا تسلی به هم وشـي چـې د اردو خطبـی مطالبـه کوی یا د عربی سره د اردو خطبه یا نظم وغیره لولی کوم چې خامخا بدعت او مکروه دی . فقط والله اعلم.

ـ د خطبه باره کې زیات وضاحت :

(۱۲۸ سوال) دلته د بهروج ضلع دیاورا کی مولوی لکهنوی صاحب نه د خطبی بـاره تپوس وشو او هغه چې کوم جواب ورکړ هغه ستاسو په خدمت کی وړاندې کوم چـې دا جواب صحیح دی یا نه؟ دلته پدې باره کی کافی اختلاف شروع دی ،

(سوال) پدې باره کی دینی علماء څه فرمایی چې دلته زمونږ په ځای کی به خطبـه په عربی او اردو دواړو ژبو کی ګډ ویل کیده او اوس په عربـی کـی ویـل کبـړي نـو اوریدونکی وایی چې مونږ وربانديې نه پوهېږو نو د خطبی په منځ کی اردو ویل جائز دی یا ناجائز ؟ د معتبرو کتابونو په حوالو سره ددی جواب راکړی :

(جواب) د عربی خطبی په منځ کی اردو وغیره د اوریـدونکو ژبـه کـی ویـل د امـام اعظم صاحب په نزد صحیح دی وګورئ په نور الایضاح کی امام اعظم (رح) فرمایی: خطبه د وعظ په شان د اوریدونکو په ژبه کی پکار ده ، خلاف سنت ده مګـر جـائز ده او پدې زمانه کی احکام ښـودل ضـروری دی لهـذا پـه اردو کـی لوسـتل پکـار دی. (احقر العباد سید محمد عزیز حسن عفی عنه).

(جواب) د جمعې خطبه په حقیقت د الله تعـالی ذکـر او عبـادت دی او عبـادت پـه مذهبی او سرکاری ژبه کی کیدل ضروری دی ، خطبه د الله تعالی ذکر او عبادت دی ددې دلیل دا قول د الله تعالی دی ((فاسعوا الی ذکـرالله)) (سـورت جمعـه) او پـه تفسیر ابن کثیر کی دی : ((فان المراد من ذکر الله الخطبة))

یعنی په ایت کریمه کی د ذکر الله نه مراد خطبه ده ، او فقهاء کرام فرمـایی : ((و لنـا ان الخطبة ذکر)) (المبسوط ۲٦/۲ باب صلوة الجمعة)

یعنی زمونږ دلیل دا دی چې خطبه ذکر دی ، او ډیرو فقهاؤ همدا خبره لیکلی ده چې د جمعې خطبه د ماسپین د دوه رکعتو په عوض ده (البحر الرائق ۱۴۷/۲ باب الصلوة الجمعة تحت قوله و الخطبة قبلها)

او امام نووی په کتاب لا ذکر کی لیکلی دي ((و یشترط کونها بالعربیة)) یعنـی خطبـه عربی کی کیدل ضروری دی . (شرح احیاء العلوم زبیدی ۳۲٦/۳)

پدې بناء صحابه کرامو په ایران ، روم ، حبش وغیره ملکو کې د هغه خاي په ژبه باندې د پوهیدو باوجود خطبه په عربي کې ورکوله او هغه د اسلام ابتدائی زمانه وه . نوی مسلمانان هم زیات وو او هغوی د موجوده دور خلکو په نسبت تعلیم او تبلیغ ته زیات محتاج وو ځکه چې په هغه زمانه کې نه اخبارونه او رسالې وی او نه چاپ خانې وی. د نشر و اشاعت طریقه یواځې وعظ او خطبه وه ، ددې باوجود یو ځل هم د اوریدونکو په ژبه خطبه نده لوستلې ، لکه چې حضرت شاه ولی الله فرمایي : چې خطبه خاص په عربي ژبه کې کیدل ضروری دی ځکه چې د مشرق نه تر مغرب پورې ټولو مسلمانانو همیشه په عربی کې خطبه لوستلې ده باوجود ددې چې اوریدونکي عجم وو چې په عربي ژبه نه پوهېدل (مصفی شرح موطا ۱۵۴/۱)
لنډه دا چې د قرآن کریم او د رسول الله (ص) او د جنتیانو مبارکه ژبه پرېښودل او په اردو کې خطبه لوستل یا د عربي سره اردوګډول (لکه چې سوال کې ذکر شوی) د رسول الله (ص) سنت او د صحابه کرامو (رض) تابعین ، تبع تابعین ، مجتهدین ، محدثین او د متقدمین او متاخیرینو فقهاو له مسلسل او متفقه طرز عمل (متوارثه سنت) نه خلاف دی لهذا تحریمی او بدعت و ضلالت دی ، په عمدة الرعاية في حل شرح الوقاية کې دی

((فانه لا شک فی ان الخطبة بغير العربية على خلاف السنة المتوارثه من النبـی (ص) واصحابة فيكون مكروهاً تحريماً)) يعنې بغیر د شک غیر د عربي نه په بله ژبه خطبه لوستل د رسول اکرم (ص) او دصحابهٔ کرامو له سنت نه خلاف دی لهذا مکروه تحریمی دی (۲۴۲/۱ کتاب الجمعة)

ـ د اشتباه رفع :

په اردو کې د خطبې سوال عام طور پدې وجه پیدا کېږي چې خطبه وعظ او تقریر ګڼلې شي لیکن حقیقت دا ندی که چیرته خطبه یواځې وعظ او تقریر وای نو بیا به هغه شرطونه دده نه وو کوم چې فقهاء کرامو لیکلي دی مثلاً :

(۱) خطبه د جمعې په وخت کې یعنې د زوال نه وروسته ضروری ده که د زوال نه مخکې خطبه ولوستې شوه نو هغه به معتبر نه وی او دوباره کول یې ضروری دی او که خطبه صرف وعظ د نصیحت وایی نو بیا د زوال نه مخکې بلکې خاص د زوال په وخت کې به هم جائز وو او د دوباره کولو حکم به نه و.

(۲) خطبه د جمعې مانځه نه مخکې لوستل شرط دی او که د جمعې مانځه نه وروسته خطبه وویل شي نو لمونځ نه کېږي او دوباره خطبه ویل ضروری کېږي نو که د خطبې مقصد یواځې وعظ وای نو د مانځه وروسته ویلو سره هم پوره کیده.

(۳) د خطبې په وخت د سړو موجودیت ضروری دی که یواځې ښځو ته خطبه ولوستل شي نو نه کافی کیږي د سړو راتلـو نـه وروسـته دوبـاره خطبـه ویـل ضـروری کېږي.

(۴) که د شور شغب یا کومه بله وجه سره اوریدونکی وا نه وری بیا هم خطبه لوستل کېږي او هغه به معتبر وی .

(۵) که حاضرین ټول کاڼه وی یا ویده وی بیا هم خطبه ویل ضـروری دی کـه پـدې حال کی خطبه ونه ویل شي نو د جمعې لمونځ نه کېږي.

(٦) که د خطبې په وخت کی اوریدونکی ټول عالمان او فاضلان وی یو هـم جاهـل نه وی بیا هم خطبه ویل کېږي او که نه د جمعې لمونځ نه کېږي که د خطبې اصـلی مقصد صرف وعظ و نصیحت وای نو د علماؤ په وړاندې به ددې ضرورت نه ؤ ، او بغیر د خطبې نه به لمونځ صـحیح ؤ ، دې قسـم شـرطونه او احکامونـه معلـومېږي چـې د خطبې اصلی حقیقت د الله ذکر دی البته په دویم درجه ددې مقصد وعظ او نصیحت هم دی ، لهذا د تکبیر تحریمه ، ثنا ، تعوذ ، تسمیه ، تحمیـد ، تسـبیح ، تشـهد ، درود ، دعاء او دعاء قنوت پشان خطبه هم عربی کی لوستل پکار دی که عربی خطبه بانـدې نه پوهېږي نو په مانځه کی چې څه لوستل کېږي په هغه باندې چیرته پـوهېږي ؟ پـه قرآن باندې مونږ چیرته پوهېږو نو ایا دا ټول په اردو ترجمه وایو ؟ ددې مرض اصـلی علاج دا دی چې دومره عربی باید زده کړو چې د خطبې وغیره مطلـب بانـدې پـوه شو، د عبادت صورت مسخ کول ددې علاج نه دی.

په عربی ژبه کی د خطبې یو اهم مقصد او مصـلحت د اسـلامی اتحـاد حفاظـت هـم دی، مسلمان چې د دنیا هر کنج ته لاړ شي دې سره د نورو عباداتو پشـان پـه خطبـه کی هم باید دا محسوس نه کړی چې هغه اجنبی او غریب الوطن (مسافر) دی ، کـه هر ځای کی د هغه مادری او ملکی ژبه کی خطبه ولوستل شي ، نو یو مسلمان ته بل ملک کی د عباداتو په سلسله کی هم غربت او بیګانګی محسوس کېږي نـه بـه هلتـه خطبه ویلی شی او نه به پرې پوهېږي او پدې طریقه اسلامی اتحاد به ټوکړې ټوکړې شي .

د عربی سره اردو ترجمه کول هم مفید ندی ځکه چې اوریدونکی د مختلف ملکونو خلک وي نو د چا په ژبه ترجمه کړی شی ؟ او بل په اردو ترجمې اوږدوالی راځی او په خطبه کی داسې اوږدوالی د سنت خلاف دی او مکروه دی ، په نور الایضاح کی دی ((و یکره التطویل)) یعنی د خطبی اوږدول مکروه دی (ص ۱۲۵ کتاب الجمعة) د حضرت امام اعظم نه چې کوم روایت دی چې هغه غیر عربی خطبه جائز ګنړی د هغه مطلب یواځی دومره دی چې که څوک غیر عربی کی خطبه ولولی نو د جمعې د صحت لپاره چې کوم شرط دی هغه پوره کیږي او لمونځ صحیح کیږي لیکن د ترک سنت په وجه کراهت لازمیږي ، ددې دا مطلب اخستل چې امام اعظم (رح) غیر عربی ژبه کی د خطبی ویلو حکم کړی دی قطعاً غلط دی ، دا خبره لاندنی څو مثالو سره ښه واضحه کیږي :

(۱) خطبه په اودس کی لوستل سنت دی لیکن که چیرته څوک بې اودسه بلکی د غسل نه خطبه ولولی نو د خطبی شرط پوره کیږي مګر خلاف سنت (مکروه تحریمی).

(۲) خلکو طرف ته مخ کولو سره خطبه لوستل سنت دی او که څوک خلکو طرف ته شاه کولو سره خطبه ولولی نو د خطبی شرط پوره کیږي لیکن خلاف سنت او مکروه تحریمی.

(۳) خطبه په ولاړه باندې لوستل سنت دی لیکن که څوک په ناسته باندې خطبه ولولی نو خطبه صحیح کیږي مګر خلاف سنت او مکروه تحریمی دی .

(۴) خطبه کم نه کم باید د تشهد په مقدار ولوستل شي او که د خطبی په نیت فقط الحمد لله ویلو سره کینی بیا هم امام اعظم (رح) په نزد خطبه صحیح کیږي مګر خلاف سنت او مکروه

(۵) پوره او مکمل لباس اغوستو سره لمونځ کول سنت دی که یو سړی د نامه نه تر زنګنو پورې لنګ یا پرتوګ اغوستو سره لمونځ وکړی نو د ستر عورت شرط پوره کیدو سره لمونځ یې کیږي مګر خلاف سنت کیدو په وجه مکروه تحریمی.

لنډه دا چې دا یوه قانونی خبره ده چې پدې صورتو کی چونکی شرط پوره شوی نو د خطبه او د لمونځ فرض پوره کیږي لیکن ددې معنی هرګز دا نده چې (معاذ الله) امام صاحب حکم کړی دی چې بې اودسه یا د جنابت په حالت کی اوریدونکو طرف ته شاه اړولو سره یا د ولاړ په ځای په ناسته او یواځی ((الحمد لله)) ویلو سره خطبه

ولوستل شي امام صاحب ته داسې خبره منسوب کول سراسر بهتان او د امـام د تقـف توهين دی

په خطبه کی له بدعت نه ځان ساتل:

په مجالس الابرار کی دی : هر عبادت کی د بدعت درجه اګر که د اعتقـادی بـدعت له درجې نه کمه ده مګر پدې باندې عمل کول معصيت او ګمراهی ده او خاص چې هغه د سنت مؤکد په خلاف وی (مجلس نمبر ۱۸ ص ۱۲۵)
حضرت مجدد الف ثانی فرمايی : مکروه ته مستحسن ويل ډيره لويه ګناه ده (مکتـوب نمبر ۲۸۸ ج ۱)
د صحابهٔ کرامو او سلف بزرګانو پاک ذوق هيڅ يو خلاف سـنت عمـل نشـي برداشـت کولی اګر که هغه کار په ظاهر کی ډير معمولی وی ، تر دې چې حضـرت عمـارة بـن زويبة (رض) مروان بن حکم په خطبه کی لاس اوچتولو سره په دعاء کولـو وليـد نـو خيری يې ورته وکړی ، چې الله تعالی دې دا دواړه لندﻫ (واړه ، حقير) لاسونه خـراب کړی ، ځکه چې په خطبه کی مونږه رسول الله (ص) په لاسونو اوچتولو سره په دعاء کولو کی هيڅکله ندی ليدلی (ترمذی شريف ص ۶۷/۱ باب ماجاء فـی کراهيـة رفـع الايدی علی المنبر)
يو ځل حضرت کعب بن عجرة (رض) جومات ته ننوت او حضرت عبد الرحمن بن ام حکم يې په ناسته باندې خطبه ويونکی وليد نو وې فرمايل : دا خبيث وګورئ چې په ناسته خطبه وايی (رسائل الارکان ص ۱۱۶ فصل فی الجمعة)
په تفسير عزيزی کی دی : ((و من تهاون بالسنة عقب بحرمان الفرائض)) يعنـی ځـوک چې سنت سپک وګڼی او په ادا کولو کی يې سستی وکړی نو هغه تـه د فرائضـو نـه د محرومئ سزا ملاوېږي يعنی د هغه نه فرائض پاتې کېږي او بالـآخره د کبـائرو مرتکـب ګرځی (تفسير عزيزی ص ۴۳۲ سورت بقرة)
مطلب دا دی چې د سنت په ادا کولو کی سستی هغه مرض دی چې متعـدی کيـدو سره فرضو ته رسيږي او ترک سنت اګر که صغيره وی خو بالآخره هغه کبيره جوړېږي.
حضرت مجدد الف ثانی فرمايی : د رسول الله (ص) حقيقـی پيـروی وکـړی شـی او دده (ص) سنت ادا کړی شی او له بدعاتو نه له مخې لری وګرځی کـه چيرتـه کـوم بدعت د صبح صادق په شان واضح ښکاره شي نو هغه د نظر دوکه ده ځکـه چـې پـه

حقیقت کې بدعت کې هیڅ قسم نورانیت نه وی نه پکې د کوم مرض لپاره دوا ده او نه کوم مریض لپاره شفاء ، (مکتوب نمبر ۱۹ ۲/۳۲)

سید الانبیاء رب العالمین محبوب سره د حقیقی محبت علامه دا ده چې هر څه وی هغه د سنت مطابق وی او که نه کم نه کم د رسول اکرم (ص) د کوم قول یا د فعل خلاف نه وی ، د رسول الله ص) د سنتو نه مخالف عاشق رسول نه بلکې دشمن رسول دی ، د حضرت عبد الله بن مسعود (رض) نه نقل دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دی :

ما نه مخکې هیڅ داسې کوم نبی ندی لیږل شوی چې په امت کی د هغه جواری او اصحاب نه وی او هغوی د خپل نبی په سنت باندې عمل نه کوی او د هغه پیروی نه کوی ورو داسې خلک پیدا شول چې څه وایی په هغه باندې عمل نه کوی او داسې کارونه کوی چې شریعت ورته د هغو حکم نه دی کړی ، څوک چی له داسې خلکو سره په لاس سره جهاد وکړی هغه مؤمن دی او څوک چې ورسره په ژبې سره جهاد وکړی هغه هم مؤمن دی او څوک چې ورسره په زړه سره جهاد وکړی هغه هم مؤمن دی او لدینه وروسته په چا کی د وری رانی قدری هم ایمان نشته (ازالة الخفاء عمدة المطابع لکهنو ص ۱۳۹).

د اختر د خطبې اوریدو طریقه :

(۱۲۹ سوال) د اختر لمانځه نه فارغیدو سره خلک مخکې وروسته کېږي او خطبې وخت کی صفونه سیده نه پاتې کېږي ددی څه حکم دی ؟ آیا د خطبی آوریدو لپاره مخکې کېدی شو ؟

(حواب) د اختر مانځه نه وروسته د خطبی په وخت کی صفونه برابر ساتلو سره کیناستل بهتر دی ، صحابه کرام (رض) د صفونو برابر ساتلو سره خپل خپل ځای باندې کیناستل ، (بلوغ المرام ص ۵۵)

د خطبی وخت کی تقریر اوریدل ښه دی یا د قرآن پاک تلاوت؟

(۱۳۰ سوال) د جمعې د خطبی نه مخکې مختصر بیان کېږي ددې اوریدل بهتر دی یا د قرآن پاک تلاوت ؟

(جواب) د قرآن د تفسیر او مطلب نه نا واقف عوامو لپاره بیان اوریدل او دینی احکامو نه خبریدل بهتر دی تلاوت خو وروسته هم کیږي .

((قال فی الدر مختار عظة و قرآن فاستماع العظة اولی (قوله فاستماع العظة اولی) الظاهر ان هذا خاص بمن قدرة له علی فهم الآیات القرانیة والتدبر فی معانیها الشرعیة والاتعاظ بمواعظها الحکمیة اذ لا شک ان من له قدرة علی ذلک یکون استماعه اولی بل او جب بخلاف الجاهل فانه یفهم من المعلم والواعظ ما لا یفهم من القاری فکان ذلک انفع له (در مختار مع الشامی قبیل ، باب الوتر والنوافل ص ۲٦۰ ج ۱))

والله اعلم.

د خطبی د اذان جواب ورکولو حکم :

(۱۳۱ سوال) د جمعې د خطبی نه وړاندې منبر په خوا کښی د خطيب په وړاندې آذان کیږي ددې جواب ورکول او د آذان نه وروسته دعاء کول مکروه ده یا نه؟ وضاحت وکړی .

(جواب هو الموفق للصواب) دا مسئله همیشه د علماء کرامو لـر مـنـځ اختلافی او معرکة الآراء پاتې شوې ده ، د خینو په نزد ((اذا خرج الامام فلا صلاة و لا کلام)) (هدایة ۱۵۱/۱ کتاب الجمعة)

حدیث په وجه د خطبی د اذان اجابت ممنوع او مکروه دی او دخینو په نزد د ((اذا سمعتم النداء فقولوا مثل المؤذن)) د حدیث په عموم کـی د خطبـی د اذان جـواب ورکول هم داخل دی . یعنی دغه حضرات د جواب ورکولو قائل دی (بخاری شریف ۸٦/۱)

او د حضرت معاویه (رض) حدیث ددې تائید کوی ،

((عن ابی امامة بن سهل بن حنیف قال سمعت معاویة بن ابی سفیان رضی الله عنهما وهو جالس علی المنبر اذن المؤذن فقال الله اکبر الله اکبر فقال معاویة رضی الله عنه الله اکبر ، الله اکبر فقال اشهد ان لا اله الا الله فقال معاویة و انا قال اشهد ان محمداً رسول الله (صلی الله علیه وسلم) قال معاویة و انا فلما نقضی التاذین قـال یـا ایها الناس انی سمعت رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم علـی هـذا المجلـس حـین اذن المؤذن یقول ما سمعتم منی عن مقالتی))

یعنی : حضرت معاویة (رض) په منبر باندې د خطبی د اذان جواب ورکړ او بیا یې په آخر کی وفرمایل : رسول الله (ص) مې پـدې طریقـه جـواب ورکـولـو باندې پخپله

شوی دی ، صحیح بخاری شریف ص ۱۲۵ باب یجب الامام علی المنبر اذا سمع النداء . اول جلد)

د حضرت معاویه (رض) د حدیث په وجه د خطبی د آذان جواب ورکول صحیح معلومیږي لکه چې علامه لکهنوی رحمه الله فرمایي :

((فلا تکره اجابة الاذان الذی یؤذن بین یدی الخطیب و قد ثبت ذلک من فعل معاویة فی صحیح البخاری (عمدة الرعایه ص ۲۴۳ ج ۱ کتاب الجمعة)

و قد ثبت فی صحیح البخاری انه معاویة رضی الله عنه اجاب الاذان وهو علی المنبر و قال یا ایها الناس انی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم علی هذا المجلس حین اذن المؤذن یقول مثل ما سمعتم منی مقالتی فاذا ثبت الاجابةعن صاحب الشرع و صاحبه فما معنی الکراهة ۱۲ (التعلیق الممجد علی موطا محمد رحمه الله ص ۱۰۷)

قلت قد ثبت اجابة الثانی عن النبی صلی الله علیه و آله وسلم و معاویه رضی الله عنه علی ما اخرجه البخاری فان الکراهة)) (نفع المفتی والسائل ص ۱۰۳)

په اخر کی د وخت فقیه د هند مفتی اعظم حضرت العلام المفتی محمد کفایت الله فیصله هم واورئ :

((متاخرینو حنفیانو د حضرت معاویه (رض) د حدیث په وجه د منبری اذان د جواب اجازه کړې ده لیکن د ائمه و په اتفاق د لمونځ شروع اجازه نشته ، او د زما خاکسار په خیال د منبری اذان د جواب نه علاوه نورو اذکارو کی چوپتیا غوره او مقدم دی ، والله اعلم (محمد کفایت الله غفر له مدرسه امینیه دهلی) (ازالة الاوهام عن مسائل الاحکام از افادات علامه سید قاضی رحمت الله محدث راندیری رحمه الله ص ۱۹) فقط

ـ د خطبی په وخت کی امسا نیول :

(۱۳۲ سوال) د جمعې او اخترونو کی د خطبی په وخت کی په لاس کی امسا نیول جائز دی یا نه؟ بهشتی گوهر کی لیکلی دی چې : ((منقول ندی)) لهذا ددې وضاحت وکړی.

(جواب) د خطبی په وخت کی په امسا وغیره باندې تکیه کول د رسول الله (ص) نه ثابت دی . د ابو داؤد شریف په روایت کی دی : ((فقام متکئاً علی عصا او قوس))

(۱۵٦ باب الرجل یخطب علی قوس)

په مدارج النبوة كى دى : ((و در خواندن خطبه تكيه بـر كمـان يـا عصـا كـردى)) (۳۹۳ باب دهم در انواع عبادات)
يعنى رسول الله (ص) د خطبى په وخت كى په لينده يا امسا باندې تكيه كولو .
سفر السعادة كى دى : په نبوى جومات كى منبر جوړيدو نه مخكې د خطبى په وخت كى په امسا يا لينده باندې تكيه كول د رسول الله (ص) نه ثابت دى . ليكن د منبـر جوړيدو نه وروسته هم رسول الله (ص) په امسا وغيره باندې تكيه كولو يـا نـه؟ ددې تصريح نشته ((و شمشير و نيزه بدست نگرفته بلكه اعتماد بر كمان يا عصاى كـرد بـود كه منبر ساخت اما بعد اتخاذ منبر محفوظ نيست كه بر چيـزى اعتمـاد كـرد نـى عصـا كمان و غير آن)) (شرح سفر السعادة فصل در خطبه نبويه (ص) ص ۲۰۹)
شايد پدې وجه ځينى علماء امسا نيولو ته مكروه وايى ، ليكن صحيح خبره دا ده چې مكروه نه ده لكه د سفر السعادة شارح شيخ عبدالحق محدث دهلو (رح) چې ليكلـى دى ((صحيح آنست كه مكروه نيست او جهت ورود سنت)) يعنى صحيح دا دى چـې مكروه نه ده ځكه چې پـه حـديث كـى ثابـت دى ، (شـرح سـفر السـعادة ص ۲۰۳ ، مدارج النبوة ۳۹۴/۱)
او په زاد المعاد كى دى : ((و كان اذا قام يخطب اخذ عصـا فتوكـا عليهـا وهـو علـى المنبر)) (۴۸/۱)
يعنى كله به چې رسول الله (ص) خطبى لپاره ودريدو نو په امسا باندې به يې تكيـه كوله پداسې حال كى چې منبر باندې به تشريف فرما ؤ.
په شامى كى دى ((ان اخذ العصا سنة كالقيام))
بيشكه د امسا نيول د قيام (ودريدو) پشان سنت دى (شامى ۷۷۲/۱ باب الجمعة)
او همدا شان په المدخل كى دى ((و ينبغى له ان ياخذ السيف او العصا او غيـر همـا بيده اليمنى اذ انها سنة)) (المدخل ۲٦۷/۲ فصل فى صعود الامام على المنبر)
په بهشتى گوهر كى د ذكر شوى مسئلى باره حضرت تهانوى صاحب نه تپوس شوى او په جواب كى يې فرمـايلى دى : د محـيط روايـت مرجـوح دى (يعنـى د سـنت والا روايت) راجح دى كوم چې شامى كى ذكر كړى شـوى او فرمـايلى دى : فـى نفسـه سنت دى غير مؤكد او كه مؤكد وګڼل شي نو بيا مكروه دى (امـداد الفتـاوى جديـد اول جلد عصا گرفتن بوقت خطبه ٦۸۱، ٦۸۲ صفحى)

خلاصه دا ده چې د خطبې په وخت کې په امسا باندې تکیه کول مسنون او مستحب دی او حدیث شریف نه ثابت دی پدې باندې عمل متروک ندی گرځیدلی البته پدې باندې دوام او همیشه والی هم ثابت ندی نو پدېوجه کله کله باید بغیر د امسا نه خطبه ورکوی تر څو خلک ضروری ونه گڼی ، مستحب عمل ضروری گڼل ، او هغه باندې مداوست کول او امسا نه نیونکی ملامتول او ورته بدرد ویل مکروه دی ، البته که کوم خطیب دومره کمزوری دی چې په امسا باندې تکیه کولو نه بغیر ودریدل ورته مشکل وی نو ددې عذر له مخې د هغه په حق کې مکروه هم نه دی ، فقط والله اعلم.

ـ د اختر او جمعې په دویمه خطبه کې لاس اوچتولو سره آمین ویل :

(۱۳۳ سوال) د جمعې او د اختر دویمه خطبه کې د دعاء په وخت حاضرین لاس اوچتولو سره امین وایی ددې څه حکم دی ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) پدې وخت کې لاس اوچتول یا آمین ویل ممنوع دی :

((و ما يفعله المؤذنون حال الخطبة من الصلوة على النبى صلى الله عليه وسلم الترضى من الصحابة والدعاء للسلطان بالنصر ينبغى ان يكون مكروها اتفاقا)) (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۲۸۰ باب الجمعة)

پدې مسئله کې د یوبندی او بریلویانو تر منځ اختلاف هم نشته ، رضا خانی مولوی امجد علی صاحب لیکی : کله چې خطیب مسلمانانو لپاره دعاء کوی نو که اوریدونکی لاس اوچت کړی او آمین ووایی نو گنهگاربږي (بهار شریعت ۱۰۰/۴) فقط

ـ د جمعې په خطبه کې د صحابه کرامو نومونو سره (رضى الله عنهم) ویل :

(۱۳۴ سوال) د جمعې دویمه خطبه کې حدیث شریف راځی : قال النبى (ص) ارحم امتى بامتى ابو بكر ..... الخ په خطبه کې چې ددې حدیث لوستلو وخت کې د حضرت ابو بکر (رض) وغیره نومونه راځی نو خطیب ورسره (رضى الله عنهم)) وایی د یو عالم وینا ده چې یواځی ابو بکر ویل پکار دی رضی الله عنه ویل ندی پکار ځکه کله چې رسول اکرم (ص) دا فرمایلی ؤ نو رضی الله عنهم ورسره نه ؤ فرمایلی نو د رضی الله عنه ویل په حدیث کې اضافه کول دی ، ستاسو په خدمت کې عرض

دی چې زمونږ راهنمائی وکړئ چې صحیح څه دی رضی الله عنه ویل پکار دی یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی.
(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : د جمعې په دویمـه خطبـه کـی د خلفـاء راشـدینو رضی الله عنهم اجمعین او نورو صحابه کرامو د نومونو سـره د ټولـو حضـراتو نومونـه اخستو سره په آخر کی رضی الله عنهم اجمعین یـا رضـوان الله علـیهم اجمعـین ویلـو کومه طریقه چی جاري ده دا بغیر د تردد نه جـائز ده او همـدا ادب دی ، د صـحابه کرامو د نومونو سره رضی الله عنه ویل مستحب دی دیتـه پـه حـدیث کـی اضـافه او زیات نه ویل کېږي ، په در مختار کی دی : ((و یستحب التراضی للصحابة و کـذا مـن اختلف فی نبوته کذی القرنین و لقمان و قیل یقال صلی الله علی الانباء و علیه وسلم کما فی شرح المقدمة للقرمانی (قوله و یستحب الترضی للصحابة) لانهم کانوا یبالغون فی طلب الرضی من الله تعالی و یجتهدون فی فعل ما یرضیه و یرضون بما یلحقهم من الابتداء من جهته اشدا لرضی فهو لاء احق بالرضی و غیر هم لا یلحـق ادنـا هـم ولـو انفق مل الارض ذهبا ذهبی)) (در مختـار ورد المختـار ص ٦٥٩ ج ٥ ، مسـائل شـتی قبیل کتاب الفرائض) فقط والله اعلم.

ـ د جمعې د خطبی نه مخکې د امام منبـر تـه پـه ختـو سـره اردو ترجمه اورول څنګه دی ؟

(۱۳۵ سوال) د جمعې د خطبی نه مخکې امام صاحب منبر باندې ختلو سره په اردو کی ترجمه آوروی بیا اذان کېږي او بیا په عربـی کـی خطبـه وایـی نـو پـه اردو کـی ترجمه اورول بدعت دی یا نه؟
(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : د جمعې پـه ورځ دویـم اذان نـه مخکـې ضـروری احکام یا د خطبی ترجمه مختصر طور سره بیانولو کی څه باک نشـته بلکـې مستحسـن دی که بیان منبر باندې نه وی او بیان کونکی د خطیب نه غیر وی نو بهتر دی تر څو اشتباه نه وی او د بیان او دویم اذان تر منځ یو پنځه منټه وقفه وی تر څو کومو خلکو چې سنت نه وی کړی هغوی سنت وکړی :
((ولا یقعد الی القصاص فی یوم الجمعة فقد کره فانه روی فی الخبر ان النبـی صـلی الله علیه وسلم نهی عن التحلق یوم الجمعة قبل الصلوة الا ان یکون عالما بـالله یـذکر

بامر الله يتفقه في دين الله يتكلم في الجامع بالغداة فيجلس اليه فيكـون جامعاً بـين البكور الى الجمعة والاستماع الى العلم)) (نصاب الاحتساب) فقط والله اعلم.

_ په دویم ځل د اختر لمونځ کول:

(۱۳٦ سوال) پدې مسئله کی دینی عالمان او مفتیان صاحبان څـه فرمایی چې پـه عیدګاه کی یو څو کسانو څخه د اختر لمونځ پاتې شی نو دوی په عیدګاه کی دوباره د اختر لمونځ ادا کولی شي یا نه؟ او که کوم بل ځای کی ادا کړی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) که په عیدګاه او د عیدګاه نه باهر هم ځای نه وی او خلک د مانځه نه پاتې شي نو پاتې خلک په داسې جومات کی لمونځ وکړی چې اختر لمـونځ پکـې نـه وی شوی او که داسې ځای نه وی نو په هال کی دی وکړی خو چې ټولـو تـه د لمـونځ کولو اجازه وی ، په عیـدګاه کـې دوبـاره جماعـت کـول مکـروه دی ، او پـه دویـم جماعت کی جدا امام پکار دی چا چې اول ځل للمونځ کـړی دی هغـه امـام نشـي جوړیدی[1] فقط والله اعلم.

_ د لوبو په میدان کـی لمـونځ کـول بهتـر دی کـه جـامع جومات کی ؟

(۱۳۷ سوال) پدې مسئله کی علماء کرام او مفتیان حضرات څه فرمایی چـې مـونږ د اخترونو لمونځونو لپاره کوم ځای خاص د کلی نه باهر جـوړ شـوی عیـدګاه نـه لـرو بلکی یو کولاو میدان دی چې لوبی پکې کیږي زمونږ د کلی اوسیدونکی د څو کـالو نه پدې میدان کی د اختر لمونځونه ادا کوی ، زمونږ پخوانی جومات د لمونځ ګذارو لپاره ډیر وړوکی ؤ اوس د الله پاک په فضل سره یو نهایت وسیع او عالی شان جومـات جوړ شوی ، د آرام او راحت انتظام پکې هم شته ، او ذکر شوی میـدان هـم د نـوی جومات ته نزدې دی اوس تپوس دا دی چې مونږ لپاره سنت طریقـه څـه ده ؟ پـدې نوی جومات کی د اختر لمونځ ادا کول بهتر دی یا هغه میدان کـی سـنت او افضـل دی ؟ وضاحت وکړی جزاکم الله .

(جواب) عیدګاه د آبادی نه لرې باهر ځنګل کی پکار ده:

---

[1] _ والامام لو صلاها مع الجماعة و فاتت بعض الناس لا تقضيها من فاتته خرج الوقت او لم يخرج هكذا في التبين فتاوی عالمگیری صلاة العيدين ج ۱ ص ۱٥۲ .

((ثم خروجه ما شياً الى الجبانة وهى المصلى العام (در مختار) هوالـذی یکـون فـی الصحراء افاده فی البحر (طحطاوی علی الدر مختار ج ۱ ۵٦۰) (شامی باب العیدین ج ۱ ص ۷۷٦)

که جامع جومات وسیع او لمونځ ګذارو لپاره کافی وی بیا هم عیدګاه تـه تلـل سـنت مؤکد دی . ((و فی التجنیس والخروج الی الجبانة سنة لصلوة العید و ان کان بسـعهم المسجدالجامع عند عامة المشائخ هو الصحیح ا هـ وفی المغرب الجبانة المصلی العام فی الصحراء الخ)) (البحر الرائق ج ۲ ص ۱۵۹ باب العیدین)

ستاسو جومات که ډیر لوی شاندار دی لیکن د مسجد نبوی (علی صاحبها الـف الـف الصلوات والتسبیحات) نه زیات شاندار نشي کیدی هلته د یو لمونځ ثواب د پنځـوس زره لمونځونو برابر دی ، ددی په پرېښودو سره به رسول الله (ص) او صحابهٔ کـرام (رض) د اختر لمونځونو لپاره ځنګل او بیابان ته تلل ، لهذا د آبادی نه باهرد عیـدګاه انتظام پکار ده او کوم میدان چې په سوال کی ذکر شوی هغه هم په آبادی کی دننـه دی او هلته د لوبی او تماشو کار هم کېږي ، پدې وجه بهتر دا دی چې ځو پـورې د عیدګاه انتظام نه وی شوی په جومات کی لمونځ کوی او د عیدګاه جوړولـو کوشـش وکړئ ، فقط والله اعلم.

_ په ښځو باندې د اختر لمونځ شته او دوی عیدګاه ته ځی یا نه؟

(۱۳۸ سوال) په ښځو باندې اختر او جمعې لمونځ واجب ندی لیکن که په کور کـی وکړی نو ثواب ورته ملاوېږي یا نه؟ او که دوی ته بالکل د کولو اجازه نشته ؟ او همدا شان دوی ته د اختر لمونځ لپاره عیدګاه ته د تلو اجازه شته یا نه؟ تفصیل سره جواب راکړی ، جزاکم الله (د بمبئ یوه ښځه)

(جواب) په ښځو باندې د جمعې او د اختر لمونځ ندی واجب ، د فقه معتبـر کتـاب ((مالا بد منه)) کی دی ((نماز جمعه بر طفل و بنده و زن و مسـافر واجـب نیسـت ص ۵۵، نماز عید را شرائط وجود و ادا مثل نماز جمعه استن ص ۵۵)) یعنی د جمعې او د اختر لمونځ په ماشوم ، غلام ، ښځه ، مسافر او مریض باندې واجب نه دی ، او د اختر لمونځ خان خان له کول هم صحیح ندی ، جماعت شرط دی (لکه په جمعه کی) او د ښځو جماعت مکروه دی ، ((جماعت زنان تنها نزد امام ابو حنیفه مکروه اسـت)) (مالا بد منه ص ۳۵) .

په عیدګاه یا جومات کی د اختر لمونځ ادا کیدو نه وروسته ښځی خپلو کورو کی خان خان له د شکرانی په طور نفل لمونځ کولی شی ، او د اختر مانځه نه مخکښې نفل کول ښځو ته هم مکروه او ممنوع دی ، فقط.

(تفصیلی جواب) ښځو لپاره ځو پورې چې کیدې شی مخفی او پټ ځای کی لمونځ کول زیات ثواب لري ، رسول الله (ص) فرمایی : یوه ښځه چې کوټه کی لمونځ وکړی دا د صحن لمونځ نه بهتر دی او په کوټه کی دننه وړه کوټنی کی لمونځ کول د کوټی له لمونځ نه بهتر دی :

((عن النبی صلی الله علیه وسلم قال صلوة المراة فی بیتها افضل من صلاتها فی حجرتها و صلوتها فی مخدعها افضل من صلوتها فی بیتها)) (ابو داؤد ج ۱ ص ۹۱ باب ماجاء فی خروج النساء الی المساجد)

په یو حدیث کی دی چې د ښځو جماعت سره لمونځ کولو په ځای ځان له لمونځ کول (۲۵) پنځه ویشت درجې زیات ثواب لری.(مسند الفردوسی)

بیشکه چې د رسول الله (ص) په دور کی ښځو لپاره په جومات کی له جماعت سره د لمونځ کولو اجازه وه ځکه چې پخپله رحمة اللعلمین موجود وو ، د تعلیم سلسله جاری وه ، نوی نوی حکمونه نازلیدل او هغه پاک او مقدس دور ؤ چې خیر القرون ورته وبل شوی دی ، وروسته خو خرابیانې شروع شوی ، هغه ؤ چې عمر فاروق رضی الله عنه ښځې جومات ته تلو نه منع کړلی او حضرت عائشه رضی الله عنهما هم تائید کړ او وې فرمایل :

که رسول الله (ص) د ښځو دا حالت لیدلی وای کوم چې حضرت عمر (رض) لیدلی دی نو رسول الله (ص) به هم ښځو لپاره جومات ته د تلو اجازه نه وه کړی :

((ان عائشة رضی الله عنها زوج النبی صلی الله علیه وسلم قالت لو ادرک رسول الله صلی الله علیه وسلم ما احدث النساء لمنعهن المسجد کما منعه (و فی نسخة منعت) نساء بنی اسرائل الخ)) (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۹۱ ماجاء فی خروج النساء الی المسجد)

د بخاری شارح علامه عینی رحمه الله فرمایی : د حضرت عائشه رضی الله عنها دا فرمان د رسول الله (ص) د وفات نه لږ موده وروسته دی ، او بیا وروسته فرمایی ((و اما الیوم فتعوذ بالله من ذلک)) لیکن دوی زمانی (۸۵۵ هـ) حال خو الله تعالی دې پناه راکړی .(عمدة القاری شرح بخاري په حواله د کفایت المفتی ۳۹۲/۵)

دا مذکوره حال خو د نهمی هجری پیړۍ دی اوس څوارلسمه هجری پیړۍ ده تقریباً پنځه سوه کاله نور تیر شوی دی ، زمونږه زمانی د ښځو آزادی ، بې حیایي ، بې شرمی ، بې غیرتی او د فتنې به څه وایی ، ایا پدې اوسنی زمانه کی د جواز فتوی ورکړې کېږي ؟ نه هرګز نه ، فقهاء کرام فرمایی : جومات ته د ښځو تلل مکروه دی که پنځه وخته لمونځونو لپاره ځی او که د جمعې او اختر مانځه لپاره او یا د وعظ په مجلس کی د شرکت کولو لپاره:

((و یکره حضورهن الجماعة و لو لجمعة و عید ووعظ مطلقاً و لو عجوزاً لیلاً علی المذهب المفتی به لفساد الزمان)) (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۵۲۹ باب الامامة)

رسائل الارکان کی دی :

((و هذا التجویز انما کان بحسب زمانهم و اما الان فالفتنة لاختلاط النساء والرجال غالبة لفساد و اهل الزمان الی قوله و ما ظنک بهذا الزمان الذی هو زمان الفتنة فهذا الزمان احری لسقوط الجماعة عنهن فهذا الزمان اجری بالمنع عن الخروج الی الجماعات لان الجماعة غیر لازمة علیهن بالنص والتحرز عن الفتنة واجب للعمومات و لا نعقاد الاجماع علی حرمة الباب الحرام الخ)) (ص ۱۰۰ فصل فی الجماعة)

پدې باره د شیخ عبد الحق محدث دهلوی رحمه الله رائې ګرامی هم قابل ذکر دی ، فرمایی :

((و درین زمان مکروه است بر آمدن زنان برای جماعت از جهت فساد زمان و نیز بر آمدن زنان در آن زمان بقصد تعلیم شرائع بود ، و احتیاج نیست بدان درین زمان از جهت شیوع و اشتهار احکام شریعت و تستر بحال زنان اولی است))

ترجمه : پدې زمانه کی ښځو ته مانځه لپاره جومات ته تلل مکروه دی ځکه چې د فساد او د فتنی خطره ده او په نبوی دور کی د وتلو اجازه د شرعی تعلیم د حاصلولو په غرض وه او دیته اوس ضرورت نشته ځکه چې نن صبا د شریعت احکام عام طور سره شائع شوی دی ، او ښځو لپاره په پرده کی اوسیدل په هر حال کی غوره ده (اشعة المعات ص ۲۳۳ قلمی باب الجماعة و فضلها ، الفصل الاول تحت حدیث ابن عمر (رض) قال قال النبی صلی الله علیه وسلم اذا استاذنت امراة احدکم الی المسجد فلا یمنعها)

دا حکم عام دی حرم شریف دی یا نبوی جومات ، هندوستان وی یا عربستان د ټولو لپاره همدا حکم دی ، لهذا د ښځو د عزت آبرو او د ایمان حفاظت په همدې کی

دی چې د اختر مانځه لپاره هم ونه وځی . او د اختر لمونځ وربانديې واجب هم ندی ، مالا بد منه ص ۵۵-۵۸) فقط

ـ که امام نه د اختر دويم رکعت کی زائد تکبيرونه هير شي نو څه به کوی؟

(۱۳۹ سوال) که د امام نه د اختر په دويم رکعت کی د قرائت نـه وروسـته تکبيرونـه هير شي او په رکوع کی ورياد شي نو څه به کوی ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) پدې صورت کی بغير د لاس اوچتولو نه په رکوع کی به تکبيرونـه وايـی او تکبيرونو لپاره به واپس قيام نه کوی ، په در مختار کی د ی:

((کما لورکع الامام قبل ان يکبر فان الامام يکبر فی الرکوع و لا يعود الی القيام ليکبر)) (د رمختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۸۲ باب العيدين)

نوټ . پدې صورت کی په قاعده سره خو سجده سهوه لازميږي ليکن اختر مانځه کـی د خلکو د زياتوالی له وجی د ګدودی خطره ده نو پدې وجه سجده سهوه معاف ده ، فقط والله اعلم.

ـ په يو ځای کی د مجبوری دلاسه دوه ځلی د اختر لمـونځ او امام لپاره چنده کول :

(۱۴۰ سوال) دلته په انګليند کی د مانځه لپاره لوی هال نه پيدا کيږي نو پدې وجه په وړوکی هال کی د اختر لمونځ ادا کولی شی او پدې کی اول مقامی امـام لمـونځ ورکوی ليکن د لمونځ ګذارو د زياتوالی په وجه په دې هال کی دوباره د اختر لمونځ ادا کولی شی په دويم ځل هم همدومره کسان وی ، او د اختر مانځه نه وروسته امـام لپاره د چندی اعلان کولی شی او هر سړی د خپل وس مطابق چنـده ورکـوی او بيـا وروسته هغه روپی د هديه په طور امام ته ورکولی شی ، نـو د مجبـوری لـه وجـی يـو ځای کی دوه ځلی اختر لمونځ کول ، او چنده کولو سره امام ته هديه ورکول څنګه دی ؟ وضاحت وکړی

(جواب) چې عيدګاه نه وی او جومات کی هم ګنجائش نه وی نو په بيابان کی دې يو ميدان مقرر کړی او هلته اختر لمونځ وکړی او که داسې ميدان نه ؤ نـو بيـا د ښار کوم محفوظ ميدان يا لوی هال يا لوی کور کی د اختر لمونځ وکړی ، که يو هـال يـا يو کور کافی نه وی نو پاتې لمونځ ګذارو لپاره دې د مانځه بل ځای مقرر کړی شی ،

بغیر د شرعی عذر او بغیر د مجبوری نه دې په یـو خـای کـی دوه خلـی درې خلـی لمونځ نه کوی ، که د کوشش باوجود بل خای پیدا نـه شـو او د لمـونځ فـوت کیـدو خطره وی نو بیا په یو ځای کی دوه ځلی د اختر لمونځ ادا کولی شی مګر امـام بـل یو کیدل ضروری دی اولنی امام دویم جماعت امـام نشـي جوړیـدلی ، د اختـر امـام لپاره په اعلان سره چنده کول غلط دی ، د چا چې خومره وس وی پخپله خوښه دې د هدیه په طور ورکړی پدې کی څه باک نشته ، فقط والله اعلم.

ـ که د اختر په ورځ د سحر لمونځ ونه کړی :

(۱۴۱ سوال) چا چې د اختر په ورځ (معاذ الله) د سحر لمونځ نـه وی کـړی هغـه د اختر لمونځ کولی شي یا نه؟

(جواب) چا چې د سحر لمونځ نه وی کړی هغه د اختر لمونځ کولی شی ، فقط والله اعلم.

ـ د اختر مانځه نه مخکې د خلکو په شریکه اوچـت آواز سـره تکبیر ویل :

(۱۴۲ سوال) زمونږ پدې خای کی دا دستور جوړ شوی چې د اخترمانځه نه مخکـې دوه کسان منبر په خوا ودریدو سره په زوره زوره تکبیـر وایـی او بیـا وروسـته موجـود خلک په یو آواز سره دا جواب ورکوی چې ((الصلوة عید الفطر بـارک الله لنـا و لکـم والصلوة والسلام)) او اصلی مقصد یې دا وی چې خلک ټول راشـي د چـا نـه لمـونځ پاتې نشي ، نو پدې کی څه ګناه نشته ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) د الله تعالی ارشاد دی (لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنة)
یعنی تاسو لپاره در سول الله (ص) په ذات کی بهترین نمونه ده او د رسول الله (ص) یقینی فرمان دی (علیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین المهدیین الخ))
یعنی (مانه وروسته خلک به ډیر اختلافات ووینی) نو په هغه وخت کی تاسو زما سنت او زما د هدایت یافته خلفاء راشدینو طریقه اختیـار کـړی او کلـک یـې ونیسـی او لـه بدعت او نوې طریقو نه خان بچ کړی ځکه (چې زما او د خلفاء راشـدینو د موافقـت نه بغیر) هره نوی طریقه بـدعت ده (هـر بـدعت ګمراهـی دی) (ابـو داؤد شـریف ۲۸۷/۲ باب لزوم السنة) .

پدې ذکر سوی مسئله یعنی په عیدګاه کی په اوچت او شریک آواز سره د تکبیر التزام کول یو داسې رسم دی چې د رسول الله (ص) او دده خلفاء راشدین وغیره صحابه کرام او ددوی پیروان تابعین او تبع تابعین او ددوی په نقش قدم باندې تلونکی ائمة مجتهدین او مشائخ فقهاء کرامو نه ثابت ندی ، نو د شرعی ثبوت نه بغیر په دین کی له خانه ایجاد شوی دا عمل رد او باطل دی .

دین د هیچا تابع نه دی ټول د دین تابع دی ، هیڅوک په دین کی د کمی او زیاتی کولو حق نه لری ، په کومه طریقه چې نقل او ثابت وی په هغه طریقه یې تر سره کول ضروری دی .

وګورئ ! د جمعې په ورځ په مناره باندې اذان کېږي مګر د اختر پـه ورځ نـه کېږي ځکه چې نقل ندی ، د جمعې د خطبی وخت کی اذان کېږي او د اختر خطبی لپاره اذان نه کېږي ځکه چې ثابت نه دی ، د جمعې مانځه لپاره اقامت کېږي مګر د اختر مانځه لپاره اقامت نه کېږي ځکه چې نقل نه دی .

امیر المؤمنین حضرت علی کرم الله وجهه په عید ګاه کی د اختر مانځهٔ نه مخکـې یـو سړی له نفلو نه منع کړ هغه ووېل دا نفل کول څه د عذاب کار خو ندی (نو بیا ولـې مې منع کوی) حضرت علی کرم الله وجهه ورته وفرمایل : کوم کار لپـاره چـې رسـول الله (ص) نه حکم کړیوی او نه یې ترغیب ورکړی وی په هغه کار کی اجر او ثـواب نشته ، لهذا ستا دا لمونځ عبث دی او په دین کی عبـث کـار حـرام وی ، او ویـره ده چې د سنت په خلاف ورزی باندې الله پاک درته عذاب درکړی (مجـالس الابـرار ص ۱۲۹ (۱۸) نمبر مجلس)

پدې وجه شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله فرمایی : ((اتبعوا ولا تبتدعوا و اطیعوا ولا تمرقوا))

یعنی د رسول الله پیروی کوی او بدعت مه کوی ، اطاعت کوی او نافرمانی مه کوئ . (فتوح الغیب ص ۱۰ مقاله نمبر ۲)

او فرمایی : ((لیس الشرک عبادة الاصام فحسب بل هو متابعتک لهواک))

یعنی شرک یواځی بت پرستی نـه دی بلکـې شـرک دا هـم دی چـې د خپلـو نفسی خواهشاتو پیروی وکړی (الفتح الربانی ص ۱۷۸ (۲۵) نمبر مجلس)

او حضرت ایوب سختیانی رحمه الله فرمایی : ((ما از داد صاحب بدعـة احیتهـا دا الا زاد من الله عز و جل بعدا))

یعنی بدعتی چې څومره زیات جهد او کوشش کوی هغومره د الله تعالی نه لرې کېږي
(تلبس ابلیس ص ۱۴)
لهذا ستاسو په خای کی چې کم رسم دی هغه غلط دی او د سنت خلاف دی کوم
چې واجب الترک دی ، په مجالس الابرار کی ددی تکبیرونو متعلق تفصیل دی چې
په وړوکی اختر کی به عیدگاه ته د تګ راتګ په وخت کی ورو ورو ځانته تکبیرونه
وایی او که عوام د ناپوهی په وجهٔ په زوره ووایی نو خیر دی مګر که ټول یو ځای
اوچت آواز سره ووایی نو حرام دی ، بلکی ځان ځانته ووایی او کله چې عیدګاه ته
ورشي نو تکبیر به بند کړی (که پخپله ورو ورو ووایی نو ګنجائش شته) ((لکن لاعلی
هیئة الاجتماع –الی قوله – فان ذلک کله حرام))
یعنی ټول په یو ځای کی وزن سره به نه وایی چې دا حرام دی (مجالس الابرار ص
۲۱۳ (۳۲) نمبر مجلس)
د مانځه وخت دې مقرر کړی شی او څه وخت او مهلت ورکړی او حاضرین دې پوره
خاموشی سره د الله تعالی په ذکر کی مشغول ووسی او یا دې یو عالم وعظ او تقریر
وکړی چې په انتظار کی څه تکلیف نه وی ، فقط والله اعلم .

ـ د اختر خطبی نه مخکې تکبیر:

(۱۴۳ سوال) د اخرت د خطبی په شروع کی خطیب نه څو تکبیرونه ویل پکار دی او
ددې ثبوت څه دی ؟ وضاحت وکړی .
(جواب) په اوله خطبه کی نه ځلې د الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر
الله اکبر الله اکبر الله اکبر ولله الحمد ، په ورو ویل مستحب دی ، همدا شان
په دویمه خطبه کی دوه ځلې او د دریمی خطبی په آخر کی (۱۴) څوار لس ځلی
ورو ورو تکبیر ویل مستحسن دی :
((و یبدء بالتکبیر فی خطبة العیدین و یستحب ان یستفتح اولی بتسع تکبیرات تتری
ای متتابعات والثانیة بسبع هو السنة و ان یکبر قبل نزوله من المنبر اربع عشرة))
یعنی مستحب دا دی چې اوله خطبه نه ځلی پی در پی تکبیر ویلو نه وروسته شروع
کړی او دویم خطبه اوه ځلی الله اکبر ویلو نه وروسته شروع کړی او د دریمی خطبی
ختمولو نه وروسته د منبر څخه راکوزیدو نه مخکې څوارلس ځلی په ذکر شوی طریقه
باندې تکبیر ووایی (تنویر الابصار ، در مختار مع رد المختار ۷۸۳/۱ باب العیدین)
او په مراقی الفلاح کی دی :

((و يبدء بالتكبير فی خطبة العيدين و يستحب ان يستفتح الاولی بتسع تتری والثانية بسبعة قال عبد الله بن مسعود وهو السنة (مراقی الفلاح ص ۱۰۷) (قوله تتری) (ای متتابعات و يكبر قبل النزول اربعة عشر كذا فی الشرح)) (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳۱۱ ايضاً) فقط.

ـ د اخترونو وخت :

(۱۴۴ سوال) د اختر د لمونځونو وخت كله شروع كېږي كه د لمر ختو نه (۲۴) منټه وروسته لمونځ وكړی نو صحيح كېږي يا نه ؟ وضاحت وكړی مهربانی

(جواب) د اختر د لمونځونو وخت د لمر ختو نـه تقريباً (۱۵) منټـه وروسـته شـروع كېږي ليكن چونكې د اختر ورځ ده ، خلک په سنت طريقه باندې ځان تياروی ، غسل او نبه كپړې ، د خوشبويي اهتمام كول دی ، په وړوكی اختر كی صدقه فطر (سرسايه) ادا كول هم دی او د اطرافو نه هم خلک ښار ته راځی پدې وجـه د مانځـه وخـت بايد داسې مقرر شي چې خلک ورته رسيدګی وكړی شـی ، دومـره تلـوار كـول چې خلک د مانځه نه پاتې شي مناسب نه دی ، او بغير د شرعی وجې نه تاخير كول هم د كراهت نه خالی ندی البته كه څه عذر وی نو خلكو ته اعلان كولو سره په اول وخت كی ادا كولی شی خو چې د خلكو مانځه نه پاتې كيدو ويره نه وی :

((و ابتداء وقت صحة صلوة العيد من ارتفاع الشمس قدر رمح او محـين حتـی تبيض لانه صلی الله لعيه وسلم كان يصلی العيد حين ترتفع الشمس قدر رمح او رمحـين فلـو صلوا قبل ذلک لا تكون صلوة بل نفلاً محرماً (مراقی الفـلاح مـع طحطـاوی ص ۳۰۹ باب العيدين)) فقط والله اعلم ۲ جمادی الاولی ۱۳۹۹ هـ

ـ د محلی په جوماتو كی د شرعی عذر په وجه د اختر لمونځ كول:

(۱۴۵ سوال) د نو ساری د ښار د عيدګاه منتظمينو دا اعلان وكړ چې سږ كال د باران په وجه په عيدګاه كی لمونځ نه كېږي ، او د ښار جامع جومات ناكافی دی پدې وجه مونږه د خپلی محلی ((زكريا مسجد)) كی د اختر لمونځ ادا كول غواړو ، خو تر ننه پورې مونږ پدې جوماتو كی نه د جمعې لمونځ كړی دی او نه د اختر نو اوس پكې د اختر لمونځ كولی شو يا نه؟ وضاحت وكړی مهربانی

(جواب) پدې صورت كی په نوموړی (زكريا مسجد) كی بـلا جـرح د اختـر لمـونځ كولی شی ، البته بغير د شرعی عذر نه د جمعې او داختر لمونځ كول غلط دی ، فقط والله اعلم

د ښځو جومات او عیدګاه ته تلل څنګه دی ؟

(۱۴٦ سوا ل) پدې لاندې مسئله کی دینی عالمان او مفتیان څه فرمایي :
غیر مقلدین حضرات او ځینی ازاد خیاله خلک پدې باندې اصرار کوی چې ښځو سره مانځه لپاره جومات او عیدګاه ته د تلو نه منع کول جائز ندی ، دوی ته باید عیدګاه ته مانځهٔ لپاره د تلو تاکید وکړی شی ، منع کونکی ګنهګار دی ، د رسول الله (ص) په زمانه کی ښځو لپاره جومات د تلو اجازه وه او سړو ته هم دا حکم ؤ چې که ښځی جومات ته تلل غواړی نو مه یې منع کوی او عیدګاه ته د تلو صراحتاً امر اوحکم ؤ تر دې که د چا سره څادر او ټکرې وه نو دا حکم ؤ چې د بلې ملګری سره په څادر کی دې ځان پټه کړی او په یو څادر کی دې دواړه لاړ شي نو کله چې د رسول الله (ص) په زمانه کی دومره تاکیدی حکم ؤ نو اوس څوک دا حق نلری چې ښځی د جومات او عیدګاه ته د تلو نه منع کړی او دیته ناجائز ووایی او پدې حدیثو باندې استدلال کوی:

(۱) لا تمنعوا النساء حظوظهن من المساجد اذا استاذنكم)) (مشكوة ص ۹۷ باب الجماعة و فضلها)

یعنی ښځی جومات ته د حاضریدو له حق نه مه بندوی کله چې اجازه درنه وغواړی.

(۲) ((اذا استاذنت امراة احدكم الى المسجد لا يمنعها)) (متفق عليه ، مشكوة ص ۹٦ باب الجماعة)

یعنی که له تاسو نه کوم یو ښځه جومات ته د تلو اجازه وغواړی نومه یې منع کوی.

(۳) یو خل حضرت ابن عمر رضی الله عنه وفرمایل : رسول الله (ص) فرمایلی دی هیڅوک دی خپله ښځه جومات ته له تلو نه نه منع کوی نو دده یو ځوی (حضرت بلال) وفرمایل : مونږ خو یې خامخا منع کوو ، ددې خبرې په اوریدو سره (بن عمر رض)) غصه شو او وې فرمایل : زه درته حدیث بیانوم نو ته راته دا خبره کوی ، راوی وایی چې لدینه وروسته تر مرګه پورې خپل ځوی سره خبرې ونه کړی :

((عن مجاهد عن عبد الله ابن عمر ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لا یمنعن رجل اهله ان یانو المساجد فقال ابن لعبد الله فانا نمنعهن . فقال عبد الله بن عمر رضی الله عنه احدثك عن رسول الله صلی الله علیه وسلم و تقول هذا فما كلمه حتى مات رواه احمد)) (مشكوة شريف ص ۹۷ باب الجمعة)

او عیدګاه ته تلو لپاره دا حدیث پیش کوی :

((۱) عن ام عطیة قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اخـر جـوا العواتـق و ذوات الخدور لیشهدن العید و دعوة المسلمین و لیجتنبن الحیض مصلی النـاس (۲) عن ام عطیة رضی الله عنها قالت امرنا ان نخرج الحیض یوم العید من ذوات الخـدور فیشهدن جماعة المسلمین و دعوتهحم تعتزل الحیض عـن مصـلا هـن قالـت امـراة یـا رسول الله احدثنا لیس لها جلباب لتلبسها صاحبتها من جلبابها متفـق علیـه)) (مشـکوة شریف ص ۱۲۵ ، ۱۲٦ باب الجماعة)

د حضرت ام عطیه رضی الله عنها نه روایت دی چې فرمایی : مونږ ته حکم کړی شوی چې مونږ حیض والا او پرده داره ښځی د اختـر پـه ورځ راوباسـو چـې د مسـلمانانو جماعت اوِ ددوی دعاګانو کی شرکت وکړی او حیض والا ښځی دې د مانځـه نـه لـه ځای نه [illegible] واوسی ، یوې ښځی عرض وکړ یا رسول الله (ص) په مـونږ کـی ځینـی ښځی ځادرونه نلری (نو څه وکړی ؟) رسول اکرم وفرمایل د هغې ملګرې دې خپـل څادر کی پته کړی)) (مشکوة ص ۱۲۵)

اوس له تاسو نه دا درخواست دی چې پدې فتنو دور کی د شریعت څه حکم دی ؟ که ښځو ته جومات ته تلل ناجائز وی نو لدې حدیثو څخه څه جـواب دی ؟ تفصـیلی او مدلل جواب راکړئ ـ بینوا بالدلیل و توجرواعند الکریم .

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً و بالله التوفیق : پدې د فتنو نه ډک دوز کی ښځو ته جومات او عیدګاه ته د تلو اجازه نشته ، بیشکه فقهاء کرام لدینه انکار نه کوی چـې د رسول الله (ص) مبارکه زمانه کی ښځی پنځه وخته او اختر لمونځونو جماعـت لپـاره جومات ته تللی ، لیکن هغه د خیر القرون زمانه وه د فتنو څخه محفوظـه وه ، رسـول الله (ص) بذات اقدس موجود ؤ ، وحی رانازلیدلو ، نوی نوی احکام راتلـل ، نـوی مسلمانان وو ، د لمونځ ، روژی وغیره احکامو د زده کولو ضرورت ؤ او د تهولو نه زیـات د رسول الله (ص) په اقتداء کی د لمونځ کولو شرف حاصلیدو ، او د ســول اکـرم د خوبونو تعبیر به هم کولو ، او د عجیب و غریب علمونو انکشاف کولو پـدې وجوهـاتو سره ښځو ته د حاضری اجازه وه ، لیکن دا خبره چـې دوی تـه هـم د سـړو پشـان د حاضریدو تاکیدی حکم ؤ دا خبره صحیح نه ده ، ښـځو لپـاره د سـړو پشان جماعـت ضروری نه ؤ لکه چې د ابو هریرة رضی الله عنه روایت دی :

((عن النبی (ص) قال لو لا ما فی البیوت مـن النسـاء والذریـة اقمـت صـلوة العشـاء وامرت فتیانی یحرقون ما فی البیوت بالنار))

يعنی رسول الله (ص) فرمايي : كه په كورو كی ښځی او ماشومان نه وای نو ما بـه د ماسخوتن سوځ ودرولو او خپلو خوانانو ته مې حكم كولو چې ((كوم خلک جماعت ته نه حاضريږي د هغو) پـه كـورو كـی اور ولگـوی (وسـوځوی) (مشـكوة ص ٩٦ بـاب الجماعة و فضلها)

دا وعيد او سزا رسول الله (ص) هغو خلكو لپاره مقررولو چـې د هغـوې جماعـت تـه حاضريدل ضروری ؤ او نه حاضريدل مگر د ښځو او ماشـومانو پـه كـورو كـی موجـود والی د كورونو د سوځولو څخه مانع شو ، نو پدې حـديث كـی د ښـځو ذكـر كيـدل ددې دليل دی چې ښځی هم د ماشومانو پشان جماعت تـه حاضـريدو لپـاره مكلفـی ندی او نه جماعت ددوی په حق كی مؤكد ؤ او كه نه ددې بـه هـم د سـزا مستحق گرځيدلی وې او دماشومانو سره به معذوری نه گڼلی كيـدی ، يـواځی همـدومره نـه بلكی د جماعت (٢٧) درجې او د موځونو ثواب ، د مسجد نبوی پنځو زره لمونځونو ثواب او د رسول الله (ص) په اقتداء كی د لمونځ ادا كولو عظـيم سـعادت بـاوجود هم ښځو لپاره دا هدايت ؤ چې زيات فضيلت او ثواب او سعادت پدې كـی دی چـې ښځی په كورو كی لمونځ وكړی ، او ددينه زيات يې دا فرمايلی چې د ښځی پـه تـور تياره او بنده كوټه كی لمونځ كول د مسجد نبوی (علی صـاحبها الـف الـف تحيـة و سلام) له لمونځ نه څو درجې افضل او بهتر دی ، او پدې باره كی څـو روايتونـه دی بو څو يې وگورئ :

(١) ((عن ام سلمة (رض) عن رسول الله (ص) قال خير مساجد النساء قعر بيوتهن))
((رواه احمد والطبرانی فی التكبير ... الی و قال الحاكم صحيح الاسناد))

ترجمه : ام سلمة (رض) د رسول الله (ص) نه روايت كوی چې فرمايلی يې دی : د ښځو لپاره د ټولو نه بهترين جومات ددوی د كور دننـه ځـای دی (يعنـی د ټولـو نـه زيات تورتم او بنده كمره) (الترغيب والترهيب ١٨٨/١ للعلامة المنذری رحمـه الله ،) (زجاجة المصابيح ٣١٣/١ باب الجمعة)

(٢) ((عن ابن عمر (ر ض) عن رسول الله صلی الله عليه وسلم المرائة عورة و انها اذا خرجت من بيتها استشر فها الشيطان . و انها لا تكون اقرب الی الله منها فی قعر بيتهـا .
)) رواه الطبرانی فی الاوسط و رجاله رجاله الصحي)

ترجمه : حضرت ابن عمر (رض) د رسول اكرم (ص) نه روايت كـوی چـې ښـځه د پټولو خيز ده او دا چې كله د كور نه راووځی نو شيطان ورپسې كيږي (يعنی د خلكو

په زړونو کی ددې باره کی ګنده خیالات او وسوسی اچوی) او ښځه د خپل کور دتولو نه زیاته بنده کمره کی الله تعالی ډیره نزدی وی . (الترغیب والتریب ۱۸۸/۱ باب الجماعة)

(۳) ((عن ابن مسعود (رض ۹ قال ما صلت امراة من صلوة احب الی الله من اشد مکان فی بیتها ظلمة)) (رواه الطبرانی فی الکبیر)

ترجمه : د ښځی د ټولو نه زیات محبوب لمونځ الله تعالی ته هغه لمونځ دی چې د ټولو نه زیاته تیاره کمره کی کړی وی (الترغیب والترهیب ۱۸۹/۱)

(۴) ((عن ابن عمر (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تمنعوا نساء کم المساجد و بیوتهن خیر لهن))

یعنی ښځی جوماټ ته له تلو نه مه منع کوی (مګر) ددوی کورونه دوی لپاره (د جوماټ نه) بهتر دی ، (مشکوة شریف ص ۹۶ باب الجماعة)

(۵) ((عن ام سلمة (رض) قالت رسول الله صلی الله علیه وسلم صلوة المراة فی بیتها خیر من صلوتها فی حجرتها و صلاتها فی حجرتها خیر من صلاتها فی دارها و صلاتها ی دارها خیر من صلوتها فی مسجد قومها)) (رواه الطبرانی فی الاوسط وسط باسناد جید)

ترجمه : رسول الله (ص) فرمایلی دی : د ښځی لمونځ بنده کمره کی د کمری لمونځ نه بهتر دی او د کمری لمونځ د کور له لمونځ نه بهتر دی او د کور د احاطی لمونځ د محلی د جوماټ له لمونځ نه بهتر دی (الترغیب والترهیب ۱۸۸/۱)

اوس د رسول الله (ص) عجیبه فیصله وګورئ :

(٦) ((عن ام حمید امراة ابی حمید الساعدی رضی الله عنها انها جاءت الی النبی صلی الله علیه وسلم فقالت یا رسول الله انی احب الصلوة معک قال قد علمت انک تحبین الصلوة معی و صلوتک فی بیتک خیر من صلوتک فی حجرتک . و صلوتک فی حجرتک خیر من صلوتک فی دارک ، و صلوتک فی دارک خیر من صلوتک فی مسجد قومک و صلوتک فی مسجد قوم خیر من صلوتک فی مسجدی قال : فامرت فبنی لها مسجد فی اقصی شیئ من بیتها و اظلمه و کانت تصلی فیه حتی لقیت الله عز و جل . رواه احمد و ابن خزیمة و ابن حبان فی صحیحهما)).

ترجمه : حضرت ام حمید (رض) په نبوی (ص) دربار کی حاضریدو سره عرض وکړ چې زه تاپسې د لمونځ کولو شوق لرم ، رسول الله (ص) ورته وفرمایل : ستا شوق ډیر

ښه دی (دینی جذبه ده) مګر ستا لمونځ په دننه کوټنی کـی د کمـرې د لمـونځ نـه بهتر دی او د کمری لمونځ د ور د احاطی لمـونځ نـه بهتـر دی او د کـور د احـاطی لمونځ د محلی د جومات له لمونځ نه بهتر دی او د محلـی د جومـات لمـونځ زمـا د جومات (مسجد نبوی) له لمونځ نه بهتر دی ، هغه ؤ چې ام حمیـد (رض) فرمـائش کولو سره د خپلې کمرې په آخر کنج کی کوم خـای چـې زیاتـه تیـاره وه مسـجد (د مانځهٔ خای) جوړ کړ نو په هغه ځای کی به یې لمونځ کولو تر دې پورې چې وفـات شوه او خپل حقیقی خالق ته ورغله ، (الترغیب والترهیب ص ۱۸۷ جلد اول)

پورتنی روایتونو څخه د غه څو خبرې صراحتاً ثابتیږي :

(۱) د رسول الله (ص) په زمانه کی ښځو ته د جومات ته راتلو تاکیـد نـه ؤ یـواځی اجازه وه او هدایت او تعلیم داسې ؤ چې پخپله منع شي

(۲) د ښځو جومات ته راتلل فقط د اباحت او رخصت په درجه کی ؤ نه تاکیـدی یـا فضیلت او استحباب په درجه کی

(۳) حضرت ام حمید (رض) د رسول الله (ص) د تعلیـم و ترغیـب بانـدې د عمـل کولو په غرض جومات پریښود او ټول عمر یې خپل تپه تیاره کوټه کی لمونځ وکړ او دا یمن اِتباع او د رسول الله (ص) د خواهش تکمیل ؤ .

نو څومره افسوس دی هغو خلکو باندې چـې ښـځو تـه جومـات تـه د راتلـو ترغیـب ورکوی د رسول الله (ص) د تعلیم او مرضی او منشاء په خلاف حکم کـوی او غضـب دا دی چې دیته سنت وایی او دغه خپل عمـل احیـاء د سـنت ګڼـی ، کـه ښـځو تـه جومات راتلل سنت وای نو بیا رسول الله (ص) د خپل جومات (نبـوی مسـجد) لـه لمونځ نه د محلی د جومات لمونځ او دمحلی د جومات له لمونځ د کور لمونځ به یې افضل نه ګڼلو ، نو آیا په ترک د سنت کی زیات ثواب ؤ او په سنت باندې عمـل کولـو کی کم ثواب ؟ او آیا رسول الله (ص) ښځو ته پـه کـور کـی د لمـونځ کولـو ترغیـب ورکولو سره د سنت د پریښودو ته ترغیب ورکولو ؟ (معاذ الله ثـم معـاذ الله) شـاید دا خلک خپل ځان د رسول الله (ص) نه زیات متقیان او خپل جومات د مسجد نبوی نه زیات مقدس او خپلی ښځی د هغه مبارکې زمانی له ښځو نه زیاتی عفیفی او پاکدامنی ګڼی .

او په هغه زمانه کی رخصت او اباحت هم پدې شرطونو باندې ؤ چې ښځی به ځـان جوړولو سینګارولو ، د فخر لباس اچولو ، خوشبوی لګولو او دکالیو او ګاڼو پـه اغوسـتو

باندې به نه راځي ، بلکې په ساده او خیرنو جامو کې به راځي ، په ابن ماجه کې د عائشة (رض) نه روایت دی : قالت بینما رسول الله صلی الله علیه وسلم جالس فی المسجد اذ دخلت امراة من مزینة ترفل فی زینة لها فی المسجد فقال النبی صلی الله علیه وسلم یا ایها الناس انهوا نساءکم عن لبس الزینة والتبختر فی المسجد فان بنی اسرائیل لم یلعنوا حتی لبس نساءهم الزینة و تبخترن فی المسجد))

ترجمه : حضرت عائشة (رض) فرمایي : یو ځل رسول الله (ص) په جوماتـ کې ناست ؤ چې پدې وخت کې د مزینه قبیلې یوه ښځه د زیب و زینت لباس اغوستو سره متکبرانه انداز کې جومات ته راننوته ، رسول الله (ص) وفرمایل : ای خلکو خپلې ښځې د زیب او زینت لباس له اغوستو او فخر کولو نه منع کړی ، ځکه چې بنی اسرائیلو باندې لعنت نه ؤ کړی شوی تر دې پورې چې د هغوی ښځو د زیب و زینت جامې واغوستې او په جوماتو کې يې تکبر شروع کړ (ابن ماجه باب فتنة النساء ص ۲۹۷).

لدینه صراحتاً دا خبره ثابته شوه چې د ښځو جومات ته د راتلو کوم اجازه او رخصت چې ؤ هغه پدې شرطونو او قیودو سره ؤ ، او د فتنې پیدا کیدو نه مخکې ؤ او کله چې د عمر فاروق (رض) په زمانه کې د ښځو آزادی او بې احتیاطی په ښکاره کیدو شوه او د فتنې خطره پیدا شوه نو عمر (رض) او جلیل القدر صحابه کرامو حکم جاری کړ او وې فرمایل چې اوس به ښځې جومات ته نه راځي ، او ټولو صحابه کرامو دا خبره خوښه کړه ، په بدائع الصنائع کې دی : ((و لا یباح للشواب منهن الخروج الی الجماعات بدلیل ما روی عن عمر رضی الله عنه انه نهی الشواب عن الخروج ولان خروجهن الی الجماعة سبب للفتنة والفتنة حرام و ما ادی الی الحرام فهو حرام)) (بدائع ج ۱ ص ۱۵۷ فی فصل و امام بیان من یصلح للامة)

ترجمه : ځوانو ښځو لپاره جومات ته تلل روا نـدی د هغه روایت لـه مخې چې د حضرت عمر (رض) نه نقل شوی دی چې هغه ځوانی ښځې د جومات نه منع کړی دی او بل د ښځو له کورو ځخه وتل سبب د فتنې دی او فتنه حرامه ده او کوم څیز چې سبب د حرامو وی هغه هم حرام دی ..... په حجة الله البالغة کې دی :

((و منها خوف الفتنة کامراة اصابت بخوراً ولا اختلاف بین قوله صلی الله علیه وسلم اذا استاذنت امراة احدکم الی المسجد فلا یمنعها و بین ما حکم به جمهور الصحابة من منعهن اذا المنهی عنه الغیرة التی تنبعث من الانفة دون خوف الفتنة والجائز من

الغيرة ما فيه خوف الفتنة و ذلک قوله صلی الله علیه وسلم الغیرة غیرتان و حدیث عائشة رضی الله عنها ان النساء احدثن . الخ .))

ترجمه : او د هغو عذرونو څخه چې د هغو په وجه د جماعت مانځه ته نه حاضریدل جائز دی د فتنی ویره ده . لکه کومه ښځه چې خوشبویی ولګوی . او د رسول الله (ص) ددې فرمان ((اذا استاذنت الخ)) (یعنی کله په تاسو کی یو تن څخه خپله ښځه جومات ته د تلو اجازه وغواړی نو هغه دې نه منع کوی) او د جمهورو صحابهٔ کرامو ددې فیصلی (چې ښځی دې جومات ته له راتګ نه منع شي) .تر منځ کوم تضاد او تعارض نشته ځکه هغه غیرت چې تش د تکبر څخه پیدا شوی وی پدې بناء د ښځو بندول خو ناجائ. دی ، او پاتې شو هغه غیرت چې د فتنی له ویری نه پیدا شوی وی او ددی غیرت په بناء ښځی منع کړی شی نو دا غیرت جائز بلکی مستحسن دی (او صحابهٔ کرامو ددغې فتنی له ویری نه د ښځو د منع کولو فیصله کړې ده) او د رسول الله (ص) ددې فرمان ((الغیرة غیرتان)) همدا مقصد دی او همدا مصداق دی د عائشة (رض) د حدیث چې ((ان النساء احدثن الخ)) (حجة البالغة ۹۰/۲ الجماعة ، من الحرج الخوف الفتنة) (احیاء العلوم ۴۸/۲ ، اصح السیر ۵۸۹/۲)

په عینی شرح بخاری کی دی چې حضرت ابن عمر (رض) به د جمعې په ورځ وډریدو او ښځی به یې په ګیټکو کی په وهلو وهلو له جومات شړلی او دا د صحابهٔ کرامو په موجودګې کی کیدلو ((و کان ابن عمر بقوم یحصب النساء یوم الجمعة یخرجهن من المسجد)) (عینی شرح بخاری ۲۲۸/۳ باب خروج النساء الی المساجد باللیل والغلس)

همدا شان عبد الله بن مسعود (رض) به هم د جمعې په ورځ ښځی له جومات نه شړلی او فرمایل به یې خپلو کورو ته لاړ شئ ستاسو لپاره خپل کور بهتر دی .

((عن ابی عمر والشیبانی انه رای عبد الله یخرج النساء من المسجد یوم الجمعه و یقول (اخرجن الی بیوتکن خیر لکن) رواه الطبرانی فی الکبیر باسناد لا باس به)) (الترغیب والترهیب ج ۱ ص ۹۰)

او دا هم د صحابه کرامو په موجودګی کی کیدلو:

ام المؤمنین حضرت عائشة (رض) هم دا فتنه محسوسه کړه او وې فرمایل : ((لو ادرک رسول الله (ص) ما احدث النساء لمنعهن المسجد کما منعت نساء بنی اسرائیل)).

یعنی که رسول الله (ص) د ښځو دا حالت لیدلی وای نو د جوماتو نه به یې ضرور منع کړې وې لکه چې د بنی اسرائیلو ښځې له جوماتو نه منع کړې شوې وې (بخاری ۱ ۱۲۰ باب خروج النساء الی المساجد باللیل والغلس) (مسلم شریف ۱ ۱۸۳)
علامه عینی د بخاری شارح فرمایی: ((و اما الیوم فنعوذ بالله)) نن ورځ خو دې الله تعالی پناه راکړی، (عینی په حواله د کفایت المفتی ۳۹۲/۵)
لکه چې علامه عینی په همدې شرح کې بل ځای کې په تفصیل سره د خپلې زمانې د ښځو ایجاد کړی بدعتونه او منکرات ذکر کوی:
((قلت لو شاهدت عائشة رضی الله عنها ما احدثت نساء هذا الزمان من انـواع البـدع والمنکرات لکانت اشد انکاراً و لا سیما نساء مصرفان فیهن بدعاً لا توصف و منکرات لا تمنع. الی قوله. فانظر الی ما قالت الصدیقة رضی الله عنها من قولها لو ادرک رسـول الله صلی الله علیه وسلم ما احدثت النساء و لیس بین هذا القـول و بـین وفـاة النبـی صلی الله علیه وسلم الا مدةً یسیرةً علی ان نساء ذلک الزمان ما احدثن جزءاً من الف جزء مما احدثت نساء هذا الزمـان)) (عینـی ج ۳ ص ۳۲۰ بـاب خـروج النسـاء الـی المساجد باللیل والغلس)
د علامه د کلام خلاصه دا ده: فرمایی: ددې زمانې بدعات او منکرات، د سر وېښـتانو او د جامعه هغه فیشن کوم چې ښځو ایجاد کړی، خاص طور د مصر ښځو، که عائشـة صدیقه (رض) دا لیدلی وای نو ډېر سختی سره به یې منع کړې وی، دغو منکراتو له جملې نه دا هم چې دوی ډېر اعلی او د فخر جامې اغوندی، خوشبوی او په نـاز او نخرو سره سړی ځانته مائلوی او متوجه کوی او اکثر وخت سرو سره او که په اوګه لوڅ مخ بازارو کې ګرځی، په آخر کې فرمـایی: د رسـول الله (ص) د وفـات لـږه مـوده وروسته حصرت عائشې رضی الله عنها دا ارشاد فرمایلی دی پداسې حال کې چـې د هغې زمانې د ښځو آزادی ددی زمانی د ښځو د آزادی او منکراتو په مقابل کې زرمه حصه هم نه ده، اندازه ولګوئ ک حضرت عائشې (رض) ددې زمانې د ښځو آزادی او فیشن پرستی لیدلی وی نو څه حکم به یې لګولو (عینی شرح بخاری ۲۳۰/۳)
علامه عینی د نهمې هجری پېړی د ښځو دا حال بیانوی نن خو (۱۴) صـدئ ده، د دې زمانې ښځو آزادی، بې حیائی، عریانی او بې احتیاطی انتهاء تـه رسـیدلې ده، برقعه او چادری هم ختم شوی او ددې په عوض کې قسماقسم فیشنی لباس راغلـی او بیا لوڅ سر او لوڅ مخ په بازارو کې ګرځی پداسې د فتنو ډک دور کې د ښځو جومات

او عیدګاه ته د راوستو کوشش کولی شی او د رسول الله (ص) په با برکته زمانه باندې استدلال کوی ، ښځی بـه احتیـاط کـوی ، نظـر بـه لانـدی ساتی ، پوډر او خوشبوئی څخه به ځان ساتی او د فاسقانو ، فاجرانو نظرونه به هم لاندی وی ، ددې ضمانت او ګارنی څوک ورکولی شی؟

پاتې شو د حضرت ابن عمر(رض) د خپل ځوی نه خفګان نو دا پدې وجـه وه چـې حضرت ابن عمر (رض) د رسول الله (ص) فرمان نقل کړ ((لا یمنعن رجل اهلـه ان یاتوا المساجد))

او پدې باندې د ځوی دا ویل چې ((فانا نمنعهن)) پـدې سـره صـورتاً د نـص سـره معارضه راتله (پدې وجه حضرت ابن عمر (رض) ډیر زیات غصه شو) لکه چـې امـام ابو یوسف رحمه الله حدیث بیان کړ ((کان رسول الله یحب الدباء)) (یعنی د رسـول اکرم (ص) کدو زیات خوښ ؤ)

یو شاګرد وویل : ((انا لا احبه)) (زه خو یې نه خوښوم) پدې سره امـام ابـو یوسـف توره راوویسته او وې فرمایل : ایمان دې تازه کړه او که نـه مـړ کـوم دی ، دلتـه هـم صورتاً حدیث سره معارضه راتله او که نه د کدو نه خوښـول داسـې جـرم نـدی چـې پدې څوک قتل کړی شی ، همدا شان د ښځو منع کول داسې حرام نه ؤ چې د تعلق قطع کول واجب وی ، او که نه بیا ددی څه مطلب چې پخپله حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د جمعې په ورځ ښځی په ګیتکو سره وهلو وهلو باندې جومات نه شړلی :

((قوله و تقول والله لنمنعهن قال الطیبی یعنی انا آتیک بالنص القـاطع و انـت تتلقـاه بالرای کان بلالاً لما اجتهد و رای من النساء و مـا فـی خـروجهن الـی المسـاجد مـن المنکر اقسم علی منعهن فرده ابوه بان النص و لا یعارض بالرای ......و نظیره ما وقع لا بی یوسف حین روی انه علیه السلام کان یحب الدباء فقال رجل انـا مـا احبـه فسـل السیف ابو یوسف و قال جدد الایمان و الا لا قتلنک)) (مرقاة شرح مشکوة ج۳ ص ٦٦ باب الجماعة و فضلها . مطبوعه ملتان)

عیدګاه ته تلو باره کی چې کومو روایتو کی د امر صیغی راغلـی او پـه کومـو بانـدې چې دغه حضرات استدلال کوی د هغو جواب دا دی چې د امر صیغه درې معنو کـی استعمالیږی کله د وجوب لپاره وی لکـه ((اقیمـو الصـلوة)) او کلـه اسـتحباب لپـاره وی‌لکه ((فکلوا منها و اطعموا البائس الفقیر)) او کله د اباحت لپاره وی لکـه ((و اذا حللتم فاصطادوا)) اوس کتل پکار دی چې دلته څه مراد دی ، وجوب خو یقیناً مـراد

ندی چې ددی هیڅوک قائل ندی چې اخترونو وغیره لپاره د ښځو تلل واجب دی .
او استحباب هم مراد ندی ځکه چې رسول الله (ص) د کوټنی لمونځ د مسجد نبوی له لمونځ نه په ډیرو درجو افضل ښودلی دی او پدې کی د اخترونـو استثناء نشـته . جوماتونه کورو ته نزدې وي بیا هم د کور لمونځ بهتر دی او عیدګاه خو د ښار نه لرې او باهر وی او دویم دا چې پنځه وخته او جمعې لمونځ فرض دی کله چې دې لپاره جومات ته راتلل افضل ندی نو د اختر لمونځلپاره راتلل به څنګه افضل شي ؟
نو دلته امر د اباحت او رخصت لپاره شو او وختی طور باندې مصلحتاً رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځی عیدګاه کی راجمع کړی وی پدې سره وجـوب او اسـتحباب نـه ثابتېږي (کفایت المفتی ۴۲۱/۵ لنډیز) او که مستحب هم ومنل شي بیا هم د فتنـی او فساد په وجه قابل ترک ګرځی ، د فقه قاعده ده : ((ترک المکروه اولی بادراک الفضیلة لان ترک المکروه اهم من فعل المسنون)) (کبیری ص ۳٦۵)
امام طحطاوی رحمه الله فرمایی : د ښځو عیدګاه ته تلل د اسلام په شروع کی ؤ کله چې مسلمانان کم وو تر څو، په دوی سره د مسلمانانو زیاتوالی معلوم شـی او د ښـمن وویرېږي اوس دا صورت حال نشته لهذ دا حکم به هم نه وی :
((قال الطحطاوی یحتمل ان یکون هذا الا مر فی اول الاسلام والمسلمون قلیل فارید التکثیر بهن ترهیباً للعدو فاما الیوم فلا یحتاج الی ذلک . الی قوله . قلت هـذه عائشة صح عنها انها قالت لو رای رسول الله صلی الله علیه وسلم ما احدثت النسـاء لمـنعهن المسجد کما منعت نساء بنی اسرائیل فاذا کان الا مرفی خرو جهن الی المساجد هکذا فبا الا حری ان یکون ذلک فی خروجهن الی المصلی الخ)) (عینی شرح بخـاری ص ۳۹۴ ج ۳ باب خروج النساء و الحیض الی المصلی) (مظاهر حق ج ۱ ص ۴٦۵)
اوس د قرآن او حدیث په رڼا کی د فقهاء کرامو اقوال وګورئ :
(۱) فقید (محدث علامه بدرالدین عینی د بخاری شارح رحمه الله فرمایی :
((والفتوی الیوم علی المنع فـی الکـل فلـذلک اطلـق المصـنف و یـدخل فـی قولـه الجماعات الجمع ولا عیاد و الا ستسقاء و مجالس الوعظ و لا سیما عند الجهـال الـذین تحلوا بحلیة العلماء و قصد هم الشهوات و تحصیل الدنیا))
ترجمه : او نن صبا فتوی دا ده چې په ټولو لمونځونو کی جومات تـه تلـل د ورځـی وي یا د شپې خوان او زړو دواړو لره ممنوع دی او د مصنف (د کنز الدقائق مصنف) قول ((الجماعات)) کی جمعـه ، اختـر ، استسـقاء او د وعـظ مجلسـونه شـامل دی او

خاص طور د هغو جاهل واعظانو مجلسونه چې د علماؤ پشان صورتونه جوړوی او مقصد يې د خپلو نفسی خواهشاتو پوره کول او د دنيا گټل دی (عينی شرح كنز ١ ٣٠ باب الامامة)

(٢) در مختار كی دی : ((و يكره حضورهن الجماعة و لو لجمعة و عيد و وعظ مطلقاً و لو عجوزاً ليلاً على المذهب المفتى به لفساد الزمان))

ترجمه : د ښځو جماعت ته حاضريدل که د جمعې وی او که د اختر يا د وعظ مجلس وی مکروه دی اگر که زړه ښځه وی او د شپې وی ، مفتی به مذهب په بناء باندې له وجې د فساد د زمانی نه (در مختار مع امی ٥٢٩/١ باب الامامة)

(٣) فتاوی عالمگيری كی دی :

((والفتوى اليوم على الكراهة فى كل الصلوات لظهور الفساد كذا فى الكافى وهو المختار كذا فى التبيين))

(٤) په بحر الرائق كی دی :

((ولا يحضرن الجماعات - الى قوله - قال المصنف فى الكافى والفتوى اليوم على الكراه في الصلوة كلها لظهور الفساد الخ))

او ښځې دې جماعت ته نه حاضريږي د الله تعالى ددې قول په وجه (و قرن فى بيوتكن) او د نبوی فرمان پدې وجه ((صلوتها فى قعر بيوتها افضل و بيوتهن خير لهن))

او صاحب د كنز الدقائق په الكافی كی فرمايلی دی چې نن صبا فتوی پدې ده چې په ټولو لمونځونو كی د ښځو وتل مكروه دی د فساد د ظاهريدو په وجه (البحر الرائق ٣٥٨/١ باب الامامة)

(٥) رسائل الاركان كی دی ((و هذا التجويز انما كان بحسب زمانهم و اما الان فالفتنة اختلاط النساء و الرجال غالبة لفساد اهل الزمان . الى قوله فما ظنك بهذا الزمان الذى هو زمان الفتنة فهذا الزمان احرى لسقوط الجماعة عنهن فهذا الزمان احرى بالمنع عن الخروج الى الجماعة لان الجماعة غير لازمة عليهن بالنص والتحرز عن الفتنة واجب للعمومات لا نعقاد الاجماع على حرمة الباب الحرام الخ)) (رسائل الاركان ص ١٠٠ فصل فى الجماعة)

ترجمه : يعنی د ښځو جومات ته د تلو اجازه د هغه زمانی په اعتبار سره وه ليكن نن صبا د سړو او د ښځو د اختلاط په وجه فتنه غالبه ده . الى قوله . ددی زمانی متعلق

ستا څه خیال دی کوم چې د فتنې او فساد نه دکه ده . پدې وجه نن همـدا مناسب دی چې د ښځو نه جماعت ساقط شي او دوی لپاره جماعـت تـه حاضـریدل ممنـوع شي څکه چې د نص له مخې په دوی باندې جماعت تـه حاضـریدل لازم او ضـروری ندی . او د قران او حدیث له مخې د فتنو نه ځان ساتل واجب دی ، او پدې باندې اجماع شوی ده چې کوم شئ د حرامو لپاره سبب جـوړ شـي هغـه هـم حـرام دی (رسائل الارکان ص ۱۰۰)

پدې باره کې د حضرت شیخ عبدالحق دهلو رحمه الله رایې گرامي هم قابل د ذکـر دی : فرمایي:

(٦) ((و درین زمان مکروه است برآمدن زنان برای جماعت از جهت فـساد زمان و نیز بر آمدن زنان در آنزمان بقصد تعلیم شرائع بود و احتیاج نیست بـدان در ان زمـان از جهت شیوع و اشتهار احکام شریعت و ستر بحال زنان اولی است))

ترجمه . پدې زمانه کې جماعت لپاره د ښځو حوبات ته راتلل مکروه دی . څکه چې د فساد او د فسې حضرت ده او په نبوت دور کې دوتلو احارد د شرعي تعلیم د حصـول په غرض ده او اوس دا غرض ندی پاتې حکه چې نن صبا د شریعت احکام عـام طـور سره شائع شوی دی ، او د ښځو پرده کې اوسیدل مناسب او بهتر دی (اسعة اللمعـات ص ۳۳۳ قلمی باب الجماعة و فضلها) فقط والله اعلم و علمه اتم

ـ د مقبری خالي ځای کې د اختر لمونځ کول او دغـه ځـای مصلحتاً عیدگاه جوړول :

(۱۴۷ سوال) دلته عیدگاه باره کې جگړه ده ، تاسو ددې فیصله وکړی :

درې څلور کالو نه د عیدگاه جوړولو اراده لری چونکې دا ځای قبرستان لپاره وقـف دی د شرعي مسئلې نه معلومیدو په وجه کار نـدی شـوی ، سږکال د لـوی اختر پـه وخت خینو ځوانانو همت کولو سره ددې قبرستان په خالي ځای باندې (کـوم چـې ډیر لوی او غیر مستعمل دی) د عیدگاه جوړولو د نیت نه بغیر د اختر لمونځ ادا کولو اراده کړی خو د کمیټې او متولیانو د مشوری نه بعد دا فیصله وشوه چـې سږ کـال د قبرستان په ځای کې د اختر لمونځ نه صحیح کېږي او د عیدگاه له نیت پرته چې ډاگ او میدان کې کم لمونځ وکړی شي په هغه باندې د سنت ثواب نه ملاوېږي ، دا قسم شکوک او شبهات پیدا کولو سره هلته د اختـر لمـونځ ادا کولـو نـه انکـار وکـړ ، او دا

مطالبه یې وکړه چې د جومات معین امام به مونږ ته په همدې ځای کې د اختر لمونځ راکوي . او کمیټې والاو جواب ورکړې پدې باندې مونږ د جومات امام نشو مجبورولی که تاسو په جومات کې د لمونځ کولو باندې اصرار کوی نو خانته د خپل امام بندو بست وکړئ هغه ؤ چې هغوی خپل امام پیدا کولو سره په جومات کې د اختر لمونځ ادا کړ ، اوس دا څو پوښتنې دی :

(۱) د اختر لمونځ جومات کې ادا کول بهتر دی یا ښار نه باهر په عیدګاه کې

(۲) په خالي میدان یا د میونسپل (کمیټې) په ځمکه باندې د عیدګاه جوړولو د نیت نه بغیر چې د اختر لمونځ ادا کړی شی نو د سنتو ثواب ملاوېږي یا نه؟

(۳) که د قبرستان په غیر مستعمل ځای کې د اختر لمونځ وکړی شي نو ادا کېږي یا نه؟

(۴) د قبرستان ځمکه دومره فراخه ده چې دده یو کافی ځای سل دوه سوه کالو پورې د مړو دفنولو لپاره پکار نه راځي پداسې خالي ځای کې د عیدګاه جوړولو ګنجائش شته یا نه؟

او که عیدګاه جوړ نه کړی شی نو خطره ده چې دا ځای د حکومت له بدو سترګو نه محفوظ پاتې نشي

(۵) دلته د انګریزی حکومت دا قانون دی چې د ځمکې څوک مالک نه وی او هغه تر دیرشوکالو پورې دغسې پروت وی او ګاونډیان یې نګرانی کوی دیرشو کالو نه وروسته که هغه ګاونډیان ددغه ځمکې د حکومت نه مطالبه وکړی نو حکومت یې ورته ورکوی ، د همدې قانون مطابق د قبرستان نزدې او ګاونډ کې ځمکه قبرستان ته په وقف کې ملاؤ شوی دی ،که پدې ځمکه د اخترلمونځ وکړی شی نو صحیح دی یا نه؟

(٦) په کوم میدان کې د اختر د لمونځ انتظام شوی بیا هم څوک جومات کې بغیر د عذر نه د اختر لمونځ ادا کړی نو ایا مکروه کېږي ؟

(جواب) په هر یو ښار کې عیدګاه ضروری ده په عیدګاه کې د اختر لمونځ ادا کول سنت مؤکد دی [1]

---

[1] _ والخروج الیها ای الجبانة لصلوة العید سنة و ان وسعهم المسجد الجامع وهو الصحیح ، د رمختار مع الشامی باب العیدن ج ۱ ص ۷۲ و قد کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یخرج فی صلوة العید الیه هو موضع معروف

رسول الله (ص) د اختر په ورځ مسجد نبوی پریښودو سره عیدګاه ته تشریف وړلو . د رسول الله (ص) اود صحابهٔ کرامو د عمل څخه د عیدګاه اهمیت معلومېدلی شی د ورو ستنو خلکو عمل موثر لپاره دلیل ندی ، تفصیل لپاره فتاوی رحیمیه ۱ ۲۷۵ . اردو او نوی ترتیب مطابق ۱۷۰.٦ وګوری ، مصحح .
څو پورې چې عیدګاه لپاره موزون ځای پیدا شوی نه وی نو په بیابان وغیره کې د اختر لمونځ لپاره یو ځای د مالک یا د منتظمینو یا د حکومت په اجازه سره مقررولی شی . که قبرستان ډیر وسیع وی نو په خالی ځای کی چې هلته قبرونه ، نه وی او یا وی خو ډیر لری وی یا دیوال شاته وی نوکه په هغه ځای کې عارضی طور بانديې موځ ادا کړی شی قابل دمؤاخذی ندی بلکی مقصد دا دی چې د ښار نه باهر یو ډیر لوی او عظیم اجتماع کی د اختر لمونځ ادا کړی شی او پدې سره د اسلام شان و شوکت معلوم شُي او په خلکوکی عیدګاه کی د لمونځ کولو شوق پیدا شي ، او د شرعی عیدګاه جوړولو په فکر کی شي نو انشاء الله چې د الله په نزد به اجر ولری ، مګر د قبرستان په وقف شوی ځای کی عیدګاه جوړول صحیح نه دی منع دی ، لیکن که د قبرستان وقف شوی ځای ډیر لوی او وسیع وشي او دغه خالی ځای د مړو دفنولو لپاره نه فی الحال ضرورت وی او نه آینده کې ضرورت پیدا کېږي او پاتې کیدو سره د حکومت د بد نظر نه هم محفوظ نه پاتې کېږي او د مسلمانانو له لاس نه د وتو خطره وی نو پداسې حالت کی خالی ځای باندې د شرعی عیدګاه جوړولو ګنجائش شته . کوم ځای چې د چا ملکیت نه وی او وقف هم نه وی ، هغه سرکاری خمکه ده او حکومت ته مذهبی کارونو لپاره د ورکولو اختیار دی لهذا کوم ځای چې د حکومت له طرفه قبرستان ته ملاو شوی هغه هم وقف دی او هلته لمونځ ادا کولی شئ ، دومره جواب انشاء الله دواړو ډلو لپاره کافی دی الله تعالی په تاسو کی اخلاص او خپل منځی د اتفاق فضا پیدا کړی آمین ، فقط .

بالمدینة بینه ، و بین باب المسجد الف ذراع کما فی العینی علی البخاری طحطاوی علی مراقی الفلاح . باب العیدین ص ۲۹۰

ـ د هر ښار عیدګاه جدا پکار ده:

(۱۴۸ سوال) زمونږ په ښار کی عیدګاه لپاره یوه ځمکه اخستل شوې ده مګر دا ځمکه زمونږ د ښار په فناء (مربوطاتو کی) نده بلکی د بل ښار په فنا کی ده . نو ایا د بل ښار په فناء کی زمونږ د ښار عیدګاه جوړیدلی شی ؟ وضاحت وکړئ .

(جواب) د هر یو ښار عیدګاه جدا پکار ده . د بل ښار په فنا کی چې کومه عیدګاه جوړه شی هغه د هماغه ښار عیدګاه حسابیږي مګر ستاسو لمونځ صحیح کیږي ، لهذا تاسو باید د خپل ښار په فنا کی د عیدګاه جوړولو کوشش وکړئ .

او ځو پورې چې عیدګاه نه وی جوړه شوی نو د آبادی نه باهر یو ځای مقرر کړئ که موزون ځای پیدا نه شي نو بیا د ښار په جامع جوماتو کی د اختر لمونځ ادا کولی شئ ، فقط والله اعلم.

ـ بیمار او کمزورو لپاره په جامع جوماتو کی د اختر د لمونځ انتظام کول :

(۱۴۹ سوال) زمونږه په علاقه کی د هندوانو او مسلمانانو کورونه یو ځای دی په علاقه کی دوه جوماتونه دی او عیدګاه هم شته لیکن د ښځو لری اوسدونکو لپاره عیدګاه دوه کلو میتره لری کیږي او د اختر لمونځ یواځی عیدګاه کې کیږي ، ډیر بوډاګان بیماران او کمزوری خلک د سورلی د انتظام نیشتوالی په وجه عیدګاه ته نشي رسیدلی او د اختر مانځه نه محروم پاتې کیږي ایا داسې بوډاګان ، بیماران او کمزوری خلکو لپاره د عیدګاه نه علاوه د ښار جامع جوماتو کی د اختر لمونځ د ادا کولو انتظام شرعاً جائز دی یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) د اختر لمونځ په عیدګاه کی ادا کول سنت مؤکد دی لیکن کوم مریض ضعیف او معذور خلک چې عیدګاه ته نشي تللی دوی لپاره د ښار جامع جوماتو کی د اختر لمونځ د ادا کولو انتظام جائز دی په کبیری کی‌دی :

((فان ضعف القوم عن الخروج امرالامام من یصلی بهم فـی المسجد روی ذلک عن علی رضی الله عنه)) (کبیری ص ۵۲۹ صلوة العید)

او په شامی کی دی :

((و في الحانية السنة ان بخرج الامام الى الجبانة و يستخلف غيره ليصلي في المصر بالضعفاء بناءً على ان صلوة العيدين في موضعين جائزة بالاتفاق الخ)) (شامي ج ۱ ص ۷۷ باب العيدين)

په مجالس الابرار کې دي :

((ثم الخروج الى الجبانة سنة و ان وسعهم الجامع لكن يستخلف الامام من يصلي في المصر بالضعفاء والمرضى بناءً على ان صلوة العيد في الموضعين جائزة بالاتفاق))

ترجمه : عیدګاه ته تلل سنت دي اګر که ټول په جامع جومات کې ځائیږي ، لیکن امام به څوک خپل خلیفه جوړ کړي چې په ښار کې دننه کمزورو او بیمارانو ته د اختر لمونځ ورکړي ، پدې بناء چې په یو ښار کې دوه ځایه په اتفاق سره د اختر لمونځ [illegible]ز دی (مجالس الابرار ص ۲۱۲ ، ۲۱۳ (۳۲) نمبر مجلس) فقط والله اعلم.

ـ شافعي امام پسې د اختر لمونځ کول:

(۱۵۰ سوال) که یو حنفي شافعي امام پسې د اختر لمونځ کوي نو په زیاتو تکبیرو کې د امام پیروي وکړي یا نه؟ د حنفي مذهب خو شپږ تکبیرونه دي او د امام شافعي په نزد اول رکعت کې اوه او په دویم رکعت کې پنځه تکبیرونه دي نو حنفي مقتدي به څه کوي ؟

(جواب) که یو حنفي شافعي امام پسې د اخترلمونځ کوي نو په زیاتو تکبیرونو کې به هم د امام پیروي کوي ((و لو زاد تابعه الى ستة عشر لانه مسنون)) (در مختار مع الشامي ۷۰۸/۱ باب العيدين) فقط والله اعلم،

ـ د لوی اختر د مانځه مخکې خوراک نه کول مستحب دي:

(۱۵۱ سوال) د لوی اختر په ورځ مستحب دا دي چې تر مانځه پورې خوراک ، څښاک نه کوي ، دا حکم چا لپاره دي ؟ څوک چې قرباني کوي یا د ټولو لپاره ؟ وضاحت وکړي.

(جواب) دا حکم یواځې قرباني کونکي لپاره نه دي ، د ټولو لپاره مستحب دا دي چې د روژه دار پشان پاتې شي او د لوی اختر د مانځه نه وروسته خوراک څښاک وکړي که خپل کور کې قرباني وي نو د خپلې قرباني څخه خوراک وکړي ، او بغیر د عذر نه مخکې د مانځه نه خوراک کول مکروه دي : په کبیری کې دي :

((والمستحب يوم الاضحى تاخير الا كلى الى ما بعد الصلوة لما فى الترمذى كان عليه الصلاة والسلام لا يخرج يوم الفطر حتى يطعم و لا يطعم يـوم الاضـحى حتـى يصـلى و قيل هذا فى حق من يضحى لا فى حق غير و الاول اصح . و الاصح انه يكره الا كـل قبل الصلوة هنا)) (كبيرى ص ۵۲۴ ، صلاة العيد) فقط والله اعلم.

ـ که امام دويم ركعت كى پاتې شوى تكبير ووايى او مقتـديان ركوع وكړى نو :

(۱۵۲ سوال) د اختر په مانځه كى د امام نه اول ركعت كى يو زائد تكبير پاتې او هير شو يعنى د دريم تكبير نه وروسته لاسونو ترلو په ځاى دويم تكبيـر نـه وروسـته لاسـونه وتړل او بيا دويم ركعت كى د قرائت نه وروسته په زياتو تكبيرو كى يو تكبيـر ور زيـات كړ يعنى د ځلورم تكبير په ځاى پنځم تكبير نه وروسته ركوع وكړ او مقتديانو د ځلورم نه وروسته ركوع وكړ نو لمونځ وشو كه دوباره كول يې ضرورى دى ؟ وضاحت وكړى.

(جواب) پدې مسئله كى امام پنځم تكبير ويلو سره مقتديانو سره په ركوع كى شريک شو نو لمونځ صحيح كيږي ، خو چې سجده سهوه وكړى ليكن چـې مجمـع خلـک ډير زيات وى سجدة السهوه كولو سره د انتشار او ګړبـړ پيـدا كيـدو خطـره وه نـو بيـا سجده سهوه معاف كيږي او لمونځ كيږي د دوباره كولو ضرورت نشته[1] فقط والله اعلـم

۱۳ شوال المكرم ۱۴۰۰ هـ

ـ د اختر لمانځهٔ نه مخکې د نفل حکم :

(۱۵۳ سوال) د اختر مانځه نه مخکې جومات كى نفل لمونځ كولى شـى يـا نـه؟ كـه مكروه دى نو تنزيهى يا تحريمى ؟

(جواب) نشي كولى ، نفل كول مكروه تحريمى دى په طحطاوى كى دى :

((قوله فانه مكروه اى تحريماً على الظاهر الخ (طحطاوى علـى الـدر مختـار ج ۱ ص ۵٦۲ باب العيدين))) فقط والله اعلم.

---

[1] ـ قال فى البدائع اذا تركها او نقص منها اوزاد عليها او اتى بها فى غيرها موضعها فانه يجب عليه السجود كذا فى البحر الرائق .... السهو فى الجمعة والعيدين والمكتوبة والتطوع واحدا لا ان مشائخنا قالوا لا يسجد للسهو فى العيدين والجمعة لئلا يقع الناس فى الفتنة كذا فى المضمرات ناقلا عن المحيط الفتاوى عالمگيرى سجود السهو ج ۱ ص ۱۲۸

ـ شافعی امام پسې د حنفی اقتداء کول :

(۱۵۴ سوال) پدې باره کی دینی علماء څه فرمایی چې د شافعی مذهب مطابق د اختر لمونځ په اول رکعت کی اوه او په دویم رکعت کی پنځه تکبیرونه ویل کېږي او د حنفی مذهب مطابق په دواړو رکعتو کی ټول شپږ تکبیرونه دی نو پدې حال کی حنفی مقتدی شافعی امام پسې دولس تکبیرونه ووایی یا درې درې تکبیرونه ویلو سره چپ پاتی شی ؟

(جواب) که حنفی سړی شافعی امام پسې د اختر لمونځ کوی نو په زیاتو تکبیرونو کی به د شافعی امام پیروی کول پکار دی ، لیکن د شافعی وغیره امام د سحر په دائمی قنوت او رفع الیدین او د جنازی لمونځکی د څلورو نه زیاتو تکبیرونو کی به د امام پیروی نه کوی ځکه چې منسوخ دی :

((و لهذا لو اقتدى بمن يرفع يديه عند الركوع او بمن يقنت فى الفجر أو بمن يرى تكبيرات الجنازه خمسة لا يتا بعه لظهور خطاءه بيقين لان ذلک كله منسوخ بدئع اقوال يوخذ منه ان الحنفى اذا اقتدى بشافعى فى صلاة الجنازة يرفع يديه لانه مجتهد فيه فهو غير منسوخ لانه قد قال به ائمة بلخ من الحنفية و سياتى تمامه فى الجنائز و قدمناه فى او اخر بحث و اجبات الصلوة)) (در مختار و شامی ج ۱ ص ۷۸۰ باب العيدين)

ـ که د اختر په لمونځ کی د دویم رکعت قرائت نه مخکې تکبیرونه ووایی نو څه حکم لری؟

(۱۵۵ سوال) امام صاحب د اختر لمونځ دویم رکعت کی د قرائت نه مخکې تکبیرونه ووبل نو لمونځ کېږي یا نه؟

(جواب) لمونځ صحیح دی ((فان قدم التكبيرات على القراة فيها جاز)) (نور الايضاح ص ۱۳۸ باب العيدين)

ـ که د اختر لمونځ اول رکعت کی زیاتې تکبیرونه هیر شي :

(۱۵۶ سوال) امام صاحب نه د اختر لمونځ اول رکعت زیاتی تکبیرونه هیر شول نو اوس څه وکړی؟

(جواب) که د سورت فاتحی د څه حصی یا پوره فاتحه لوستو نه وروسته وریاد شی نو تکبیرونو ویلو سره به سورت فاتحه دوباره ولولی ، او که سورت فاتحه او بل سورت

وستو نه وروسته وریاد شي نو بیاځی تکبیرونه به ووایي . د قرائت دوباره کول نشته .
(مجالس الابرار):
((و لو نسی التکبیر فی الرکعة الاولی حتی ، قرا بعض الفاتحة او کلها ثـم تـذکر یکبـرو یعید الفاتحة و ان تذکر بعد قراءة الفاتحة والسورة یکبر و لا یعید القراة لا نها تمت و لا ن التام لا یقبل النقص ما لا عادة الخ)) (مجالس الابرار م ۳۲ ص ۲۱۳) (کبیری ص ۵۲۹) فقط

ـ په عیدګاه کی دوباره جماعت کول:

(۱/۱۵۷ سوال) که د اختر جماعت فوت شي نو په عیدګاه کی دویم جماعت څنګه وی ؟
(جواب) په عیدګاه دویم جماعت کول مکروه دی د چا نه چي لمونځ فوت شوی وی په هغه جومات کی دی جماعت سره ادا کړی چې هلته د اختر لمونځ نه وی ادا شوی[1] والله اعلم.
(۲/ سوال) کله چې د اختر مانځهٔ لپاره عیدګاه ته تلل سنت دی نو نه تلونکی ګنهګار دی یا نه؟ وضاحت وکړی .
(جواب) او د وړوکی او لوی اختر لمونځ لپاره عیدګاه ته تلل سنت مؤکد دی او بغیر د عذر څخه نه تلونکی تارک سنت ، قابل د ملامتیا او ددې عادت جـوړونکی ګنهګـار دی په البحر الرائق کی دی : ((حتی لو صـلی العیـد فـی الجـامع و لـم یوجـه الـی المصلی فقد ترک السنة (ج ۲ ص ۱۵۹ باب العیدین طحطـاوی ج ۱ ص ۵۶۰ . کبیـری ص ۵۲۹ عمدة الرعایة ج ۲ ص ۲۳۵ وغیره)
ترک السنة المؤکد قریب من الحرام یستحق حرمان الشفاعة))
او په در مختار کی دی :
ترجمه : د مکروه تحریمی مرتکب ګنهګار وی لکه چې تارک د واجبو ګنهګـار وی او د سنت مؤکد حکم هم د واجب په شان دی (شامی ۲۹۵/۵ کتاب الحضر والاباحة) فقط والله اعلم.

---

[1] ـ و لا یصلیها و حده ان فاتت مع الامام ولو بالافساد اتفاقا فی الاصح کما فی تمیم البحر و فیها بلغز ای رجل فسد صلاته واجبة علیه القضاء و لا قضاء . و لو امکنه الذهاب الی امام آخر فعل لا نها تؤدی بمصر واحـــد فی مواضع کثیرة اتفاقا شامی باب العیدین ج ۱ ص ۷۸۳ .

ـــ د اختر مانځهٔ لپاره حجره په کرایه نیول:

(۱۵۸ سوال) موږ په انګلینډ کی ((لسټر)) نومی‌خای کی اوسیږو او لـدې خـای نـه جومات ډیر لری بل ښار کی دی او هغه جومات هم د اختر ، جمعې وغیره کی لمونځ ګذارو لپاره ناکافی دی د هغه ځای اوسیدونکی هم د اختر مانځه لپاره یو کور په کرایه نیسي ، او موږه دومره وس او طاقت نلرو چې کوم فراخه خـای واخلـو لهذا که چیرته موږ کومه حجره په کرایه باندې د اختر لمـونځ لپـاره ونیسـو او اختر لمونځ پکې ادا کړو نو شرعا پدې کی څه ګناه شته؟

نوټ : د هر اختر په موقع باندې موږ دلته حجره په کرایه نیسو او لمونځ پکې ادا کوو ځکه چې دلته دوه دریو مسلمانانو خپل کورونه هم شته مګر دومره کافی ځای پکې نه وی او د حجری وقف کولو طاقت هم نلرو پدې وجه حجره په کرایه نیولو سره لمونځ ادا کولی شی.

(جواب) د جمع او د اختر لمونځ صحیح کېدو لپاره جومات شرط نه دی په ښار او د ښار په فناء کی ادا کولی شی (هدایه ۱۸۴/۱)[1] (طحطـاوی علـی مراقـی الفـلاح ص ۲۹۳).

د مانځه د ځای وقف کیدل هم ضروری ندی ، خپل کور او د کرائې پـه حجـره کـی هم ادا کیدلی شی لیکن شرط دا دی چې اذن عام وی یعنی ټولو مسـلمانانو تـه پـه کی د لمونځ کولو اجازه وی (در مختار مع الشامی ۷٦۱/۱ باب الجمعة)

لهذا تاسو د جومات تر جوړیدو پورې خپلو کورو کی هم لمونځ ادا کولی شئ ، بهتـر دا دی چې مانځه لپاره کوم کور یا حجره مقرر کړی شـی چـې هلتـه آذان او اقامـت سره با جماعت لمونځ ادا کړی شی او د جمعې او اخترونو کی چې ځای ناکافی وی نو زیاتی خلک دې باهر په روډ وغیره باندې صفونه وغوړوی او لمونځ ادا کړی.

(۱۵۹ سوال) پدې مسئله کی دینی علماء څه فرمایی چې د اختر لمونځ په عیـدګاه کی ادا کول سنت مؤکد دی یا غیر مؤکد یا افضل ؟

(۲) که سنت مؤکد دی نو ددې پریښودونکی ګنهګاربږي یا نه؟

---

[1] ـ لا تصح الجمعة الا فی مصر جامع او فی مصلی المصر و لا تجوز فی القری لقوله علیه السـلام لا جمعـة و لا تشریف و لا ضحی الا فی مصر جامع ...... من یجوز فی جمیع اقبة المصر باب الصلوة الجمعة . طحطاوی علـی مراقی الفلاح ص ۲۹۳

(۲) که سنت مؤکد وی نو ددې دلائل د فقه د معتبرو کتابونو حوالـو او صفحو سره ولیکی جزاکم الله

(جواب) (۱، ۳) د اختر لمونځ په عیدګاه کی ادا کول سنت موکـده متوارثـه دی، رسول الله (ص) د مسجد نبوی د فضیلت باوجود علی سبیل المواظبت و عبادت د اخترونو لمونځ په عیدګاه کی ادا کړی بواخی یو ځل د باران پـه وجـه رسـول الله (ص) په جومات کی ادا کړی دی، په ((زاد المعاد)) کی دی:

((کان صلی الله علیه وسلم یصلی العیدین فی المصلی (الی قوله) و لم یصـلی العید بمسجد الامرة واحدة اصابهم مطر فصلی بهم العید فی المسجد (ج ۱ ص ۱۲۴)))

او کتاب المدخل کی دی:

((السنة المرضیة فی الصلوة العیدین ان تکون فی المصلی لان النبی صـلی الله علیه وسلم قال صلوة فی مسجدی هذا افضل من الف صلوة فیما سواه الا المسجد الحـرام ثم مع هذه العظیمة . خرج صلی الله علیه وسلم الی المصلی و ترک المسجد فهو دلیل واضح علی تاکید امر الخروج الی المصلی صلوة العیدین فهی سنة ج ۲ ص ۸۲) لکن الخروج الی الجبانة سنة مؤکدة الخ عمدةالرعایةعلی شرح الوقایة ج ۱ ص ۲۴۵ فصل العیدین)))

(۲) د اختر لمونځ لپاره عیـدګاه تـه تلـل سنت مؤکـد دی، بغیـر د عـذر نـه ددی پرېښودونکی لائق د ملامتیا او مستحق د عذاب دی، او ددې عادتی ګنهګارېږي، په در مختار کی دی ((و یاثم بار تکابه کما یاثم بترک الواجب و مثله السنة المؤکدة))

یعنی د مکروه تحریمی په ارتکاب سره سړی ګنهګـارېږي لکـه ځنګـه چـې پـه تـرک د واجب سره ګنهګارېږي او د سـنت مؤکـدهم همـدا حکـم دی (شـامی ۲۹۵/۵ کتـاب الحظ والاحابة)

د ښار نه د عیدګاه لرې کیدو په وجه کمزورو او بیمارانو ته تکلیف جـوړېږي نـو دوی لپاره په جومات کی د انتظام کولو فقهاو اجازه کړې ده.

((ثم الخروج الی الجبانة سنة و ان وسعهم الجامع لکـن یستخلف الامـام مـن یصـلی بالضعفاء والمرضی بناءً علی ان صلوة العید فی الموضعین جائزة بالاتفاق الخ))

یعنی عیدګاه ته تلل سنت دی اګر که ټول خلک په جامع جومات کی ځائیږی، البته امام دی یو کس خپل نائب یا خلیفه ودروی چې په ښار کـی کمـزورو او بیمـارانو تـه لمونځ ورکړی ځکه چې د اختر لمونځ یو ښار کی دوه ځایه په اتفاق سره جـائز دی (

مجالس الابرار م ۳۳ ص ۲۱۲ ، فتح القدير ۱ ۴۲۳ ، کبیری ص ۵۲۹ ، فتاوی سراجیه ص ۱۸) والله اعلم بالصواب

ـ که د اختر تکبیرونه هیر شي څه حکم لری؟

(۱۶۰ سوال) که چیرته امام د اختر لمونځ دویم رکعت کی زیاتی تکبیرونه هیر کړی او په رکوع کی یادیدو سره ودریږی او تکبیرونه ووایی نو لمونځ فاسدېږي یا نه؟ ځکه چې د فرض پرېښودو سره واجب ته راګرځیدل لازمېږي.

(جواب) پدې مسئله کی لمونځ نه فاسدېږي[1]

(سوال) که امام د اختر لمونځ په اول رکعت کی زیاتی تکبیرونه هیر کړی او د سورت فاتحی مکمل یا څه حصه لوستو نه وروسته ور یاد شي نو د تکبیرونو څه حکم دی ووایی یا نه؟

(جواب) یادیدو سره دې تکبیرونه ووایی او سورت فاتحه به دوباره ووایی ، او که چیرته د الحمد لله او سورت لوستو نه وروسته وریاد شي نو بیا به یواځی تکبیرونه ووایی د قرائت دوباره کولو ضرورت نشته[2]

ـ د اختر لمونځ ترتیب :

(۱۶۱ سوال) د اختر لمونځ په تکبیرونو کی ډیری غلطیانی کیږي یعنی کله تکبیر سره لاسونه اوچت کړی او کله نه ، او لاسونه کله خلاص پریدی او کله وتړی ؟ پدې نه پوهېږو لږ وضاحت راته وکړی . مهربانی

(جواب) اول رکعت کی د تکبیر تحریمی سره څلور تکبیرونه دی په څلورو تکبیرونو کی لاسونه تر غوږونو پورې اوچتولی شی ، اول او څلورم تکبیر وخت کی لاسونه تړل کېږي ، دا قاعده یاد لری چې د کوم تکبیر نه وروسته څه لوستل وی نو هلته لاسونه وتړئ او کوم خای چې لوستل نه وی هلته خلاص پریدئ[1] وګورئ :

---

[1] ـ و ذکر فی کشف الاسرار ان الامام اذا سها عن التکبیرات حتی رکع فانه یعود الی القیام الخ فتاوی عالمگیری سجود السهو ج ۱ ص ۱۲۸ .

[2] ـ و فی المحیط ان بدء الامام بالقراة سهوا ثم تذکره فان فرغ من قراة الفاتحة و سورة یمضی فی صلاته و ان لم یقرء لا الفاتحة کبر و اعاد القراة لزوما بحر الرائق باب العیدین ج۲ ص ۱۶۰ .

[1] ـ و یرفع یدیه فی الزواید و ان لم یری امامه ذلک الا یدذا کبر راکعاً فلا یرفع یدیه علی المختار لان اخذ الرکعتین سنة فی محله لیس بین تکبیراته ذکر مسنون و لذا یرسل یدیه قال فی الشامی تحت قوله و لذا یرسل یدیه

اول تکبیر ـ لاسونه اوچتولو سره وتړی . (ثناء لوستل کېږي)
دویم تکبیر ـ لاسونه اوچتولو سره پریدی .
دریم تکبیر ـ لاسونه اوچتولو سره پریدی .
څلورم تکبیر ـ لاسونه اوچتولو سره وتړئ ، (قرآن ویل کېږي)
په دویم رکعت کی هم د رکوع سره څلور تکبیرونه دی په اولنو دریو تکبیرونو کی لاسونه اوچتولو سره پریدی او په څلورم تکبیر کی بغیر د لاس اوچتولو نه رکوع ته لاړ شی ، که دغه طریقه په خیال کی وساتی نو انشاء الله غلطی به نه کېږي فقط والله اعلم.

ـ د ښځو لپاره د اختر احکام :

(۱۶۲ سوال) ښځو ته د اختر مانځه لپاره د تلو حکم لشته نو دوی له غسل کول او نوی جامی اغوستل پکار دی یا نه؟

(جواب) حی آو، د اختر په ورځ ښځو له مستحب دی چې غسل وکړی او بهترین لباس واغوندی ، ځکه چې دا د خوشحالی او د زینت ورځ ده (کبیری صلاة العید ص ۵۲۴)

ـ د اختر لمونځ باره کی یوه بله مسئله :

(۱۶۳ سوال) په ښار کی پنځوس میله لری لس دولس دوکانونه دی او ددې ځای آبادی ډیره کمه ده دوکاندارانو سره د جنرل ډیلر (عمده فروشی) لایسنس دی او دوی هر کال د اختر لمونځ ادا کوی او خطبه هم یو صاحب ورکوی لیکن ددې لپاره جومات یا عبادتګاه نشته صرف کولاو میدان کی ادا کوی او یواځی د اختر لمونځ کوی د جمعې وغیره لمونځونه ، نه کېږي ، نو د اختر لمونځ صحیح کېږي یا نه؟ او مقتدیان فقط (۳۰-۴۰) کسان وی

(جواب) پدې مسئله کی د اختر لمونځ واجب نه دی[۲]

ای فی اثناء التکبیرات و بضعها بعد الثلاثة کما فی شرح المنیة لان الوضع سنة قیام طویل فیه ذکر مسنون . شامی باب العیدین ج ۱ ص ۷۸۲ .

[۲] ـ قوله شرط ادائها المصر ای شرط صحتها ان تؤدی فی مصر حتی لا یصح فی قریة و لا مفازة لقول علی رضی الله عنه لا جمعة و لا تشریق و لا صلاة فطر و لا اضحی الا فی مصر او مدینة عظیمة بحر الرائق ، بـــاب صـــلاة الجمعة ج ۲ ص ۱۴۰.

واجب دا دی چې فورا جومات جوړ کړی او پنځه وخته لمونځونه پکې ادا کړی . که واجب نه ادا کېږي نو یواځې د اختر لمونځ شوق یود جذباتی خبره دد مذهبی مسئله نه ده .

_ د اختر لمونځ باره کی یوه بله مسئله :

(۱٦۴ سوال) د اختر په ورځ یو بل ته مبارکی ورکول جائز دی یا نه؟

(جواب) جائز دی . تقبل الله منا و منکم او تاسو ته دې اختر مبارک وی ، وغیره الفاظ ووایی (در مختار مع الشامی ۱ ۷۷ باب العیدین) والله اعلم بالصواب .

_ عیدګاه ته تلو نه مخکې سنت څه دی؟

(۱٦۵ سوا ل) عیدګاه ته تلو نه وړاندې د پیو اوخرماؤ ته د جوړ شوی څیز (شیر خرما) خوړلو رواج دی ایا دستور دی ، پې آخستو سره جوړوی ددې څه اصل شته ، جواب راته ولیکی مهربانی.

(جواب) عیدګاه ته تلو نه مخکې یو څو طاق کجوری یا چواری او یا خوږ شئ خوړل مستحب دی (در مختار مع الشامی ۱ ۷۷٦)[1]

او د پیو او خرماؤ خصوصیت بې اصل یو رواجی شئ دی دا باید مسنون ونه ګڼل شي (البحر الرائق ۲ ۱۵۸)

((و اما ما یفعله الناس فی زماننا من جمع التمر مع اللبن والفطر علیه فلیس له اصل فی السنة ، باب العیدین)).

_ د عیدګاه تر جوړیدو پورې کوم میدان کی لمونځ وکوړو ؟

(۱٦٦ سوال) که کوم ځای کی عیدګاه نه وی نو په کوم میدان کی لمونځ کول بنه دی یا جومات کی؟

(جواب) ښار یا قریه یا لوی قصبه (کلی) چې د قریې پشان وی او هلته د جمعې او اخترونو وغیره ادا کولو علماؤ اجازه کړی ، نوهلته د آبادی نه باهر ډاګاو بیابان کی عیدګاه جوړول ضروری دی ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی په عیدګاه کی د اختر مانځه لپاره د جمع کیدو وجوهاتو کی یوه وجه دا ښودلې ده چې د هر ملت او قوم لپاره یوه ورځ وی چې په هغه ورځ کی ددوی شان و شوکت ظاهر شي او تعداد یې زیات ښکاره شي . پدې وجه عیدګاه کی د ټولو خلکو راټولیدل سنت کرځول.

[1] و یندب یوم الفطر اکل حلو قبل خروجه الی صلاتها (باب العیدین . کبیری ص ۵۲۴)

شوی دی . رسول الله (ص) به په یوه لاره تللو او په بله لاره به راتللو تر څـو د دواړو لارو اوسیدونکی د مسلمانانو شان و شوکت په ښه توګه وګوری

((و سن الصلوة والخطبة لئلا یکون شیئ من اجتماعهم بغیر ذکـر الله و تنویـه شعائر الدین و ضم معه مقصدا آخر من مقاصد الشریعة وهو ان کـل ملـة لا بـدلها مـن عرصـة یجتمع فیها اهلها لتظهر شوکتهم و تعلم کثرتهم و کذلک استحب خروج الجمیـع حتـی الصبیان والنساء و ذوات الخدورو الحیض و یعتزلن المصلی و یشهدن دعوة المسلمین و کذلک کان النبی صلی الله علیه وسلم یخالف فی الطریق ذهاباً و ایاباً لیطلع اهل کلتا الطریقتین علی شوکة المسلمین و لما کان اصل العید الزینة اسـتحب حسـن اللبـاس و التقلبس و مخالفة الطریق والخروج الی المصلی)) (حجة الله البالغه ص ۱۰۵ ، ۱۰٦ ج ۲ باب العیدان)

لهذا په هره طریقه چې کیږي زر تر زره عیدګاه جوړه کړی او څو پورې چـې عیـدګاه جوړه شي نر هغې پورې د آبادی نه باهر کوم ځای مقرر کـړئ چـې ټـول مسـلمانان یکې لمونځ وکړی او د اجر عظیم مستحق وګرځی . انشاء الله سـبقت کـونکی بـه د زیات ثواب حقدار وی ، فقط .

ـ په عیدګاه کی مانځه لپاره د خلکو انتظار کول :

(۱٦۷ سوال) د سلام مسنون نه وروسته د لاندنی سوالونو جوابونه د قـرآن و حـدیث له حوالو سره راکړی مهربانی

زمونږه په کلی (۷۰۰-۸۰۰) مسلمانان دی او په کلی کی یو جومات او یوه عیـدګاه د باران موسم نه علاوه نورو وختو کی د اختر لمونځ په عیدګاه کی کیږي څـو کسـان د اختر مانځه لپاره وخت مقرروی نه چې وخت پوره شئ نو یدی وخت کـې د نـږدی او لری څخه خلک راتلونکی معلومیږي ، حینی خلک آوار کوئ چې وخـت پـوره دی لمونځ شروع کړئ . امام صاحب خلک پوهوی چې د خلکو نه لمونځ پـاتې کیـږي او دوباره یې نشي کولی ، که پداسې حالت پنځه ، یا لس منټه تاخیر وکړی شـی نـو څـه ګناه شته؟

که د تاخیر ګنجائش وی او د خلکو په وینا لمونځ شروع کړی شی نـو ګنهګـار څـوک دی؟

امام صاحب یا تلوار کونکی خلک ؟

(جواب) لاندې ذکر شوی هدایاتو باندې چې عمل وکړی شي نو چاته به د شکایت موقع نه پیدا کیږي

(۱) د اختر د لمونځ وخت داسې پکار دی چې د سحر لمونځ نه فارغیدو سره د سنت طریقې مطابق خلک تیاری کولو سره عیدګاه ته خان ورسوی.

(۲) د اختر په موقع باندې د خینو کسانو وروسته پاتې کیدلو احتمال وی لهذا امام او خلکو ته پکاردی چې تلوار ونه کړی د مقرر وخت نه وروسته هم شپږ اوه منټه انتظار کولو سره لمونځ شروع کړی شي، حاضرینو ته پداسې موقع باندې لږ د صبر او تحمل نه کار اخستل پکار دی، امام صاحب ته مشوره خو ورکولی شي لیکن لمونځ شروع کولو باندې اصرار کول نه دی پکار، د امام هم ذمه واری ده چې د حاضرینو تکلیف ته خیال کولو سره د وروسته پاتې کیدونکو رعایت وکړی او په قرآن او خطبه کې اختصار کولو سره د ما فات تلافي وکړی، په کال کې دوه (۲) موقع راخي چې بیلمازان هم پکې شرکت وکړی، او کمزوری، بیماران اومعذوران هم وی که لمونځ ورنه فوت شي نو د ډیرو برکاتو خخه به محروم پاتې شي، لهذا بايد چې لږ انتظار وکړی شي او په (تعاونوا علی البر) باندې عمل کولو سره د اجر مستحق جوړ کړی شي، البته خوک چې په آخر وخت کې د راتللو عادت لرى هغوی د حاضرینو د تکلیف احساس نه لري او د خپل لمونځ فکر هم ورسره نه وی (خو. خو) وايي او وخت تیروی دداسې غافل کاهل او تنبل خلکو انتظار کول ددوی عادت خرابول دی.

((و في المنتقى ان تاخير المؤذن و تطويل القراءة لا دراک بعض الناس حرام هذا اذا مال لاهل الدنيا تطويلاً و تاخيراً يشق على الناس فالحاصل ان التاخير القليل لا عانة اهل الخير غير مكروه اه)) (شامي ص ۴۶۲ ج ۱ باب صفة الصلوة مطلب في اطالة الركوع للجائي) فقط والله اعلم.

د اختر په لمونځ کی وروسته شرکت کونکی زیاتی تکبیرونه کله ووایی؟

(۱۶۸ سوال) امام صاحب د اختر لمونځ قرائت شروع کړی پدې وخت کې یو سړی راشي او جماعت کې شریک شو نو تکبیرونه ووایي یا نه؟ که اول رکعت پاتې شي په دویم رکعت کې شریک شي نواول رکعت به خنګه کوی؟

(جواب) که امام سره اول رکعت کی د قرائت په وخت شریک شي نو نیست کولو او تکبیر تحریمه ویلو سره به زیاتی تکبیرونه ووایی ، په ((در مختار)) کـی ((و لـو ادرک المؤتم و الامام فی القیام بعد ما کبر ، کبر فی الحال)) یعنی که مقتدی د امـام تکبیـر ویلو نه وروسته د قیام په حالت کی شریک شـوی وی نـو فـوراً بـه تکبیرونـه ووایـی (درمختار مع الشامی ۷۸۱/۱ باب العیدین)

او که دویم رکعت کی شریک شوی وی نو د امام سلام گرځولو نه وروسته پاتې شـوی رکعت ادا کولو لپاره به ودرېږي ، ثناء ، تعوذ ، بسم الله ، سورت فاتحه او یو بل سورت ورسره ولولی او بیا د رکوع نه مخکې زیاتی تکبیرونـه ووایـی او پـاتې لمـونځ پخپـل طریقه باندې پوره کړی ، ((و لو سبق برکعة یقرء ثم یکبـر لـئلا یتـوالی التکبیـر)) (در مختار مع الشامی ۷۸۲/۱) والله اعلم.

ـ په درمن ځای او گودام کی د اختر لمونځ:

(۱٦۹ سوال) زمونږ په کلی کی دوه جوماتونه دی په دواړو کی د اختر لمونځ کېږي په وړوکی جومات کی تنگی وی نو که چیرته سرکاری ځای درمن ځای او گودام کی لمونځ د اختر روا کړی شی نو څه حکم لری؟

(جواب) او پـدې ځـای د اختـر مـونځ صـحیح دی کـه د اجـازت ضروری وی نـو حکومت څخه دې اجازه حاصل کړی شی فقط والله اعلم

ـ د اختر مانځه لپاره د ځمکی مالک څخه اجازه اخستل پکار دی:

(۱۷۰ سوال) پورته ذکر شوی صورت کی د حکومت اجازت ملاو نشي نو که د چا په ځمکه کی د هغه د مالک په اجازې سره اختر لمونځ وکړی شی نو صحیح دی ؟

(جواب) جی آو ، د مالک په اجازې سره د اختر لمونځ ادا کـولی شـی ، فقـط والله اعلم.

ـ د اختر لمونځ دوباره ادا کول :

(۱۷۱ سوال) د اختر لمونځ په بمبئ کی ادا کړ او بیا نو ساری ته راغلم دلته په دویم ورځ اختر سو نو دلته دوباره د اختر لمونځ ادا کولی شم یا نه؟

(جواب) آو ، کولی شی د نفلو په نیت وکړه ((فتاوی سراجیه)) کی دی ((اذا صـلی العید فی بلدة ثم انتهی من الغد الی قوم یصلون صلاة العید بلدة اخری فصـل معهـم لم یکره)) (ص ۱۸)

ترجمه که چې يو سړی يو ښار کی اختر لمونځ کولو سره بل ښار ته لاړ شي چې هلته د اختر لمونځ کيدلو ، که له هغو سره دې شامليدو سره دوباره ادا کړی نو لمونځ يې صحيح دی مکروه ندی.

د تشريق تکبير يو ځل ووايي که درې ځلی؟

(۱۷۲ سوال) د تشريق تکبير يو ځل ويل مسنون دی يا درې ځلی ؟

جواب) يو ځل تکبير ويل واجب دی . درې ځلی ويل مسنون ندی ، درې ځلی ويلو قول صحيح او مفتی به ندی ((حتی لو زاد خالف السنة)) (مجمع الانهر ۱ ۱۷۶ صلاة العيد) فقط والله اعلم.

په ايام تشريق کی د تکبيرونو ويلو حکم :

(۱۷۳ سوال) په ايام تشريق کی تکبير ويل واجب دی يا نه؟ په زوره ويل پکار دی يا په پټه ؟ که په زوره ويلو باندې څوک اعتراض وکړی چې پدې سره د چا په لمونځ کی خلل راځي نو پداسې موقع کی پرينبودل پکار دی يا په ورو ووايي ؟

(جواب) په ايام تشريق کی پنځه وخته لمونځونو نه وروسته تکبير ويل واجب دی په مالا بد منه کی دی :

مسئله : تکبيرات تشريق بعد هر نماز فرض بجماعت گزارده شود واجب است (ص۶۰) او په زوره ويلو حکم دی ((بگويد يکبار بآواز بلند الله اکبر)) (۶۰ صفحه)

مسبوق وغيره لمونځ گذارو په موجودگی کی په ورو ويلو حکم نشته بلکی په زوره به وايی . البته چيغی وهل او په تکلف سره آواز ويستل په هر حال کی ممنوع او مکروه دی . فقط والله اعلم.

د لوی اختر د لمونځ نه وروسته تکبير ووايی يا نه؟

(۱۷۴ سوال) د لوی اختر د مانځه نه وروسته د تشريق تکبير ووايی يا نه؟

(جواب) دا هم اختلافی مسئله ده :

((و لا يکبير عقيب السنن والنوافل و صلوة العيد (فتاوی سراجيه (ص ۱۸) و لا يکبر عقب الوتر و عقيب صلوة العيد خلاصة الفتاوی (ص ۱۶و ج ۱) و ما يتصل بهذا تکبيرات ايام التشريق) قوله المفروضات يحترز من الوتر و صلوة العيد (الجواهرة النيرة ص ۹۶ ج ۱ باب صلوة العيدين) قوله المفروضات (فتاوی عالمگيری ص ۱۸۳ ج

(ايضاً) و لا يجب عقيب صلوة العيد و لا عقيب الوتر و لا عقيب النوافل لان تلك الصلوات ليست بفريضة (مجلس الابرار ص ۲۳۱ م ۳۵)
و لا باس بالتكبير عقب صلوة العيدين (نور الايضاح ص ۱۹۹ باب العيدين) كذا في المبسوط ابى الليث لتوارث المسلمين ذالك (مراقى الفلاح ص ۱۰۸ ايضا) و قيد بالمكتوبة احترازاً عن الواجب كصلوة الوتر والعيدين و عن النافلة فلا تكبير عقبها و في المجتبى والبلخيون يكبرون عقب الصلوة العيد لانها تودى بجماعة فاشبه الجمعة الخ و في مبسوط ابى الليث و لو كبر على اثر صلوة العيد لا باس به لان المسلمين توارثوا هكذا فوجب ان يتبع توارث المسلمين الخ (بحر الرائق ص ۱۶۵ ج ۲ ايضاً) لا باس به عقب العيد لان المسلمين توارثوه فوجب اتباعهم و عليه البلخيون (در مختار) قوله و لا باس الخ (۱) كلمة لا باس قد تستعمل في المندوب كما في البحر من الجنائز والجهاد و منه هذا الموضع لقوله فوجب اتباعهم (قوله فوجب) الظاهر ان المراد بالوجوب المثبوت لا الوجوب المصطلح عليه و في البحر عن المجتبى والبلخيون يكبرون عقب صلوة العيد لا نها تودى بجماعة فاشبهت الجمعة وهو يفيد الوجوب المصطلح عليه (در مختار مع الشامى ص ۷۸۷ ج ۱ ايضاً)) فقط.

د لوى اختر د لمونځ نه مخکې خوراک کول :

(۱۷۵ سوال) د لوى اختر په ورځ قربانى کونکى لپاره د اختر لمونځ نه مخکې خوراک کول څنګه دى ؟
(جواب) ځينى خلکو ورته مکروه ويلى دى او ځينو د عدم کراهيت تصريح کړى ده په دواړو کى د تطبيق صورت دا دى چې څوک ورته مکروه وايى د هغوى مراد مکروه تنزيهى دى او څوک چې د کراهت نفى کوى د هغوى مراد کراهت تحريمى دى :
((و لا يكره الاكل قبلها في المختار اى تحريماً)) (در المنتقى شرح المنتقى ، مجمع الانهر ۱/۱۷۵ باب العيدين) فقط والله اعلم.

د تکبير تشريق په باره کى:

(۱۷۶ سوال) تکبير تشريق کوم چې د عرفى د ورځې د سحر مانځه څخه د هر فرض لمونځ نه وروسته ويل کيږي . دا تکبير په هغه وړوکى کلى کى چې هلته د شرعى حکم مطابق د اختر لمونځ صحيح نه وى . ويل څنګه دى ؟ د ځينو وينا ده چې په کليو کى تکبير تشريق نه ويل کيږي . بهشتي زيور کى هم ليکلى چې چيرته وړوکى

کلی نه وی ، ښار یا لویه قریه وی هلته ویل واجب دی . لهذا تاسو لږ تفصیل سره بیان کړی چې په کلی کی واجب ندی نو د ویلو څه حکم لری ؟ ویل کیږي یا نـه ؟ ددې تشریح د کتابونو حوالو سره مطلوب دی ، مهربانی.

(جواب) :. صاحبینو یعنی د حضرت امام ابـو یوسـف او امـام محمـد رحمهمـا الله د تحقیق مطابق په کومو خلکو چې لمونځ فرض دی په هغو بانـدې تکبیـر تشـریق هـم واجب دی ، که هغه سړی وی او که ښځه ، مقیم وي یا مسافر ، جماعـت سـره لمـونځ وکړی یا بغیر د جماعت نه ، ښار وی او یا کلی ، په همدې باندې عمل او فتوی ده :

((والفتوی علی قولهما حتی یکبر المسافر و اهل القری و من صلی وحـده (الجـوهرة النیرة ج ۱ ص ۹٦ باب صلوة العیدین) (فتح القدیر ج ۲ ص ۴۹ باب صلوة العیدین)

او په مجالس الابرار کی دی :

((والعمل فی هذا الزمان علی قولهما احتیاطاً فی باب العبادات)) (م ۳۵ ص ۲۳۱)

او پدې زمانه کی د صاحبینو په قول باندې عمل کیږي ، په عباداتو کی د احتیاط په لحاظ سره . فقط والله اعلم

- په لوی ښار کی څو ځایو کی د اختر لمـونځ او عیـدګاه نـه جوړول

(۲۷۷ سوال) پدې لاندنې مسئله دینی عالمان او مفتیان صاحبان څه فرمایی

(۱) زمونږه ښار په منځ د یو سیند په وجه دوه حصو باندې تقسیم شـوی دشـحال پـه طرف د مسلمانانو آبادی زیاته ده ، په خلاف د جنوب طرف نه چې دلته نسبتاً تعـداد کم دی ، لیکن عیدګاه د جنوب په طرف د ښار نه باهر ده چې پدې وجه د کمزورو او بیمارانو رسیدل ورته مشکل دی پدې وجه یـوه حصـه بالکـل خـالی کیـږي د کـومې حادثې یا ضرورت (بیماری ، مرګ ، اور وغیره) پیدا کیدو سره د یو سړی پیـدا کیـدل هم مشکل دی ، د ماشومانو او ښځو نه علاوه نور څوک سړی پـدې مـوده کـی نشـي ملاویدی او داسې محلی داسې هم شته چې د هغه ځای نه د عیـدګاه فاصـله تقریبـاً څلور کلومیټر دی ددې عذرونو په بناء د ښار د شمالی طـرف مسـلمانانو دا خـواهش دی چې د عیدګاه نه علاوه شمالی طرف ته هم درې لوی جوماتونه موجود دی (۱) جامع مسجد (۲) اناله مسجد (۳) لال دروازه مسجد ، پدې درې واړو جوماتو کـی د جمعې لمونځ کیږي .

اوس تپوس دا دی چې د عیدګاه نه علاوه د ښار ذکر شوی جوماتو کی د اختر لمونځ ادا کولی شو یا نه، مدلل او مکمل جواب راکړی مهربانی.

(جواب ۲۰۱) کمزوری او معذور خلک د اختر لمونځ د ښار په جومات کی ادا کـولی شي، شرعاً ورته اجازه ده، فقهاء کرامو لیکلی دی:

((و لهذا كان علی (رض) يصلی العيد فی الجبانة ای المصلی و يستخلف مـن يصـلی بالناس بالمدينة (الاختيار شرح المختار ج ۱ ص ۸۳ باب صلوة الجمعة) (و ينبغـی ان يستخلف من يصلی باصحاب العلل فی المصر لما روينا عن علی رضی الله عنه و ان لم يفعل جاز (الاختيار شرح المختار ج ۱ ص ۸۷))

او په مجلس الابرار کی دی:

((ثم الخروج الی الجبانة سنة و ان وسعهم الجامع لكن يستخلف الامام من يصلی فـی المصر بالضعفاء والمرضی بناء علـی ان صـلوة العيـد فـی الموضـعين جـائزة بالاتفـاق بحذف الجمعة مجالس الابرار ص ۲۱۲، ۲۱۳ مجلس نمبر ۳۳))

او په شامی کی دی.

((و يستخلف عيره ليصلی فـی المصـر بالضـعفاء بنـاء علـی ان صـلوة العيـدين فـی الموضعين جائزة بالاتفاق و ان لم يستخلف فله ذلک اهــ (شـامی ج ۱ ص ۷۷۷ بـاب العيدين)))

لدې پورتنی ذکر شوو عبارتونو څخه دا خبره معلومېږي چې ستاسو د ځای کمزورو او معذورو خلکو لپاره شمال طرف ته جامع جومـات وغیـره کـی د اختـر لمـونځ بغیـر د کراهت نه صحیح دی، کله چې ښار لوی دی او تر لرې لرې پورې خلک آباد دی او د کومې حادثې قوی خطره وی نو بیا خو په طریقه اولی سره جـائز کیـدل پکـار دی بلکی ضروری دی، او که د دائمی خطری په صورت کی په همدې ځای کی عیدګاه جوړول غواړی نو ددې اجازت هم شته، او د سیند حائل کیـدو پـه وجـه کموضـعین ویل کېږي:

((قال محمد لا باس بصلوة الجمعة فی المصر فی موضعين و ثلاثة و لا يجوز اكثر مـن ذلک لان المصر اذا بعدت اطرافه شق علی اهله المشی من طرف الـی طـرف فيجـوز دفعا للحرج و انه يندفع بالثلاث فلا حرج بعدها . الی قوله . و قال ابو يوسـف كـذلک الی ان يكون بين الموضعين نهر فاصل كبغداد لانه يصير كمصـرين الـخ)) (الاختيـار شرح المختار ج ۱ ص ۲۴۹) فقط والله اعلم.

عیدگاه او د اختر لمونځ متعلق څو اهمې مسئلې

(۱۷) سوال : د عیدګاه باره کې یو څو پوښتنې دي

(۱) د ښار نه باهر مسلمانانو لپاره یو عیدګاه کافي دی نو بغیر د ضرورت نه دویم عیدګاه جوړول صحیح دي یا نه؟

(۲) وړوکي علاقه یا بانډه چې د هغې ځای مسلمانان قریبې ته په راتلو سره د قریبې په جومات کې د اختر لمونځ ادا کوي نو په هغو بانډه چیانو بانډې عیدګاه جوړول ضروري دي یا نه؟ او د عیدګاه نه جوړولو په وجه تارک د سنت دي یا نه؟

(۳) د مقادی غیر مسلمو نا مناسبې رویې یا د حکومت په کوم نامناسب طرز عمل په مذهب کې احتجاجاً عیدګاه کې د لمونځ نه کولو ګنجائش شته ؟

(۴) د حکومت د مسلم آزاد رویې خلاف د ناراضګۍ د اظهار لپاره په متهو بانډې توري پټۍ لګولو سره د اختر لمونځ کول څنګه دي ؟

(۵) د سهولت لپاره په یوه ښار کې څو عیدګاهونه جوړول څنګه دي ؟

(۶) د چا غیر مسلم په ځمکه بانډې په اجازت یا بغیر د اجازت په دواړه صورتو کې د اختر لمونځ ادا کول څنګه دي ؟

(۷) لاوارث ترسېټ (خالصه ځمکه) چې کومه ده ، د مسلمانانو ده لیکن ترسېټ ایکټ له مخې د حکومت په قبضه کې ده پداسې ځمکه یا عیدګاه بانډې د اختر لمونځ ادا کیدی شي یا نه؟

(۸) که عیدګاه هر کال د سیلاب له نقصان سره مخ کېږي نو کوم بل ځای ته نقل کولی شو یا نه؟

(۹) زمونږ د ښار موجود عیدګاه د لاندنی اسبابو له وجې بل ځای ته منتقل کیدی شي ؟

(۱) د وطن ورونو مشکوک طرز عمل فضا هم بالکل مشکوک ګرځولی مخکې ورځو کې د عیدګاه شاوخوا د یسې ساخت هم پیدا شو او بیا اوس لږ موده وړاندې عیدګاه ته نږدې د بم داسې زبردست دهماکه وشوه چې د کانو تعمیر ورسره ریزه ریزه شو او د مړو د جسم ټوکړې په هوا کې پورته شول ، لدې دهماکې سره د عامو مسلمانانو دا نظر او تاثر دی چې دا د مسلمانانو په خلاف یو منظم سازش دی چې ددې په نتیجه زمونږ په ښار کې هر وخت خطرناک صورت حال پیدا کېدی شي .

(۲) د عیدګاه مکمله علاقه غیر مسلم آبادي څخه ډکه ده .

(۳) د مسلمانانو آبادی تقریبا یو نیم کلو میټر لری ده
(۴) د ا ځې ورځې مخکې انتهايي خوفناک فساد په وجه په مسلمانانو کی عام طور خوف و خطره موجود ده پدې وجه مسلمانانو سږ کال په ډیر کې تعداد د ښار د مشهور درسګاه په وسیع میدان کی د اختر لمونځ ادا کړ، پداسې صورت کې اصل عیدګاه باقي پاتې کولو سره د خطری او نور ذکر شوی اسبابو ته په کتو سره کوم محفوظ مسلم علاقه کی عیدګاه جوړول ځنګه دی ؟ ایا د دویم عیدګاه په جوړولو کی څه شرعی قباحت شته ؟
(۱۰) د اصلی عیدګاه پرینښودو سره د ښار نه باهر کوم بل ځای کی د اختر لمونځ په ادا کولو سره د سنت ثواب ملاویږي یا نه؟ وضاحت وکړی جزاکم الله .
(جواب) (۱) کله چې یوه عیدګاه کافی وی نو بغیر د شرعی ضرورت نه دویم عیدګاه جوړول د شریعت له منشاء نه خلاف ده فقط.
(۲) کله چې کلی دومره وړوکی وی چې د جمعې لمونځ د کولو شرطونه پکې موجود نه وی نو هلته د اختر لمونځ ادا کول هم صحیح نه دی ، اوکله چې د اختر لمونځ پرې نشته نو د عیدګاه جوړول پرې هم نشته ، لهذا دوی تارک د سنت نه دی . البته که په قریه کی عیدګاه نه وی نو هغوی باندې د عیدګاه جوړول ضروری دی که یې جوړه نه کړی نو تارک د سنت ګرځی
(۳) که څه خطره وي یا دا ویره وی چې په عیدګاه کی لمونځ کولو سره ښځو او ماشومانو بیمارانو او کمزورو ته پریشانی کېږي نو بیا عیدګاه پرینښودل صحیح دی ، یواځې احتجاج په توګه د عیدګاه پرینښودو اجازه نشته ، احتجاج لپاره نوری جائزی او مناسبی طریقی اختیارولی شی ، فقط.
(۴) د خفګان اظهار لپاره نور جائز صورتونه اختیارولی شی . د تورو پټو په لګولو سره لمونځ کولو کی مشابهت لازمېږي دا د نورو علامه ده . فقط.
(۵) که ښار ډیر لوی او وسیع وی تر لرې لرې پورې مسلمانان آباد وی او عیدګاه ته رسیدل مشکل وی نو د ضرورت او جرح دفع کولو لپاره د یوه نه زیات عیدګاه جوړول صحیح دی فقط.
(۶) چیرته چې د اجازت ضرورت معلومېږي هلته بغیر د اجازت نه لمونځ کول مکروه کېږي او د کوم ځای باره کی چې دا معلوم وی چې نه خفه کېږي بلکې خوشحالېږي نو هلته بغیر د اجازت نه هم لمونځ کولی شی ، فقط.

(۷) د مسلمانانو ملک دی نو یدې ځمکه یا عیدګاه کې لمونځ کول هیڅ پروا نلري لیکن کله چې د حکومت قبضه کې دی نو ددې په استعمالولی د قانون د خلاف ورزي جرم راتلې شي نو د سزا تیرولو او د ذلیل کیدو موقع پیدا کیدی شي نو ددینه بچ کیدل ضروري دي.
ځکه چې ځپل ځان پخپله ذلیل کول جائز ندی ، قانون کاروایی کولو سره خپل حق ثابت کړئ یا د حکومت نه اجازه اخستو سره لمونځ ادا کړئ . فقط.
(۸) عیدګاه په ټولو احکامو کې د شرعي جومات په شان ندی مګر وقف خو دې وقف ځنګه منتقل کولی شي ؟ دا به محفوظه وسائل شي او په اطمئناني ځای کې بل عیدګاه جوړه کړی شي ، فقط.
(۹) په ذکر شوی حالت کې موجوده عیدګاه محفوظه کړه شي او په امن ځای کې د بل عیدګاه جوړولو کوشش وکړی شي او ځو پورې چې عیدګاه نه وی جوړه شوی نو په جامع جومات کې د اختر لمونځ ادا کړئ او که جامع جومات کافي نه وی نوپه ذکر شوی میدان کې ادا کولی شئ ، فقط.
(۱۰) که واقعي مجبوري وی نو د عذر په وجه اصلي عیدګاه پریښودو سره په بل ځای کې د اختر لمونځ ادا کولو سره انشاء الله د سنتو ثواب ملاوېږي ، فقط والله اعلم.

ـ مشرقي طرف کې عیدګاه جوړول:

(۱۷۹ سوال) زمونږ د قریې د عیدګاه ځای مشرقي طرف ته منتخب کړی شوی دی ، ځیني خلک ددې مخالف دی نو مشرقي طرف ته عیدګاه جوړول ځنګه دی ؟ وضاحت وکړی.
(جواب) عیدګاه که هر طرف ته وی مشرق ته وی یا مغرب ته او شمال ته وی یا جنوب ته قبله خو مغرب طرف یعنی خانه کعبه طرف ته وی ، بیا څه پروا ده ؟ لمونځ صحیح کېږي.

ـ حنفي امام شوافعو ته د اختر لمونځ ورکولی شي یا نه؟

(۱۸۰ سوال) حنفي امام شوافعو ته د اختر لمونځ ورکولی شي یا نه؟ که ورکولی شي نو امام خو شپږ تکبیره وایي نو د شوافعو مقتدیانو تکبیرونه کمېږي او که زیات وایي نو په معینو تکبیرونو باندې زیات راځي نو حنفي امام څه وکړی وضاحت وکړی ؟

(جواب) او لمونځ ورکولی شی مګر خپلی طریقی باندې به ورکوی مقتدیانو ته ددې پیروی کول پکار دی ، که مقتدیان راضی نه وی نو له دوی څخه دې څوک امام جوړ شي او حنفیان به د هغه په اقتداء کی لمونځ وکړی ، ددې به هم د امام په اتباع کی تکبیرونه زیات وایی ((و لو زاد تابعه الی ستة عشر لانه ماثور)) (در مختار مع الشامی ۷۸۰/۱ باب العیدین) فقط ،

ـ د لوی ، ځر د لمونځ ، ورسوته تکبیر تشریق ویل واجب دی :

(۱۸۱ سوال) د لوی اختر د لمونځ نه وروسته تکبیر تشریق ویل څنګه دی ؟ ستاسو د فتاوی رحیمیه ۸۲/۳ (د نوی ترتیب مطابق د همدې باب) ((د لوی اختر د لمونځ نه وروسته تکبیر تشریق ووایی یا نه؟)) عنوان لاندې ۱۷۶/۲) کی د یو سوال په جواب کی لیکلی دی چې دا مسئله اختلافی ده ، بیا تاسو ډیر عبارتونه نقل کړی دی لیکن محترم د راجح معلومات نه کیږي نو مهربانی وکړی ددې وضاحت وکړی .

(جواب) د لوی اختر د لمونځ نه وروسته تکبیر د تشریق ویل مستحب دی د فتاوی رحیمیه آخری عبارتونو کی د ((لا باس)) لفظ دی پدې ځای کی د دینه مراد استحباب دی ، مفید المفتی کی دی :

((۲۲ نمره تبصره : و لا باس د لفظ استعمال ترک اولی لپاره مطرد (عام) ندی بلکې مندوب لپاره هم استعمالولی شی ، د لا باس لفظ پدې باندې دلیل دی چې ددې غیر مستحب دی ، یعنی د لا باس مدخول علیه مستحب ندی څکه چې د باس معنی شدت دی او په مندوب کی چې د لا باس لفظ استعمالیږي نو دا هلته وي چې کوم ځای د باس او د شدت توهم دی مثلاً د اودس په موجود والی باندې دوباره اودس وکړی نو دا مستحب دی او دینه ((و انه نور علی نور)) ویل شوی او دلته داسې ویلی شی ((الوضوء علی الوضوء لا باس به)) نو ددې مطلب دا کیږي چې دا مستحب دی او مکروه ندی ، اګر که ددې زیات استعمال د ترک اولی په ځای باندې کیږي لیکن د مندوب او مستحب لپاره هم استعمالولی شی ، همدا شان فقهاء کرام وایی ((لا بــاس بتکبیر التشریق عقب العید)) نو دلته ددینه مراد استحباب دی څکه چې پدې بانـدې د مسلمانانو توارث او تعامل دی یعنی د علماؤ او فقهاؤ همیشه پدې باندې عمل کړی

دی نو ددوی تابعداری او پیروی واجب دی . (تنویر الابصار ، در مختار ، بحر الرائق او د رد المختار د مضمون خلاصه دا ده ددی یا د سائل پکار دی . فقط والله اعلم))

ـ محله په محله د اختر لمونځ:

(۱۸۲ سوال) په ښینو ښارونو کي محله په محل د اختر لمونځ کېږي ددې څه حکم دی ؟

(جواب) د اختر لمونځ د ښار نه باهر په بیابان او ډاګکی کول سنت مؤکد دی. رسول الله (ص) به د مسجد نبوی پشان لوی فضیلت والا جومات پرېښودو او په عیدګاه کی به یې د اختر لمونځ ادا کولو د عذر (لکه باران) نه بغیر کله هم په جومات کي ندی ادا کړی ، که د عید ګاه لری والی په وجه کمزور او بوډاګان نشي رسیدلی نو داسې معذورو لپاره جومات کی کولو ګنجائش شته ، که یو جومات ناکافی وي نو د ضرورت مطابق د یو نه زیات جوماتو کی د ادا کولو اجازه شته :

((و فی الخلاصة والخانية السنة ان يخرج الامام الى الجبانة و يستخلف غيره ليصلى فى المصر بالضعفاء بناء على ان صلاة العيدين فى موضعين جائزة بالاتفاق)) (در مختار مع الشامى باب العيدين ج ۲ ص ۷۷٦)

لیکن د شرعی عذر نه بغیر هره محله کی د اختر لمونځ کول د سنت خلاف دی ، او د شریعت مقصود او منشاء (یعنی عظیم اجتماع) فوت کولو او د اسلام شوکت او عظمت کمولو مترادف دی ، لهذا د جوماتو په ذمه وارانو باندې لازم دی چې لمونځ ګذارو سره د مشورې کولو نه وروسته د محلی په جومات کی د اختر لمونځ بند کړی په کوم لوی میدان د اختر لمونځ په ادا کولو سره د اسلام شان او شوکت ښکاره کړی که د ښار نه باهر لوی میدان نه پیدا کیده نو بیا په لوی هال یا لوی کور کی ادا کړی . که یو هال او کور کافی نه وی نو د یو نه زیات خایو کی ادا کولی شی پدې شرط چې د کوشش او د لټی باوجود هال یا کور ناکافی وی . او چې د کوشش او لټی با وجود هال یا لوی کور پیدا نشي نو بیا د مجبوری په وجه د محلی په جومات کی ګنجائش دی او که مجبوری نه وی نو بیا اجازه نشته . لیکن دا په یاد ولرئ چې د دویم خلی ادا کولو لپاره جدا امام ضرور دی . یعنی یواځی یو امام دوه ځایو کی لمونځ نشي ورکولی او د اختر امام لپاره په اعلان سره چنده کول هم غلط دی . که څوک د خپل توفیق مطابق په خوشحالی سره د هدیه په طور څه ورکړی نو څه پروا نه لری. فقط والله اعلم.

ـ ایا مسبوق باندې تشریق تکبیرونه واجب دی ؟

(۱۸۳ سوال) مسبوق (یعنی څوک چې امام سره یو رکعت نه وروسته شریک شوی وی) باندې د تشریق تکبیرونه واجب دی یا نه؟ که مسبوق سهوا امام سره سلام وګرځولو او بیا یې د تشریق تکبیرونه وویل نو لمونځ یې وشو یا دوباره کول یې پکار دی؟

(جواب) په مسبوق باندې هم د تشریق تکبیرونه واجب دی. هغه به خپل پاتې رکعت پوره کولو نه وروسته ووایي ((و کذا یجب علی المسبوق و یکبر بعد ما قضی فاته)) (عالمګیری ۱ ۱۵۲ صلوة العیدین)

که مسبوق سهوا امام سره سلام وګرځوی او بیا وروسته د تشریق تکبیر ووایی نو لمونځ نه فاسدېږي مګر د خپل پاتې رکعت پوره کولو نه وروسته سجده سهوه وکړی ((و ذکر الملتقط ان المسبوق اذا سلم مع امامه و کبر تکبیر التشریق مع امامه سهواً فعلیه السهو)) (کبیر ی ص ۴۳۸ صلوة العید)

او د سلام ګرځولو نه وروسته بیا تکبیر تشریق ویل اولی دی:

((و لو کبر مع الامام لا تفسد (قوله لا تفسد) و هل یعیده الظاهر نعم لوقعه منه فی غیر محله)) (طحطاوی عی الدر ج ۱ ص ۵۶۸ صلوة العیدین) فقط والله اعلم.

ـ د اختر لمونځ نه مخکې د تشریق تکبیر ویل:

(۱۸۴ سوال) زمونږ د جومات امام د اختر مانځه نه مخکې تکبیرونه وایی، که امام صاحب ونه لولی بلکې مقتدیان ولولی، پدې کی څه ګناه شته؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) عیدګاه ته رسیدو نه وړاندې د تکبیر ویلو حکم دی. او عیدګاه نه د رسیدو نه وروسته به تکبیرونو. ذکر الله وغیره کی دې لګیا شي لیکن جهراً منع دی په پټه به وایی او یا به خاموش (چپ) کینی، د امام صاحب یا د کوم مقتدی په تکبیر تشریق ویلو باندې د حاضرینو په اوچت آواز تکبیر ویل خلاف سنت او مکروه دی[1] فقط.

ـ که د عیدګاه خواته نزدې قبرونه وی نو د لمونځ څه حکم دی؟

(۱۸۵ سوال) زمونږه عیدګاه د قبرستان سره متصل ده د عیدګاه قبلی طرف ته دیوال لس دولس فټه اوچت دی او شاته یې قبرونه او ښی او ګس طرف ته د اوسپنی پنجره

---

[1] و یکبر جهرا اتفاقا فی الطریق و فی المصلی و علیه عمل الناس الیوم لا فی البیت در مختار مع الشامی باب العیدین ج ۱ ۷۸٤

ده ددې بېروني حصه کې هم قبرونه دي ، غرض دا چې د عیدګاه درې واړه طرفـو ته قبرونه دي ، لهذا د اختر په مانځه کې څه خلـل واقـع کېږي ؟ وضـاحت وکـړی ، جزاکم الله

(جواب) کله چې قبرونه د عیدګاه دیوال او احاطې نه باهر دي نـو پـه مانځـه کـې هېڅ نقصان نه راځي ، بغیر د تردد او شک نه لمونځ صحیح دی ، فقط والله اعلم.

ـ د اختر لمانځه کې د لوډ سپیکر استعمال :

(۱۸٦ سوال) د امام د انتقالاتو دتکبیرونو آواز خو مکبیرونو په ذریعه لمونځ ګذارو ته رسیږي لیکن د امام د قرائت آواز لمونځ ګذارو ته نه رسي ، لهذا د اختر لمونځ کـې د لوډ سپیکر استعمال څنګه دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب د لمونځ د صحت لپاره د امام قرائت اوریدل ضـروری نـه دی ، ماسپښـین او مازدیګر کې د امام قرائت کوم څای آوری ؟ همدا شان د ماښام دریم او د ماسـخوتن دریم او څلورم رکعت کې قرائت نه اوریدل کېږي او ددی بـاوجود لمـونځ صـحیح کېږي ، د انتقالاتو دتکبیرونو رسولو لپاره د مکبرینو انتظام کـافی دی ، لهـذا د اختـر وغیره لمونځونو کې د امام قرائت مقتدیانو ته آورولو لپـاره د مائـک اسـتعمال مکـروه دی[1]

همدا مفتي به قولدی ، د مفتي محمد شفیع صاحب د پاکسـتان مفتـی اعظـم کفایـث ((آله مکبر الصوت)) وګورئ .

ـ ښار ته بالکل نزدې پرته ځمکه عیدګاه لپـاره قبلـول څنګـه دی ؟

(۱۸۷ سوال) یو صاحب عیدګاه لپاره یوه ځمکه وقف کول غواړي مګر هغه ځمکـه د ښار په څنډه کې ده او د آبادی د زیاتیدو په وجه فی الحال په ښـار کـې دی او څـه موده وروسته خو بالکل د ښار په مـنځ کـې د کیـدو پـوره امیـد دی ددغـې ځمکـې

---

[1] ـ یعنې خلاف اولی دی . څکه چې لوډ سپیکر د مونځ په دوران کې خرابیدلی هم شي ، او بې ضرورته آواز اوچتول هم ښه نه دي او نن صبا خلک د فیشن په طور لوډ سپیکر استعمالوی او آواز دومره اوچتـوی چې ټوله محله ترینه پریشانه وی او ډیر خلې قرآن لوستل کېږي او محلي والاخپلو کارو کې لګیـا وی قـرآن پـاک تـه یـوهم غـوږ نـه ږدی . پدې وجـه د بې ضرورته استعمال نه خان ساتل پکـار دی (سـعید احمـد پالنپوری)

عیدګاه لپاره قبلول څنګه دی ؟ او که قبول کړی شی نو یواځی عیدګاه جوړول په کی ضروری وی یا نورو کارو لپاره هم استعمالولی شو ؟ نو مهربانی وکړی جواب راکولو سره د الله تعالی څخه اجر حاصل کړئ . جزاکم الله

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : عیدګاه د ښار نه باهر بیابان کی پکار ده . همدا سنت دی . په در مختار کی دی :

((ثم خروجه ما شیاً الی الجبانة وهی المصلی العام ......والخروج الیها ای الجبانة لصلوة العید (سنة و ان وسعهم الجامع) هو الصحیح)) (در مختار ص ۱۷۷ ج ۱ باب العیدین)

په عمدة الرعایة علی شرح الوقایة کی دی :

((ص ۱۷ قوله و یخرج الی المصلی لصیغة المجهول وهو موضع فی الصحراء یصلی فیه صلوة العیدین و یقال له الجبانة .... لکن الخروج الی الجبانة سنة مؤکدة)) (شرح الوقایة ص ۲۴۵ ج ۱ باب العیدین)

اوپه مجالس الابرار کی دی :

((ثم الخروج الی الجبانة سنة و ان وسعهم الجامع (ص ۲۱۲ مجلس نمبر ۳۳) (فتح القدیر ص ۴۲۳ ج ۱) (کبیری ص ۵۲۹) (فتاوی سراجیه ص ۱۸)))

پدې تولو عبارتو کی د جبانة لفظ استعمال شوی دی او د جبانة معنی ځنګل ده ، لهذا لدینه ثابتیږي چې عیدګاه د ښار نه باهر ځنګل او بیابان کیدل پکار دی ، او پدې ذکر شوی مسئله کی کله چې هغه ځمکه د ښار په څنډه کی ده او څه وخت وروسته د ښار په منځ کی د کیدو علامی دی نو پداسې صورت کی دغه ځمکه دې عیدګاه لپاره قبوله نکړی شی بلکی کوم بل دینی کار مثلاً که هلته د مدرسې ضرورت وی نو مدرسې لپاره یا که پدې ځای کی د جوماتِ ضرورت وی جومات لپاره قبول کړئ ، (پوهه ، دیندار ، ذمه دار او تجربه کار خلکوپه مشوره باندې کار کوی ددې تولو چې څه مشوره وی مدرسه ، یا جومات جوړولو لپاره قبول کړئ . فقط والله اعلم.

_ د اختر لمانځه لپاره تلونکو خلکو بندول څنګه دی؟

(۱۸۸ سوال) پدې باره کی دینی عالمان او مفتیان صاحبان څه فرمایی چې د لوی اختر په ورځ مسلمانان عیدګاه ته روان وی‌په دوی کی یو سړی خلک را منع کولو سره یو ځای کینوی او عیدګاه یا کوم جومات ته پرې نه ږدی ، او وایی چې فلانی د فلانی خوی کوم چې حج ته تلی دی هغه به هلته لمونځ کړی وی پدې وجه ستاسو

د تولو لمونځ شوی‌دی ، اوس تاسو ته د لمونځ کولو ضرورت نشته ، پدې طریقه د خلکو نه لمونځ پاتې کړی ، داسې لمونځ نه پاتې کونکی او داسې قسمه عقیده ساتونکی شخص ته شریعت مطهره څه رایی ؟ دده نکاح فاسدېږي یا نه؟ او دې مسلمان پاتې کېږي یا د اسلام نه خارجېږي ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : د اختر په ورځ لمونځ ګذاران سر په سجده او لاس په دعاء کیدو څخه منع کونکی شخص کامله درجه سرکش او ګمراه د شیطان مردود او د ابو جهل پیرو کار او د کفری عمل مرتکب دی او د وعید شدید (و من اظلم ممن منع مساجد الله ان یذکر فیها اسمه و سعی فی خرابها) مصداق او د (لهم فی الدنیا خزی و لهم فی الآخرة عذاب العظیم) مستحق دی په هغه باندې توبه لازمه ده مګر په هغه باندې د مرتد کیدو او د نکاح ختمیدو حکم نشي کولی ، فقط والله اعلم ۲۲ ذی الحجة ۱۳۷۹ هـ ، ۱۹۵۹ ع.

ـ د اختر لمانځه نه مخکې په عیدګاه کی تقریر او بیان افضل دی یا د تشریق تکبیر ویل؟

۱۸۹ سوال) که د اختر په ورځ د مانځه نه مخکې تقریر وشي نو خلک د تشریق تکبیرونه نشي ویلی ، نو سوال دا دی چې بغیر د تقریری پروګرام نه د تشریق تکبیرونه وویل شي او یا د تقریر پروګرام سره تکبیرونه وویل شي ؟ افضل کوم یو دی ؟

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : عیدګاه ته په تګ او راتګ کی تکبیر ویل مستحب دی او عیدګاه ته رسیدو سره تکبیرونه بندول پکار دی ، او که عیدګاه کی رو رو ووایی نو ګنجائش شته ، پدې وجه بندوی به هم نه :

((و یقطعه ای التکبیر اذا انتهی الیٰ المصلی فی روایة جزم بها فی الدرایة ، و فی روایة اذا افتتح الصلوة کذا فی الکافی و علیه عمل الناس قال ابو جعفر و به ناخذ)) (مراقی الفلاح ص ۱۰٦ باب العیدین)

د تقریر له پروګرام نه مراد د ضروری احکامو بیانول دی نو دا افضل او مستحسن دی فقط والله اعلم ۲۳ رمضان ۱۳۸۲ هـ

ـ په ایام نحر کی د تشریق تکبیر په زوره ویل پکاردی :

(۱۹۰ سوال) په لوی اختر کی چې درې نیمې ورځی تکبیرونه ویل کېږي د جماعت نه وروسته نو دا ورو وویل شي یا اوچت اواز سره ؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : د تشریق تکبیرونه په زوره او اوچت آواز سره ویل مسنون دی : ((و التشریق هو الجهر بالتکبیر ، هدایه ۱/۵۵ باب العیدین ، فلیستحب رفع الصوت به)) (شرح انقایة ۱/۱۳۰)

بگوید یک بار بآواز بلند

یعنی د تشریق تکبیرونه به په زوره او اوچت آواز سره وایی (ما لا بد منه ص ۵۱)

لیکن چیغی وهل او په تکلف سره آواز ویستل مکروه او ممنوع دی ، فقط والله اعلم

ـ د اختر لمونځ په عیدگاه کی سنت مؤکد کیدل او ددې د تارک حکم:

(۱۹۱ سوال) (۱) پدې مسئله کی دینی عالمان او مفتیان صاحبان څه فرمایی چې د اختر لمونځ په عیدگاه کی ادا کول سنت مؤکد دی یا غیر مؤکد یا افضل دی ؟

(۲) که سنت مؤکد وی نو ددې دلائل د فقه د معتبرو کتابونو له حوالو سره ولیکی .

(۳) او که سنت وی نو ددې تارک (پرینبودونکی) گنهگاریږي یا نه؟ وضاحت وکړی .

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : (۱-۲) د اختر لمونځ په عیدگاه کی ادا کول سنت مؤکده متوارثه ده ، رسول الله (ص) د مسجد نبوی د فضیلت باوجود علی سبیل المواظبت او عبادت عیدگاه کی ادا کړی دی یواځی یو ځلی د باران په وجه یې په جومات کی ادا کړی دی ، په زاد المعاد کی دی : ((کان صلی الله علیه وسلم یصلی العیدین فی المصلی . الی قوله . و لم یصل العید بمسجد الامرة واحدة اصابهم مطر فصلی بهم العید فی المسجد)) (ج ۱ ص ۱۲۴ باب العیدین)

اوپه کتاب المدخل کی دی : ((السنة المرضیة فی صلاة العیدین ان تکون فی المصلی لان النبی صلی الله علیه وسلم قا صلاة فی مسجدی هذا افضل من الف صلوة فیما سواه الا المسجد الحرام ثم مع هذه الفضیلة العظیمة خرج صلی الله علیه وسلم الی المصلی لصلوة العیدین فهی سنة)) (ج ۲ ص ۸۲ باب العیدین)

(۳) او د اختر مانځه لپاره عیدگاه ته تلل سنت دی بغیر د عذر نه ددې پرینبودونکی لائق د ملامتیا اومستحق د عتاب او عادتی ترک کونکی گنهگار دی ، په در مختار کی دی :

((و یاثم بار تکابه کما یاثم بترک الواجب و مثله السنة المؤکدة))

يعنی د مکروه تحريمی په ارتکاب سره سړی گنهګاربږي لکه چې په ترک د واجب سره ګنهګاربږي او د سنت مؤکد هم همدا حکم دی (شامی ۵.۲۹۵ کتاب الخطر والاباحة)

د ښار نه د عيدګاه د لرې والی په وجه کمزورو او بيمارانو ته تکليف وی نو ددی لپاره په جومات کی د انتظام کولو فقهاو اجازه ورکړې ده : ((ثم الخروج الی الجبانة سنة و ان وسعهم الجامع لکن يستخلف الامام من يصلی بالضعفاء والمرضی بناء علی ان صلاة العيد فی الموضعين جائزة بالاتفاق الخ))

يعنی عيدګاه ته تلل سنت دی اګر که په جامع جومات کی ټول خلک خائيږي ، ليکن امام به يو څوک خپل نائب او خليفه ونيسي چې په ښار کی کمزورو او بيمارانو ته لمونځ ورکړی ځکه چې د اختر لمونځ يو ښار کی دوه ځايه په اتفاق سره جائز دی (مجالس الابرار ۲۱۲ ، او ۳۳۴ صفحی) فقط والله اعلم ۱۳ شوال ۱۳۷۹ هـ .

د تراویحو مسائل

ـ د تراویحو په دوه رکعتو باندې قعده ونه کړ:

(۱۹۳ سوال) امام صاحب په تراویحو کی په دوه رکعتو باندې قعده ونه کړه څلور رکعته پوره کولو سره سجده سهوه وکړه او سلام یې وګرځولو نو مونځ وشو یا دوباره کول یې واجب دی ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) د تراویحو دوه رکعته وشول او دوه رکعته یې نفل شول :

((لکن صححوا فی التراویح انه لو صلاها کلها بقعدة واحدة و تسلیمة انها تجزی عن رکعتین فقد اختلف التصحیح)) (شـامی ص ٦٥٢ ج ۲ بـاب الـوتر والنوافـل بحـث المسائل السنة عشریة مشکوة)

ـ تراویح یې وکړل او روژه یې ونه نیوله څه حکم یې دی؟

(۱۹۴ سوال) یو سړی تراویح ادا کړل او بغر د عذر نه روژه ونه نیولـه نـو د هغـه د تراویح مونځ قبلیږي یا نه؟

(جواب) د قبولیت علم خو الله تعالی ته ذی ، فقهـی ګویـا قـانونی لحـاظ سـره د تراویح مونځ ته جائز ویل کیږي .ځکه چې د تراویح مـونځ جـائز کیـدو لپـاره روژه ساتل شرط ندی . مګر بغیر د عذر نه د رمضان روژه نه نیول دومره لویه ګناه ده چې ددې په بناء که د تراویحو ثواب هم وسوځی نو د تعجب خبره نده ، د رسول الله (ص) ارشاد دی:

((من افطر یوماً من رمضان غیر رخصة و لا مرض لم یقض عنه صوم الـدهر کلـه و ان صامه (رواه اصحاب السنن ، مشکوة الشریف بآب تنزیهـة الصـوم کتـاب الصـوم بـاب تنزیهة الصوم ص ۱۷۷).

یعنی چا چې د داسې عذر نه بغیر چې شرعاً معتبر وی مثلاً مسافر وی یا بیمـار وی د رمضان شریف یوه روژه ونه نیسي نو اوس که ټول عمر روژه ونیسـي بیـا هـم د هغـه فضیلت نشي حاصلولی ، کومه چې د یوې روژی په پرینبودو سـره فـوت شـوی دی، فقط والله اعلم.

ـ که تراویح ورکونکی د شریعت پابند نه وی نو شرعی حکم :

(۱۹۵ سوال) لاندې ذکرشو صفتونو والا پسې تراویح صحیح دی یا نه؟
(۱) خلاف سنت ږیره ساتونکی پسې (۲) سرکاری ملازم یا د سکول استاد حافظ پسې (۳) د کاندار وی یعنی سودی پیسو باندې کاروبار کوی ، ناجائز طریقی سره تجارت کوی هغه پسې تراویح صحیح دی یا نه؟
(جواب) خلاف سنت ږیره ساتونکی ، سودی کاروبار کونکی ، ناجائز طریقی سره تجارت کونکی شخص د امامت قابل ندی، هغه پسې مونځ مکروه دی لیکن که په حاضرینو کی بل ځوک نه وی نو یواځی او ځانته مونځ کولو نه داسې امام پسې مونځ کول پکاردی ځکه چې د جماعت ډیر لوی فضیلت او تاکید دی[1] فقط والله اعلم.

ـ تراویح ورکونکی ته فتح ځوک ورکړی؟

(۱۹٦ سوال) که حافظ صاحب په تراویحو کی غلط شي او سامع په ښه توګه ونه ښودلی شی او بیا دویم صف نه ځوک فتح ورکړی پدې کی څه حرج شته ؟ امام صاحب وایی : که فتح ورکوئ نو اول صف کی به ودریږی نو که وروسته راتلونکی حافظ ته اول صف کی ځای پیدا نشي نو ایا دې د فتح ورکولو حق نلری ؟
(جواب) که سامع مقرر وی نو هغه ته غلطی ښودل او فتح ورکول پکار دی بل چاته تلوار کول ندی پکار ،ځکه چې پدې سره مانځه کی انتشار او یو قسم ګډوډی جوړیږي البته که سامع (فاتح) ونه ښودلی شی نو بیا هر چاته چې یاد وی او ښودلی شی هغه باندی د غلطی اصلاح کول فرض دی که په هر یو صف کی وی نزدې وي یا لری او که اصلاح ونه کړی نو ګنهکاریږي البته دا ضروری دی چې امام سره په مانځه کی شریک وی ، ځوک چې په مانځه کی شریک نه وی او فتح ورکړی او امام د هغه فتح واخلی نو د امام مونځ فاسدیږي ، فقط والله اعلم.

---

[1] قوله و فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة و هل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی و اکل الربا و نحو ذلک ، شامی باب الامامت ج ۱ ص ۵۲۳ .

ـ شل (۲۰) رکعته تراویح سنت موکد :

او د سا مرودی صاحب اعتراضونه او مفصل جوابونه

(۱۹۷ سوال) محترم حضرت مفتی صاحب السلام علیکم ورحمة الله و برکاته
تاسو ته د تکلیف ورکول باعث دا دی چې یو غیر مقلد مولوی عبدالجلیل صـاحب سامرودی هنگامه پورته کړې ده چې د اتو رکعتو نه زیات تراویح ثابت ندی دده یو اشتهار گجراتی اخبار ((پرتاب)) کی نشر شوی چې پدې کی چیلنج ورکړی چـې د رسول الله (ص) شل رکعته تراویح په کوم ضعیف حدیث سـره هـم نشـی وړانـدې کولی سامرودی صاحب د حنفی فقـه د کتـابونو طحطـاوی ، مراقـی الفـلاح ، فـتح القدیر ، عینی و کبیری وغیره وغیره حوالی هـم ورکـړی دی چـې پـدغو کـی‌هم د رسول الله (ص) شل رکعته تراویح ثابت ندی د دغـو کتـابونو عبـارتونو هـم نقـل کړی‌دی چې دا سامرودی صاحب خپل کتاب ((نبی کی نماز)) کی لیکلی دی :
((دوستانو پدې خبره کی خو هیڅ شک نشته چې نبی کریم (ص) خو شـل رکعتـه ندی کړی البته خلکو (صحابه کرامو) وروسته (شل رکعته تراویح) کړی دی ، اوس دا سوچ او فکر پکار دی چې مونږ لپاره الله پاک د رسول د تابعداری او فرمانبرداری کول فرض کړی دی یا د خلکو (صحابه کرامو) ؟ د دین اسلام او د شریعت قائمولو حق الله تعالی کومو امتیانو ته ورکړی دی ؟ د خلکو (صحابه کرامو) په زیات مقدار (۲۰ رکعته) تراویحو کولو باندې دوکه نشی (نبی (ص) کی نماز گجراتی ص ۵۴)
نو مهربانی وکړی‌د شلو رکعتو تراویحو باره کی تفصیل سره جـواب ولیکـی ، خلـک ډیر زیات پریشانه او تشویش کی دی ، وضاحت وکړی ، جزاکم الله .
دا قسم سوالونه د محترم جناب حکیم احمد میا صاحب ، محترم حافظ غلام محمـد شیخ محمد چیچی صاحب سورتی او مکرم جناب عبدالشکور وغیره له طرفه کیدل د اوږدوالی له ویرې ټول نقل نه کړی شو ، خلاصه یې ولیکل شو (مرتب)
(جواب) (بعون الله تعالی و ارشاده)
نن پداسې حال کی چې د مسلمانانو اکثریت بیلمازان دی ، د تراویحو پابند ندی ، جوماتونه وران او سینماگانی اباد دی نو د شلو رکعتوپه خـلاف بحـث او مباحثـه او چیلنج دا د اسلام کوم خدمت دی ؟ شعر:

اگر معلم این چنین گر مقتن این چنین
الوداع ای سنت دین الفراق ای ورع دین

افسوس . دالکل پداسې وخت کی چې د جبل پور وغیره مسلمانانو باندې د مصیبتونو غرونه راغورځیږي او د ټولې دنیا مسمانان ددغو مظلومانو په غم او امداد په فکر کی پریشانه دی او دغه سا مردودی صاحب د شلو رکعتو په خلاف د زړو روپو انعام چیلنجونه او اخطارونه ورکوی

اتنی سمجھ کسی کو بھی ایسی خدا نہ دے

دے آدمی کو موت مگر یہ ادا نہ دے

یعنی مرکدې الله تعالی سړی ته ورکړی خو داسې غلط سوچ او فکر دې چاته نه ورکوی .

دده پدې نا مناسب حرکتونو سره خپل جماعت او تنظیم یې بدنام او رسوا کړ چې پدې وجه ددد د تنظیم سنجیده او عقلمند خلک دده څخه سخت بیزاره دی او ده ته د سامرودی په ځای ((سامری)) (د موسی (ع) د زمانی چلباز او منافق) ورته وایی او لیکی . د ((ترجمان دهلی)) اخبار مدیر د ۱۹۵۷ عـ کال د اکتوبر د میاشتی اوله گنه د ((فتنه سامری)) عنوان لاندې داسې لیکی : ((ددې عجیب انسان خصوصیت دا دی چې هنگامه پسندی دده خاص شعار دی دده د ژوند حالات هنگامه آرایی د فتنو او فسادونو ته هوا ورکول او آرامه فضا نا آرامه کول دی ، دده نسبت (سامرودی) یو فتنه گر او شر انگیز ((سامری)) هم نوم شوی دی (له حضرت مولانا حبیب الرحمن اعظمی صاحب . ((رکعت تراویح)) نوی چاپ ص ۷.۸ نه)

دې سامرودی صاحب د اهل حدیثو پیشوا مولانا ثناء الله په شان کی څومره ((بکواس کړی ،وایی : مولانا ثناء الله صاحب هرگز د اهل حدیثو عقیده نه لری بلکی دې په عقیده کی معتزله ، صحمیة او نیچرل (د قدرت او فطرت تابع و د سر سید مقلد) ؤ ، وگوری ((ترجمان دهلی)) ۱۵ ، اکتوبر ۱۹۵۷ عـ)

کوم خلک چې د صحیح علم او فهم نه محروم . کم عقل او ناقص علم والا وی چې ددوی په وړاندې د دین یو ناتمام حقیقت او یواځی خیال او تصور وی چې د کامل دین گمان ورباندې کوی ، هغه همیشه د فساد تخم کری او فتنه او فساد راپورته کوی . حضرت مولانا روم فرمایی:

دست ناقص دست شیطان است دیو - زانکه اندر دام تکلیف دیو

یعنی د ناقص سری لاس د شیطان او د یو (پیری) لاس وی ځکه چې دا ناقص دیو ده چې د تکلیف په جال کی گیر شوی[1]
خوارجو ناقص او سطحی علم لرلو ددوی په وړاندې د دین حقیقت نا تمام و خو دا بې کامل دین گڼلو د قرآن کریم د یو ایت (ان الحکم الا لله) الفاظ بهانه کولو سره خلیفه راشد حضرت علی (رض) باندې یې الزام ولګولو چې دې (معاذ الله) د قرآن پاک د حکم نه خلاف کوی لهذا دې گمراه او کافر او دده ملگری هم کافر او بیا یې دده په خلاف د بغاوت جنډه (بیرغ) اوچت کړ ، په ژبه به یې قرآن پاک و مگر زړونه یې دده د تاثیر نه محروم او دماغ یې د قرآنی فهم نه قاصرو د همدې په باره کی د رسول الله (ص) پیشین گوئی ده چې ((یقرءون القرآن و لا یجاوز حناجرهم)) (الحدیث) یعنی قرآن پاک به لولی مگر دا قرآن ددوی د مری لاندې نه کوزیږي (یعنی نه په زړه باندې اثر کوی او نه د الله په نزد باندې د قبولیت درجې ته رسي) (بخاری شریف)
حضرت ابن عباس (رض) ددوی پوهولو لپاره ورغی او تپوس یې ورنه وکړ چې د علی صاحب باره کی ستاسو څه اعتراض دی ؟ هغوی جواب ورکړ چې هغه د دین باره کی خلک حکم جوړوی او د انسان فیصلی ته اعتبار ورکوی کوم چې د قرآن پاک بنکاره خلاف ورزی ده ځکه چې قرآن کی دی (ان الحکم الا لله) سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما ورته وفرمایل : په قرآن پاک کی هم د انسان د حکم جوړولو حکم موجود دی مثلاً ځوک چې د احرام په حالت کی ښکار وکړی نو هغه لپاره الله تعالی جزا مقرر کړې ده (مثل ما قتل) یعنی د مړ کړی شوی ځناور مثل او د مماثلت فیصله به دوه کسه عادلان کوی (یحکم به ذوا عدل منکم) همدا شان د ښځی او د خاوند تر منځ د اختلاف او لانجی په صورت کی د الله تعالی ارشاد دی (فابعثوا حکماً من اهله و حکماً من اهلها) (سورت نساء) یعنی یوم حکم (دریمگړی)

---

[1] یعنی دا ناقص العلم شخص په ظاهر کی انسان دی چې د شریعت احکام پرې نافذ او جاری دی او همغه نمانشی طور سره هغو باندې عمل هم کوی مگر حقیقت کی دده نفس خبیث یو دیو ده او د شرعی احکامو پابندی د زړه نه نه کوی بلکی پدې شان یې کوی لکه کوم دیو یا جن ونیول شي او هغه په تعمیل باندې مجبور وی . نو که داسې ناقص سړی په لاس کی لاس ورکړی نو لکه چې خپل ځان شیطان ته حواله کړی (معاذ الله)

د خاوند د کورنۍ او یو حکم د ښځې د کورنۍ له طرفه مقرر کړی (او فیصله ورته حواله کړی)

سامرودی صاحب هم په قرآن باندې خان پوهولو نه بغیر د (اطیعوا الله و اطیعوا الرسول) ورد او کوی او حدیث حدیث چیغې وهی مګر د قرآن پاک د نورو ایتونو او حدیثونو او د صحابهٔ کرامو د تعامل وغیره نه سترګې پټوی.

خوارجو حضرت علی (رض) او دده ملګروته (معاذ الله) ګمراه ویلی وو مګر سامری صاحب دې ټولو مؤمنانو او مسلمانانو ته کوم چې دیارلس سوه کالو نه شل رکعته تراویح کوی چې پدوی کې صحابه کرام ، تابعین او تبع تابعین او د دین ټول مقدس او بزرګاولیاء الله د طریقت مشائخ ، حضرت امام ابو حنیفه ، حضرت امام شافعی حضرت امام مالک او حضرت امام احمد بن حنبل رحمهم الله وغیره ټول داخل دی دوې ټولو ته د سنت او د حدیث مخالفین او معاذ الله ګمراه وایی ، او د صحابهٔ کرامو په تعامل باندې عمل کولو سره شل رکعته تراویح ادا کولو فریب خوری او دوکه کیدل ګرځوی (نعوذ بالله من ذلک)

شعر :

انقلاب چمن دهر کی دیکھی تکمیل
آج قارون بھی کهہ دیتا هے حاتم کو بخیل
بو حنیفه کو کهے طفل و بستان جاهل
مه تابان کو دکھانے لگی مشعل قندیل
حسن یوسف مې بتانے لگا ابرص سو عیب
لگ گئے چیونتی کو پر کهنے لگی هیچ هے فیل
شرک توحید کوکهنے لگے اهل تثلیث
لوح محفوظ کو کهتی هے محرف انجیل
سامری موسی عمران کو کهے جادو گر
شیخ کی کرتے هے اسکول کے بچے تجهیل
اسپ تازی شده مجروح بزیر پالان
طوق زرین هے گدھے کے لئے عزت کی دلیل

ترجمه نمبر ۱ : ددې زمانې د انقلاب تکمیل ته وګورئ چې نن قارون هم حاتم ته بخیل وایی.

نمبر ۲ : د اسکول ماشوم ابو حنیفه (رح) ته جاهل وایی ، او ډیوه هم سپوږمی ته خان ښایی
نمبر ۳ : د حضرت یوسف (ع) په حسن کی هم ابرص سل عیبونه ښایی ، او میږی هم وزر پیدا کړ فیل ته هیڅ وایی
نمبر ۴ : اهل تثلیث (نصارای) هم توحید ته شرک وایی او انجیل هم لوح محفوظ ته محرف وایی.
نمبر ۵ : او سامری هم حضرت موسی (ع) ته جادوګر وایی او د اسکول ماشومان هم شیخ ته جاهل او نا پوه وایی
نمبر ٦ : تازی اس چې د پالان لاندې زخمی شوه نو زرین امیل څکه د خر لپاره د عزت دلیل دی

د مولوی سامرودی صاحب د اشتهارونو او چیلنجونو مثال هماغه دی چې (و انتم سکاری) په حذف کولو سره په (لا تقربوا الصلوة) باندې استدلال وکړی شی (چې مانځه ته مه نږدې کیږی) او یا د شرابو د خر مستی په شوق کی (ولا تسرفوا) هیرولو سره په (کلو واشربوا) بیا بیا وویل شي ، اکبر اله ابادی د داسې خود فراموشانو بکواس نقل کولو سره ښه جواب ورکړی دی .

(دلیل) توبه جب هم کرے شراب وکباب سے- قرآن مې جو آیا کلوا واشربوا نه هو
(جواب) تسلیم قول آپ کا تب هم کرے جناب - کلوا واشربوا کے آگے ولا تسرفوا نه هو.

الله دې امان راکړی! د سامرودی صاحب جرائت او سپین سترګی توب انتها نه رسیدلی ده، پخپلو اشتهاراتو کی د طحطاوی ، اشباه ، مراقی الفلاح ، د حضرت مولانا محمد قاسم (ر ح) کتاب ((مکتوبات)) د مولانا انور شاه صاحب ،((عرف شذی)) د علامه ابن همام ((فتح القدیر)) د علامه عینی ((شرح بخاری)) د علامه حلبی (ر ح) ((کبیری)) د ملا علی قاری ((مرقاة)) حوالی ورکړی دی مګر تعجب ! انتهائی تعجب دی چې کوم عبارتونه نقل کړیدی هغه ټول ناقص او ګرولی شوی دی او د منشاء او مقصد سراسر خلاف دی .

چه دلاور است دزدی که بکف چراغ دارد

اسو یې په خپله وګوری او دده د جرئت قضاوت وکړی ، د هر یو کتاب مثال نږدې کولی شی ، ان ارید الا الاصلاح ما استطعت و ما توفیقي الا بالله .

(۱) طحطاوی علامه طحطاوی (رح) د اوږد بحث نه وروسته ليکي ((فعلي هذا يکون عشرون ثابتاً من فعله صلی الله عليه وسلم)) يعني د ابن عباس (رض) د حديث په بناء شل رکعته د رسول الله (ص) د فعل نه ثابت دی (طحطاوی شرح در مختار ۱ / ۴٦٦ صلاة التراويح) او دا هم ليکي : شل رکعته تراويح په لسو سلامونو سره متوارث دی يعني د سلفو د زمانی څخه تر ننه پورې ورباندې برابر عمل کيږي (۱ / ۴٦٨ صلوة التراويح)

(۲) مراقي الفلاح کي دی : ((التراويح سنة مؤکدة وهی عشرون رکعة باجماع الصحابة (رض) بعشر تسليمات کما هو المتوارث)) يعني تراويح سنت مؤکد دی او دا دصحابه کرامو په اجماع سره شل رکعته په لسو سلامونو سره دی لکه چې د سلفو له زمانی نه مسلسل را روان دی . (باب التراويح ص ۸۱)

(۳) الاشباه والنظائر : کی دی

((والتراويح عشرون رکعة بعشر تسليمات)) يعني تراويح په لسو سلامونو سره شل رکعته دی ، (اشباه مع شرح حموی ص ۴۷ صلاة التراويح)

(۴) لطائف قاسمي : حضرت مولانا محمد قاسم (رح) په لطائف قاسمی کي ليکي :

(جواب) (۱) اينکه هر چه صحابۀ بر آن مواظبت فرموده باشند سنت موکده ميباشد بقوله عليه السلام عليکم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين)) (مکتوب سوم ۱ / ۱٦)

يعني په کومه خبره چې صحابۀ کرامو هميشه والی کړی وی هغه سنت مؤکد وی (ځکه چې د رسول الله (ص) ارشاد دی ((عليکم بسنتي الخ)

(جواب) (۲) الحاصل ثبوت بيست رکعت باجماع صحابه (رض) در آخر زمان عمر (رض) ثابت شده ، پس سنت باشد و کسيکه از سنت آن انکار دارد خطا است (مکتوب سوم ص ۱۸) يعني نتيجه دا چې شل رکعته د صحابه کراموپه اجماع سره د حضرت عمر (رض) په آخره زمانه کی ثابت شوی لهذا شل رکعته سنت دی او څوک چې د شلو رکعتو له سنت والی نه انکار کوی هغه غلط او خطا دی (ص ۹) لدينه علاوه په تصفية العقائد کی دده فتوی موجود ده کوم چې په آخر کی د سوال سره وړاندې کولی شی ص ۳۴۲ کی وګوری .

(۵) حضرت علامه انور شاه کشمیری : ددې چاپ شوی کتاب تقریر ترمذی المعروف به ((عرف شذی)) کی دی ((لم یقل احد من الائمة الاربعة باقل من عشرین رکعة و علیه جمهور الصحابة (رض))

یعنی په څلورو امامانو کی یو هم د شلو رکعتو نه کم د تراویحو قائل ندی او د جمهورو صحابه کرامو عمل او عقیده هم همدا وه . امام مالک رحمه الله د شلورکعتو نه هم زیات د (٣٦) رکعتو قول کړی‌دی (عرف الشذی ۴۲۹/۱ کتاب الصوم باب الترغیب فی قیام شهر رمضان و ما جاء فیه من الفضل) په عرف الشذی کی دا هم دی چې د امام مالک صاحب د مسلک په بناء جماعت سره تراویح شل رکعته کولی شی مګر د اهل مدینه ؤ تعامل او عامه طریقه دا وه چې دوی به په ترویحه کی یعنی څلور رکعتو نه وروسته به امام کیناستو نو خلکو به پدې وقفه کی څلور رکعته نور کول او کومو حضراتوچې به مکه معظمه کی حرم شریف کی تراویح کول هغوی به د دغه ترویحی په وقفه کی د خانه کعبی طواف کولو او مدینی والاو خو طواف نشو کولی نو ددی په ځای به یې په څلورو ترویحه و کی شپاړلس رکعته کول (العرف الشذی (۳۲۹) صحه)

(٦) علامه ابن همام : فرمایی : په صحیح سند سره ثابت شوی چې د حضرت عمر (رض) مبارک دور کی صحابه کرامو وغیره (تابعینو) شل رکعته کول کوم چې یزید ابن رومان نه په موطاء امام مالک کی نقل دی او بیهقی د حضرت سائب بن یزید نه روایت کړی دی چې د حضرت عمر (رض) په مبارک دور کی مونږه شل رکعته کول چې ددې سند د صحیح والی تحقیق امام نووی (رح) په خلاصه کی کړی‌دی (فتح القدیر ۴۰۷/۱ باب قیام شهر رمضان)

(۷) عینی شرح بخاری : کی لیکی چې د تراویح تعداد شل رکعته دی امام شافعی او امام احمد رحمهما الله هم همدا فرمایی ددوی ټولو دلیل هغه روایت دی چې بیهقی په صحیح سند سره د حضرت سائب بن یزید (رض) نه روایت کړی دی . صحابه کرامو حضرت عمر ، حضرت عثمان ، حضرت علی رضی الله عنهم او تابعینو حضراتو به شل رکعته کول او بیا فرمایی : د پیروی لپاره افضل او انسب طریقه د رسول الله (ص) د صحابه کرامو ده ، (عمدة القاری شرح بخاری ۱۷۸/۷ باب قیام النبی باللیل فی رمضان وغیره)

(۸) علامه حلبی (رح) په کبیری کی فرمایی :

((علم من هذه المسئلة ان التراويح عندنا عشرون ركعةً بعشر تسليمات وهو مذهب الجمهور و عند مالک ستة و ثلثون ركعة احتجاجاً بعمل اهل المدينة و للجمهور ما رواه البيهقي باسناد صحيح عن السائب بن يزيد قال كانوا يقومون على عهد عمر رضى الله عنه بعشرين ركعة و عثمان رضى الله عنه و على رضى الله عنه مثله و هذا الاجماع))

یعنی د ذکر شوی بحث نه معلوم شو چې بیشکه زمونږه په نزد باندې تراویح شل رکعته دی په لسو سلامونو سره او همدا د جمهورو مذهب دی او د امام مالک په مذهب باندې (۳٦) رکعته دی دې د اهل مدینه و په تعامل باندې استدلال کوی او د جمهورو دلیل هغه روایت دی چې امام بیهقی په صحیح سند سره نقل کړی چې د حضرت عمر (رض) په دور کی به شل رکعته تراویح کولی او د حضرت عثمان او د علی رضی الله عنهما په دور کی هم ، او په موطاء کی د یزید بن رومان نه روایت دی. چې د حضرت عمر (رض) په دور کی خلکو په رمضان کی د وترو سره (۲۳) درویشت رکعته کول په کتاب ((المغنی)) کی د حضرت علی (رض) بآره کی نقل دی چې ده یو سړی ته حکم وکړ چې خلکو نه په رمضان کی شل رکعته تراویح ورکړی ، فرمایی : دا په شان د اجماع ده ، د ابن رومان روایت اګر که منقطع دی مګر د امام مالک په نزد باندې حجت دی پدې وجه معتبر دی (کبیری ص ۳۸۸ صلوة التراویح تحت قوله والصحيح انهم يصلون فرادى)

(۹) علامه ملا علی قاری په شرح النقایه کی لیکی : ((فصار اجماعاً لما روى البيهقي باسناد صحيح انهم كانوا يقومون على عهد عمر (رض) بعشرين ركعة و عثمان (رض) و على (رض))) یعنی بیهقی (ر ح) په صحیح سند سره د حضرت عمر (ر ض) په زمانه کی او د حضرت عثمان او د علی رضی الله عنهما په زمانه کی د شلو رکعتو تراویحو کولو روایت کړی دی لهذا پدې باندې اجماع شوې ده (شرح النقایه ۱۰۴/۱ صلوة التراویح)

(۱۰) طحاوی شریف : بیشکه امام طحاوی (رح) د درې رکعته وترو په سلسله کی یو روایت نقل کړی چې وایی نو بیا به یې دغه روایت د تراویحو په بیان کی نقل

کړی وای مګر هلته یې ندی نقل کړی ځکه چې معلوم ؤ ورته چې د تراویحو په شل رکعتو باندې د صحابهٔ کرامو اجماع شوې ده[1]

اوس حدیث او د محدثینو او مجتهدینو اقوال وګورئ :

احادیث او د محدثینو او مجتهدینو حضراتو اقوال و ارشادات :

په سنن بیهقی کی د حضرت ابن عباس (رض) نه روایت دی : ((ان النبی (ص) کان یصلی فی شهر رمضان فی غیر جماعة عشرین رکعة والوتر)) بیشکه رسول اکرم (ص) په رمضان میاشت کی بغیر د جماعت نه شل رکعته او وتر به ادا کول (۴۹۶/۲ کتاب الصلوة باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان)

د ابن عباس (رض) دا روایت ((ابن ابی شیبة)) په مصنف کی او طبرانی په کبیر کی ابن عدی په مسند کی او بغوی په مجمع صحابه کی نقل کړی دی ((کان رسول الله (ص) یصلی فی رمضان عشرین رکعة والوتر)) (زجاجة المصابیح ۳۶٦/۱ باب قیام شهر رمضان)

حافظ د حدیث ابن حجر عسقلانی رحمه الله د امام رافعی رحمه الله نه نقل کړی : ((انه صلی الله علیه وسلم صلی بالناس عشرین رکعةً لیلتین فلما کان فی اللیلة الثالثة اجتمع الناس فلم یخرج الیهم ثم قال من الغدانی خشیت ان تفرض علیکم فلا تطیقونها من حدیث عائشة دون عدد الرکعات))

ترجمه : رسول الله (ص) دوه شپې شل رکعته خلکو سره وکړل کله چې دریمه شپه شوه نو خلک را جمع شول مګر رسول الله (ص) تشریف را نه وړ ، او بیا یې سحر وفرمایل : ماته دا خیال راغی چې په تاسو فرض نشي او بیا بهٔ یې نشي پوره کولی.

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې روایت نقل کولو نه وروسته فرمایی ((متفق علی صحته)) یعنی ددې په صحت باندې د ټولو محدثینو اتفاق دی :

---

[1] _ روایت دا دی ((عن السائب بن یزید قال امر عمر بن الخطاب ابی بن کعب و تیمم الداری ان یقوما للناس باحدی عشرة رکعة قال فکان القاری یقرء بالمئین حتی یعتمد علی العصی من طول القیام و ماکنا ننصرف الافی فروع الفجر معانی الاثار للطحاوی باب الوتر ص ۲۰۵ ددې روایت آخری جمله دا ښیی ((و کنا ننصرف الخ)) چې دا د صلوة اللیل یعنی د تهجدو باره کی دی نه د تراویحو باره کی

,, تلخیص الحبیر فی تخریج احادیث رافع الکبیر ج ۱ ص ۱۱۹ الحاوی للفتاوی ج ۲ ص ۷۵ اللوا مع الدراری شرح صحیح البخاری ص ۱۵۵. ۱۵۶ باب قیام النبی باللیل فی رمضان و غیره و نحو فی العنایة علی مستخلص الحقائق ص ۲۰۴ للمحدث الفقیه شیخ اکمل الدین رحمه الله و هکذا قال الفقیه المحدث السید جلال الدین الکرلانی الخوارزمی فی الکفایة مع الهدایه ج ۱ ص۲ ۱۶۳ فصل فی التراویح))

د فقه حنبلي مشهور کتاب رومن الریاض کي دی :

,, والتراویح سنة مؤکدة عشرون رکعة بما روی ابو بکر عبدالعزیز الشافعی عن ابن عباس ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یصلی فی شهر رمضان عشرین رکعة)) (و نحوه فی فتاوی قاضی خان ج ۱ ص ۱۱۰ صلو ة التراویح)

د سامرودی صاحب هم شرب او هم فکر ، د حضرت ابن عباس (رض) پورتنی حدیث باندې دا اعتراض کوی چې ددې سند ضعیف دی مګر دیته یې خیال نه دی چې د سند ضرورت هغه ځای کې وی چې چیرته اختلاف وی مثلاً دا چې رسو ل الله (ص) آمین په زوره ویلی دی یا په ورو ، او کوم ځای چې بالکل اختلاف نه وی د صحابه کرامو د مقدس دور نه واخله تر ننه پورې ددې ټولو علماو محدثینو او د فقهاو کرامو اتفاق وی په چا باندې امت پوره اعتماد کوی ، دا اتفاق او دا متواتر عمل او تلقی بالقبول پخپله سند او نهایت قابل اعتماد سند دی ، داسې اقتباسات په زرګونه وړاندې کولی شی چې د هغو نه تلقی بالقبول ثابتېږي مونږ دلته یواځی یو څو باندې اکتفاء کوو.

(۱) امام ترمذی (المتوفی ۲۷۹ هـ) فرمایي : حضرت عمر حضرت علی او نور صحابه کرام رضی الله عنهم او حضرت سفیان ثوری (المتوفی ۱۶۱ هـ) حضرت ابن المبارک (المتوفی ۱۸۱ هـ)، حضرت امام شافعی (المتوفی ۲۴۰ هـ) دا ټول د شلو رکعتو د تراویحو قائل دی او د امام شافعی (رح) بیان دی چې ما اهل مکه په شلو رکعتو کولو باندې لیدلی دی (ترمذی ۹۹/۱ کتاب الصوم باب ماجاء فی قیام شهر رمضان)

(۲) د حدیث مشهور کتاب ((کنز العمال)) کې دی چې حضرت عمر بن خطاب (رض) حضرت ابی بن کعب (رض) ته خلکو لپاره (شلو رکعتو تراویحو وکولو حکم ورکړ ((فصلی بهم عشرین رکعةً)) نو هغه خلکو ته (صحابه او تابعین) شل رکعته تراویح ورکړل (۲۸۳/۴)

(۳) د حدیثو بل مشهور کتاب بیهقی کی ((کنا نقوم فی زمن عمر بن الخطاب (رض) بعشرین رکعة والوتر)) یعنی د حضرت سائب بن یزید نه روایت دی چې مونږ خلکو د حضرت عمر (رض) په دور کی شل رکعته تراویح او وتر کول (بیهقی ۲ ۴۹٦ کتاب الصلوة باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان، نصب الرایه ۱ ۲۹۳ فصل فی قیام شهر رمضان)

(۴) د حدیثو څلورم مشهور کتاب موطاء امام مالک کی دی د یزید بن رومان نه روایت دی چې د حضرت عمر (رض) په زمانه کی به خلکو شل رکعته تراویح او درې رکعته وتر ټول (۲۳) رکعته کول: ((عن یزید بن رومان قال کان الناس یقومون فی زمن عمر بن الخطاب بثلاث و عشرین رکعة)) (ص ۴۰ ماجاء فی قیام رمضان)

(۵) په معرفة السنة کی دی: امام بیهقی په صحیح سند سره روایت نقل کړی چې حضرت علی (رض) په رمضان کی قاریان راوبلل او یو صاحب ته یې حکم وکړ چې خلکو ته شل رکعته ورکړی، حضرت علی (رض) به وتر ورکولو:

((عن عبدالرحمن السلمی ان علیاً دعا القرا فی رمضان فامر رجلاً ان یصلی بالناس عشرین رکعة و کان علی یو تربهم معرفة السنة للبیهقی ج ۱ ص ۴۷۷ و سنن کبیری للبیهقی ج ۲ ص ۴۹٦ کتاب الصلوة باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان))

(٦) محدث ابن قدامه په ((المغنی)) کتاب کی لیکی چې د تراویحو په شلو رکعتو باندې د صحابه کرامو اجماع شوې ده (۱/۸۰۳)[1]

(۷) د محدث علامه ابن حجر هیشمی تحقیق دا دی چې د صحابه کرامو (رض) په شلو رکعتو تراویحو باندې اتفاق (تحفظ الخیار ص ۱۹۷)

(۸) مشهور حافظ حدیث علامه عبدالبر فرمایی: صحیح دا دی چې صحابه کرامو د حضرت عمر فاروق (رض) په دور کی شل رکعته کول (مرقات ۱۷۴/۲ باب قیام شهر رمضان)

---

[1] و روی مالک عن یزید بن رومان قال کان الناس یقومون فی زمن عمر فی رمضان بثلاث و عشرین رکعة و عن علی انه امر رجلا یصلی بهم فی رمضان عشرین رکعة و هذا کالاجماع، حکم صلوة التراویح.

(۹) امام ابن تیمیه (رح) فرمایی کله چې حضرت فاروق اعظم (رض) د حضرت ابی بن کعب (رض) په امامت باندې را جمع کړل نو هغه ورته شل رکعته ورکول (مرقات ۱۷۵/۲) ((فلما کان ذلک یشق علی الناس قام بهم ابی ابن کعب فی زمن عمر بن خطاب عشرین رکعة بوتر بعدها)) (فتاوی ابن تیمیه ص ۱۴۸) او وړاندې لدینه زیات صراحت سره فرمایی :

((فانه قد ثبت ان ابی بن کعب کان یقوم بالناس عشرین رکعة فی رمضان و یوتر بثلاث فرای کثیر من العلماء ان ذلک هو السنة لانه قام بین المهاجرة والانصار و لم ینکره منکر))

ترجمه : بیشکه دا ثابت دی چې حضرت ابی بن کعب صحابه کرامو ته په رمضان کی شل رکعته تراویح ورکول او درې رکعته وتر نو د ډیرو علماؤ دا مسلک دی چې همدا سنت دی ، ځکه چې حضرت ابی بن کعب (رض) د مهاجرینو او د انصارو په موجودگی کی شل رکعته ورکړې دی اوهیڅ یو صحابیورباندې رد او انکار ندی کړی (فتاوی ابن تیمیه ۱۹۱/۱) دا د هغه چا فتوی ده چې غیر مقلدین یې خپل پیشوا گڼی ، پدې فتوی کی صراحت دی چې شل رکعته سنت دی.

(۱۰) امام شعرانی (رح فرمایی : بیا حضرت عمر (رض) د (۲۳) درویشت رکعتونو حکم ورکړ او پدې کی درې رکعته وتر ؤ او په ټولو ملکونو کی په همدې باندې عمل کیدو ((کشف الغمة ص ۱٦۷) ثم ان عمر (رض) امر بفعلها ثلاثاً و عشرین رکعة ثلاث منها وتر و استقر الامر علی ذلک فی المصار)) (مذکوره حواله)

(۱۱) د متهور اهل حدیث نواب صدیق حسن خان بهوپالی عقیده دا ده چې ((د حضرت عمر فاروق په دور کی چې د شلو رکعتو کومه طریقه شوی هغه علماؤ د اجماع غوندې شمار کړی ده)) (عو الباری ۳۰۷/۴ باب قیام النبی (ص) باللیل فی رمضان وغیره)

(۱۲) علامه بحر العلوم فرمایی : ((ثم تقرر الامر علی عشرین رکعة)) بیا په شلو رکعتو باندې اتفاق وشو (رسائل الارکان ص ۱۳۸ فصل فی صلوة التراویح)

(۱۳) حافظ حدیث د ابن همام تحقیق ((او بالاخره په شلو رکعتو باندې اتفاق وشو او همدا متوارث دی)) (فتح القدیر ۴۰۷/۱ فصل فی التراویح) ((ثم استقر الامر علی العشرین فانه المتوارث)) (ذکر شوی حواله)

د غیر مقلدینو مقتدی او امام حافظ ابن تیمیه (رح) هم ذکر شوی حدیث نقل کړی دی وګوری ((منهاج السنة ۲ ۲۲۴)

(۱۴) شیخ الاسلام علامه عینی نقل کوی ((کانوا یقومون علی عهد عمر (رض) بعشرین رکعة و علی عهد عثمان و علی مثله)) یعنی صحابه کرامو د حضرت عمر (رض) په زمانه کی شل رکعته کول او د حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله عنهما په زمانه کی هم په همدې توګه باندې عمل کیدلو . سند صحیح دی . (عینی شرح بخاری شریف ۱۷۸/۷ کتاب التهجد باب قیام النبی (ص) باللیل فی رمضان وغیره)

(۱۵) ((فیض الباری شرح د بخاری)) کی دی:

((سال ابو یوسف ابا حنیفة رحمهما الله تعالی هل کان لعمر رضی الله عنه عهد من النبی صلی الله علیه وسلم فی عشرین رکعة فقال له ابو حنیفة رحمه الله تعالی لم یکن عمر رضی الله عنه مبتدعاً)) (باب قیام النبی (ص) باللیل فی رمضان)

ترجمه :حضرت امام ابو یوسف (ر ح) د امام ابو حنیفة (رح) نه تپوس وکړ ایا حضرت عمر (رض) سره د شلو رکعتونو تراویحو لپاره درسول الله (ص) له طرفه څه عهد (څه قول او قرار) ؤ ؟ حضرت امام ابوحنیفه ورته وفرمایل : حضرت عمر (رض) د خپل خان نه جوړونکی نه ؤ یقیناً هغه سره به ددې کوم ثبوت ؤ (فیض الباری شرح صحیح البخاری ۴۲۰/۲ باب قیام النبی (ص) باللیل فی رمضان وغیره ، مراقی الفلاح ص ۸۱ بتغیر فصل فی التراویح ، بحر الرائق ٦٦/۲ آخر باب الوتر والنوافل)

(١٦) په ((موطاء محمد)) کی امام محمد (رح) فرمایی : ((و بهذا ناخذ ...... لان المسلمین قد اجمعوا علی ذلک و راوه حسناً و قد روی عن النبی (ص) انه قال ما راه المؤمنون حسناً فهو عند الله حسن))

ترجمه : حضرت عمر (رض) حضرت ابی بن کعب (رض) ته په رمضان کی د خلکو امام جوړیدو سره د تراویحو ورکولو حکم کړی دی ، همدا مونږه اختیاروو (عمل پرې کوو)..... خکه چې مسلمانانو (صحابه کرامو) په دې (شل رکعتو) باندې اجماع کړې ده او دا یې خوښ کړی دی او د رسول الله (ص) ارشاد دی : کوم شئ چې مسلمانان (صحابه کرام) خوښ کړی هغه شئ الله تعالی ته هم خوښ وی ، (ص ۱۱۱، ۱۱۲ باب قیام شهر رمضان و ما فیه من الفضل)

(۱۷) په ((المنتقی من اخبار المصطفی)) کی دی چې د حضرت عمر (رض) په دور کی صحابه کرامو وغیر هم رضی الله عنهم به رمضان کی د وترو سره درویشت (۲۳) رکعته کول (۷۸)

(۱۸) حضرت یحیی بن سعید انصاری (د مدینی منوری قاضی) نه روایت دی: ((ان عمر بن الخطاب امر رجلاً ان یصلی بهم عشرین رکعة اسناده مرسل قوی))

یعنی: حضرت عمر بن الخطاب (رض) یو سړی ته حکم وکړ چې خلکو ته شل رکعته تراویح ورکړی، ددې سند مرسل قوی دی. (مصنف ابن ابی شیبة ص ۴۰٦ په حواله د رکعات التراویح، (آثار السنن ۵۵/۲ باب فی التراویح بعشرین رکعات)

(۱۹) حضرت عبدالعزیز بن رفیع فرمایی: ((کان ابی بن کعب (رض) یصلی بالناس فی رمضان بالمدینة عشرین رکعة یوتو بثلث، اسناده مرسل قوی))

یعنی: حضرت ابی بن کعب رمضان کی په مدینه منوره کی خلکو ته شل رکعته تراویح ورکول او درې رکعته وتر، ددې سند مرسل قوی دی (مصنف ابن ابی شیبة ص ۴۰٦) آثار السنن ۵۵/۲ باب فی التراویح)

(۲۰) حضرت ابو الخطیب فرمایی: ((کان یؤمنا سوید بن غفلة فی رمضان فیصلی خمس ترویحات عشرین رکعة، اسناده حسن))

ترجمه: سوید بن غفلة (رح) به په رمضان کی زمونږ امامت کولو او پنځه ترویحو کی به شل رکعته ادا کول، ددې سند حسن دی (بیهقی ۴۹٦/۲) (آثار السنن ۵۵/۲ باب فی التراویح)

(۲۱) د حضرت عبد الله بن مسعود (رض) شاگرد حضرت شتیر بن شکل (رح) به په رمضان کی امامت کولو او شل رکعته به یې تراویح کول او درې رکعته وتر، دا روایت قوی دی (بیهقی ۴۹٦/۲ کتاب الصلوة باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان (قیام اللیل ص ۹۱) (مرقاة شرح مشکوة ۱۷۴/۲ باب قیام شهر رمضان)

(۲۲) جلیل القدر تابعی د مکی مفتی حضرت عطاء ابن ابی رباح فرمایی: ((ادرکت الناس و هم یصلون ثلاثاً و عشرین رکعة بالوتر و اسناده حسن))

ترجمه: ما په مکه کی صحابهٔ کرام وغیره ټول خلک ولیدل چې د وترو سره یې درویشت (۲۳) رکعته کول، ددې سند حسن دی (مصنف ابن ابی شیبة ص ۴۰٦) فتح الباری شرح صحیح بخاری کتاب التهجد باب قیام النبی (ص) باللیل فی

رمضان وغیره ۳ ۲۱۹ . قیام اللیل ص ۹۱ . آثار السنن ۱ ۵۵ باب فی التراویح بعشرین رکعات)

(۲۳) د ابن عمر (رض) شاگرد حضرت نافع فرمایی کان ابن ملیکة (رض) یصلی بنا فی رمضان عشرین رکعة . اسناده حسن .(آثار السنن ۲ ۵٦) یعنی حضرت ابن ابی ملیکة شل رکعته تراویح ورکولی ، ددې سند حسن دی.

(۲۴) حضرت اعمش (رح) فرمایی : ((ان عبد الله بن مسعود کان یصلی عشرین رکعة و یوتر بثلاث))

ترجمه : حضرت عبد الله بن مسعود (رض) شل رکعته تراویح کول او درې رکعته وتر ، ددې سند مرسل قوی (عمدة القاری شرح صحیح البخاری باب قیام النبی (ص) باللیل فی رمضان وغیره ۱۲۷/۱) (قیام اللیل ص ۹۱)

(۲۵) حضرت ابو البختری په رمضان کی پنځه ترویحه او درې رکعته وتر ادا کول (مصنف ابن ابی شیبة ص ۴۰٦

(۲٦) حضرت ابو الحسناء نه روایت دی ((ان علی بن ابی طالب امر رجلاً یصلی بنا خمس ترویحات عشرین رکعة))

ترجمه : حضرت علی (رض) یو سړی ته حکم وکړ چې سونږ ته پنځه ترویحه و کی شل رکعته مونږ راکړی (سنن کبیری للبیهقی ۴۹٦/۲ باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان) دا روایت د عمر بن قیس د متابعت په وجه قوی دی ، وګوری : (الجوهر النقی ۲۰۸/۱) د عمدة القاری شرح بخاری ۱۲۷/۱۱ باب قیام النبی (ص))

(۲۷) حضرت محمد بن کعب قرظی فرمایی : ((کان الناس یصلون فی زمان عمر بن الخطاب فی رمضان عشرین رکعة))

ترجمه : د حضرت عمر (رض) په دور کی خلکو په رمضان شریف کی شل رکعته کول (قیام اللیل ص ۹۱)

(۲۸) حضرت سعید بن عبید فرمایی : ((ان علی بن ربیعة کان یصلی بهم فی رمضان خمس ترویحات و یوتر بثلاث))

ترجمه : علی بن ربیعة په رمضان کی پنځه ترویحات (شل رکعته تراویح ورکولی او درې رکعته وتر ، ددې سند صحیح دی) (آثار السنن ۵٦/۲ باب فی التراویح بعشرین رکعات)

(۲۹) علامه سبکی شافعی فرمایی ((زمونږه مسلک د شل رکعتو تراویحو سنت کیدل دی کوم چې په صحیح سند سره ثابت دی)) (شرح المنهاج)

(۳۰) حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی فرمایی : ((و هی عشرون رکعة یجلس عقب کل رکعتین و یسلم))

ترجمه او دا شل رکعته دی او هر دوه رکعته وروسته به کینی او سلام به ګرځوی و نوی فی کل رکعتین اصلی رکعتی التراویح المسنونة)) او په هره دوه رکعتو باندې دا نیت کوی چې زه دوه رکعته مسنون تراویح ادا کوم (غنیة الطالبین ۲ ۱۱،۱۰)

(۳۰) حضرت امام غزالی فرمایی : ((التراویح وهی عشرون رکعة و کیفیتها مشهورة و هی سنة مؤکدة))

ترجمه : تراویح شل رکعته دی او طریقه یې معلومه ده او دا سنت مؤکد دی : ((احیاء العلوم ۱ ۲۰۸ من الروایت صلاة التراویح و قله عشرون رکعة بیان لکمیتها وهو قول الجمهور لما فی المؤطا عن یزید بن رومان قال کان الناس یقومون فی زمن عمر بن الخطاب رضی الله عنه بثلث و عشرن رکعة (ج ۲ ص ٦٦))

یعنی شل رکعته د جمهورو علماؤ قول دی ځکه چې موطاء کی د یزید بن رومان (رض) روایت دی چې خلکو به د عمر (رض) په زمانه کی د وترو سره درویشت (۲۳) رکعته کول.

(۳۱) شیخ احمد رومی فرمایی :

((والصحابة حینئذ متوافرون منهم عثمان و علی و ابن مسعود والعباس و ابنه و طلحة والزبیر و معاذ و غیرهم من المهاجرین والانصار و ما رد علیه واحد منهم بل ساعدوه و وافقوه و امروه بذلک وواظبوا علیها حتی ان علیاً اثنی علیه و دعا له بالخیر و قال نور الله مضجع عمر کما نور مساجد نا و قد قال النبی صلی الله علیه وسلم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین من بعدی و هی عشرون رکعة)) (مجالس الابرار مجلس نمبر ۲۸)

ترجمه : او پدې وخت کی یعنی کله چې حضرت عمر (رض) صحابه کرام راجمع کړل اوحضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه یې د امامت لپاره مقرر کړ ،حضرت صحابه کرام ډیر زیات موجود وو په دوی کی حضرت عثمان (رض) حضرت علی (رض) ، ابن مسعود ، عباس (رض) او دده خوی (ابن عباس (رض)) ، حضرت طلحة ، حضرت زبیر ، حضرت معاذ (رض) او ددوی نه علاوه نور ټول مهاجرین او

انصار حضرات موجود وو ، چا هم په حضرت عمر (رض) باندې اعتراض ونه کړ او نه یې تردید وکړ بلکې ټولو ورسره ملګرتیا وکړه او تائید او موافقت یې وکړ او همدا عمل یې جاري او رانج کړ او همیشه پابندی سره یې عمل پرې کړی . تر دې چې حضرت علي (رض) د عمر فاروق تعریف وکړ او شکریه یې ادا کړه او دعاء یې ورته وکړه ، د وفات نه بعد یې فرمایل) الله تعالی دې د حضرت عمر فاروق (رض) قبر له نور نه ډک کړي لکه چې ده (رض) زمونږ جوماتونه روښانه او منور کړل . د رسول الله (ص) ارشاد دی چې زما طریقه او زما نه وروسته زما د خلفاء راشدینو طریقې لازم ونیسي . او تراویح شل رکعته دي (مجالس الابرار ۲۸۲ ص ۱۸۷)

(۳۲) حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی فرمایي : د صحابه کرامو او تابعینو په زمانه کې تراویح شل رکعته مقرر شوي دي :

و زادت الصحابة و من بعدهم فی قیام رمضان ثلاثة اشیاء الاجتماع له فی مساجد هم ذلک لا نه یفید التیسر علی خاصتهم و عامتهم و اداؤه فی اول اللیل مع القول بان صلوة اخر اللیل مشهودة و هی افضل کما نبه عمر رضی الله عنه لهذا التیسر الذی اشرنا الیه عدده عشرون رکعة ،، (حجة الله البالغه ج ۲ ص ۱۸ من النوافل قیام شهر رمضان)

(۳۳) حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوی (رح) فرمایي : ((من بعد عدد بیست وسه را اختیار کردند درین عدد اجماع شده بود)) یعنی صحابهٔ کرامو درویشت (۲۳) رکعته (شل رکعته تراویح او درې رکعته وتر) اختیار کړي پدې شمیره باندې د صحابه کرامو اجماع شوی ده (مجموعه فتاوی عزیزی ۱۲۶/۱)

(۳۴) مولانا قطب الدین خان محدث دهلوی لیکي : ((لیکن پدې باندې د صحابه کرامو اجماع شوې ده چې تراویح شل رکعته دي (مظاهر حق ۴۳۳/۱ باب قیام شهر رمضان)

(۳۵) علامه شبیر احمد عثمانی (رح) فرمایي : په صحابه کرامو کې چا هم په شلو رکعتو کې اختلاف ندی کړی پدې بنا ټول حضرات په شل رکعتو باندې متفق وو (فتح الملهم شرح صحیح مسلم ۳۲۰/۲ باب الترغیب فی قیام ضمان هو التراویح)

کله چې لدې حوالو نه چې مشت نمونه خروار دی د رڼا ورځې لمر پشان ثابت شو چې که مخکې څه اختلاف هم وُمګر د حضرت فاروق اعظم په مبارک دور کې په شل رکعته تراویحو باندې اجماع وشوه او د حضرت فاروق اعظم نه وروسته پاتې خلفاء

راشدین (حضرت عثمان غنی او حضرت علی رضی الله عنهما) په دور کی دغه احماع نور هم قوی او محکم شوه نو لهذا اوس د محدثینو او فقهاء کرامو په لاندنی اقوالو باندې نعجب ندی پکار . علامه نووی د مسلم شارح فرمایی ((با جماعت تراویح د اسلام له شعائرو څخه دی او د اختر مونځ په شان دی : ((لا نه من شعائر الاسلام الظاهرة فاشبه صلوة العيد)) (نووی شرح مسلم شریف ۱ ۲۵۹)
فمؤدی ثمان رکعات یکون تارکاً للسنة المؤکدة)) (تعليقات هدايه ۱ ۱۳۱) یعنی اته رکعته تراویح کونکی د سنت مؤکد تارک دی کله چې خبره ترک د سنت ته ورسیده نو هر مسلمان ته د ترک سنت د وعید او سزا نه ویریدل پکار دی .
((عن عائشة (رض) ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال ستة لعنتهم و لعنهم الله و کل نبی مجاب الزائد فی کتاب الله عز و جل والمکذب بقدر الله عز و جل والمستحل حرمة الله و استحل من عترتی ما حرم الله و التارک للسنة مجمع الزوائ ج ۱ ص ۷۰))
د حضرت عائشة (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : شپږ هغه کسان دی چې هغوی باندې زه هم لعنت وایم او الله تعالی همورباندی لعنت کوی او هر یو برگزیده نبی‌همورباندې لعنت کړی دی ، هغه سړی چې د الله تعالی په کتاب کی زیادت وکړی ، او څوک چې د الله تقدیر ونه منی ، څوک چې د الله تعالی حرام کړی څیز حلال وگرځوی ، او څوک چې زما د آل اولاد نه هغه څه حلال کړی چې الله تعالی حرام کړی ، او څوک چې تارک او پریښودونکی د سنت وی.
او ددې په مقابل کی هر یو مؤمن ته دا خوشخبری پکار ده چې د رمضان شریف په برکت سره د تراویح د سنتو ثواب به انشاء الله د فرضو برابر وی ، ځکه چې د رسول الله (ص) ارشاد دی چې په رمضان شریف کی د هرې نیکی ثواب د فرضوبرابر ملاوېږي ((من تقرب فيه بخصلة من الخير کان کمن ادی فريضة فيما سواه)) (مشکوة ص ۱۷۳)

تفصیلی جائزه

ـ سنجیده تنقیحات ، منصفانه فیصلی لپاره عادلانه شرائط او غوښتنی یې:
پورتنی صفحو کی د سا مرودی صاحب د غلطو حوالو حقیقت بیان کړی شو او بیا هغه اقتباسات وړاندې کړی شو چې د هغو نه د شلو رکعتو تواتر او توارث معلومېږي

او کوم خای پورې چې د سا مردودی صاحب د اوچتو دعوو تعلق دی د هغو د تردید لپاره، دغه لیکنه کافی ده ، لیکن دا فقیر مزید وضاحت کول غواړی سامروی صاحب د هغو خلکو نه معلومیږي چې خان کوڼ اچوی (لهم اعین لا یبصرون بها و لهم آذان لا یسمعون بها) مګر چا ته چې الله تعالی د حق د طلب توفیق ورکړی وی هغه د سنجیده تحقیق قدر کوی او وربانديې مطمئن کیږي ، د الله تعالی ارشاد دی :

(فبشر عبادی الذی یستمعون القول فیتبعون احسنه) (سورت زمر) یعنی ای پیغمبرد زما هغو بندګانو ته زیری وآوروه چې خبره په غور سره آوری او بیا نبه خبرد قبلوی او په هغه عمل کوی ، همدوی د حق طالبان دی چې د الله تعالی د زیری حقدار دی ، زمونږ مخاطب دی ، و بالله التوفیق .

کله چې د کوم شخص یا د کوم جماعت له طرفه کوم اعتراض مخې ته راشي نو د یو حق پرست او انصاف خوښونکی لومړی فرض دا د ی چې هغه د رای او فیصلی کولو نه مخکې را ګوری چې هغه شخص او یا جماعت چې دا الزام پرې لګول کیږي د هغه طرز او انداز او د هغه ذوق و فکر او کردار یې څه دی او ددې اعتراض نوعیت څه دی ؟ که د هغه شخص یا د جماعت څه مشهور او معلوم خصوصیتونه دی چې هغه اعتراض کونکی هم شی نو ایا ددې خصوصیتونو باوجود دا کیدی شی چې دا الزام په هغه شخص یا جماعت باندې چسپان او صادق شي یا د الزام لګونکی متعلق دا وینا صحیح شي ؟

ګه نه بیند بروز شپر چشم

چشمه آفتاب را چه ګناه

یعنی که په رڼا ورځ شو پرک لیدل نشي کولی نو پدې کی د لمر څه ګناه ده که چیری د سامرودی صاحب د خوشحالولو لپاره دا ومنل شي چې شل رکعته تراویح د رسول الله (ص) نه ثابت ندی نو بیا لازمی طور باندې د حضرت سیدنا عمر فاروق (رض) د شخصیت او د صحابه کرامو له جماعت نه ثابتیږي ځکه هم دغه حضرات د تراویح موجد ګرځی او د مونځ او د قرآن کریم مسئله مخې ته راځی ځکه چې د تراویحو حقیقت همدا دی چې په خاص شکل سره با جماعت لمونځ کولی شی چې ترتیب وار پوره قرآن پاک پکې ګردان او لوستلی کیږي نو سوال دا کیږي چې

ایا د عمر فاروق (رض) شخصیت داسې دی چې د کوم بدعت موجد وګرځي ؟ بالخصوص د قرآن شریف او مانځه باره کې د امت په سر کوم نوی شئ لازم کړي ؟ ایا د عمر فاروق شخصیت د خلکو د اعتراض نه پورته ؤ ؟ او چا هم دده په وړاندې خوله نه شوه پرانستی ؟ ایا کوم صحابي او خصوصاً د صحابه کرامو پوره جماعت په خپلو سترګو بدعت لیدلی او برداشت کولی شو ، راشئ چې د هرې خبرې جائزه واخلو

د ټولو نه وړاندې د حضرت عمر فاروق د پیژندلو کوشش وکړی شی :

دا هغه عمر دی چې د فاروق خطاب ورته شوی ځکه چې دده هر عمل او هر قول د حق او باطل تر منځ فرقان دی چې شیدی او اوبه سره جلا کوی د چا خصوصیت چې د صادق مصدوق (ص) په ژبه دا بیان شوی چې ((اشد هم في امر الله عمر)) (د الله تعالی په معامله (د دین په خبرو) کې نهایت سخت دی) د رسول الله (ص) دی ارشاد د تواتر حیثیت غوره کړی اکثر خطیبان د جمعې په خطبه کې د ممبر په سر باندې بیانوی ، دا هغه عمر دی چې دده د مبارک نوم نه شیطان هم ویرېږي تر دې چې په کومه لاره عمر فاروق قدم ږدی په هغه لاره شیطان نشي تللی هغه لاره پرېږدی په بله لاره ځي ، (صحیح حدیث)

د دومره استقامت او فضیلت سره دده ارشاد دا دی : ((احب الناس الي من رفع الي عیوبي)) (تاریخ الخلفاء) ماته د ټولو نه زیات محبوب هغه څوک دی چې ماته زما عیبونه وښایي (ما د خپلو غلطیو نه خبردار کړي)

نه یې وپیژنی دا عمر فاروق هغه دی چا چې د عهد خلافت نه وروسته د ټولو نه مخکې اعلان دا کړی ؤ چې ((زما تابعداری تر هغې پورې دی څو پورې چې د الله او د رسول الله (ص) په فرمان او د صدیق (رض) په سیرت باندې عمل کونکی وم . او کوم ځای چې د الله تعالی نا فرمانی کېږي هلته د هیڅ مخلوق تابعداری جائز ندی))

بیا دا اعلان تش رسمی او نمائشی نه ؤ بلکې یو سوچه حقیقت ؤ او په مختلفو عنواناتو سره به یې دا تکرارولو ، یو خل ده (رض) د منبر په سر دا تپوس وکړ او وفرمایل : ای خلکو که چېرته زه د نبي سنت او د صدیقي سیرت په خلاف کوم حکم درکړم نو تاسو به څه کوی ، خلک چپ پاتې شول ، بیا یې دوباره تپوس وکړ نو یو خوان توره په لاس را اوچت شو او اشاره کولو سره یې وښودل یعنې انقلاب

په جوړ کړو . حضرت عمر فاروق (رض) وفرمایل : څو پوري چې دا جرئت باقي وي امت نه ګمراه کېږي (سیرة الخلفاء الراشدین ص ٦٨)
یو ځل دوی (رض) تقریر لپاره په منبر ودریدل او وفرمایل : ((اسمعوا و اطیعوا)) (یعنی واورئ اوعمل وکړئ) یوسړی فوراً پورته شو او اعلان وکړ ((لا نسمع و لا نطیع)) (نه ستا خبره آورو او نه ستا په وینا عمل کوو) فاروق اعظم (رض) ددی اعلان کونکی د سر پریکولوحکم ورنه کړ بلکی د وجې او سبب تپوس یې ورنه وکړ . اعلان کونکی جواب ورکړ چې تاسو دغنیمت مال په تقسیم کی مساوات او برابری ندی کړی ، دغه کپړه د کومی نه چې دې جوړه آغوستی مونږ ته هم ملاو شوی مګر مونږ ورنه جوړه نکړی شوه (پوره نه شوه) او تا ورنه جوړه کړې ده نو تا له مونږ نه دوچند آختې ده ، مساوات او برابري دې ندی کړی .
عمر فاروق پخپله جواب ورنکړ بلکی خپل څوی عبد الله بن عمر (ر ض) یې راوغوښت او هغه ګواهی وکړ چې کومه کپړه ماته راکړی شوې وه هغه مې حضرت فاروق (رض) ته ورکړی ده نو د دوه کسانو له حصو نه یوه جوړه تیاره کړې ده. اعتراض کونکی د خپل جرئت هیڅ عذر ونکړ بلکی نهایت په ساده انداز کی یې وویل : ښه اوس چې څه وایی نو مونږه یې آورو او عمل وربانديې کوو ، وګورئ ((الاسلام بین العلماء والحکام ص ٧٢))
ګویا معمولی خبره وه چې د فاروق اعظم متعلق د غلطی شبهه هم دی نو د عامو مسلمانانو عدالت د هغه تحقیق وکړی او فیصله وکړی .
بیا د آزادی یواځی سړو ته نه ده حاصل بلکی ښځو ته هم د تنقید کولو همدومره حق حاصل ؤ دوی هم په داسې جرئت او زړه ورتوب سره جرح او تنقید کولی شو ، یو ځل فاروق اعظم (ر ض) پخپله خطبه کی ارشاد وفرمایل : چې د څلور سوه درهمو نه زیات مهر مه مقرروئ (رسول الله (ص) د ازدواج مطهراتو همدومره مهر مقرر کړ ؤ او د لور یې حضرت سیدة النساء فاطمة (ض) پنځه سوه درمه ؤ) یوی قریشی بوډئ وربانديې زبردست تنقید او جرح وکړ چې د الله تعالی ارشاد دی (و آتیتم احدا هن قنطاراً فلا تاخذ و امنه شیئاً)) یعنی که تاسو یوی ښځی ته زیات مال ورکړی وی نو واپس ترینه هیڅ یو شئ مه اخلئ (سورت نساء) کله چې الله تعالی په قنطار (زیات مال) باندې هم پابندی ندی لګولی نو بیا ته څه حق لری چې د څلور سوه درهمو نه زیات باندې پابندی لګوی ؟ (خلاصة التفاسیر ١ ٣٦٣)

ـ صحابه کرام او د بدعت نه نفرت:

دا خو عمر فاروق (رض) ؤ اوس د صحابه کرامو (رض) په کردار باندې نظر واچوی چې ددوی ذوق څه ؤ او فطرت یې څه قسم جوړ شوی ؤ، دا پاکه طبقه چې الله تعالی د خپل نبی آخر الزمان (ص) د رفاقت او ملګرتیا لپاره غوره کړې وهکوم چې د آخری پیغام حاملین جوړ کړی وو چې ددی کامل دین اولین محافظین او مبلغین وو کوم دین چې تر قیامته پورې باقی پاتې کیدونکی دی. دوی د رسول الله (ص) په مبارکو سنتو باندې دومره مین او عاشقان وو، د بدعت او خلاف سنت نه دومره بیزاره وو چې هیڅ یوه طبقه او هیڅ یو فرد ددی مثال نشي وړاندې کولی، دصحابه کرامو د ډلی څخه د یو فرد حضرت عبد الله بن مغفل (رض) شهادت او ګواهی دا:

((لم ار احداً من اصحاب رسول الله (ص) کان ابغض الیه الحدث فی الاسلام یعنی منه)) (ترمذی شریف ۳۳/۱ باب ما جاء فی ترک الجهر بسم الله الرحمن الرحیم)

یعنی ما د رسول الله (ص) د صحابه کرامو څخه څوک داسې ندی لیدلی چې هغه د بدعت نه زیاتد بل څیز سره بغض او نفرت ولري.

په لاندنی مثالونو کی تاسو د صحابه کرامو په ژور نظر سره جائزه واخلی، کومی خبرې چې مونږ ته معمولی معلومیږي د صحابهٔ کرامو په نظر کی څومره مهمی او سختی وی او دوی به څنګه د لوی نه لوی شان و شوکت والا ته لته ورکوله، او بیا د انصاف فیصله وکړئ چې آیا داسې سخت ګیر، پابند د سنت، د شریعت متبع حضراتو لپاره جماعت په وړاندې امکان لری چې کوم کار په ښکاره طور دسنت په خلاف وشي اودوی وړباندې هنګامه جوړه نه کړی، بلکی ددې په خلاف په پوره ذوق او شوق سره هغه کې شریک نشي او دقلبی اطمئنان اظهار وکړی؟ اوس مثالونه وګورئ:

(۱) د بدعت بانی سره سلام بند:

حضرت عبد الله بن عمر (رض) ته یو سړی سلام ورسولو، ده وفرمایل: ما اوریدلی دی چې هغه بدعت ایجاد کړی دی که دا خبره رشتیا وی نو زما له طرفه هغه ته د سلام رسولو هیڅ حاجت نشته ((عن نافع ان رجلاً اتی ابن عمر فقال ان فلا نا یقرا

علیک السلام فقال بلغنی انه قد احدث فان کان قد احدث فلا تقراه منی السلام)) (مشکوة شریف ص ۲۳ باب الایمان بالقدر)

(۲) د آذان نه وروسته په تثویب باندې د نفرت اظهار :

په مکه معظمه کې مؤذن د سحر آذان نه وروسته تثوب وکړ مثلاً خلکو ته د بلنې لپاره په اوچت آواز سره ((الصلوة جامعة)) (جماعت تیار دی) وویل نو حضرت عمر فاروق اعظم (رض) په نهایت سختی او ویرولو سره وفرمایل : ((الیس فی آذانک ما یکفینا ؟ یعنی تا چې پخپله آذان کې حی علی الصلوة وویل دا مونږ لپاره کافی ندی ؟ (کفایة ۴۸/۱)

(۳) حضرت علی (رض) د ماسخوتن آذان نه وروسته مؤذن په تثوب کولو ولید نو خفه کیدو سره وفرمایل : دا بدعتی له جومات څخه وباسئ :

((ان علیا رضی الله عنه رای مؤذنا یثوب للعشاء فقال اخرجوا هذا المبتدع من المسجد)) (قامة الحجة ص ۷) (بحر الرائق ج ۱ ص ۲۶۱ باب الاذان تحت قوله و یثوب)

(۴) حضرت ابن عمر (رض) د ماسپښین اذان نه وروسته مؤذن په تثویب کولوولید نو بې حده غصه شو او خپل ملګری ((حضرت مجاهد)) ته وویل : لدې بدعتی څخه مونږه لرې بوځه ، (چونکې په آخر عمرکی نا بینا شوی ؤ) بیا یې جومات پریښود او لاړ او هلته یې مونځ ونه کړی : ((وروی عن مجاهد قال دخلت مع عبد الله بن عمر مسجداً و قد اذن فیه و نحن نریدان نصلی فیه فثوب المؤذن فخرج عبد الله بن عمر و قال اخر ج بنا من عندنا هذا المبتدع و لم یصل فیه)) (ترمذی شریف ج ۱ ص ۱۸ باب ما جاء فی التثویب فی الفجر) (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۸۶) (الاعتصام ج ۲ ص ۲۲۴) (واللفظ اللترمذی)

لږ غور وکړی کو حضرات چې د آذان نه وروسته د بلنی یو لفظ نشي برداشت کولی ایا دوی د تراویحو شل رکعته برداشت کول ؟

(۵) د سنت خلاف پروګرام نه مقاطعه (پریکون)

حضرت عثمان بنابی العاص (رض) یوی سنت ګیری ته دعوت کړی شو نو انکار کولو سره یې وفرمایل : د رسول الله (ص) په زمانه کی نه مونږ سنت ګیری لپاره تللو او نه به مونږ ته چا دعوت راکولو (مسند امام احمد ۲۱۷/۴)

(۶) د تلبیه د یو لفظ په زیاتولو باندې خفګان :

حضرت سعد بن مالک (رض) یو حاجی نه په تلبیه کی لبیک ذالمعارج واوریدل نو وی فرمایل. مونږ به د رسول الله (ص) په مبارک دور کی دا لفظ نه ویلو : ((ان سعد ابن مالک سمع رجلاً یقول لبیک ذا المعارج فقال ما کنا نقول هذا علی عهد رسول الله (ص))) (تلبیس ابلیس ص ۱۷)

(۷) حضرت ابن عباس او حضرت امیر معاویه (رض) د خانه کعبې طواف کولو نو حضرت امیر معاویه (رض) د خانه کعبې ټول کنجونه ښکل کړل حضرت ابن عباس (رض) وفرمایل : رسول الله (ص) دی دواړو کنجونو یعنی رکن یمانی او حجر اسود نه علاوه بل کوم کنج ندی ښکل کړی ،حضرت امیر معاویه (رض) وفرمایل : ددې مقدس کور هیڅ یو څیز داسې ندی چې پرینښودلی شي (ښکل نه کړی شي) حضرت ابن عباس (رض) وفرمایل : (لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنة) یعنی تاسو لپاره د رسول الله (ص) ذات بهترینه نمونه ده) (یعنی اګر که د خانه کعبې هره ذره متبرک ده مګر مونږ ته هغه څه کول پکار دی چې د رسول اکرم (ص) نه ثاب وی) حضرت امیر معاویه (رض) وفرمایل : ستا خبره صحیح ده (مسند امام احمد)

تنبیه:

کوم حضرت چې د سنت په خلاف د بیت الله ښکلول نه خوښوی نو ایا دا کیدی شي چې دوی په مسجد نبوی (ص) او حرم شریف مکه مکرمه کی معاذ الله شل رکعتو والا بدعت ووینی او چ پ پاتی شي .

(۸) بې وخته نفلو باندې خبرداری :

حضرت ابن عباس (رض) حضرت طاؤس د مازدیګر لمونځ نه وروسته په نفل کولو ولید نو منع یې کړ او وې فرمایل : دا د سنت خلاف دی .

(۹) حضرت علی (رض) په عیدګاه کی یو سړی د اختر مانځه نه مخکې نفل کولو نه بند کړی او وې فرمایل : کوم کار چې رسول الله (ص) نه وی کړی یا د کولو ترغیب نه وی ورکړی د هغه په کولو کی ثواب نشته ، لهذا ستا دا مونځ عبث دی ، او (عباداتو کی) عبث کار حرام وی ، نو ویره ده چې د رسول الله (ص) د مخالفت په وجه الله پاک درته عذاب درکړی (مجالس الابرار م ۱۸ ، ص ۱۲۹) لږ غور وکړی حضرت علی (رض) دوه رکعته نفل مونځ څکه حرام او مستحق د عذاب ګڼی چې د رسول الله (ص) د طریقی مطابق نه دی ، لیکن د تراویح د شل رکعتو څخه منع

خو څه کوی بلکی ددې اهتمام کوی او ددې د کولو لپاره امام مقرر وی لکه چې په (۲۰) نمبر کی تیر شو .

(۱۰) د مسنون وخت نه مخکې خطبه باندې د وخت حاکم ته خبرداری :

حضرت ابو سعید خدری (رض) خلیفه مروان یې د اختر مانځه نه مخکې په خطبه ویلو ولید نو منع یې کړ او وې فرمایل : دا د سنت نه خلاف دی (اقامة الحجه ، ص ۵)

(۱۱) د هیئت مسنونه په خلاف خطبه لوستو باندې عتاب او غصه :

حضرت کعب بن عجرة (رض) عبد الرحمن بن ام حکم د سنت خلاف په ناسته باندې خطبه لوستو کی ولید نو غصه کیدو سره یې وفرمایل : وګورئ دا خبیث په ناسته خطبه وایی : ((عن ابی عبیدة عن کعب بن عجرة قال دخل المسجد و عبد الرحمن بن ام حکم یخطب قاعداً)) (صحیح مسلم شریف ج ۱ ص ۲۸۴ کتاب الجمعة)

(۱۲) په غلطه فتوی باندې حاکم او قاضی ته خبرداری :

حضرت ابو موسی اشعری (رض) د کوفې حاکم حضرت سلمان بن ربیعة د میراث یوه مسئله کی د مال دوه حصې کولو سره یوه حصه لور او یوه حصه خور ته ورکولو او د لمسی د محروم کیدو فتوی ورکړه او تپوس کونکی یې عبد الله بن مسعود (رض) ته ولیږلو چې هغه باندې ددې تصدیق وکوی د حضرت عبد الله بن مسعود (رض) په نزد باندې دا مسئله صحیح نه وه نو هغه فوراً وفرمایل : ما چې د رسول الله (ص) د ارشاد مطابق د مال نیمه حصه (میراث) د لور او شپږمه حصه د لمسی او باتې حصه (میراث) خور ته ورکول کیږي (بخاری شریف ۹۹۷.۲ ، کتاب الفرائض باب میراث ابنته ابن مع ابنته)

(۱۳) په دعاء یا خطبه کي د سنت خلاف لاس اوچتولو باندې تنبیه :

حضرت ابن عمر (رض) یو سړی باندې کله چې په دعاء کې د سینې نه پورته لاس اوچتولو کې ولید نو د بدعت کیدو فتوی یې ورکړه او په دلیل کې یې وفرمایل :
رسول الله (ص) د دعاء په وخت کې (د کوم خاص موقع نه علاوه) د سینې څخه پورته لاسونه ندی اوچت کړی ((عن ابن عمر (ض) انه یقول ان رفعکم ایدیکم بدعة ما زاد رسول الله صلی الله علیه وسلم علی هذا یعنی الی الصدر . رواه احمد)) (مشکوة شریف ص ۱۹٦ کتاب الدعوات الفصل الثالث)

(۱۴) حضرت عمار بن رویبة (رض) بشر بن مروان په خطبه کې لاس اوچتولو حالت کې ولید نو وې فرمایل : ((فبیح الله هاتین الیدین القصیرتین لقد رایت رسول الله (ص) و ما یزید علی هذا و اشار هشیم بالسبابة))
یعنی الله تعالی دې دا واړه واړه لاسونه تباه کړی ما رسول الله (ص) په داسې کولو ندی لیدلی ، (ترمذی شریف ٦٨/١ باب الجمعة ما جاء فی کراهیة رفع الایدی علی المنبر)

(۱۵) حضرت عبد الله بن زبیر (رض) یو سړی په قعده کې د دعاء وخت کې لاس اوچتونکی ولید نو وې فرمایل : رسول الله (ص) څو پورې چې به مانځه نه فارغ شوی نه ؤ نو دعاء کې به یې لاسونه ، نه اوچتول .

(١٦) د سنت په خلاف تسبیح ، تهلیل او د الله ذکر باندې خفگان :

څه خلکو سحر مانځه کې ژرا جمع کیدو سره په خاصه طریقه باندې سل ځلی الله اکبر او سل ځلی لا اله الا الله او سل ځلی سبحان الله لوستلو ددې خبر حضرت عبد الله بن مسعود (رض) ته ورسید نو هغه هلته لاړ او وې فرمایل : ای د محمد (ص) امته افسوس دی تاسو باندې ستاسو د هلاکت وخت څومره نزدی شوی ، تر اوسه ستاسو د نبی (ص) صحابه کرام موجود دی ، ستاسو د نبی (ص) جامې ندی زړی شوی د هغه لوښی او اسباب روغ دی او تاسو له اوس نه بدعتونو کې لگیا یئ ؟ په هغه ذات مې قسم چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده یا څو تاسې پداسې دین باندې یې چې د حضرت محمد (ص) له دین څخه (نعوذ بالله) زیات صحیح دی

او یا تاسی د گمراهی دروازې نه رسیدلی یی کوم چې عنقریب کولاویدونکی دی (ازالة الخلفاء مقصد اول پنځم فصل ص ۱۳۰)

(۱۷) یو روایت کی دی چې یوه ډله د ماښام نه وروسته کیناستله او په دوی کی به یو سړی دا ویلی چې دومره خلی الله اکبر وایی او دومره خلی سبحان الله او دومره خلی الحمد لله وایئ او نورو به بیا ویل ، حضرت ابن مسعود (رض) ته د دوی خبر ورکړی شو هغه د هغو خواته ورغی او کله چې د هغو اوراد واوریدل نو هغه (رض) ودریدو او وفرمایل : زه عبد الله بن مسعود یم په هغه الله مې قسم چې د هغه نه علاوه څوک معبود نشته بیشکه یا خو تاسی نهایت تورتم بدعت کی اخته شوی یی او یا د رسول الله (ص) د صحابهٔ کرامو نه په علم کی زیات شوی یئ او بیایې هغوی له جومات نه وشړل (الاعتصام ص ۱۶۵/۲ ، مجالس الابرار م ۱۸ ص ۱۲۵) تعجب دی چې یواځی په تسبیحاتو ویلو باندې د جومات نه شړل کیږي او د تراویحو په شل رکعتو باندې هیڅوک اعتراض نه کوی .

(۱۸) د ځاښت مونځ په حدیث کی ثابت دی مګر (په کور یا جومات کی خانته) او ددې په خلاف کله چې عبد الله بن عمر (رض) ولیدل چې څه خلک یې په جومات کی، یو ځای او ښکاره یی کوی نو هغه ورته بدعت وویل (صحیح بخاری ۲۳۸/۱ ، ابواب العمرهٔ باب کم اعتمر النبی (ص) نووی شرح مسلم ۲۰۹/۱)

(۱۹) د حضرت عبد الله بن مغفل (رض) خوی په مانځه کی د سورت فاتحه په شروع کی بسم الله په زوره وویل نو حضرت عبد الله (رض) فوراً تنبیه ورته وکړ ((خویه بدعت دی . د بدعت نه ځان ساته . (ترمذی شریف ۳۳/۱ باب ما جاء فی ترک الجهر بسم الله اه)

(۲۰) د حضرت ابن عمر (رض) په وړاندې یو سړی پرنجی وکړ نو هغه الحمد لله والسلام علی رسول الله وویل یعنی والسلام علی رسول الله ور زیات کړ ، دا د خپل مفهوم په لحاظ اګر که بالکل صحیح دی مګر په دې موقع کی د سنت خلاف دی نو نوموړی حضرت فوراً ورته تنبیه وکړ چې دا د رسول الله (ص) تعلیم ندی (ترمذی شریف ۹۸/۲ ابواب الآداب باب ما یقول اذا عطس)

نوټ : نو چې په اتو باندې دولس ورزیات شول نو چا ولې څه ونه ویل ؟

(۲۱) د حضرت طارق (رض) نه دده خوی ابو مالک اشجعی په سحر مانځه کی همیشه دعاء قنوت ویلو متعلق تپوس وکړ نو ده ورته همدا وفرمایل ((خویه بدعت دی)) (نسائي شریف ۱/۱۲۲)
نو غور وکړی کوم حضرات چې په زوره بسم الله ، د پرنځیٔ نه بعد دعاء کی والسلام علی رسول الله زیاتول ، او سحر مانځه کی همیشه دعاء قنوت ویلو پشان د معمولی خبرو چې انفرادی طور سره شوی وی برداشت نه کړی شول بلکی بدعت ویلو سره یې رد کړل نو دوی تراویح څنګه برداشت کولی شول کوم چې انفرادی نه بلکی اجتماعی طور سره په ښکاره کیدلی او چا لپاره چې د شپې او د ورځی ټولو سنتونو نه زیات رکعتونه کولی شو یعنی دوه څلور نه بلکی شل رکعته .
(۲۲) حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) وفات شو نو حضرت عائشی رضی الله عنهما غوښتل چې جنازه کی شرکت وکړی پدې وجه خواهش یې وکړ چې دده د جنازې مونځ دې په جومات کی وکړی شی ، حضرت سعد بن ابی وقاص د عراق فاتح یواځی د سابقینو اولینو څخه ندی بلکی د عشره مبشره نه هم دی ، او ام المؤمنین حضرت عائشة صدیقه (رض) فرمایش هم کوی مګر چې په جومات کی د جنازې مونځ د سنت نه خلاف ؤ نو څه وشو ؟ د حدیث الفاظ دا دی ((فانکر الناس ذلک علیها)) یعنی د حضرت عائشی (رض) دا فرمایش چا ونه منلو بلکی صحابه کرامو انکار وکړو (صحیح مسلم شریف ص ۳۱۲ کتاب الجنائز)
که چیرته د اتو په ځای شل رکعته بدعت وای او د رسول الله (ص) ددې ثبوت نه وای نو د تعجب خبره ده چې د صحابه کرامو داجذبه د شل رکعتو څخه انکار په باره کی ولې ښکاره نه شو ه ؟
(۲۳) حضرت عمر (رض) د ګوتی په دیت کی یوه فیصله وکړه بیا ده ته د رسول الله (ص) فرمان وړاندې کړی شو کوم چې ددې فیصلی په خلاف ؤ نو حضرت عمر (رض) فوراً خپله فیصله بدله کړه (سیرة ابن الخطاب لابن الجوزی ص ۱۲۵)
نوټ : د شل رکعتو فیصله که د رسول الله (ص) نه خلاف وایٔ نو ولې چا هغه وړاندې نه کړه ؟
(۲۴) حضرت عمر (رض) د یوې زنا کاری ښځی د سنګسارولو فیصله وکړه او دغه زنا کاره لیونیٔ وه چې حضرت علی (رض) خبر شو نو هغه ددې مخالفت وکړ او دلیل یې دا وړاندې کړ چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : درې کسان مرفوع القلم

دی (۱) ویده سړی خو پورې چې را ویښ شوی نه وی (۲) ماشوم خو پورې چې بالغ شوی نه وی (۳) مجنون خو پورې چې هوش کی نه وی راغلی . حضرت عمر (رض) فوراً خپله فیصله واپس واخسته (مسند امام احمد ۱/ ۱۴۰) او عمر فاروق (رض) یواځی خپله فیصله واپس وانخسته بلکې ده د حضرت علی (رض) شکریه ادا کړه چې غلطی ته دې متوجه کړم ، او لکه څنګه چې مشهوره ده پدې موقع عمر فاروق وفرمایل : ((لو لا علی لهلک عمر)) که علی (رض) نه وای نو حضرت عمر (رض) به هلاک شوی ؤ .

په هر حال د صحابه کرامو متفقه عمل او شلو رکعتو ته د سنت خلاف ویل ، غلط ، ضد او عناد دی ، د صحابه کرامو دا متفقه واجب العمل ده ، دغه فیصله د عمل لپاره ناکافی ګڼل او د نورو دلائلو مطالبه کول جهالت او ګمراهی ده .

حضرت ابو ایوب سختیانی (رح) روایت کوی : ((اذا حدثت الرجل بالسنة فقال رعنا من هذا و حدثنا بما فی القرآن فاعلم انه منال))

ترجمه : کله چې یو چا ته سنت طریقه وښای او هغه درته ووایی چې دا پریده دا راته ووایه چې قرآن پاک څه وایی ؟ نو پدې پوه شه چې هغه سړی ګمراه دی (غنیة الطالبین ۱/ ۵٦)

_ د سنت د اتباع شوق :

(۱) پروردګار عالم رسول الله (ص) ته حکم کړی (قل ان کنتم تحبون الله فاتبعون) (سورت ال عمران) یعنی ته ورته ووایه : ای مسلمانانو که تاسو د الله تعالی سره محبت لری نو ددې عملی صورت دا دی چې زما تابعداری وکړئ ، او زما په نقش و قدم روان شئ

(۲) مسلمانانو ته یې تنبیه فرمایلی دی : (لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنة آ)) (سورت احزاب)

یعنی : بیشکه تاسو لپاره یعنی د هغه چا لپاره چې د الله تعالی او د قیامت نه ویریږی او الله تعالی ډیر ډیر یادوی د رسول الله (ص) په ذات مبارک کی یوه عمده نمونه ده .

رسول الله (ص) د حب رسول او حب د الله تعالی معیار دا بیان کړی دی :

((لا یؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعاً لما جئت به)) (مشکوة باب الاعتصام)

يعنى په تاسو كى يو هم تر هغى پورې مومن كيدى نشي څو پورې چې د هغه خواهش او جذبه زما د راوړى دين تابع شوى نه وى .
صحابه كرام د الله تعالى او د رسول الله (ص) ددې ارشاداتو كامل مثال او بهترين نمونه وو . يو طرف ته دوى د بدعت سره سخت بغض او نفرت ؤ چې مثالونه يې تير شوى صفحو كى ذكر شول او بل طرف ته د رسول الله (ص) د اتباع حريص ، د نقش و قدم عاشق ، او د سيد الانبياء محبو رب العالمين (ص) په ارشاداتو باندې ځان قربانونكى (رضى الله عنهم اجمعين) او پدې سلسله كى بې شميره مثالونه وړاندې كيدلى شى ، لوى لوى كتابونه پرې ليكل كېدى شى . مونږ دلته يواځى يو څومثالونه وړاندې كوو :
(۱) رسول الله (ص) په منبر باندې تشريف فرما دى ، ارشاد كوى چې ((اجلسوا)) كينئ ، حضرت عبد الله بن مسعود (رض) د جومات په دروازه كى ؤ (كوم ځاى چې خپل ويستل كېږي) ځنګه چې دغه ارشاد په غوږونو لګېږى هماغه ځاى كى فوراً كينى (مسلم شريف)
(۲) رسول الله (ص) مونځ كوى امام دې او پڼړى مباركى په پښپو كى دى يو ځل پڼړى راوباسى نو د چا په پښپوكى چې پڼړى وى هغوى يې هم فوراً لرى كوى ، د مانځه نه له فراغت نه وروسته رسول الله (ص) وفرمايل : تاسو ولې خپلى پڼړى وويستى ؟ صحابه كرامو عرض وكړ پدې وجه چې رسول الله (ص) ويستلى وى ، ارشاد وشو ما خو ځكه وويستلى چې جبرئيل عليه السلام (راته وويل چې پڼړو كى څه پليتى لګيدلى ده) (ابو داؤد شريف ۱۰۲/۱ باب الصلوة فى النهل)
(۳) د رسول الله (ص) ارشاد دى : كله چې غصه راشي نو كه سړى ولاړ وى نوكينى دى اوكه ناست وى نو بيا دې څملى ، غصه به يې سړه شى ، سيدنا ابو ذر غفارى (رض) باغ اوبه كوى يو سړى داسې حركت وكړ چې لختى غاړه را خرابه شوه او اوبه ورنه باهر ووتلى ، حضرت ابو ذر غفارى (رض) په غصه شو مګر فوراً د رسول الله (ص) ارشاد ورياد شو نو فوراً په ځتو او اوبو كى كيناستو تولى كپړى ګنده شوى مګرد رسول الله (ص) د ارشاد ګرامى په تعميل كى تاخير برداشت نه كړ (مسند احمد ۵ ۱۵۲)
(۴) د رسول الله (ص) هدايت دى چې كه د خوراک څيز په ځمكه پريوځى نو هغه مه پريدى د ا د نعمت نا شكرى ده پدې شيطان خوشحالېږي . تاسو شيطان مه

خوشحالوی نو چې نوړی پریوځي هغه اوچتوی او کومه خاوره چې ورپورې لګیدلې وی هغه صفا کړی او باتې وخوری
یو ځل دحذیفةبن یمان (رض) د لاسه نوړی پریوته او هلته عجمی خلک موجود وو اوه ده ته یې کتلی د هغو ی په نزد پریوتی شی اوچتول لوی عیب ؤ حضرت حذیفة (رض) چې د پریوتی نوړی اوچتول وغوښتل نو چا ورته وویل چې دلته دا کار مه کوئ دلته دغه عجمي خلک دا کار ډیر حقیر او سپک ګڼی حضرت حذیفة (رض) اوچت آواز سره جواب ورکړ . ((اترک سنة حبیبی لهو لا الحمقاء)) ایا ددې بې وقوفانو په خاطر د خپل محبوب صلی الله علیه وسلم سنت پریدم ؟ (التشبه فی الاسلام ۱/۱۷۸ مختصراً)
(۵) د سیدنا عمر فاروق دا واقعه ډیره مشهوره ده چې کله حج د بیت الله ته تشریف یووړ او چې د حجر اسود ښکلول شروع کړ نو وې فرمایل : زه پوهېږم چې ته یوه تیږه یې چاته نفع او نقصان نشی رسولی که ما رسول الله (ص) ستا په ښکلولو نه وای لیدلی نو ما به هرګز نه وی ښکل کړی (بخاری وغیره کتاب المناسک باب ما ذکر فی الحجر الاسود ۱/۲۱۷) .
(٦) په خانه کعبه کی یوه خزانه ده ، مشرکانو به په نذرانه کی د ډیر زرو بیسی شیان صدقه کول نو هغه به پدې خزانه کی جمع کولی شو ... سره ددی نذرانی اجازه نده ورکړی مګر داخزانه یې ختم هم نه کړه . حضرت سیبه (رض) فرمایی : یوه ورځ عمر فاروق (رض) خانه کعبی ته نژدی تشریف فرما ؤ نو وی فرمایل : زه غواړم په خانه کعبه کی چې څومره سره زر او دولت جمع شوی دی ټول تقسیم کړم ، ما ورته عرض وکړ چې ستا دواړه مشران ملګری (رسول الله (ص) او اول خلیفه صدیق اکبر) خو دا کار ندی کړی (چې څنګه یې دا واوریدل نو د فاروق اعظم اراده بدله شوه) او وې فرمایل دا دواړه خو هغه دی چې زه یې پیروی کوم (بخاری ص ۲۱۷ کتاب المناسک باب کسوة الکعبة)
(۷) دده خوی حضرت عبد الله بن عمر (رض) هغه ټول ځایونه معلوم کړی ؤ چې کوم ځای کی رسول الله (ص) د حج په سفر کی قیام کړی ؤ ، مونځ یې کړی ؤ او یا یې څه کارکړی ؤ (بخاری) دده په روایت سره د هغو ټولو ځایونو نښه او پته ښودلی (ص ۷۰ باب المساجد التی علی طرف المدینة والمواضع التی صلی فیها النبی (ص)) نوحضرت ابن عمر (رض) چې کله حج ته تشریف وړلو نو کوم کوم

ځای کی چې رسول الله (ص) به مونځ کړی و هلته مونځ کولو او کوم کوم ځای کی چې څه کار کړی په هغه ځای کی به هغه کار کولو ، د عرفات او مزدلفه تر منځ یو خوړ کی رسول الله (ص) قضاء حاجت کړی ؤ او بیا یې اودس کړی ؤ ، حضرت ابن عمر (رض) به هم هلته تللو او کوم ځای چې رسول اکرم اودس کړی ؤ هلته به یې اودس کولو (بخاری شریف ص ۲۲٦ کتاب المناسک باب النزول بین العرفة و جمع)

(۸) په کال ۷۳ هـ کی حضرت عبد الله بن زبیر (رض) شهید کړی شو د اسلامی تاریخ مشهور ظالم حجاج بن یوسف د حجاز گورنر (والی) مقرر کړی شو ، د حج موسم راغی نو په خلکو کی زیات تشویش موجود ؤ او یقین کیدو چې دوباره به جنگ جوړ شي ، حضرت عبد الله بن عمر (رض) د حج د سفر اراده وکړه زامنو منع کړ چې د جنگ خطره ده کیدی شی چې تاسو کعبی ته ونه رسیدلی شی ، حضرت بن عمر (رض) جواب ورکړ څه وخت چې رسول الله (ص) (د صلح حدیبی نه مخکی) د عمری اراده کړی وه هغه وخت هم دیره خطره وه یعنی د جنگ د خطری په وجه وروسه کول د سنت خلاف دی ، او بیا یې وفرمایل : که زه منع کړی شوم نو د رسول الله (ص) دوېم سنت په وړاندې دی ، رسول الله (ص) هم کلی ته داخلیدو نه منع کړی شو ؤ نو هدیه ، قربانی یې ذبح کړه او احرام یې ختم کړ ، لهذا زه هم ، قربانی خاروی خان سره بوځم که منع کړ شوم نو هغه څه به وکړم کوم چې رسول الله (ص) کړی ؤ (بخاری شریف ص ۲۲۲ باب طواف القارن)

د صلح حدیبیې مشهوره واقعه ده چې رسول الله (ص) د خوارلس سوه (۱۴۰۰) جان نثار صحابه کرامو سره عمری لپاره روان شو مکی معظمی ته نږدی حدیبیې مقام ته رسیدلی وو چې د مکی مشرکانو وړاندې تللو نه منع کړل ، رسول الله (ص) د جنگ په ځای صلح غوره کړ د قریشو کافرانو له طرفه عروه بن مسعود خبرو اترو لپاره راغی ، کومی خبرې اترې چې وشوی د هغو د تفصیل ځای دا ندی ، دلته یواځی دا عرض کول دی عروة بن مسعود چی د خبرو اترو په دوران کی د صحابه کرامو کوم کردار ولید نو هغه واپس کیدو د قریشو سردارانو ته داسې وویل :

حضراتو زه د بادشاهانو دربارونو ته تلی یم د ایران او د روم د شاهانو دربارو ته هم تلی یم ، د حبشو د شاه نجاشی دربار ته هم تلی یم ، ما د یو بادشاه جان نثاران هم د خپل باشاه دومره تعظیم او احترام کونکی ندی لیدلی څومره تعظیم چې د محمد

(ص) ملګرى د محمد (ص) كوى په الله قسم ما دا وليدل چـې محمـد (ص) بـه توخى وكړ نو د توخى سره د خولى لاړى څمكى ته نه رسيدلى د چا په لاس باندې به چې لاړى پريوتى نو هغه به فوراً پخپل مخ او بدن باندې رانسكلى (لكه چې عطر ورته په لاس ورغلى وى) او د كومى خبرى لپاره چې به اشاره كوله نو فورا به يې د هغه تعمل كولو او محمد (ص) چې به اودس كولو نو كومى اوبه چې به راتونيدلى په هغو به داسې راتوليدل ګويا چې خپلو كى جګړه كوى ، او كله چـې بـه خبـرى كولى نو يكدم به ټول چپ او خاموش كيـدل اوحـال دا چـې محمـد (ص) تـه د تعظيم په وجه پورته نشي كتلى (بخارى شريف ص ۳۷۹ بـاب الشـروط فـى الجهـاد والمصالحة مع اهل الحرب و كتاب الشروط مع الناس بالقول)
د رسول الله (ص) په نقش قدم باندې د داسـې قسـم جـان نثـارى او قربـانى پـه سوونو مثالونه وړاندې كيدلى شى ، د ياد ساتلو خبـره ده چـې كـوم فـدا كـاران د خولى لاړى څمكى ته نه را پريدى نو څه امكان لرى چې هغوى د رسول الله (ص) كوم سست له نظره وغورځوى ؟

تراويح او د قرآن حفاظت

(ان عليه جمعة و قرانه)

سا مرودى صاحب وايى چې د تراويح شل ركعتو ثبوت د كوم ضعيف حديث نه هم نشي وړاندې كولى ،او چاته چې الله تعالى ژور نظر نصيب كـړى وى او چاتـه چـې مالک يوم الدين توفيق وركړى وى چې په حقائقو باندې ژور نظر واچوى هغه د شلو ركعتو تراويحو سلسله قرآن پاک سره تړى او دا د الهى وعدى (انا نحن نزلنا الذكر و انا له لحافظون) او (ان علينا جمعه و قرانه) تكميل ګرځوى ، ددى وضاحت معنى خيز او نهايت دلچسپ دى :
وضاحت . د سيدنا حضرت ابو بكر صديق (رض) ددوره خلافت شروع او د رسول الله (ص) د وفات نه څو مياشتى تيرى شوى وى چـې د مسيلمه كـذاب سـره يـوه خونړى جګړه وشوه چې څو زره صحابه كـرام شـهيدان شـول چـې اوه سـوه پكـې حافظان د قرآن وو ، جنګ ختم شو او الله تعالى مسـلمانان كاميـاب كـړل ، مسيلمه كذاب او دده امت هميشه لپاره ختم شو دا د صديق اكبر عظيم الشانه كـار نامـه وه كوم چې د اسلام د عظيم الشان تاريخ اساس او بنياد ګرځولى شوى دى مګـر دا ود

سوه حافظانو شهادت معمولي خبره نه وه . رسول الله (ص) به چې کله کوم ایت نازل شو هغه به یې لیکلو نول ایتونه او سورتونه لیکل شوی موجود وو مګر یو ځای نه وو دحضرت عمر فاروق اعظم (رض) په مبارک زړه کې الله تعالی دا احساس پیدا کړ چې که چیرته د کلام الله ایتونه او سورتونه همداسې خواره واره وی او چاته پوره قرآن پاک یادو ی هغه همداسې شهیدان شي نو یوه عظیمه فتنه به جوړه شي . زیات امکان لری چې د قرآن پاک زیاته حصه ضائع شي ، لهذا ضروری دی چې قرآن پاک یواځې په سینو کې پاتې نشي بلکې د کتاب په شکل کې را جمع کړی شي دا یو عظیم الشان کارؤ د وحی الهی سره یې تعلق و کوم چې د اسلام بنیادی سرمایه ده ددې کار په سرکاری طور پوره اهتمام سره کول ضروری ؤ ، لهذا حضرت عمر فاروق (رض) د رسول الله (ص) خلیفه ابو بکر صدیق په خدمت کې حاضر شو او تجویز یې پیش کړ چې پوره قرآن پاک کتابی شکل کې یو ځای کیدل پکار دی ، صدیق اکبر تجویز واورید خو په دین کې د کومې نوی خبرې پیدا کولو نفرت چې ددوی په زړونو کې موجودؤ د هغه بناء اول صدیق اکبر جرح وکړ چې ((کیف تفعل شیئاً لم یفعله رسول الله (ص) یعنی کوم کار چې رسول اکرم ندی کړی نو ته یې څنګه کولی شې ؟ عمر فاروق وفرمایل : ((هذا والله خیر)) په الله قسم چې دا کار خیر دی بیا ددې دواړو تر منځ بحث وشو د هغه بحث تفصیل خو معلوم ندی البته د حضرت صدیق اکبر دا ارشاد نقل کولی شی : ((فلم یزل عمر یراجعنی حتی شرح الله صدری لذلک و رائیت فی ذلک الذی رای عمر)) یعنی حضرت عمر (رض) ماته بیا بیا دا خبره کوله تر دی چې الله تعالی زما سینه هم هغه کار لپاره کولاوه کړه (او تشویش ختم شو) او زما هم هغه رایه شوه کومه چې د عمر فاروق وه ددې دواړو حضراتو رای متفق شو نو بیا یې حضرت زید بن ثابت (رض) ددې کار سر ته رسولو لپاره راوغوښت . حضرت زید بن ثابت (رض) هغه مقتدر صحابی ؤ چې رسول الله (ص) ورته د وحی د لیکلو کار او خدمت سپارلی ؤ دده په موجودګی کې به وحی نازلیدو نو دده به هم لیکلو ډیر زیات ذهین ، پوه او خپل کار کې نهایت تکړه او مستعد ؤ او د صحابه کرامو معتمد ؤ مګر کله چې صدیق اکبر ورته واضحه کړه چې ده لره د قرآن پاک د جمع کولو خدمت سره ته رسول دي ، نو همدا سوال ده هم وکړ ((کیف تفعلون شیئاً لم یفعله رسول الله (ص))) یعنی تاسو دواړه هغه کار

ځنګه کوی کوم چې رسول اکرم ندی کړی ؟ او بیا پخپله د زید بن ثابت (رض) بیان دی

((فلم یزل ابو بکر یراجعنی حتی شرح الله صدری للذی شرح صدر ابی بکر و عمر))

یعنی ابو بکر صدیق راته بیا بیا دا خبره کوله تر دې چې الله تعالی زما سینه هم هغه کار لپاره کولاوه کړه د کوم لپاره چې د ابو بکر او د عمر (رض) سینی کولاوی شوی وی

لدینه وروسته حضرت زید بن ثابت (رض) په ډیر زیات کوشش او پوره احتیاط سره دا کار سرته ورسولو او د قرآن حکیم نسخه یې ترتیب کړه چې د رسول الله (ص) د خلیفه ابو بکر صدیق سره وه او دده د وفات نه وروسته دویم خلیفه حضرت عمر فاروق (رض) سره ده او ده د خپلی لور ام المؤمنین حضرت حفصه (رض) سره وساتله (بخاری شریف ص ۷۴۵باب جمع القرآن)

لدینه وروسته کله چې حضرت فاروق اعظم خپل دور خلافت کی ولیدل چې د تراویحو سنت کوم چې رسول الله (ص) جاری کړی ؤ (چې دوه ورځی صحابه کرامو ته د تراویح ورکولو نه وروسته د جماعت نه اجتناب کړی ؤ) صحابه کرام وربانديې عمل کوی او همدا شان د رسول الله (ص) یعنی خوک چې د الله تعالیٰ (وعدو باندې) ایمان او یقین لرلو سره د ثواب په نیت د رمضان په شپو کی قیام وکړی د هغه ټول مخکنی ګناهونه بخښلی کېږي ، پدې باندې په داسې شان عمل کوی چې د ورځی روژه ونیسي او د شپې نفلونه کوی خوک یې ځان ځانته کوی او خوک یې جماعت سره کوی ، واړه واړه ګڼ جماعتونه کېږي نو عمر فاروق (رض) اراده وکړه چې ددې ټول یو جماعت جوړ شي او حضرت ابی بن کعب (رض) چا ته چې د رسالت په ژبه ((اقرء هم لکتاب الله)) د مخصوص خطاب شرف حاصل ؤ ، حضرت ابی بن کعب (رض) دا وغوښت او خپله اراده او منصوبه یې ورته ظاهره کړه نو حضرت ابی بن کعب (رض) هم همدا جرح وکړه چې د جماعت دا صورت کوم چې د رسول الله (ص) په زمانه کی جاری نه ؤ نو تاسو یې ځنګه جاری کوی ؟ پدې باندې بحث مباحثه وشوه او نتیجه کی د حضرت ابی بن کعب (رض) سینه هم کولاوه شوه لکه ځنګه چې د سیدنا حضرت عمر فاروق (رض) مخکې کولاوه شوې وه نو بیا یې د حضرت عمر فاروق (رض) په ارشاد باندې عمل شروع کړ .(کنز العمال ۲۸۴/۴) او پدې شان سره د تراویحو باقاعده جماعت شروع شو.

دا د واقعاتو بوه سلسله ده ، حضرت شاه ولی الله صاحب فرمایی ((په حقیقت کی دا د هغو وعدو پوره کیدل دی چې د قرآن حکیم په ایتونو کی کړی شوی دی الف ، انا نحن نزلنا الذکر و انا له لحافظون) ب (و لا تحرک به لسانک لتعجل به ان علینا جمعه و قرآنه)))

حضرت شاه صاحب فرمایی : ((باید دانست که جمع کردن شیخین قرآن عظیم را در مصاحف سبیل حفظ آن شد که خدا تعالی بر خود لازم ساخته بود ، وعدهٔ آن فرموده بود و فی الحقیقت این جمع فعل حق است و انجاز وعده اوست که بر دست شیخین ظهور یافت)) (ازالة الخلفاء ۵۱/۱) ترجمه : پوهیدل پکار دی چې د شیخینو حضراتو (ابو بکر او عمر (رض)) قرآن حکیم سره په مصحفونو کی جمع کول د قرآن کریم د تحفظ هغه لاره او طریقه وه کومه چې الله تعالی پخپل ځان لازمه کړې وه او ددې وعده یې کړې وه (ارشاد شوی ؤ چې مونږ پخپله ددې محافظ یو ، په حقیقت کی دا جمع کول د حضرت حق جل مجده فعل او د خپلی وعدی پوره کول ؤ چې ظهور یې د حضراتو شیخینو په مبارکو لاسونو باندې وشو ،

د دویم ایت په تفسیر کی حضرت شاه فرمایی : ((الله تعالی خپل نبی (ص) ته فرمایی چې ته ددې فکر مکوه چې کوم ایتونه نازلیږي دا به څنګه یاد پاتې شي او د یادولو په خاطر خپل ذهن د حفظ کولو په مشقت کی مشغولوه ، دا ستا کار ندی دا زمونږه کار دی چې ظهور یې ستا د تبلیغ (د وحی الهی اورولو) د وخت نه لره موده وروسته کیږي ، ستا کار دادی چې کله حضرت جبرئیل ددې تلاوت کوی نو په غور سره یې واوره ((چون بر زبان جبرئیل تلاوت آن کنیم در پی استماع آن باش))

حضرت شاه صاحب فرمایی : ددې الهی وعدی تکمیل لومړی مرحله خو دا وه چې څنګه به د حضرت جبرئیل علیه السلام نه دوی (ص) وحی الهی واوریدلو ((بخاطر متمکن می شد)) په ذهن کی به کیناستو ، نو هغه ؤ چې په طور د خارق العادة (یعنی د معجزې په طور) داسې کیدل چې د قرآن پاک یا دقرآن پاک د کوم ایت په یادولو کی چې کوم مشقت امت برداشت کوی (چې بار بار وایی نو هلته یادیږي) رسول الله (ص) ته یادول خو پریده د دوباره کولو ضرورت به هم نه راتلو پخپله او خود بخود به یادیدو ، او دویمه مرحله دا وه چې شیخین حضرات یې د قرآن کریم په جمع کولو باندې اماده او تیار کړل دا د (ان علینا جمعه) (یعنی بیشکه دده جمع کول زمونږ ذمه ده) د ذمه واریٔ عملی صورت ؤ (ازالة الخفاء ص ۵۰، ۵۱)

حضرت شاه صاحب فرمایي : ((فاروق اعظم هغه شخصیت دی چې د تبلیغ قرآن او د اشاعت قرآن په سلسله کی د رسول الله (ص) او د امت تر منځ واسطه جوړ شوی نن چې د مسلمانانو هره یوه ډله او طبقه قرآن شریف لولی نو د فاروق اعظم (رض) احسان د هغه په سر پروت دی (ازالة الخفاء ۲/۲۰۹)

حضرت شاه صاحب فرمایي : د څه تفصیل کولو نه وروسته په لنډ ډول فرمایي : ((او ل کسیکه داعیه الهیه در خاطر او ریزش نمود و او را بمنزله جارحه خود ساخت در اتمام مراد خویش که مضمون (و انا له لحافظون) باشد و فجوای (ان علینا جمعه و قرآنه) فاروق اعظم است))

ترجمه : د ټولو نه لومړی شخص چې د هغه په زړه کی د الله تعالی د تقاضا (غوښتنی) نزول وکړ او چا سره چې د الهی ارادی (انا له لحافظون) او (ان علینا جمعه و قرآنه) د منشاء د تکمیل لپاره خپل آله او جارحه ٠ ظاهری سبب) جوړ کړ هغه فاروق اعظم دی .

حضرت شاه صاحب د قرآن پاک جمع کولو . حفاظت او نشر و اشاعت د هغو صورتونو تفصیلی بیان کی ترتیبول . د هر یو ایت باره کی جدا جدا تحقیق او تفتیش . د کلام الله د حفظ ترغیب . د کلام پاک حفظ کولو لپاره د استاذانو قاریانو مقررول وغیره ددغو خدمتونو یو اهم باب هغه دی چې بخاری او مسلم د حضرت عبد الرحمن بن عبدالقاری په سند نقل کړی دی چې د رمضان یوه شپه کی زه د حضرت عمر فاروق (رض) سره جوماټ ته لاړم نو ومو لیدل چې صحابه کرام په مختلفو ډلو کی تقسیم شوی او مونځ کوی ، څوک ځانته مونځ کوی او څوک امام جوړ شوی او څه صحابه ورسره شریک شوی دی او جماعت سره مونځ کوی ، حضرت عمر فاروق (رض) وفرمایل : دا ټول چې په یو قاری باندې راغونډ کړم نو ډیر به ښه او بهتر وی ، نو هغه ؤ چې حضرت ابی بن کعب (رض) د دوی امام جوړ کړ او ټول یې را یو ځای کړل ((فجمعهم علی ابی بن کعب)) (بخاری شریف ص ۲۶۹ باب فضل من قام رمضان)

دا هماغه تراویح دی چا لپاره چی سامرودی صاحب د ضعیف حدیث مطالبه کوی او حضرت شاه صاحب فرمایي : الله تعالی حضرت عمر (رض) خپل آله او جارحه جوړولو سره خپله وعده پوره کړه غالباً همدا حقیقت ؤ ، کوم چې دغو بزرګانو (حضرت صدیق اکبر ، عمر فاروق او زید بن ثابت (رض)) هغه وخت تر نظر لاندی

ونیولو کوم وخت کی چې غور او بحث یې کولو او که نه عمر فاروق (رض) ته څه محال و چې د کلام الله شریف او با جماعت مانځه باره کی خپل عقل چلولو او خپله خبره بې په خلکو باندې منلو (معاذ الله د کبرت کلمة تخرج من افواههم)

د اهل حدیثو د ډلی منلی شوی مقتدی او پیشوا حضرت مولانا سید نذیر حسین محدث دهلوی لیکی : د صحابه کرامو دا عادت ؤ چې د رسول الله (ص) د حکم او اجازت نه بغیر هیڅ یو شرعی او دینی کار د خپل خان نه . نه کولو (مجموعه فتاوی نذیریه ۱ ۳۸۵)

صحابه کرام د قرآن او نبوی حدیثونو په رڼا کی معیار حق وو

د سا مرودی صاحب دا جملی خومره گستاخانه دی :

((نبی صاحب خو شل رکعته کړی ندی ..... البته خلکو (صحابه کرامو) وروسته زیات (شل رکعته تراویح) کړی دی ، اوس دا سوچ او انصاف پکار دی چې مونږ لپاره الله تعالی د نبی صلی الله علیه وسلم د فرمانبرداری او تابعداری کول فرض کړی دی یا د خلکو (صحابه) ؟

آیا د دین اسلام ، شریعت قائمولو حق الله تعالی کوم امتی ته ورکړی ؟ د خلکو (صحابو) زیاتمقدار (۲۰ رکعته) تراویح کولو باندې دوکه نشئ (نبی کی نماز گجراتی ص ۵۴)

دا خلک څوک دی ؟ ظاهر دی چې صحابه کرام (رض) دی .

ددې جملو واضح او ښکاره مطلب دا دی چې سا مرودی صاحب صحابهٔ کرام هم خپل خان پشان د خلکو یوه جماعت گڼی او لکه څنګه چې څمونږ پشان خلکو کردار کوم شرعی حجت او معیار د حق ندی ، صحابه کرام (ر ض) هم معیار حق او ددوی کردار او فیصلی حجت شرعی نه منی مګر ددې معنی دا ده چې سا مرودی صاحب نه د کتاب الله نه خبر دی او نه د رسول الله (ص) د مبارکو ارشاداتو نه ، که دوی ته د کلام الله د تلاوت توفیق کېږي نو ددوی تلاوت د رسول الله (ص) ددې ارشاد گرامی مصداق دی ((لا یجاوز حناجرهم)) یعنی یواځی تر حلق او ژبی پورې د تلاوت اثر وی خو وړاندې نه ځی .

حضرت شاه ولی الله صاحب رحمه الله خپل مشهور کتاب ((ازالة الخفاء)) کی د قرآن پاک تقریباً سل ایتونه پیش کړی چې د هغو واضح منشا دا ده چې د صحابه کرامو جماعت د مسلمانانو عامو جماعتونو باندې قیاس کول غلط دی ، الله تعالی دوی ته هغه شرف وربخښلی چې نه یواحی دا چې دوی امت بهترینه طبقه ده او د خیر امة او امة وسطاً صحیحترین مصداق دی بلکی ویل کېږي چې د انبیاء کرامو د جماعت نه وروسته یواځی د صحابهٔ کرامو جماعت دیٰ چې د ټولو کائناتو د ستر ګو نور ویل کېدی شی او کوم چې یقیناً معیار حق دی ، حضرت مولانا سید محمد میا صاحب دغه آیتونه ډیر موزون او مناسب ترتیب سره په ((عهد زرین)) کی جمع کړی دی کوم چې په اردو کی د ازالة الخفاء بهترین شرح دی ، تفصیل دغو کتابو ته حواله کوو مونږ دلته یواحی درې آیتونه وړاندې کوو، او فیصله تاسو ته حواله ده

الله تعالی ارشاد ددی (۱) (فانزل الله سیکنته علی رسوله و علی المؤمنین والزمهم کلمة التقوی و کانوا احق بها و اهلها و کان الله بکل شیئ علیما) (سورت فتح)

ترجمه : نو نازل کړ الله تعالی د خپل طرف نه سکون او اطمئنان خپل رسول او مؤمنانو باندې او دوی یې د تقوی په خبره باندې لازم او کلک کړل او دا مؤمنان ددی د ټولو نه زیات حقدار دی او دوی اهل دی (ددې وضاحت ضرورت نشته چې د رسول الله (ص) په دور کی کوم مؤمنان وو هغه صحابهٔ کرام وو) او الله تعالی ته د هری خبرې پوره علم دی .

(۲) دویم ایت (و لکن الله خبب الیکم الایمان و زینه فی قلوبکم و کره الیکم الکفر و الفسوق والعصیان اولئک هم الراشدون فضلاً من الله و نعمة والله علیم حکیم) (سورت حجرات)

ترجمه : لیکن الله تعالی تاسو لپاره ایمان محبوب وګرځولو (ستاسو زړونه یې دده له محبت نه ډک کړل) او ستاسو په زړونو کی ایمان ښایسته کړ ، او ستاسو زړونو کی یې پوره نفرت پیدا کړ د کفر ، فسق او نافرمانی سره ، همدوی په سمه لاره دی ، الله تعالی په فضل او انعام سره او الله تعالی پوهه او حکیم ذات دی .

د کلام الله شریف نه اوچت د چا ګواهی کیدی شی ؟ څوک پدې وجه معیار حق نشي ګرځولی چې په هغه کی فسق و کفر یا د نافرمانی جراثیم موجود وی لیکن د کومو غوره شوی اشخاصو او د ټول کائنات څخه هغه منتخب افرادو سره چې د

رسول الله (ص) د ملګرتیا شرف حاصل شوی ؤ د هغو باره کی د الله تعالی د کتاب ګواهی او شهادت دا ده چی لدي جراثیمو نه ددوی دماغونه پاک شوی دی ددوی مقدسو ذهنو کی د کفر و عصیان او د فسق و فجور جراثیم ندی پاتي بلکی لدي خبرونه نفرت اوکراهیت ددوی پاکو ذهنو کی ځای نیولی ، او د کفر او فسق په خلاف د ایمان محبت پدي مقدس ذهنو کی کوټ کوټ ډک کړی شوی او ددوی په زړونو کی ایمان ښایسته کړی شوی ، د الله تعالی له طرف په دوی باندي سکون نازل شوی ، او الله تعالی د تقوی کلمه په دوی لازم کړی (د تقوی روح ددوی په رګ رګ کی جاری او ساری کړی دی) او الله تعالی دی مقدس جماعت ته داسي موزون فطرت نصیب کړی چي دا جماعت د هغه لائق او د تقوی کلمه ددوی د سرتاج و ددوی د سیرت او فطرت پیوند جوړ شوی ، ددغو خصوصیتونو په بناء ددي غوره اشخاصو متعلق د الله د کتاب دا اعلان دی :

((اولئک هم الراشدون)) همدوی هغه څوک دی چي په سمه لاره دی ،

(۳) دریم ایت (السابقون الاول من المهاجرین و الانصار والذین اتبعوهم باحسان رضی الله عنهم ورضوا عنه) (سورت توبه)

ترجمه : په اسلام راوړو کی لومړی کیدونکی او مخکي کیدونکی او څوک چي ښه کردارسره ددوی پیروان دی او ددوی نه وروسته ایمان راوړی دی ،الله تعالی ددوی څخه راضی دی او دوی د خپل رب نه راضی شوی دی .

اوس د معیار حق معنی مقرر کړی او پخپله فیصله وکړی چي د چا د تقدس ګواهی پخپله قرآن پاک ورکړي ، چاته چي واضح الفاظو کی ((راشدو ن)) خطاب کوی او ددي خبري اعلان کوی چي الله تعالی ددوی نه راضی دی .

ایا کوم مسلمان سره ګنجائش شته چي دغه مقدس جماعت معیار حق ونه ګرځوی ، د رسول الله (ص) حدیثو نه د الله تعالی د کتاب د ایتونو تشریح او وضاحت کوی و نو اوس د څو حدیثو له مطالعی څخه خپل ذهن تازه او ضمیر روښانه کړئ :

(۱) رسول الله (ص) ارشاد فرمایلی : زما په امت به ټول هغه څه راځی چي په بنی اسرائیلو باندي راغلی ؤ ، بنی اسرائیل (۷۲) فرقی شوی وو نو زما به هم (۷۲) فرقی کیږي او دا ټول به دوزخیان وی مګر یواځی یوه ډله به (ناجی) وی صحابه کرامو عرض وکړ هغه کومه ډله ده ؟ ارشاد وشو ((ما انا علیه و اصحابی)) دا ډله هغه

ده چې په کومه طریقه زه او زما صحابه دی (ترمذی شریف ، مسند احمد ، ابو داؤد په حواله د مشکوة باب الاعتصام)

(۲) ((ما من احد من اصحابی یموت بارض الا بعث قائدا و نوراً لهم یوم القیامة)) (ترمذی شریف ۲۲٦/۲ ، ابو المناقب)

ترجمه : زما په صحابه کرامو کی چې هر یو صحابی په کوم خای او خمکه کی وفات شي نو د قیامت په ورځ د هغه خای خلکو لپاره قائد او نور جوړ شوی را پاخی .

(۳) ((اصحابی کالنجوم بایهم اقتدیتم اهتدیتم)) (مشکوة شریف باب المناقب)

ترجمه: زما د ملګرو (اصحابو) مثال د ستورو دی د کوم یو پیروی او اقتداء چې وکړی هدایت به مومی)

(۴) ((ان الله نظر الی قلوب العباد فاختار محمداً فبعثه برسالته ثم نظر فی قلوب العباد فاختار له اصحابه فجعل انصار دینه و وزراء نبیه فما راه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن و ما راه المسلمون قبیحاً فهو عند الله قبیح)) (اقامة الحجه ص ۸ مجالس الابرار م ۱۸ ص ۱۳ موطا امام محمد ص ۱۱۲ البدایة والنهایة ج ۱۰ ص ۲۲۸).

ترجمه : الله تعالی د بندګانو زړونو ته وکتل نو محمد (ص) يې رسالت لپاره منتخب کړ بیا يې د بندګانو زړونو ته وکتل نو دده صحابه کرام دده (ص) د ملګرتیا لپاره منتخب کړل او دوی يې د دین محمدی (ص) مددګاران او د خپل نبی (ص) وزیران جوړ کړل (نو د اصحابه کرام انصار الله او د رسول الله (ص) وزیران دی) نو کوم کار چې ((مسلمانان ښه وګڼی هغه به الله تعالی په نزد هم ښه او بهتر وی او کوم کار چې دوی بد وګڼی هغه به د الله تعالی په نزد هم بد او قبیح وی))

(۵) ارشاد دی : په ټولو دورونو کی بهترین دور زما دور دی بیا د هغوی دور چې زما دور والاو ته نزدې وی او بیا د هغو ی‌دور چې دوی ته نزدې وی او بیا به دروغ خوریږي ،خلک به بغیر د بللو نه ګواهی ته تیار وی (بخاری شریف ، ترمذی ابواب المناقب باب ماجاء فی فضل من رای النبی (ص) و صحبه)

نوت: د پنځم نمبر حدیث نه معلوم شو چې په څلورم نمبر کی د مسلمانانونه مراد صحابه کرام دی ، او د صحابه کرامو شان دا دی چې دوی کوم کار ښه وګڼی هغه کار د الله تعالی په نزد هم ښه وی .

دا څو روایتونه د صحابه کرامو باره کی وو چې ددې خبرې د وضاحت لپاره کافی دی چې صحابه کرام معیار حق دی ، ددوی پیروی د حق پیروی ده مګر د تراویحو معامله د عام صحابه کرامو نه علاوه د حضرت فاروق اعظم او حضرت علی (رض) سره تعلق لری لکه چې تیر شوی روایتونو کی ذکر شول ، حضرت عمر (رض) ډیر جماعتونه را یو ځای او یو جماعت جوړ کړل او حضرت علی کرمه الله وجهه دده تائید وکړ او خوشحالی یې پرې ښکاره کړ او پخپل دور کی هم ورباندې عمل وکړ .
دا دواړه بزرګان د خلفاء راشدینو څخه دی او د خلفاء راشدینو خصوصیت دا دی چې رسول الله (ص) ددوی طریقو ته هم سنت ویلی دی او حکم یې کړی دی چې دا محکم او مضبوط ونیسئ د ژامې په غاښونو سره ونیسی ((عضوا علیها بالنواجذ)) (بخاری شریف ، مشکوت باب الاعتصام بالکتاب والسنة ص ۳۰)
سامرودی صاحب فرمایی : ((ایا د دین اسلام او شریعت جوړولو حق الله تعالی کوم امتی ته ورکړی دی ؟))
بیشکه صحابه کرام (معاذ الله) نوی دین ، نوی اسلام یا نوی شریعت نشی جوړولی او نه معاذ الله د کوم نوی دین ، نوی شریعت یا د نوی اسلام بحث کوی ، بحث دا دی چې د رسول الله (ص) د سنتو ، دده احکامو باندې پوهیدو او دده منشاء لره عمل کولو ، بحث دا دی چې رسول الله (ص) ارشادات ، او دده د مبارکو منشاء باندې صحابه کرام رضی الله عنهم ښه پوهیدل یا سامرودی صاحب او ددی هم فکر، او که چیرته د سامرودی صاحب په شان خلک نو بیا معیار حق څوک دی؟
تیر شوو حدیثو نو دا وښودل چې پداسې موقع باندې صحابه کرام (رض) معیار د حق دی د همدوی تعمیل واجب او د همدوی پیروی د شریعت پیروی ده د علماء حق همدا فیصله ده .
سیدنا حضرت عبد الله بن مسعود (رض) به فرمایل : که د چا اتباع او اقتداء کول وی نو د رسول الله (ص) د صحابه کرامو اتباع او پیروی وکړی ، الله تعالی دغه بهترین جماعت د خپل بهترین نبی د صحبت او ملګرتیا او د دین د اقامت لپاره غوره کړی دی لهذا تاسو ددوی فضل (بزرګی) وپیژنئ او د همدوی په نقش او قدم باندې روان شئ دوی په سمه او نیغه لاره باندې وو :
(عن ابن مسعود قال من کان مستنا فلیستن بمن قدمات فان الحی لا تومن علیه الفتنة اولئک اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم کانوا افضل هذه الامة ابرها قلوباً و

اعمقها علما و اقلها تکلفا اخترهم الله لصحبة نبیه و لا قامة دینه فاعر فوالهم فضلهم و اتبعوا هم علی اثارهم و تمسکوا بما استطعتم من اخلافهم و سیرهم فانهم کانوا علی المهدی المستقیم)) (مشکوة شریف ص ۳۲ کتاب العلم)
او حسن بصری (رح) فرمایی : ((دا جماعت په ټول امت کی د ټولو نه زیات نیک زړه ، د ټولو نه زیات ژور علم خاوند او د ټولو نه زیات بې تکلف جماعت ؤ . الله تعالی د خپل رسول د ملګرتیا لپاره خوښ کړی وو او دوی دده په اخلاقو او دده طریقو سره مشابهت پیدا کولو په کوشش کی لګیدلی وو که ددوی محبوب ؤ نو هم دی (ص) ؤ او که طلب ؤ نو هم ده ؤ ، ددې کعبی په رب می دی قسم وی چې دا جماعت په صراط مستقیم باندې روان ؤ)) (الموافقات ۷۸/۴ په حواله د ترجمان السنة ۴٦/۱)
د حضرت محمد بن سیرین نه د حج یوه مسئله وپوښتلی شوه نو ده وویل : حضرت عمر (ر ض) او حضرت عثمان غنی (رض) به مکروه ګڼلو ، که داعلم ؤ نو هغوی له مَا نه زیات عالمان وو او که د هغوی ذاتی رایه وه نو د هغوی رای هم زما د راې نه افضل ده (جامع بیان العلم ۳۱/۲)
حضرت امام اوزاعی فرمایی : ((علم خو هغه دی کوم چې د رسول الله (ص) د صحابه کرامونه نقل شوی‌دی او کوم چې له هغوی نه نقل ندی هغه علم نه دی)) (جامع بیان العلم ۳۹/۲)
د حضرت عامر شعبی (رح) بیان دی ((ای خلکوکومی خبرې چې درته در سول الله (ص) د صحابه کرامو نه نقل کولی شئ هغه اختیار کړی او کومې چې د خپل فکر نه کوی هغه پریدی)) (جامع بیان العلم ۳۹/۲)
حضرت عمر بن عبد العزیز (رح) فرمایی : ((فارض لنفسک ما رضي به القوم لانفسهم فانهم علی علم و قفوا ...... فان کان الهدی ما انتم علیه لقد سبقتموهم الیه ..... الخ)).
ترجمه : صحابه کرامو چې خان لپاره کومه لاره غوره کړی هغه خان لپاره هم غوره کړه او خپل مسلک جوړ کړه او که تاسو دا خیال کوی (د صحابه کرامو او ستاسو اختلاف کی) تاسو په حق باندې یی (لکه د شلو رکعتو تراویح متعلق چې سا مردودی صاحب خیال کوی) ددې مطلب دا شو چې تاسو خپل خان د صحابه

گرامونه وړاندی گڼی ، بنکاره ده چې دا خیال څومره د حماقت نـه ډک او گمـراه کونکی دی (ابو داؤد شریف ۲/۲۸۵ باب فی لزوم السنة)
حضرت امام ربانی الف ثانی فرمایی :
((پیغمبر صادق علیه من الصلوات افضلها و من التسلیمات اکملها تمیز فرقـه واحـده ناجیه از آن فرق متعدده فرموده است آنست الذین هم علی ما انا علیـه و اصـحابی یعنی آن فرقه واحده ناجیه آنانند که ایشـانا بطریقـی انـد کـه مـن بـر آن طـریقم و اصحاب من بر آن طریق اند ذکر اصحاب باوجود کفایت بذکر صاحب شریعت علیـه الصلوة والتحیة درین موطن برای آن تواند بود که تا بدانند که طریـق مـن همـان طریق اصحاب است و طریق نجات منوط باتباع طریق ایشانست و بـس انانکـه حـق سبحانه فرموده من یطع الرسول فقد اطاع الله پس اطاعت رسول عین اطاعت حق آمد سبحانه و خلاف اطاعت او صلی الله علیه وسلم عین معصیت او تعـالی و تقـدس ...... پس در مانحن فیه دعوی اتباع آن سرور نمودن علیه الصـلوة والسـلام بخـلاف اتباع طریق اصحاب رضوان الله تعالی علیهم اجمعین دعوی باطـل اسـت بلکـه آن اتباع فی الحقیقت عـین معصـیت رسـول (ص) ست پـس نجـات را در آن طریـق مخالفت چه مجال)) (مکتوبات امام ربانی ج ۱ ص ۱۰۲ - ۱۰۳)
ترجمه : رسول الله (ص) د نجات موندونکی ډله د پیژنـدگلو بـاره کـی وفرمایـل : څوک چې په هغه طریقه باندې وی په کومه طریقه چې زما او زما ملگـری (صـحابه کرام) دی ، په ظاهر کی دومره ویل کافی ؤ چې ((په کومه طریقه باندې زه یم)) د خان سره یې د صحابه کرامو ذکر هم وکړ ددې وجه دا ده چې ټول وپوهېږي چـې زما طریقه هغه ده کومه چې زما د صحابه کرامـو ده او نجـات د صحابه کرامـو پـه پیروی کی منحصر دی ، دا داسې ده لکه چې الله تعـالی فرمـایلی دی (مـن یطـع الرسول فقد اطاع الله) واضحه کړی دی چې د رسـول الله (ص) تابعـدار بعینـه د الله تعالی تابعداری ده او د رسول الله (ص) د ارشاد مخالفـت بعینـه د الله تعـالی مخالفت او نا فرمانی ده ، نو د بحث لاندې مسئله کی د رسول الله (ص) د اتبـاع دعوی کول او ورسره د صحابه کرامو له طریقی نه مخالفت کول (لکـه د سـامرودی طریقه چی ده) باطله دعوه ده پلکی دا اتباع په حقیقت سراسر د رسول الله (ص) مخالفت دی نو ددغې مخالفت لاره کی د نجات څه گنجائش او امید دی ؟

حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوی لیکی ((و میزان در معرفت حق و باطل فهم صحابه و تابعین است آنچه این جماعت از تعلیم آنحضرت (ص) با نظمام قرآنی حالی و مقالی فهمیده اند ، در آن تخطیه ظاهر نه کرده واجب القبول است (فتاوی عزیزی ۱۵۷/۱)

ترجمه : د حق و باطل تمیز معیار د صحابه کرامو او د تابعینو پوهه ده . کوم شی چې دوی د رسول الله (ص) د تعلیم نه د حالی او مقالی قرینو له مخې زده کړی (او کوم غلطی پکې نه وی ښودلی) د هغه منل واجب دی .

جلیل القدر تابعی او خلیفهٔ عادل حضرت عمر بن عبدالعزیز (رح) فرمایی :

((سن رسول الله صلی الله علیه وسلم و ولاة الامر من بعده سنناً الاخذ بها تصدیق لکتاب الله و استعمال لطاعة الله و معونة علی دین الله لیس لاحد تغییر ها و لا النظر فی رای من خالفها فمن خالفها و اتبع غیر سبیل المؤمنین و لاه الله ما تولی و اصلاه جهنم و ساءت مصیرا)) (جامع فضل العلم لا بن عبدالبر)

ترجمه : رسول الله (ص) هم څه طریقې مقرر کړی او دده (ص) نه وروسته دده (ص) جانشین اولوالامر حضرانو هم څه طریقې مقرر کړی دی د هغو اختیارول د کتاب الله تصدیق او د الله تعالی په اطاعت باندې عمل کول او د الله تعالی د دین مدد کول دی هیڅوک هم ددغو د تغیر و تبدیل حق نلری او نه ددغو طریقو مخالفت کونکی رایی قابل د التفات او توجه دی نو څوک چې ددغو طریقو څخه خلاف کوی او د مؤمنانو طریقو څخه خلاف چلېږی ،

الله تعالی به هغه لره هغه طرف ته ورګرځوی چې کوم طرف ته یې مخ کړی دی او بیا یې جهنم ته داخلوی او جهنم ډیر بد ځای دی (التشبه فی الاسلام ۴۹/۲).

د شل رکعتو خلاف د غیر مقلدینو غلط دلایل او جوابونه یې

اول دلیل :

((عن ابی سلمة بن عبدالرحمان انه اخبره انه سال عائشة کیف کانت صلوة رسول الله صلی الله علیه وسلم فی رمضان فقالت ما کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یزید فی رمضان و لا فی غیره علی احدی عشرة رکعة یصلی اربعاً فلا تسال عن

حسنهن و طولهن ثم یصلی اربعاً فلا تسئل علی حسنهن و طولهن ثم یصلی ثلثا قالت عائشة فقلت یا رسول الله اتنام قبل ان توتر فقال یا عائشة ان عینی تنا مان و لا ینام قلبی)) (بخاری شریف ، کتاب التهجد ب ۵ ج ۱ ص ۱۵۴ او ج ۱ ص ۲۶۹)

ترجمه : د حضرت ابو سلمه نه روایت دی چې ده د حضرت عائشة رضی الله عنها نه تپوس وکړ چې د رسول الله (ص) مونځ په رمضان کی څنګه ؤ ؟ حضرت عائشی (رض)وفرمایل : رسول الله (ص) به په رمضان او غیر رمضان کی د یولس رکعتو څخه نه زیاتول ، څلور رکعته به یې وکړل چې ددغو د اوږدوالی او د ښه والی تپوس مه کوه او بیا به یې څلور نور وکړل چې ددغو د اوږدوالی تپوس هم مه کوه او بیا به یې درې رکعته وتر کول ، حضرت عائشة (رض) فرمایی : ما د رسول الله (ص) نه تپوس وکړ یا رسول الله تاسو د وترو نه مخکې ویده کیږئ ؟ رسول الله (ص) وفرمایل : ای عائشی زما سترګی ویده کیږي خو زما زړه نه ویده کیږي (بخاری شریف)

د سا مردودی صاحب او دده پشان د حدیثو مدعیانو په لنډ نظر او د فهم حدیث له صلاحیت نه په محرومی باندې تعجب راځی ، چې سعید عائشة صدیقه رضی الله عنها د هغه مونځ تذکره کوی چې د رمضان شریف نه علاوه په نورو میاشتو کی هم (ټول کال) ادا کیږي او ظاهره ده چې سوال هم د همداسې مونځ باره کی دی ، دا امکان نلری چې د حضرت عائشة (رض) پشان په خبره پوهېدونکی او د سائل منشاء معلومونکی ښځی جواب یو څه وی او د سائل سوال بل څه ، داسې به ربطه خبره یوه معمولی انسان هم نشی کولی او پاتې لا د حضرت عائشة (رض) پشان پوهه او هوښیاره ام المؤمنین رضی الله عنها ؟ دا خو ښکاره خبره ده چې کوم مونځ په رمضان او غیر د رمضان ټول کال ادا کولی شی هغه تراویح نه بلکی د تهجد مونځ دی ، د تراویحو باره کی پخپله د بخاری شریف روایت مخکې ذکر شوی چې رسول الله (ص) درې ورځې ورکړی وی او بیا بله شپه صحابه کرامو تشریف راوړ مګر رسول اکرم (ص) تشریف را نه وړ او مونځ یې ورنکړ ، نو کله چې په صحیح روایت کی دا موجود دی چې دا مونځ یواځی درې ورځې کړی شوی دی چې د صحابهٔ کرامو جماعت هم شریک ؤ او رسول الله (ص) ورته مونځ ورکړ ، نو دا ټول تصریحات په تهجدو باندې حمل کول جاهلانه دوکه نه ده نور څه ده ؟ د تهجد مونځ آنحضرت (ص) ټول کال کولو مګر کله هم داسې اجتماع پکې نه ده شوی ،

نه كله د صحابه كرامو جماعت جوړ شوی او نه جماعت سره رسول الله (ص) صحابه كرامو ته مونځ وركړی ، همدا وجه ده چې د حديثو لويو علماؤ دا تصريح كړې ده چې عائشة (رض) د تهجد مونځ باره كی دا تصريح كړې ده ، د بخاری شارح محدث ، علامه شيخ شمس الدين كرمانی (رح) فرمايی : ((اما ان المراد بها صلوة التهجد والسوال والجواب واردان عليه)) يعنی د حضرت ابو سلمه (رض) ذكر شوی حديث كی تهجد مراد دی‌او سوال او د حضرت عائشة (رض) جواب د تهجد باره كی دی .

وړاندې ليكي : ((او هو معارض بما روی انه صلی الله عليه وسلم صلی بالناس عشرين ركعة ليلتين)) يعنی كه تهجد مراد نشي نو دا روايت هغه روايت سره معارض ګرځي چې په هغه كی ويل شوی : رسول الله (ص) دوه شپې شل شل ركعته وركړی دی ، ((و رواية المثبت مقدمة علی رواية النافی)) يعنی د تعارض په صورت كی د شل ركعتو والا روايت چې مثبت دی دا به مقدم وی ځكه چې د اصول حديث له مخې مثبت په نافی باندې مقدم وی) الكواكب الدراری صحيح بخاری ۱۵۵/۹، ۱۵٦ كتاب التهجد باب قيام النبی بالليل فی رمضان وغيره)

(۲) حضرت شاه عبدالحق محدث دهلوی فرمايی : ((و صحيح آنست كه آنچه آنحضرت (ص) ګزارد همه تهجد وی بود كه يازده ركعات باشد)) يعنی : صحيح دا دی چې رسول الله (ص) چې به د وترو سره يولس ركعته ادا كول دا د تهجد مونځ ؤ ، (اشعة اللمعات ۵۴۴/۱)

(۳) حضرت شاه عبدالعزيز محدث دهلوی فرمايی : ((آن روايت محمول بر نماز تهجد است كه در رمضان و غير رمضان يكسان بود)) يعنی هغه روايت د تهجد مونځ مراد دی چې په رمضان او غير رمضان كی به يو شان ؤ (مجموعه فتاوی عزيزی ۱۲۵/۱)

(۴) حضرت امام غزالی (رح) فرمايی :

((و قد اوتر رسول الله صلی الله عليه وسلم بركعة و ثلاث و خمس و هكذا بالاوتار الی احدی عشرة ركعة والرواية مترددة فی ثلث عشرة و فی حديث شاذ سبع عشرة هذه الركعات اعنی ما سينا جملتها و ترا صلوة بالليل وهو التهجد)) (احياء العلوم ج ۱ ص ۲۰۲ رواتب الفرائض)

ترجمه رسول الله (ص) به یوه رکعت، دري رکعته، پنځه رکعته، اوه رکعته، نهه رکعته او یولس رکعته وتر ادا کړی دی د دیارلس رکعتو روایت متردد دی او یو شاذ حدیث کی اولس (۱۷) رکعته هم راغلی دی او دا ټول رکعتونه د کومو باره کی چې مونږ د وتر لفظ استعمال کړی دی چې رسول الله (ص) د شپې ادا کول دا تهجد دی

د حدیثو د علماؤ دغو حضراتو له ارشاداتو نه هم دا خبره واضحه کیږي چې د حدیث امامانو د حضرت عائشة (رض) دا حدیث دتهجد په باب کی نقل کړی دی وګوری

((مسلم شریف ۲۴۵/۱ و عدد رکعت النبی صلی الله علیه وسلم فی اللیل الخ سنن ابو داؤد ج ۱ ص ۱۹٦ ابواب قیام اللیل باب فی صلوة اللیل ترمذی شریف ج ۱ ص ۵۸ باب ما جاء فی وصف صلوة النبی صلی الله علیه وسلم باللیل نسائی شریف ج ۱ ص ۱۵۴ کتاب قیام اللیل و تطوع النهار باب کیفیت الوتر بثلاث، موطا امام مالک ص ۴۲ باب ماجاء فی صلوة اللیل صلوة النبی صلی الله علیه وسلم فی الوتر))

امام محمد بن نصر مروزی رحمه الله خپله مشهور کتاب ((قیام اللیل)) کی د قیام رمضان باب قائم کړی او ډیر حدیثونه او روایتونه یې ذکر کړی دی مګر د حضرت عائشة (رض) پورته ذکر شوی حدیث یې ندی نقل کړی ځکه چې دده په نزد دا حدیث د تراویح متعلق ندی، وګوری قیام اللیل ص ۹۲، ۹۱، د حدیث حافظ ابن قیم (رح) نه په زاد المعاد ۸٦/۱ کی د قیام اللیل (تهجد) بیان کی نقل کړی دی او که په کوم کتاب کی دا روایت د رمضان د عبادت په طور باندې تراویحو سره نقل شوی وی نو دا روایت د تراویح متعلق ګڼل صحیح ندی، تهجد هم د تراویحو پشان د رمضان یو عبادت دی، پدې مناسبت باندې د تراویحو سره ذکر کولی شی، نو که بالفرض کوم خای نقل شوی وی نو د هغه نه دلیل قطعی نشی جوړیدلی، ((اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال))

علاوه لدینه ددې روایت متعلق د حافظ حدیث امام قرطبی (رح) دا قول هم نظر اندا کول پکار ندی ((ډیر اهل علم دغه ذکر شوی روایت مضطرب منی)) (عینی شرح صحیح بخاری کتاب التهجد ۱۸۷/۷ طبع جدید)

لنډه دا چې ذکر شوی روایت اته رکعته تراویحو لپاره په هیڅ شان سره قابل د حجت ندی، او ددې په خلاف شل رکعتو متعلق د حضرت ابن عباس (رض) د

حديث په موافقت کې د صحابه کرامو اجماع شوې ده او جمهور امت دې لره عملا قبول کړیدی . د امام ابو داؤد (رح) فيصله ده : ((اذا تنازع الخبر ان عن النبى (ص) ينظر بما اخذ به اصحابه)) (ابو داؤد ۱ ۲٦۳ كتاب المناسک باب لحم الصيد للمحرم)

يعنى كله چې دوه حديثونه متعارض را وړاندې شي (لكه د اته ركعته او شل ركعتو والا حديثونه) نو كتل كېږي به چې د صحابه كرامو عمل د كوم يو مطابق دى د كوم يو مطابق چې وى هغه قابل قبول او لائق د عمل دى .

(۱) امام مالک (المتوفى ۱۹۹ هـ) (رح) فرمايى : ((اذا جاء عن النبى (ص) حديثان مختلفان و بلغنا ان ابا بكر و عمر عملاً باحد الحديثين و تركا الآخر كان ذلک دليلا على ان الحق فيما عملا به)) يعنى كله د رسول الله (ص) نه دوه حديثونه مختلف راشي او مونږ ته معلوم وى چې ابو بكر صديق او عمر فاروق لدې دواړو څخه يو باندې عمل كړیدى او بل يې ترک كړى دى نو دا ددې خبرې دليل دى چې په كوم حديث باندې دوى عمل كړى هغه صحيح او حق دى (التعليق الممجد على مؤطاء امام محمد ص ۴۴)

(۲) امام ابو داؤد سجستانى (المتوفى ۲۷۵ هـ) په سنن ابى داؤد كې فرمايى ((اذا تنازع الخبرآن عن النبى صلى الله عليه وسلم ينظر ما اخذ به اصحابه)) يعنى كله چې دوه مختلف حديثونه راشي نو د صحابه كرامو عمل ته به كتلى شى چې په كوم باندې كړى دى ، په كوم يو چې دوى عمل كړى وى هماغه حق دى (ابو داؤد شريف ۲٦۳/۱ كتاب المناسک باب لحم الصيد للمحرم)

(۳) امام مجتهد ابو بكر جصاص (رح) (المتوفى ۳۷۰ هـ) فرمايى ((متى روى عن النبى صلى الله عليه وسلم خبران متضادان و ظهر عمل السلف باحدهما كان الذى ظهر و عمل السلف به اولى بالاثبات)) يعنى كله چې د رسول الله (ص) نه دوه متضاد حديثونه راشي او لدې دواړو نه په يو باندې د سلفو عمل شوى وى نو همدا اولى بالاثبات دى ، (احكام القرآن للجصاص ۱۷/۱ باب القول فى بسم الله الرحمن الرحيم . فصل و ما الجهر بها)

(۴) امام بيهقى (رح) (المتوفى ۴۵۸ هـ) د عثمان دارمى نه نقل كوى :

((لما اختلفت احاديث الباب و لم يتبين الراجح منها نظرنا الى ما عمل به الخلفاء الراشدون بعد النبى صلى الله عليه وسلم فرجحنا به احد الجانبين))

یعنی کله چې یوه خبره کې مختلف حدیثونه راشي او راجح پکې متیقن نه وی نـو بیا بهٔ د خلفاء راشدینو عمل ته ګورو او پدې به ترجیح ورکوو یعنی د هغه مطابق به عمل کوو . د فتح الباری شرح صحیح بخاری ۲۶۹/۲ بـاب قیـام النبـی باللیـل فـی رمضان و غیره)

(۵) محدث او خطیب بغدادی (المتوفی ۴۶۳ هـ) خپل تاریخ کـی د امـام مالـک رحمه الله نه نقل کوی : ((لو کان هذا الحدیث هو المعمول به لعملت به الائمه ابو بکر و عمر و عثمان بعد رسول الله صلی الله علیه ان یصلی الامام قاعداً و مـن خلفـه قعوداً))

یعنی که دا حدیث معمول به وای چې که امام د (عذر په وجه) پـه ناسـته مـونځ کوی نو مقتدیان به هم په ناسته مونځ کوی نو پدې باندې به د رسول الله (ص) نه وروسته امامانو (حضرت ابو بکر ، حضرت عمـر ، حضـرت عثمـان (رض)) بـه ضـرور عمل کولو (تاریخ بغداد ۲۴۷/۶ مطبع مصر)

(۶) محقق ابن همام (رح) (المتوفی ۸۶۱ هـ) لیکی : ((و مما یصـحح الحـدیث ایضاً عمل العلماء علی وفقـه)) یعنـی پـه کـوم شیانو سـره چـې د حـدیث صـحت معلومولی شی په هغو کی یو دا هم دی چې علماؤ د هغه موافق عمل کړی وی (نو دا د حدیث د صحیح والی دلیل دی)

(فتح القدیر ۳۴۹/۳ قبیل باب ایقاع الطلاق)

(۷) حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی (رح) (المتوفی ۱۱۷۶ هــ) فرمـایی : ((اتفاق سلف و توارث ایشان اصل عظیم است در فقه ، یعنی د سلفو اتفاق او توارث په فقه کی لوی اصل دی)) (ازالة الخفاء مطبع بریلی ج ۲ ص ۸۵)

(۸) حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوی (المتوفی ۱۲۳۹ هـ) فرمایی :

((و میزان د رمعرفت حق و باطل فهم صحابه و تابعین است آنچـه ایـن جماعـت از تعلیم آنحضرت صلی الله علیه وسلم بانضمام قرائن حالی و مقالی فهمیده اند و درین تخطیه ظاهر نکرده واجب القبول است))

یعنی د حق او د باطل معلومولو لپاره میزان او معیار او مقالی قرینـو سـره زده کـړی دی پداسې حال کی چې پدې فهم کی ظاهر خطاء نه وی شوی نو هغه فهم واجب القبول دی (مجموعه فتاوی عزیزی ۱۵۷/۱)

دویم دلیل د اته رکعتو متعلق د حضرت جابر (رض) روایت (قیام اللیل ص ۹۰) باندې سامرودی صاحب ډیر ناز کوی او د مباهلی لپاره تیاری ښایی ، مگر عجیبه خبره دا ده چې ددې سند قابل د اعتبار ندی ، ددې سند د راویانو باره کی دفن د امامانو ارشادات وگوری : پدې سند کی یو راوی ((ابن حمید رازی)) د ده باره کی د حدیث د لویو ناقدینو حضراتو تبصری وگوری :

(۱) ((وهو ضعیف)) هغه ضعیف دی (حافظ ذهبی)

(۲) ((کثیر المناکیر)) یعنی ډیر منکر حدیثونه بیانوی (یعقوب بن شیبة (رح))

(۳) ((فیه نظر)) په ده کی نظر (اعتراض) دی (امام بخاری)

(۴) ((کذبه ابو زرعه)) یعنی ابو ذرعه ورته دروغجن ویلی دی (ابو زرعة رح)

(۵) ((اشهد انه کذاب)) زه گواهی ورکوم چې هغه دروغجن دی (اسحاق کوسج (رح))

(٦) ((فی کل شئ یحدثنا ، ما رایت اجرا علی الله منه ، کان یاخذ احادیث الناس فیقلب بعضه علی بعض)) یعنی په هر څه کی حدیثونه بیانوی ، ما ددینه زیات په الله تعالی زړور بل سړی ندی لیدلی ، د خلکو حدیثونه بدلوی (صالح جزره)

(۷) ((والله یکذب)) په الله قسم چی دروغ وایی (ابن خراش)

(۸) ((لیس بثقة)) معتبر ندی (امام نسائی) (میزان الاعتدال ۴۹/۳ ، ۵۰)

دویم راوی یعقوب بن عبد الله اشعری القمی په باره کی :

(۱) ((عنده منا کیر)) ده سره منکر حدیثونه دی (ابن معین)

(۲) ((منکر الحدیث)) منکر الحدیث دی (نسائی)

(۳) ((متروک)) دده حدیث متروک دی (نسائی)

(۴) ((منکر الحدیث)) منکر حدیث والا دی (ابو داؤد - خلاصه)

(۵) په ضعفاؤ کی شمار دی (میزان الاعتدال ۳۱۱/۲)

په بلوغ المرام کی د حضرت جابر نه روایت کړی پدې کی د رکعتو شمیر نشته ، گورئ (بلوغ المرام ص ۴۲، ۴۳) او دویم اضطراب پکې دا دې چې پدې کی د وتر فرض کیدو له ویری د رسول الله (ص) باهر نه راوتلو ذکر دی او حال دا چې په صحیح حدیثو کی د تراویحو ذکر دی (میزان الاعتدال ۴۲/۲، ۴۳)

د اته رکعتو نو مخالفت کولو سره خپل عاقبت خرابوی افسوس !

شیشے کے گھر میں بیٹھ کہ پتھر میں پھینکتے- دیوال آهنی په حماقت تو دیکھے

یعنی پخپله د شیشې په کور کې ناست دی او اوسپنیز دیوال ته کاڼي ولي دا خومره حماقت دی ، فقط والله اعلم.

شلو رکعتو تراویحو باره کې د سا مرودي صاحب عجیبه خبره او د هغې رد :

(۱۹۸ سوال غیر مقلد مولوی عبدالجلیل سامرودی وایي چې مولانا عبدالحق محدث دهلوی خپل کتاب ((فتح سر المنان ص ۳۲۷ کې لیکلې دي چې د شلو رکعتو روایت د رسول الله (ص) نه ثابت ندی ، تاسو مهرباني وکړې راولیکی چې دا خبره صحیح ده ؟ او داوښایی چې د هند علماو لکه حضرت شاه ولی الله او شاه عبدالعزیز وغیره مسلک څه دی ؟ او د شلو رکعتو ثبوت څه دی ؟ پدې باره کې وضاحت وکړئ .

(جواب) د حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوی دا عقیده هرګز نه ده چې د حضرت ابن عباس (رض) روایت بالکل لغوه دی ((سبحانک هذا بهتان عظیم)) بلکې هغه د مذکوره روایت تائید کوی ، هغه ته د شلو رکعتو د تراویحو مخالف ویل بالکل غلط دی هغه د شلو رکعتو قائل دی ، د شلو نه خلاف د هغه د قول او عمل نه ثابت ندی یواځې هغه نه بلکې د هندوستان مشهور او منلی شوی محدثین حضرت شاه ولی الله او حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی (رح) وغیره سلګونه محدثین د شلو رکعتو قائل دی ، د شلو رکعتو نه کم کول د چا نه هم ندی ثابت ، وګورئ : (حجة الله البالغة ۶۷/۲) او (مجموعه فتاوی عزیزی ۱۲۵/۱ ، مالا بد منه ص ۶۳)

حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوی (رح) خپل کتاب ((فتح المنان)) کې لیکې :

((فالظاهر انه ثبت عندهم صلوة النبی صلی الله علیه وسلم عشرین رکعة کما جاء فی حدیث ابن عباس (رض) فاختاره عمر (رض))) یعنی ظاهر دا ده چې د صحابهٔ کرامو په نزد د رسول الله (ص) شل رکعته تراویح کول ثابت شوی وو لکه چې د ابن عباس (رض) په حدیث کې راغلي دي نو پدې وجه عمر فاروق (رض) شل رکعته اختیار کړل ، او فرمایي : ((و صحیح آنست که آنچه آنحضرت (ص) گذار

همه نماز تهجد وی بود که یازده رکعت باشد و ابن ابی شیبه از ابن عباس (رض) آورد که آنچه آنحضرت (ص) گذارد بیست رکعت بود))
یعنی : صحیح دا دی چی رسول الله (ص) کوم یولس رکعته وترو سره کری دی هغه د تهجد مونځ وی ، او ابن ابی شیبة د ابن عباس (رض) نه روایت کوی چې رسول اکرم (ص) کوم لمونځ کړی دی هغه شل رکعته دی (اشعة اللمعات ۱ ۵۴۴)
او فرمایی ((زیرا که بصحت رسیده است که قیام میکردند در عهد عمر به بیست رکعت)) یعنی صحیح طور سره ثابت دی چې د حضرت عمر (رض) په دور کی صحابه کرامو شل رکعته کول (اشعة اللمعات ۵۴۷/۱) او په ((ما ثبت بالسنة)) کی لیکی : ((زمونږ په نزد تراویح شل رکعته سنت دی ځکه چې بیهقی په صحیح سند سره روایت کړیدی چې د حضرت عمر (رض) په دور کی صحابهٔ کرامو شل رکعته کول او د حضرت عثمان اود حضرت علی رضی الله عنهما په زمانه کی هم همدا عمل پاتې شوی (ص ۲۲۳)
دا دی اصل حقیقت او دده عقیده ، نو څوک د عقل خاوند دا ویلی شی چې حضرت شیخ محدث دهلوی (رح) د ابن عباس (رض) روایت ته بالکل لغوه وایی او دې د شلو رکعتو مخالف ؤ ؟ واقعه دا ده چې حضرت ابن عباس او حضرت عمر (رض) دواړه صحابه دی ددوی تر منځ کوم ضعیف راوی نشته چې د هغه په وجه د ابن عباس (رض) حدیث ته ضعیف وویل شی او د صحابه کرامو عمل په ضعیف حدیث باندې وګڼل شی ، ددوی عمل په صحیح بنیاد باندې ؤ لهذا ددوی پیروی کونکی څنګه دوکه کیدی شی ؟ غرض دا چې د صحابه په اعتبار سره مذکور حدیث هرګز ضعیف ندی ، البته وروسته یو ضعیف راوی ابراهیم بن عثمان شاملیدو په وجه سره وروسته خلکو په اعتبار سره مذکور روایت ته ((روایة)) ضعیف ویل کیږي مګر ((درایة)) خو صحیح دی ځکه چې د خلفاء راشدینو وغیره صحابه کرامو په شل رکعتو باندې عمل او مواظبت ددې د معتبر کیدو دلیل دی ، علامه بحر العلوم فرمایی : ((و مواظبة الصحابة علی عشرین قرینة صحة هذه الروایة)) یعنی د صحابه کرامو په شل رکعتو باندې مواظبت (همیشه والی) ددې خبرې دلیل او قرینه ده چې د ابن عباس (رض) روایت صحیح دی (رسائل الارکان ص ۱۳۸ فصل فی الصلوة التراویح)

۱

د رسول الله (ص) د هر وخت ملګرو او عبادت کی شریک صحابه کرامو آخری او دائمی عمل د شلو رکعتو دی ، وګوری ! حضرت امام ترمذی فرمایی : د تراویحو د رکعتونو باره کی د اهل علمو (محدثینو) اختلاف دی ، ځینی د وترو سره (۴۱) رکعتو قائل دی لکه چې د اهل مدینه و قول و عمل دی لیکن د زیاترو هغه عقیده ده چې د حضرت عمر او د حضرت علی (رض) او د نورو صحابه کرامو نه نقل دی او هغه شل رکعته دی ، او همدا قول د امام الحدیث سفیان ثوری ، ابن المبارک او د امام شافعی (رح) دی ، او امام شافعی (رح) فرمایی : ((ما اهل مکه په شل رکعته کولو باندې لیدلی دی)) (ترمذی شریف ۹۹/۱ ، ابوابصوم باب ما جاء فی قیام شهر رمضان)

د روایت د امامانو پدې اقوالو باندې مونږ ته یقین کول پکار دی چې ابراهیم بن عثمان شلو رکعتو باره کی رشتونی دی ، د کوم کار چې په صحیح طور سره (تعامل د صحابه کرامو نه) تصدیق وشي هغه دروغ ګڼل او نه منل سراسر بې انصافی او ظلم دی ، پاتې شو د محدثینو اختلاف نو هغه یو قانونی بحث دی ددې دا مطلب ندی چې دوی د شل رکعتو مخالف دی او دوی شل رکعته نه کول ، شاه عبدالحق محدث دهلوی (رح) او ابن همام (رح) وغیره کوم چې په طور د مخالف وړاندې کېږي ددوی عمل د شل رکعتو نه کم ثابت ندی .

دلته دا هم یاد ساتل پکاردی چې د صحابه کرامو او خصوصاً د خلفاء راشدینو اتباع او پیروی مونږ لپاره ضروری دی ، د الله تعالی ارشاد دی : ای مؤمنانو تاسو د الله تعالی اطاعت وکړی او د رسول الله (ص) اطاعت وکړی او په تاسو کی چې کوم اولوالامر دی د هغوی هم (قرآن حکیم)

خلفاء راشدینو حضرات د اولوالامر لومړنی مصداق دی ، وګوری د اهل حدیثو امام مولانا صدیق حسن خان صاحب تفسیر فتح البیان فی مقاصد القرآن ۵۸۵/۱)

او د الله تعالی ارشاد دی (و ما اتکم الرسول فخذوه) یعنی کوم څه چې تاسو ته رسول الله درکوی هغه قبول کړی (عمل پرې وکړی) (قرآن حکیم)

آنحضرت (ص) فرمایی : له ما نه وروسته به خلک ډیر اختلافات ووینی په هغه وخت کی مسلمانانو باندې فرض دی چې زما او زما د خلفاء راشدینو طریقه مضبوط ونیسی (ابو داؤد شریف ۲۸۷/۲ کتاب السنة باب لزم السنة)

د ذکر شوی ایتونو او حدیثو په بناء په مونږه باندې لازمېږي چې د خلفاء راشدینو او صحابه کرامو اطاعت او فرمانبرداری وکړو ، علاوه لدینه د رسول اکرم (ص) فرمان عالی دی ((زما نه وروسته د ابو بکر او عمر (رض) اقتداء او پیروی وکړی)) (مشکوة شریف ص ۵۶۰ باب مناقب ابی بکر و عمر) او ارشاد یې فرمایلی دی : ((زما صحابه دستورو په شان دی په دوی کی چې د هر یو اقتداء وکړی هدایت به مومئ (مشکوة ص ۵۵۴ باب مناقب الصحابة).

او په موطا امام محمد کی دی : ((کومه طریقه چې مؤمنان غوره کړی هغه د الله تعالی په نزد هم غوره دی ، په کومه طریقه چې زه او زما صحابه دی هغه طریقه حقه او نجات ورکونکی ده)) (مشکوة ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

د حضور (ص) ارشاد دی : ((د ابن مسعود (رض) وصیت مضبوط ونیسی یعنی دده په وصیت باندې عمل وکړی (ترمذی شریف ۲۲۱ ، ابواب المناقب عبد الله بن مسعود)

اوس د حضرت ابن مسعود (رض) د صحابه کرامو باره کی څه وصیت دی هغه وګوری :

فرمایی : ((په تاسو کی که څوک اقتداء کول غواړئ نو هغه دې د رسول الله (ص) د صحابو اقتداء وکړی ، الله تعالی د ټولو نه بهترین جماعت د خپل بهترین رسول د صحبت او ملګرتیا او ددین د حفاظت لپاره غوره کړی دی ، لهذا تاسو هم ددوی عظمت او مرتبه وپیژنی د همدوی په نقش و قدم باندې روان شي څکه چې دوی په صفا او نیغه لاره باندې وو (الموفقات ۷۸/۴)

او حضرت حسین (رض) ګواهی کوی چې ددې کعبې په رب مې قسم چې د صحابه کرامو جماعت په صراط مستقیم باندې قایم وو (الموافقات ۷۸/۴ له ترجمان السنه څخه)

حضرت امام ربانی مجدد الف ثانی فرمایی : ((د فرقه ناجیه د علامی باره کی د حضور (ص) فرمان دی)) الذین هم علی ما انا علیه و اصحابی ، یعنی نجات موندونکی ډله او فرقه هغه ده چې زما او زما د صحابه په طریقه باندې وی ، بیا حضرت مجدد صاحب فرمایی چې په ظاهر کی دا فرمایل کافی ؤ چې ((په کومه طریقه زه یم)) مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو ذکر هم خان سره یو ځای کړ پدې سره دا بیانول مقصود دی چې زما د صحابه کرامو طریقه هم همغه

ده کومه چې زما طریقه ده ، لهذا د نجات لاره د صحابه کرامو پیروی سره تړلې ده ، لکه چې الله تعالی فرمایلی دی : (و من یطع الرسول فقد اطاع الله) یعنی چا چې د رسول اطاعت او پیروی وکړ هغه د الله تعالی اطاعت وکړ یعنی د رسول الله پیروی کول پخپله د الله تعالی اطاعت دی او د رسول الله نافرمانی عین د الله تعالی نافرمانی ده ، همدا شان د رسول (ص) د اتباع دعوی کول او ورسره د صحابه کرامو د طریقې څخه مخالفت کول دا دعوی رد او باطله ده بلکې دا قسم اتباع په حقیقت کې دده نافرمانی شمیرلی شي نو پدې صورت کې د نجات گنجائش کوم خای پاتې کیدی شي (و یحسبون انهم علی شیئ الا انهم هم الکاذبون) یعنی دوی گمان کوی چې مونږ په څه حقیقت باندې یو ، مگر پوهه شی چې دوی دروغجن دی (قرآن حکیم)

او همدا حال ددوی هم دی ، او پدې کې څه شک نشته ، کوم جماعت چې د رسول الله (ص) پیروی په خان لازم کړی وی هغه اهل سنت والجماعت دی ، الله تعالی دې د هغوی کوششونه قبول او مقبول وگرخوی (مکتوبات ۱۰۳/۱ مکتوب نمبر ۸۰)

د حضرت عمر بن عبدالعزیز (المتوفی ۱۰۱ هـ) دغه گرامی مکتوب محدثینو سند سره روایت کړی دی چې پدې کی دې فرمایلی : صحابه کرامو چې خان لپاره کومه رایه غوره کړی نو تاسو هم خپل خان لپاره همدا غوره کړئ او خپل مسلک جوړ کړی ، څکه حضرت خاتم الانبیاء و المرسلین چې د الله تعالی له طرفه کوم علم راوړی ؤ ، صحابه کرامو د هغه نه په پوره توگه واقف او خبردار ؤ ، د دین په باره کی دوی پوره او کامل فهم او بصیرت درلود چې ددی په وجه د هر شئ حقیقت ته رسیدل او ددین او شریعت په حقیقت او منشاء باندې له تاسو نه زیات پوهېدل ، ددې باوجود که تاسو دا گنې چې (صحابه کرامو او ستاسو تر منځ اختلافات کې) تاسو په حق باندې یې نو ددی مطلب به دا وی چې تاسو خپل خان د صحابه کرامو نه هم افضل گڼی ، او ظاهره ده چې دا خیال څومره احمقانه او گمراه کونکی دی (ابو داؤد شریف ۲۸۵/۲ باب لزوم السنة)

یو خل حضرت علی (رض) خوارجو ته نصیحت کول ، خوارجو وویل مونږه خو یواخې د قرآن کریم حکم منو بل هیڅ دلیل اوریدل نه غواړو ، حضرت علی (رض) قرآن کریم په لاس کی نیولو سره وفرمایل : ای قرآنه ووایه ، او د څه باره کی چې

دوی اختلاف کوی د هغه حقیقت دوی ته بیان کړه ، او بیا یې پخپله خوارجو ته وفرمایل : ومو لیدل قرآن زما د وینا باوجود هیڅ ونه ویل (مطلب دا وُچې د قرآن د اتباع صورت دا دی چې ددې عالم او پوهیدونکی چې څه وایی د هغه اتباع وکړئ ، همدا د قرآن اتباع ده) او بیا یې وفرمایل : ای احمقانو کومو خلکو چې د رسول الله (ص) نه بغیر د واسطې نه قرآن او دین حاصل کړی نو ایا تاسو دا خیال کوی چې ددوی څخه په دین او قرآن باندې تاسو زیات پوهیږئ ؟

غرض دا چې شل رکعته کونکی په حق باندې دی ، د الله تعالی په حکمونو او د رسول الله (ص) په ټولو صحیح حدیثونو او معتبرو روایتونو باندې عمل کونکی دی، دوکه کیدونکی ندی ، دوکه کیدونکی د شلو نه کم رکعتو نه کونکی دی چې د رمضان المبارک په میاشت کی داسې عبادت نه محرومیږي چې په هغه باندې خلفاء راشدین ، صحابه کرام ، تابعین ، تبع تابعین او سلف صحالینو نه واخله تر خلف او لا حقینو پورې اجماع او اتفاق شوی دی ، په یو داسې حدیث باندې چې نور احتمالات هم موجود وی عمل کولو سره نور صحیح حدیثونه پریښودل امانتداری نه ده ، امانتدار خو هغه دی چې ټول حدیثونه منی او عمل ورباندې کوی ، د الله تعالی لپاره شل رکعته کولو ته خلک پریدی ، د عبادت نه مه منع کوئ و پخپله هم شل رکعتو باندې عمل کوی ، ولو که د خلفاء راشدینو سنت ګڼلو سره ادا کړئ ((لیس الا بامره صلی الله علیه وسلم))

د دارالعلوم دیوبند بانی شمس الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتری (رحمه الله) د شلو رکعتو باره کی فیصله کن فتوی ولولئ :

(سوال) دینی علماؤ په خدمت کی عرض د ی‌چې یو سړی ((کهلن د هرا پرنګینه د بجنور د ضلع اوسیدونکی دی او هغه وایی : چې د ((ضاد)) مخرج ((زاء)) ولوئ او که نه مونځ باطلیږي او تراویح اته رکعته وکړئ شل رکعته کول فضول دی،

حضرت مولانا چې د تراویحو متعلق کوم جواب ورکړی هغه په لاندنی ډول دی :

(جواب) پاتې شو تراویح ! پدې کی اوسنی ملایانو تخفیف کړی دی یعنی د شل رکعتو نه یې اته جوړی کړی دی ، ټولو ته د اسانی په وجه خوښیږي ، مګر پدې خبره څوک نه پوهیږی چې په حدیث کی کوم اته رکعته راغلی دی هغه (تهجد رکعتونه دی) تهجد بیل شئ دی او تراویح بیل ، تراویح خو شل رکعته دی .

د حضرت عمر (رض) په دور کی زرګونه صحابه کرام موجود وو د هغه زمانی څخه تر ننه پورې چا هم په شلو رکعتو اعتراض نه کولو (په خوشحالی خوشحالی به یې شل رکعته کول) مګر نن صبا داسې امیان جاهل ملایان پیدا شو ی چې حضرت عمر (رض) او صحابه کرامو ته هم غلط وايي ، سبحان الله دا خوله او د مسورو دال ، دا وینا چې د حضرت عمر (رض) نه مخکې شل رکعته نه کیدل ، دا غلطه وینا ده ، د حضرت عمر (رض) په زمانه کی د شلو رکعتونو په خاص اهتمام سره ادا کول شروع شو لیکن لدینه دا څنګه لازم شو چې مخکې شل رکعته نه ادا کیدل ؟ البته دومره اهتمام او لوی جماعت سره نه ادا کیدل ، خان خان له او بیل بیل جماعتو سره ادا کیدل خو حضرت عمر (رض) ټولو لره په لوی جماعت کی د ادا کولو اهتمام وکړ .

وګوری! مخکې د دویم نکاح دومره اهتمام ؤ څکه چې دویم نکاح دومره معیوب نه ګڼل کیدو ، کله چې حضرت شاه ولیٰ الله (رح ولیدل چې خلک دویم نکاح ډیر لوی عیب ګڼی نو ددې ذکر یې خپلو کتابو کی وکړ او دده اولادونو او شاګردانو دویم نکاح جاری کولو لپاره ملاګانې وتړلی ، مګر ددې دا معنی نه ده چې د وهم نکاح طریقه شاه ولی الله (رح) او دده خاندان ایجاد کړی او د رسول الله (ص) د دور طریقه نه ده ، نو همدا شان شل رکعته تراویح د حضرت عمر (رض) او دده د دور صحابه کرامو ایجاد نه دی بلکی سنت نبوی ګڼل پکار دی ، او که نه ددې معنی به دا شی چې نه حضرت عمر (ر ض) نه سنی ؤ او نه دده د دور صحابه کرام هم سنیان وو نو ټول نعوذ بالله بدعتیان وو ، د رسول الله (ص) سنت یې محو کړ او خپل سنت یې جاری کړ اوس تاسو وښایی چې د حضرت عمر (رض) او د صحابه کرامو بد ګڼونکی څوک دی ؟ د حضرت عمر (رض) او د صحابه کرامو د پیروی حکم خو په صحیح حدیثو کی موجود دی یو څو حدیثونه لیکم د غیر مقلد مولانا صاحب نه ددې د معنی او مطلب تپوس وکړی کوم چې د اتو رکعتو نغاره ډنګوی او شل رکعتو ته افضل وايي .

(۱) ((علیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین من بعدی))

(۲) ((اقتدوا بالذین من بعدی))

(۳) ((اصحابی کالنجوم بایهم اقتدیم اهتدیتم)) (تصفیة العقائد ص ۳۸، ۳۹) فقط

د تراویح او وتر متعلق متفرق مسائل

(۱۹۹ سوال) د تراویح ورکولو لپاره یو حافظ وی خو بل فاتح حافظ وریسې نشته نو پداسې حالت کې امام پسې قرآن پاک پرانستو او کتو سره اوریدل څه حکم لری ؟ او فتح ورکولې شي یا نه؟ او یا امام خپل مخې ته پرانستې قرآن مجید کېدی او مونځ ورباندې ورکړی څه حکم لري ؟ ما پخپله ((بریاو)) کې پدې طریقه مونځ کړي دي ، او في الحال چې کوم امام صاحب دي هغه انکار کوی چې په قرآن مجید کې کتل صحیح نه دي ، او د اهل حدیث ملا وینا مطابق صحیح دی ، لهذا شرعي حکم څه دي ، د هغه نه موخبر کړی مهربانی .

(جوا ب) پدې مسئله کې کله چې امام پسې مقتدی په لاسته بالدې قرآن مجید کتو سره فتح ورکوی نو قرآن مجید به لاس کې لیسې یا په غیږ کې او یا په رحیل بالدې ږدی او بار بار به پاڼې اړوی ، د رکوع په وخت کې به له مخې لرې کوی او بیا به یې مخې ته کوی او د قرآن کریم نه په زده کولو سره امام ته فتح ورکوی ، یا ور زده کوی نو قرآن مجید معلم او مقتدی او امام متعلمین جوړیږي ، پدې سره عمل کثیر لازمیږي لهذا مونځ فاسدیږي ((قال فی الهدایة ، ان حمل المصحف والنظر فیه و تقلیب الاوراق عمل کثیر و لانه تلقن من المصحف فصار کما اذا تلقن من غیره))
او د حضرت ابن عباس (رض) روایت دی ((نهانا امیر المؤمنین ان نؤم الناس فی المصحف و ان یؤمنا الا محتلم)) (عینی شرح هدایة ۷۸۵/۱ باب ما تفسد الصلوة و ما یکره فیها)
یعنی حضرت عمر (رض) لدینه منع کړې ده چې مونږ په قرآن مجید کې کتو سره خلکو ته امامت وکړو ، او دا هدایت یې هم کړی دی چې یواځې بالغ سړی به امامت کوی ، د حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله همدا مسلک دی ، او د سعید بن المسیب حسن بصری ، شعبی ، حضرت سلمی او د غیر مقلدین حضراتو مقتدی ابن حزم ظاهری مسلک هم دا دی ، البته که قرآن شریف یا هغه سورت او رکوع چې لولی یې هغه ورته یاد وی او مخې ته قرآن شریف هم کولاو پروت وی همدغه سورت باندې نظر اچوی او لولی مثلاً سورت اخلاص یې په یادو یاد وی او مخې ته ورته قرآن مجید کې همدا سورت پرانستی دی یا دیوال باندې لیکلی وی نو هغه ته ګوری او لولی هم نو پدې صورت کې مونځ نه فاسدیږي ، ځکه چې دلته د زده

کولو او یا د ویلو عمل نه راځی ((قال فی شرح الهدایة للعلامة العینی . و اذا کان یحفظه عن ظهر القلب وهو مع ذلک ینظر فی المکتوب او علی المحراب فیقرا فلا اشکال انه یجوز)) (۱ ۷۸۴)

کوم صاحب چې د عدم حفظ په صورت کې په قرآن مجید کې کتو سره لوستلو باندې مونځ جائز ګڼی هغه د حضرت عائشة صدیقه (رض) یو عمل باندې استدلال کوی . چې هغه امام بخاری رحمه الله یو ترجمة الباب کې بغیر د سند نه نقل کړی دی چې الفاظ یې دا دی : ((کانت عائشة (رض) یؤمها عبدها ذکوان من المصحف)) (باب العبد والمولی ص ۹٦)

ترجمه : یعنی حضرت عائشة (رض) لپاره به دده غلام ذکوان د قرآن شریف نه امامت کولو ، مګر پدې عمل باندې استدلال صحیح ندی ، ځکه چې پدې کې دا نشته چې حضرت ذکوان ته قرآن شریف یا د ته ؤ بغیر د حفظ نه یې قرآن شریف نه لوستلو او امامت یې کولو ، او د ا خبره د قیاس سره هم موافقه نده چې د حضرت عائشة (ر ض) پشان د علم او د فضل خاوند ام المؤمنین دی ، د مونځ غوندې اهم عبادت لپاره داسې یو غلام امام وګرځوی چې قرآن شریف ورته یاد نه وی او د ماشومانو پشان قرآن شریف په کتو سره وایی ، امام بخاری رحمه الله هم پدې باندې استدلال ندی کړی بلکې امام بخاری دا واقعه د ((امامة العبد والمولی)) په سلسله کې پیش کړې ده ، یعنی یو زر خرید یا آزاد کړده غلام د آزادی بښځې او یا د خپل اقا (مالک) امامت کولی شی .

حقیقت دا دی چې دا واقعه د هغه زمانی ده چې په دنیا کې یواځې یو مصحف (قرآن کریم) ؤ ، په حدیثونو او د تاریخ په کتابو کې دا واقعه ډیر تفصیل سره بیان شوی ده چې د ټولو نه مخکې حضرت صدیق اکبر د حضرت عمر په تحریک او درخواست باندې قرآن پاک په کتابی شکل کې مرتب او جوړ کړ او دا نسخه د حضرت ابو بکر سره محفوظه ده ، دده د وفات نه وروسته دویم خلیفه د (عمر فاروق) ته حواله شوه چې دده لور ام المؤمنین حضرت حفصه رضی الله عنها سره ساتلی شوې وه (بخاری شریف باب جمع القرآن ص ۷۴۵، ۷۴٦) په هغه دور کې په قرآن شریف کې کتو سره د ویلو رواج له سره ؤ نه ، د صحابه کرامو مقدس سینی د قرآن کریم خزانی وی ، همدا حال ددوی د شاګردانو (تابعینو) هم ؤ ، په هغه دور کې د یو مصحف (قرآن پاک) کوم چې ابو بکر (رض) سره محفوظ ؤ ، لیدل یا یې

لوستل ډیره عجیبه او د فخر قابل خبره ده . پدې روایت کی دی عجیبی خبری طرف ته اشاره ده ،
حضرت ذکوان قرآن مجید ته کتو سره حفظ او یادولو نه بلکی خاص خبره دا ده چې خپل حفظ یې دی مصحف شریف سره برابرولو او مقابله کولو او بیا به یې مانخه کی لوستلو او دا صورت د هغې زمانی د حالاتو سره هم مناسب دی او د حضرت عائشې (رض) د احتیاط سره هم مناسب دی ، یعنی حضرت ذکوان بواخی امامت نه کولو بلکی خپل حفظ به یې مصحف شریف سره مقابله کولو او دغه مقابله او برابرول به د حضرت عائشه (رض) په موجودګی کی کیدلو ، په هر حال د حضرت عائشه (رض) دا عمل پدې موقع کی په دلیل کی پیش کول د مسئلی دلیل نه دی بلکی د واقعاتو څخه د نا واقفیت دلیل دی والله اعلم.

ـ وتر کونکی پسې تراویح کول :

(۲۰۰ سوال) امام صاحب په غلطی سره (۱٦) شپاړلس رکعتو نه وروسته وتر شروع کړ او مقتدیان ورسره د تراویحو په نیت شامل وو ، د سلام نه وروسته یې ووېل چې امام صاحب غلط شو او بیا یې پاتې څلور رکعته وکړل اوس سوال دا دی چې وتر وشو یا نه؟
امام صاحب وایی چې وتر احتیاطاً راوګرځوی ، پدې صورت کی اولنی وتر معتبر نه و ، امام صاحب دوباره وتر وکړل ، وضاحت وکړی مهربانی.
(جواب) پدې صورت کی د امام صاحب ړومبنی وتر مونځ معتبر او صحیح دی مګر د مقتدیانو نه ړومبنی وتر معتبر دی او نه وروستنی څکه چې ړومبنی کی د وترو نیت ؤ ، او په دویم خل باندې اګر که د وترو نیت خو ؤ مګر د هغه چا په اقتداء کی وشول چې وتر یې ادا کړی ؤ ، نو پدې وجه دا هم معتبر نه شو (کبیری)

ـ که د تراویحو په نیت د وترو اقتدا وکړی نو شرعاً څه حکم لری؟

(۲۰۱ سوال) که د تراویحو په خیال باندې د وتر کونکی پسې اقتداء وکړی نو وتر یې صحیح کیږي ؟

(جواب) وتر یې صحیح ندی ، البته داسې صورت کې د امام د سلام نه وروسته څلورم رکعت کول بهتر دی دا څلور رکعته به نفل شی (کبیری ص ۳۹۲)[1]

(سوال) امام صاحب د وترو په دویم رکعت کې د قعدې په ځای دریم رکعت له پورته شو د قوم په فتح سره بیا کیناست او بیا یې دریم رکعت پوره کولو سره آخر کې سجده سهوه وکړه نو وتر صحیح شو یا نه؟

(جواب) چې له امام صاحب نه اوله قعده هیره شو نو فتح ورکول سره کیناستل پکار نه و بلاخې په آخر کې سجده سهوه سره وتر صحیح کیدل ، د ودریدو نه وروسته چې کیناست دا یې غلط وکړل مګر مونځ نه فاسدیږي ، سجده سهوه یې کړې ده مونځ صحیح دی ، د راګرځولو ضرورت نشته[2]

ـ د ښځو جماعت سره تراویح کول څنګه دی؟

(۲۰۲ سوال) ښځې خپلې لراویح جماعت سره ادا کولی شی یا نه؟

(جواب) ښځو له پکار دی چې پنځه وخته مونځ او تراویح منفرداً (ځان ځان له) ادا کړی دوی لپاره جماعت کول مکروه تحریمی دی ، البته که صورت داسې پیدا شي چې کوم مړی شوی وي او ، سړی بالکل نه وی ټولی ښځې وی نو د جنازې مونځ په جماعت سره کولی شی (در مختار مع الشامی ۵۲۸/۱)[1]

ـ د تراویحو څلورو رکعتو نه وروسته دعاء کول څنګه دی؟

(۲۰۳ سوال) امام صاحب د تراویحو څلورو رکعتو نه وروسته دعاء کوی خو یو څو کسان نه کوی نو د حدیثو له مخې د هر څلوروکعتو نه وروسته دعاء کول ثابت دی یا نه؟

---

[1] ـ و فیها اقتدی به علی ظن انه فی التراویح فاذا هو فی وتر یتمه و یضم الیها رابعةً و لو افسدها لا شئ علیها (آخر صلوة التراویح)

[2] ـ ((و من سها و کان اماماً او منفرداً عن القعود الاول من الفرض و لو عملیاً وهو الوتر عاد الیه وجوباً ما لم یستو قائما فی ظاهر الروایة وهو الاصح ...... و ان عاد الساهی عن القعود الاول الیه بعد ما استتم قائما اختلف التصحیح فی فساد صلاته و ارجحهما عدم الفساد مراقی الفلاح علی هامش طحطاوی ص ۲۵۳

[1] و یکره تحریماً الجماعة النساء و لو فی التراویح فی غیر صلوة الجنازة الخ

(جواب) به تراویحو کی اجازه ده ، که تسبیح وایی او که تلاوت کوی او یا چپ کینی یا نفل کوی (در مختار مع الشامی)[۲]

لهذا د قوم او د امام اجتماع ضروری ګڼل او دعاء نه کونکو باندې اعتراض کول صحیح نه دی ، البته که څوک انفرادی دعاء کوی نو منع نه ده

_ په وتر لمونځ کی د تراویحو نیت کول شرعاً څنګه دی ؟

(۲۰۴ سوال) د تراویحو دوه رکعته پاتې ؤ په هیر سره وتر شروع کړ او په قعده کی ورته یاد شو اوس د تراویحو نیت کولو سره دوه رکعتو باندې سلام ګرځول څنګه دی؟

(جواب) دا دوه رکعته به نه حسابیږي (فتاوی قاضی خان ۲۴۳/۱)[۳]

_ نا بالغ هلک تراویح ورکولی شي؟

(۲۰۵ سوال) دولس کلن هلک حافظ دی مګر بالغ نه دی نو دی تراویح ورکولی شي یا نه؟

(جواب) مختار او صحیح قول دا دی چې د تراویح په مونځ کی هم نا بالغ هلک د بالغانو امامت نشي کولی (هدایة ۱۰۳/۱)[۴]

_ که نا بالغ هلک تراویحو کی فتح ورکړی نو څه حکم لری؟

(۲۰٦ سوال) نا بالغ هلک تراویحو کی امام صاحب ته فتح ورکولی شي یا نه؟ او پدې سره مونځ ماتیږي یا نه؟

---

[۲] _ و يجلس بين كل اربعة بقدرها و كذا بين الخامسة والوتر و يخيرون بين تسبيح و قراة و سكوت و صلاة فرادى (باب الوتر والنوافل بحث صلوة التراويح)

[۳] _امام شرع فى الوتر على ظن انه اتم التراويح فلما صلى ركعتين تذكره انه ترک تسليمة واحدة فسلم على راس ركعتين لم يجز ذالک عن التراويح لانه ما صلى بنية التراويح ، باب التراويح فصل فى السهو و احكامه بحث صلاة التراويح

[۴] _و لا يجوز للرجال ان يقتدوا بامراة او صبى ...... والمختار انه لا يجوز فى الصلوات كلها لان نفل الصبى دون نفل البالغ ، باب الامامة

(جواب) او . کله چې هلک په مانځه کی وی او فتح ورکړی نو مونځ نه فاسدېږي ((فتح المراهق کالبالغ)) (طحطاوی علی مراقی الفلاح باب ما یفسد الصلوة ص ۱۹۵)

ـ که په تراویحو کی د سجده تلاوت نه وروسته دوباره الحمد لله ولولی نو څه حکم لری؟

(۲۰۷ سوال) تراویحو کی د سجده تلاوت کولو نه وروسته د وړاندې ایت په ځای دوباره سورت فاتحه ولولی نو سجده سهوه لازمېږي یا نه ؟ یعنی چې سورت فاتحه تکرار شی

(جواب) که د سورت شروع کولو نه مخکې سورت فاتحه مکرر ولولی نو سجده سهوه لازمېږي ، ځکه چې د فاتحی نه وروسته بغیر د تاخیر نه سورت شروع کول واجب دی ، او پدې کی تاخیر وشواو په تاخیر د واجب سره سجده سهوه لازمېږي ، لیکن په ذکر شوی مسئله کی کله چې د سورت فاتحی نه وروسته قرائت شروع کړی ؤ نو د سورت یعنی قرائت شروع کولو کی خو تاخیر ونه شو اوس بل فرض د رکوع دی او دا د قرائت نه وروسته کول پکار دی مګر د قرائت څه معین حد نشته ، څومره چې غواړی قرائت کولی شی او هر هر سورت چې غواړی لوستلی شی د رکوع نه مخکې دې د مختصر او د اوږد قرائت کولو اختیار لری پدې کی به تاخیر او اوږدوالی لره سجده سهوه نه لازمېږي:

((رد المختار تحت قوله کذا ترک تکبیر ها اما لو قراها قبل السورة مرة و بعدها مرة فلا تجب کما فی خانیة الخ (شامی ج ۱ ص ۴۲۹ باب صفة الصلوة مطلب فی واجبات الصلوة) بخلاف ما لو اعادها بعد السورة)) (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۲٦ ، الباب الثانی عشر فی سجود السهو)

لهذا پدې صورت کی سجده سهوه نه لازمېږي.

ـ که یو سړی د ماسخوتن مونځ جماعت سره وکړی او تراویح په کور کی څه حکم لری؟

(۲۰۸ سوال) د ماسخوتن مونځ جماعت سره کونکی سړی چې تراویح په کور کی وکړی نو ګنهګارېږي یا نه؟

(جواب) په جماعت سره د تراویحو ادا کول سنت مؤکد علی الکفایه دی ، نو چې د محلی په جومات کی جماعت سره تراویح کېږي او یو سړی خپل کور کی وکړی نو گنهکار ندی ، مګر د جماعت له ثواب نه محرومېږي (در مختار مع الشامی ۲ ۶۶۰ باب الوتر والنوافل مبحث صلوة التراویح)

(سوال) زمونږ د محلی په جومات کی تر اته رکعتو پورې مونځ گذار وی او بیا کمېږي نو مونږ که جومات پریدو او بل جومات کی تراویح وکړو څه گناه شته؟

(جواب) شل رکعته جماعت سره تراویح د محلی په جومات کی پکار دی لهذا تاسو ته خپل جومات کی تراویح کول پکار دی اګر که مونځ گذار کم وی . او که د محلی په جومات کی تراویح نه کېږي نو تول محلی والا گنهګارېږي (شامی باب الوتر والنوافل مبحث صلاة التراویح ص ۶۶۰)

ـ په تراویح ورکولو باندې اجرت اخستل :

(۲۰۹ سوال) حافظان صاحبان تراویحو لپاره روپی متعین کوی یا متولیٓ ته وایی چې خومره مو خوښه دی ورکړی او یا متولی ورته ووایی چې مونږه په خوشحالی سره خومره وغواړو ورکوو نو دا قسم تعیین جائز دی ؟

(جواب) بیشکه په تراویحو کی اجرت اخستل او ورکول ناجائز دی ، ورکونکی او اخستونکی دواړه گنهګار وی ، لدینه دا بهتر دی چې په الم ترکیف سره تراویح وکړی . لوجه الله تراویح ورکول او لوجه الله امداد کول جائز دی ، مګر پدې زمانه کی دا چیرته دی ؟

یو ځل ورته پیسې ورنکړی شی نو حافظ صاحب دویم ځل لپاره نه راځی نو اوس الله کوم ځای پاتې شو ، اصل مسئله دا ده چی هغه مشکلات هم له نظره غورځول ندی پکار کوم چې هر کال او تقریباً په هر جومات کی مونځ گذار ورسره مخ کېږي . پدې بناء یو قابل عمل شکل دا دی چې کوم ځای خاص د ثواب په خاطر تراویح ورکونکی حافظ پیدا نشي نو هلته دې قاری یعنی تراویح ورکونکی د رمضان میاشت لپاره نائب امام مقرر کړی شی او یو یا دوه مونځونه ورته حواله کړی شی نو په دغه حیلی سره به تنخوا اخستل ورکول جائز شی ځکه چې د امامت اجرت جائز کړی شوی دی، د مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی محمد کفایت الله صاحب فتوی ده:

((که د رمضان المبارک میاشت لپاره حافظ په تنخوا باندې ونه نیول شي او یو دوه مونځونه ورته حواله کړی شی نو دا د جواز صورت دی ، ځکه چې د امامت د

اجرت (تنخوا) لپاره فقهاؤ اجازه کړې ده)) (محمد کفایت الله کان الله له دهلی ۲۷ شعبان ۱۳۷۰)

د مظاهر علوم مفتي حضرت مفتي محمود الحسن گنگوهي صاحب فرمايي :

((اصل مذهب خو عدم جواز دی ،ليکن پدې اوسني حالاتو کې د مذکوره حيلې گنجائش شته)) (محمودالحسن گنگوهي مدرسه مظاهر العلوم سهارنپور ۱۵ شعبان ۱۳۷۰ هـ)

ـ امام په تراويحو وغيره کې قرائت څنګه وکړي ؟

(۲۱۰ سوال) امام په تراويح وغيره جهري مونځونو کې قرائت څومره په زوره وکړي؟

(جواب) افضل او بهتر دا دی چې امام په جهري مونځونو کې بغير د تکلف نه دومره په زوره قرائت وکړي چې مقتديان قرائت واوريدلی شي لدينه زيات تکلف سره لوستل مکروه او منع دی ، د الله تعالی ارشاد دی (و لا تجهر بصلوتک و لا تخافت بها و ابتغ بين ذلک سبيلاً) (سورت بني اسرائيل)

او نه خپل مانځه کې زيات په زوره قرائت کوه او نه بالکل ورو قرائت کوه ددې دواړه تر منځ لاره اختيار کړه ، مفسرين فرمايي چې مانځه کې درميانه آواز سره قرائت کول پکار دی دې سره په زړه باندې اثر کېږي ، دومره په زوره هم بايد نه وی چې قاری او آوريدونکی دواړو ته تکليف وی او د زړه په توجه کې هم خلل راشي (خلاصة التفاسير ۶۰/۳ تفسير فتح المنان ۹۶/۵) فقهاء کرام په زوره قرائت کولو دوه خبرې ضروری گڼي ، اول دا چې لوستونکی ځان باندې غير معمولی زور وانه چوی (دا مکروه دی) او دويم دا چې نورو ته هم تکليف نه وی مثلاً د تهجد په وخت کې څوک ويده وی او يا څه خلک خپل کارو کې لګيا وی او ته د هغوی په خوا کې ودريدو سره دومره په زوره قرائت شروع کړی چې د هغوی په کار کې خلل راځي دا هم مکروه دی ، ددې دوه خبرونه وروسته دريمه خبره دا ده چې د جماعت د کمی او د زياتی لحاظ کولو سره د هغه مطابق قرائت وکړی ، مثلاً چې د مقتديانو درې صفونه وی نو بيا دومره آواز سره قرائت وکړی چې دريم صف ته اواز ورسي او يا لدينه په زوره وی نو بيا دومره اواز سره قرئت وکړی چې دريم صف ته اواز ورسي او يا لدينه په زوره چې باهر آواز ورسي ، د فقيه ابو جعفر قول دا دی چې څومره په اوچت آواز سره قرائت وکړی ښه دی پدې شرط چې لوستونکی

ستړی نشي او چاته تکلیف نه وی ، مګر د نورو فقهاؤ قول دا دی او همدا راجح هم دی چې د ضرورت په اندازه به آواز اوچتوی یعنی صرف دومره اوچت کړی چې دریم صف ته ورسي ، البته که صفونه زیات وی نو بیا لدینه هم زیات آواز اوچتولی شی په شرط ددی چې خان باندې زیات زور رانشي (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۱۳۷ فصل فی واجب الصلوة ، و رد المختار ۴۹۷/۱ ، مجمع الانهر ۱۰۳/۱ ، عالمګیری ۷۲/۱)[1]

ـ که د تراویحو دویم رکعت د قعدی په ځای قیام وکړی څه حکم لری؟

(۲۱۱ سوال) که د تراویحو دویم رکعت کی قعده کول هیر شي او ودریږی نو څه حکم لری؟

(جواب) د تراویحو په دویم رکعت کی چې قعده کول پاتې شي نو څو پورې چې دریم رکوع لپاره سجده نه وی کړی نو قعده به وکړی او آخر کی په سجده سهوه کولو سره مونځ پوره کړی ، اوکه دریم رکعت لپاره سجده کړې وی نو بیا به څلورم رکعت یو ځای کولو سره سجده سهوه کوی مګر دا څلور رکعتو نه دوه رکعته حسابولی شی (فتاوی عالمګیری ۱۸۸/۱)[2]

ـ که د پاتې شوی رکعت ادا کولو په وخت د امام نه ایت د سجدی وآوری څه حکم لری؟

(۲۱۲ سوال) امام او مقتدی څلور رکعتو نه وروسته ترویحه کی کیناستل او پدې وخت کی زه د پاتې شوی رکعت ادا کولو لپاره ودریدم نو زما مونځ لا نه و پوره

---

[1] ـ و المستحب ان یجهر بحسب الجماعة فان زاد فوق حاجة الجماعة فقد اساء کما لو جهر المصلی بالاذکار قهستانی عن کشف الاصول و هذا اولی مما فی الزاهدی عن ابی جعفر انه کلما زاد الامام والمنفرد فی الجهر فی صلاة الجهر فهو افضل بعد ان لا یجهد نفسه و لا یؤذی غیره و ان زاد علی حاجة المقتدی .

[2] ـ((و عن ابی بکر الاسکاف انه سئل عن رجل قام الی الثالثة فی التراویح و لم یقعد فی الثانیة قال ان تذکر فی القیام ینبغی ان یعود و یقعد و یسلم و ان تذکر بعد ما سجد للثالثة فان اضاف الیها رکعة آخری کانت هذه الاربع عن تسلیمة و احدة الخ فصل فتاوی عالمګیری ج ۱ ص ۱۱۸ فصل فی التراویح))

شوی چې امام تراویح شروع کړ او د سجدې ایت یې ولوست او ما هم واورید نو په ما سجده تلاوت لازم ده یا نه؟

(جواب) پدې صورت کی سجده تلاوت لازمېږي ، البته که امام سره سجده کولو نه مخکې یا سجده کولو نه وروسته د هغه رکعت په آخر کی امام پسې نیت وکړی او شامل شي نود امام سجده تا لپاره هم کافی کېږي . د ځانته سجدې ضرورت نشته :

((سمع من امام فدخل معه قبل ان یسجد و سجد معه الی ان قال اما لو ادرکه فی الرکعة الاخری یسجدها بعد الفراغ)) (عالمگیری ج ۱ ص ۱۳۳ الباب الثالث فی سجود التلاوة)

(۲۱۳ سوال) امام صاحب تراویح ورکول چې دویم رکعت کی د قعدې په ځای سهواً ودرېدو او مقتدیان ناست وو فتح یې ورکړه نو امام صاحب هم کیناست او وروسته یې سجده سهوه وکړه نو مونځ وشو یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی چې امام صاحب کیناست او سجده سهوه یې وکړه نو ښه یې وکړل او تراویح صحیح شو .[1]

ـ د تراویحو هر څلورو رکعتو نه وروسته دعاء کول صحیح دی یا نه؟

(۲۱۴ سوال) په تراویحو کی د څلورو رکعتو نه وروسته امام او مقتدیانو یو ځای د دعاء کولو دستور دی نو ایا دا طریقه سنت ده ؟ امام په زوره دعاء کوی که څوک څه ویل غواړی نشي ویلی نو ایا په ترویحه کی یواځې دعاء کول پکار دی ؟ تسبیح وغیره ذکر و اذکار منع دی ؟ په تلاوت و تسبیح وغیره کی مشغولیدونکو ته دیوبندیان وایی ، لهذا ددې مسئلې لږ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) د تراویحو هر څلور رکعتو نه وروسته د امام او مقتدیانو یو ځای دعاء کولو دستور د سنتو مطابق نه دی ، شریعت مطهره اجازه ورکړې ده که تلاوت کوی ، که نفل کوی دعاء غواړی ، یا تسبیح و تهلیل ، درود شریف وغیره ذکر او اذکار کی بې ځایه دخل بازی دی او د نورو اذکارو مثلاً تلاوت ، تسبیح ، نفل او درود وغیره نه د منع کولو مترادف دی ، لهذا دغه مذکوره طریقه قابل د ترک ده ، د چا چې څه زړه

---

[1] و عن ابی بکر الاسکاف انه سئل عن رجل قام الی الثالثة فی التراویح و لم یقعد فی الثانیة قال ان تذکر فی القیام ینبغی ان یعود و یقعد و سلم الخ فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۱۸ فصل فی التراویح.

غواړی هغه دې وکړی خو چې نورو ته تکلیف نه وی او که نه منع کولی به شی (در مختار مع الشامی ۱ ۶۱۱)[1]
پدې باره کی د دیوبند او بریلوی خبره پورته کول جهالت او نادانی ده . د بریلوی حضراتو مشهور کتاب ((بهار شریعت)) کی دی چې پدې ناسته کی سړی ته اختیار دی که چپ کینی یا کمله وایی یا تلاوت کوی یا درود شریف وایی یا څلور رکعته نفل کوی خو جماعت سره مکروه دی . یا تسبیح وایی ((سبحان ذی الملک والملکوت سبحان ذی العزة والعظمة والقدره والکبریاء والجبروت سبحان الملک الحی الذی لا ینام و لا یموت سبوح قدوس ربنا و رب الملئکة والروح لا اله الا الله نستغفر الله نسئلک الجنة و نعوذبک من النار)) (ج ۴ ص ۳۱)

ـ تراویح جماعت سره سنت دی یا نه؟

(۲۱۵ ایا تراویح جماعت سره په جومات کی کول ضروری دی ؟ کور کی کولی شو یا نه؟

(جواب) تراویح په جومات کی جماعت سره کول سنت دی مګر سنت کفائی دی ، یعنی که جومات کی د تراویحو جماعت نه کیده نو ټول محلی والا ګنهګاربږي او تارکین د سنت هم ګرځی ، او که څینی په جومات کی جماعت سره او څینی په کورو کی ادا کړی نو تارکین د سنت نه ګرځی مګر د جماعت او د جومات له فضیلت نه محرومیږي (صغیری ص ۲۰۵ فصل فی التراویح)

ـ د ږیرې خریلی قاری پسې تراویح کول :

(۲۱۶ سوال) کوم حافظ چې ږیره خروی هغه پسې د تراویحو ادا کولو څه حکم دی ؟

(جواب) دګیری خیرئیل حرام دی او د ګیری خرونکی د شریعت له مخې فاسق دی لهذا د داسې سړی د تراویحو لپاره امام جوړول جائز ندی او داسې امام پسې تراویح کول مکروه تحریمی دی (شامی ۵۲۳/۱).[1]

---

[1] ـ ((و یجلس ندباً بین کل اربعة بقدرها و کذا بین الخامسة والوتر و یخیرون بین تسبیح و قرائت و سکوت و صلاة فرادی باب الوتر والنوافل مبحث صلاة التراویح

[1] ـ ((قوله و فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی و اکل للربا و نحو ذلک باب الامامة))

ـ د نا بالغ هلک امام جوړول:

(۲۱۷ سوال) حافظ نا بالغ هلک دی مګر قریب البلوغ (مراهق) دی نو ایا هغه په تراویحو کی امام جوړولی شو ؟

(جواب) نا بالغ د بالغانو امام نشي جوړیدلی لهذا دا د تراویحو لپاره امام نشي جوړولی[۲]

ـ ـ د تراویحو په خیال وترو کی اقتداء کول :

(۲۱۸ سوال) د امام وتر شروع کولو نه وروسته که مونځ ګذار د تراویحو په خیال اقتداء وکړی نو وتر یې ادا کېږي یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی د امام سلام ګرخولو نه وروسته څلورم رکعت پوره کولو سره مونځ ختم کړی او دا څلور رکعته نقل کېږي او وتر یې په ذمه باقی دی هغه به بیا کوی (صغیری ص ۲۱۱ فصل فی التراویح)

ـ په تراویحو کی د قرآن پاک تلاوت په وخت کی ناست پاتې کیدل :

(۲۱۹ سوال) د تراویح په وخت کی خینی خلک شاته ناست وی او کله چې امام رکوع ته خی هغه وخت کی پاخېږي او په رکوع کی شاملېږي ددی څه حکم دی؟

(جواب) داسې کول منع دی (عالمګیری ۱۹/۱)[۳]

ـ که مقتدی د تراویح په آخری قعده کی ویده شی :

(۲۲۰ سوال) که مقتدی د تراویحو په آخری قعده کی ویده وي کله چې امام سلام وګرخوی نو بیدار شي نو اوس به څه کوی؟

(جواب) پدې مسئله کی تشهد لوستو سره دې سلام وګرخوی مونځ صحیح کېږي (صغیری ص ۲۱۰)

---

[۲] ـ ((و علی قوله ائمة بلخ یصح الاقتدآء بالصبیان فی التراویح و السنن والمطلقة کذا فی فتاوی قاضی خان المختار انه لا یجوز فی الصلوات کلها کذا فی الهدایة الفصل الثالث فی بیان من یصح اماما لغیره ، فتاوی عالمګیری ج ۱ ص ۷۵))

[۳] ـ و یکره للمقتدی، ان یقعد فی التراویح فاذا اراد الامام ان یرکع یقوم و کذا اذا غلبته النوم (فصل فی التراویح ۱۱۹/۱)

ـ د تراویحو د شل رکعتو لپاره یو ځل نیت کول :

(۲۲۱ سوال) د تراویحو د شلو رکعتو لپاره په شروع کی یو ځل نیت کول کافی دی یا د هر دوه رکعتو لپاره نیت کول ضروری دی ؟

(جواب) د تراویحو لپاره په شروع کې د شل رکعتو نیت کافي دی په هر دوه رکعتو باندې نیت کول شرط ندې مګر بهتر دي[1] والله اعلم.

(۲۷۴ سوال) د تراویحو دویم رکعت کې قعده ونه کړه دریم رکعت ته پورته شو او د قیام نه وروسته قوم فتح ورکړه خو کیناست لو دریم او څلور رکعت پوره کولو سره سجده سهوه وکړه پدې طریقه د تراویح څلور رکعته پوره کړل او بیا اللیس (۱۸) رکعته نور وکړل په اولنی څلور رکعتو باندې بې لرویحه (وقفه) ونه کړه بلکې دوه رکعته یې نفل او دوه رکعته یې تراویح وګڼل ، ایا ددې څلور رکعتو نه دوه رکعته تراویح حسابیږي یا نه؟ او یا څلور واړه نفل شو او د هغو دوه رکعتو دوباره کول ضروری دی یا نه؟ که دوباره کول یې ضروری وی نو امام او قوم یو ځای راوګرځوی یا خان خانله ؟ وضاحت وکړی جزاکم الله

(جواب) تاسو غلطی کړی ، مقتدیانو چې فتح ورکړی وه هغه صحیح وه په تاسو باندې کیناستل لازم ؤ ، لیکن چې آخر مو سجده سهوه وکړه نو تراویح صحیح شو د راګرځولو ضرورت نشته[2]

ـ د تراویحو په وخت کی چې خوب غلبه وکړی څه حکم لری؟

(۲۲۲ سوال) د تراویح په وخت کی که خوب غلبه وکړی او په مخ باندې او به شیندلو باوجود خوب ونه تښتی نو د جماعت پریښودو سره ویده کیدو لپاره کور ته تللی شی ؟

---

[1] ـ فاذا صلی التراویح مع الامام و لم یجدد لکل شفع نیة جاز کذا فی السراجیة (فتاوی عالمگیری فصل فی التراویح ۱/۱۱۷)

[2] ـ واضح دی وی چې ددې څلورو رکعتو څخه صرف دوه رکعته تراویح حسابیږي او دا مسئله د همدی « د تراویحو دویم رکعت کی د قعده کولو په ځای چې قیام وکړی څه حکم لری ؟ » عنوان لاندې تیر شوې ده هلته دې وکتل شي

(جواب) چې او تللی شی پدې کی څه گناه نشته د خوب غلبې په وخت کې مونځ کول مکروه او منع دی ، د خوب پوره کیدو نه وروسته به پاتې تراویح په وخت کې دننه تر (صبح صادق) پورې ادا کړی (صغیری ص ۲۱۱)

ـ که د تراویحو په رکعتو اختلاف پیدا شي:

(۲۲۳ سوال) د تراویح د رکعتو باره کې مقتدیانو کې اختلاف پیدا شو ځینې وایې چه (۱۸) شوی او ځینې وایی چې (۲۰) پوره شوی نو د چا قول معتبر دی ؟

(جواب) امام چې کوم طرف ته وی د هغوی خبره معتبره ده[*]

(۲۷۷ سوال) امام او مقتدیانو ته شک پیدا شو چې (۱۸) رکعته شوی یا (۲۰) نو څه به کوی ؟ دوه رکعته نور وکړی؟

(جواب) که شک ټولو ته وی نو دوه رکعته به نور وکړی لیکن جماعت سره نه بلکې ځان ځانته به کوی (صغیری ص ۲۰۸)

ـ ځانله ماسخوتن لمونځ کونکی تراویح او وتر جماعت سره کولی شي؟

(۲۲۴ سوال کوم سړی چې ماسخوتن مونځ ځانته کړی وی نو هغه تراویح او وتر جماعت سره کولی شي؟

(جواب) او کولی شي (صغیری)

(۲۷۹ سوال) کوم سړی چې تراویح جماعت سره نه وی کړی هغه وتر جماعت سره کولی شی ؟

(جواب) او . کولی شی[1] فقط والله اعلم.

---

[*] ((اذا سلم الامام فی ترویحة فقال بعض القوم صلی ثلاث رکعات و قال بعضهم صلی رکعتین یاخذ الامام بما عنده الخ فتاوی عالمگیری فصل فی التراویح ج ۱ ص ۱۱۷.))

[1] و اذا صلی معه شیئاً من التراویح او ولم یدر شیئاً منها او صلاها مع غیره له ان یصلی الوتر معه هو الصحیح کذا فی القنیة فتاوی عالمگیری فصل فی التراویح ص ۱۱۷.

ـ د تراویح په منځ کی سورت سره بسم الله . په زوره ووایی یا په پټه ؟

(۲۲۵ سوال) کله چې حافظ تراویح ورکوی نو د هر سورت په شروع کی بسم الله الرحمن الرحیم جهراً ووایی یا په پټه ؟ پدې باره کی دلته دوه رایه دی اول دا چې لوستل پکار دی او بله دا ده چې د امام ابو حنیفه په مسلک باندې به عمل کیږي او پوره قرآن پاک کی به یواځی یو ځای بسم لله په زوره وایی ، د هر سورت په شروع کی نه ، مونږ په کومه رایه باندې عمل وکړو؟

(جواب) د مانځه نه باهر د قرآن کریم په تلاوت کی به د قرائت د امام د مسلک پیروی کوی او په مانځه کی به د امام ابو حنیفه د مسلک پیروی کوی ، د تکبیر تحریمی نه واخله تر سلام اړولو پورې پوره مونځ د امام ابو حنیفه مسلک موافق کوی او په بسم الله کی مخالفت کوی دا به مناسب نه وی ، لکه چې فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل کی دی :

(جواب) په در مختار کی دی : ((کما تعوذ سمی .... الخ قال فی الکفایة عن المجتبی والثالث انه لا یجهر بها فی الصلوة عندنا خلافاً للشافعی و فی خارج الصلوة اختلافات الروایات والمشائخ فی التعوذ والتسمیة قیل یخفی التعوذ دون التسمیة والصحیح انه یتخیر بینهما و لکن یتبع امامه من القراء وهم یجهرون بهما الا حمزة فانه یخفیها اهـ)) (شامی ج ۱ ص ۴۵۷ باب صفة الصلوة)

لدینه معلوم شو چې په مانځه کی د حنفیانو په نزد بسم الله اتفاقاً په پټه ویل پکار دی پدې کی حنفیانو کی د هیڅا اختلاف نشته ، او مطلق مونځ کی فرض او نفل او تراویح وغیره ټول شامل دی ، او لدې عبارت نه دا هم واضح شوی چې د امام القراء پیروی خارج کی دی نه په مانځه کی او زمونږ د استاذانو حنفی علماؤ مسلک هم دا دی ، فقط (فتاوی دار العلوم ۲۶۴/۴ ، ۲۶۵) او دغه شان په امداد الفتاوی کی دی:

(جواب) د دوه سورتونو منځ کی بسم الله کیدو سره د بسم الله جزئیت نه لازمیږي د مذهب په کتابو کی تصریح دی چې بسم الله د مطلق قرآن جزء دی ، د کوم خاص یا د هر سورت جزء ندی و ددې مقتضی دا ده چې یو ځای کی جهر او په زوره ویل ضروری دی و که نه د اوریدونکو قرآن نه پوره کیږي ، ګویا قاری ته خو

حفيه او پټ لوستل هم كفايت كوى ځكه چې د خينو اجزاؤ جهر او د خينو اخفاء (پټوالى) جائز دى ، د قرائت له فن سره خو ددې مسئلى يواځى همدومره تعلق دى او وړاندې د فقه سره تعلق لرى اوپ دې كى بسم الله په پټه ويل دى ٦٠ ذى قعدى ١٣٣٥ هـ تتمه خامسه ص ٣٨ (امداد الفتاوى ٣٠٦/١) فقط والله اعلم

ـ د شلو رکعتو نه وروسته اجتماعي دعاء غوښتل څنګه دي؟

(۲۲٦ سوال) زمونږ په ځاې كې له ډيرې مودې نه آخرې ترويحې نه وروسته (يعنې د شلو رکعتو نه وروسته) د اجتماعي دعاء رواج وه ټولـو مقتديانو بـه ځـان ځانتـه انفرادي دعاء كوله او يا به ذكر كـي مشـغوليدل ، لـيكن سـږ كـال د تراويحـو امـام اجتماعي دعاء وكړه پدې باندې خينو اعتراض وكړ چې د لوى خبرې پيدا كولو څه ضرورت ؤ ؟

او خينى لور پې خوښوى چې دغه طريقه بايد جارى وساتلى شى لو پدې كى الرب الى السنة او بهتره طريقه كومه يوه ده؟ راته وضاحت وكړى ، جزاكم الله .

(جواب) د هرې ترويحې (يعنى څلور ركعتو نه) وروسته وقفـه كـول مسـتحب دى ليكن د آخرى ترويحى دومره تاكيد او اهميت نشته څومره چې اولنو څلور ترويحـو حاصل دى ، فقهاء كرامو تصريح كړې ده چې كه مقتديانو بانـدې ګـران او سـخت تمامېږي بيا به هم ترويحى نه پريدى البته مقـدار كـم كيـدى شـى لـيكن د آخـرى ترويحى باره كى ليكلى دى چې كه په مقتديانو باندې ګران او سخت تمامېږي نـو بيا دې پريدى ، لكه چې فتاوى سراجيه كى دى ((فاذا المها اى عشرين ركعة ينتظر قدر ترويحة ثم يوتر الا ان يعلم انه يثقل على القوم)) (فتـاوى سـراجيه ص ٢٠) او همدا شان په فتاوى عالمګيرى كى دى :

((و يستحب الجلوس بين الترويحتين قدر ترويحة و كذا بين الخامسة والوتر كذا فى الكافى و هكذا فى الهداية و لو علم ان الجلوس بين الخامسة والوتر يثقل على القوم لا يجلس هكذا فى السراجية ثم هم مخيرون فى حالة الجلوس ان شـاؤ و اسـبحوا و ان شاء و اقعدوا اساكتين و اهـل مكـة يطوفـون اسـبوعاً و يصـلون ركعتـين و اهـل المدينة يصلون اربع ركعات فرادى كذا فى التبيين)) (فتاوى عالمګيرى ج ١ ص ٧٤ فصل فى التراويح)

لهذا اجتماعی دعاء جاری کولو سره اختلاف پیدا کول مناسب ندی فقهاو په تولو ترویحو کی آزادی ورکړی چې انفرادی طور سره څه غواړی هغه دې کوی نو بیا آخری ترویحه دعاء لپاره خاص کول د سړی په ذهن کی نه راځی . والله اعلم.

ـ د تراویحو د ختم قرآن آخری رکعت کی د آلم نه تر مفلحون پورې لوستل :

(۲۲۷ سوال) په ترایحو کی چې کله قرآن پاک ختم کولی شی نو عام طور سره دا رواج دی چې آخری دوه رکعتو څخه ړومبی رکعت کی سورت خلق او دویم رکعت کی سورت والناس او آلم نه تر مفلحون پورې سره د الحمد لله لولی ایا په شریعت کی ددې ثبوت شته ؟

(جواب) په تراویحو کی د قرآن پاک ختم په وخت کی (۱۹) رکعت کی سورت فاتحه او معوذتین (سورت فلق او سورت والناس) او شلم رکعت کی سورت فاتحه او سورت بقره تر مفلحون پورې لوستل مستحب دی داد حدیث نه معلومېږي :

((و فی الولوا لجیة من یختم القرآن فی الصلوة اذا فرغ من المعوذتین فی الرکعة الاولی یرکع ثم یقوم فی الرکعة الثانیة یقرا بفاتحه الکتاب و شیئ من سورة البقرة لان النبی صلی الله علیه وسلم قال خیر الناس الحال المرتحل ای الخاتم المفتتح انتهی)) (کبیری شرح منیه ص ۴۶۳ تتمات فیما یکره من القرآن فی الصلوة و ما لا یکره الخ)

دا چې په خینو خایو کی رواج دی چې شلم رکعت کی خلور خلی سورت اخلاص او سورت فلق او سورت والناس او سورت بقره تر مفلحون پورې او نوری دعاګانی لولی دا طریقه ثابته نه ده ، فقط والله اعلم.

ـ ایا په تراویحو کی د قرآن پاک ختم کول د امام ذمه واری ده؟

(۲۲۸ سوال) امام صاحب پنځه وخته مونځ پابندئ سره ورکوی مګر په تراویحو کی د قرآن پاک ختم نشي کولی ، او وجه دا ده چې د څو کالو نه د تراویحو کولو عادت پاتی شوی یعنی تراویح یې ندی ورکړی ، او کمیټی والا صاحب مجبوروی او وایی چې تراویحو کی.ختم کول د امام ذمه واری ده نو اوس تپوس دا دی چې ایا واقعی په تراویحو کی دقرآن پاک ختم کول د امام ذمه واری ده؟ او امام وربانـدې مجبورولی شی ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) کله چې امام په تراویحو کی د قرآن پاک ختم نشي کولی نو په الم ترکیف سره د مونځ ورکولو ذمه دار دی او که مقتدیان د قرآن پاک اوریدو سعادت حاصلول غواړی نو ددې انتظام به پخپله کوی ، اوکه د ثواب لپاره ختم کونکی قاری پیدا نشي نو یو حافظ دی د رمضان المبارک میاشت لپاره نائب مقرر کړی ماسخوتن وغیره یو دوه مونځونه هم ورته حواله کړی او تراویح به هم ورکوی نو بیا د اجرت ورکولو گنجائش جوړیدلی شی خکه چې مجبوری ده (فتاوی رحیمیه ۱ ۳۴۹ (نوی ترتیب مطابق د همدی باب ((تراویح ورکولو باندې اجرت اخستل)) عوان لاندې ۲۳۴/۶ کې وګوری ـ مرتب)) او لدینه علاوه په کبیری کی دی : ((و اذا کان امام مسجد حی لا یختم فله ان یترک الی غیره انتهی)) (صلوة التراویح ص ۴۰۷)فقط.

ـ د سنتو د ادا کولو نه بغیرپه تراویحو کی شاملیدی شی؟

(۲۲۹ سوال) یو سړی د ماسخوتن فرض مونځ خو کړی دی مگر د تراویح شروع کیدو په سنت پاتې شوی او س دا سړی تراویحو کی شاملیدی شی یا نه؟ او د تراویحو نه وروسته سنت وکړی یا نه؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) پدې مسئله کی بغیر د سنت نه تراویحو کی شاملیدل پکاردی او سنت به وروسته کوی ((و لو فاتته و خاف لو اشتغل بهٔ تفوته متابعة الامام فمتابعة الامام اولی)).(بحر الرائق باب والوتر والنوافل) فقط والله اعلم.

چا چې د ماسخوتن لمونځ نه وکړی هغه پسې ادا کړی شوی تراویح په وخت کی دننه راګرځول ضروری دی :

(۲۳۰ سوال) د ماسخوتن مونځ وشو او چې کله تراویح شروع شوی نو هغه حافظ مخکې شو چې فرض مونځ یې نه ؤ کړی ، او دوه رکعته تراویح یې ورکړی په مقتدیانو کی چا اعتراض وکړ نو حافظ صاحب وروسته کړی شو او بیا وروسته د امام په اقتداء کی پاتې تراویح ادا کړی شوی اوس سوال دا دی چې د مقتدیانو اولنی دوه رکعته صحیح شو یا نه؟ که صحیح نه وی نو دوباره کول یې ضروری دي یا نه؟ وضاحت وکړی . مهربانی.

(جواب) پدې مسئله کی هغه دوه رکعتونه دوباره کولپکار ؤ:

((الصحیح ان وقتها بعد العشاء لا تجوز قبلها .... وهو المختار لانها نافلة سنة بعد العشاء . الی قوله و یبتنی علی انها تبع العشاء لا تجوز قبلها انه لو صلی العشاء بامام و

صلی التراویح بامام اخر ثم علم ان الامام الاول کان قد صلی العشاء علی غیر وضوء اوعلم فسادها بوجه من الوجوه فانه یعید العشاء لفسادها و یعید التراویح تبعا لها)) (کبیری ص ۳۸۵ و ص ۳۸٦ صلاة التراویح)

اول خو هماغه وخت کی راګرځول پکار ؤ او که نه وروسته تر صبح صادق نه مخکې پورې یواځی یواځی ځانته ادا کیدی شول ، اوس چې وخت ختم شو نو د هغو قضاء نشته ، استغفار به کوی ، او څومره قرآن چې په هغو دوه رکعتو کی لوستل شوی هغه دی ځان سره دوباره ولولی فقط

_ ځا چې د ماسخوتن مونځ ځانته کړی وی هغه وتر او تراویح جماعت سره ادا کولی شی همدا صحیح قول دی :

(۲۳۱ سوال) کوم سړی چې د ماسخوتن مونځ ځانته کړی وی هغه وتر او تراویح جماعت سره ادا کولی شی یا نه؟ د احمد آباد شاه عالم دار العلوم له طرفه جواب راکړی شوی دی چې وتر له جماعت سره نشي ادا کولی (بهار شریعت څلورمه حصه) په درمختار او ستاسو فتاوی رحیمیه ۲۳۹/٦ کی دی چې وتر جماعت سره کولی شی ، دا دواړه جوابونه سره متضاد دی لهذا هیله ده چې مفتی به او راحج قول راته واضح کړی جزاکم الله .

(جوا ب) صحیح او راحج دا دی چې وتر او تراویح جماعت سره ادا کولی شی :

((و اذا لم یصل الفرض مع الامام قبل لا یتبعه فی التراویح و لا فی الوتر و کذا اذا لم یصل معه التراویح لا یتبعه ، فی الوتر والصحیح انه یجوز ان یتبعه فی ذلک کله الخ)) (صغیری ص ۲۱۰ صلوة التراویح) (کبیری ص ۲۹۱ صلوة التراویح) والله اعلم.

_ که تراویح ورکونکی ته په خوشحالی سره څوک هدیه ورکړی نو قبلولی شی یانه؟

(۲۳۲ سوال) احقر په همت نګر کی دا وه کالو نه تراویح درکوم مګر الحمد لله کله هم پیسی وغیره هیڅ شئ مې ندی اخستی او خلک هم ډیر خوشحاله دی ، سږ کال څه هدیه راکول غواړی نو زه هدیه اخستو سره غریب ته ورکولی شم یا نه؟ یا خپله استعمالولئ شم ؟ او د ماسپښین مونځ هم روزانه زه ورکوم ، وضاحت وکړی ، (محمد یونس د سینګری)

(جواب) ناسو چې د اوه کالو نه تراویح ورکوی او هدیه نه اخلی که سږ کال هم هماغه خای کی تراویح ورکوی او هغه خلک دخه ورکولو لپاره اصرار کوی نو قبلولی شی چې خالص هدیه وي چې تر اوه کالو پورې دي څه نه دي اخستی نو دا ددې دلیل دی چې هدیه ده او که نوی خای وی نو بیا قبلول ندی پکار خکه چې هدیه نه ده بلکی اجرت درکولی شی خکه چې خلک د اجرت ورکولو عادت لری نو غریب ته د ورکولو په نیت هم اخستل ندی پکار ، او ماسپښین مونځ ورکولو سره ته امام یا نائب امام نه جوړېږی خکه چې کله چې ته یې د تراویحو لپاره متعین کولی نو هغه وخت کی درسره د امام یا د نائب امام خبره نه وه کړی ، فقط والله اعلم ۲۴ رمضان المبارک ۱۳۹٦ هـ.

ـ تراویحو کی چې سجده سهوه ونه کړی نو دوه رکعته به دوباره کوی :

(۲۳۳ سوال) په تراویحو کی حافظ صاحب د سجدی ایت ولوست او د یوې سجدی په خای یې دوه سجدی وکړی پدې صورت کی دده سجدی کولو سره قیام کی تاخیر کیدو په وجه سجده سهوه لازمېږي یا نه؟ که لازمېږي او سجده سهوه ونه کړی شی نو هغه دوه رکعته راګرځول واجب دی ؟ او جماعت سره راوګرځوی یا خان خانته ؟ وضاحت وکړی

(جواب) د تراویحو په مانځه کی زیاتی سجدی کولو په وجه سره تاخیر راتلو سره سجده سهوه لازمېږي که ونه کړی شی نو په وخت کی دننه راګرځول پکار دی که خلک موجود وی نو جماعت سره او که نه خان خانته دی وکړی[1] فقط والله اعلم.

ـ په ترایحو کی د قرآن پاک ختم نه وروسته شیرینی تقسیمول :

(۲۳۴ سوال) په رمضان المبارک په تراویحو کی د قرآن پاک ختم کېږي او په ختم کی شیرینی تقسیمول څنګه دی؟

(۲) شرینی یواخی د یو سړی له طرفه تقسیمولی شی ، چنده ورته نه کېږي نو دا صحیح دی یا نه؟

---

[1] ((و لا تقضى التراويح اصلاً بفواتها عن وقتها منفرداً و لا بجماعة على الاصح ..... و هى سنة الوقت لا سنة الصوم مراقى الفلاح على هامش طحطاوى ، فصل فى الصلوة التراويح ص ۲۲٦ و فى الفتاوى من ترک السنة يسئل عنها و اذا فات عن وقتها لا يؤمر بالقضاء فتاوى تاتار خانيه نوع آخر فى قضاء التراويح.

(۳) شیرینی په جوماتی کی دننه تقسیم کړی شی یا په صحن کی ؟ وضاحت وکړی (له سکرام پور نه)

(جواب) دا څه ضروری نه دی ، خلکو ضروری ګرځولی او ډیر پابندی سره پرې عمل کېږي خلک په چنده ورکولو باندی ، مجبورولی شی ، او بیا په جوماتی کی د ماشومانو اجتماع او شر و شور وغیره خرابیو او نقصانونو په وجه دغه دستور بندول پکار دی .

(۲) د تراویحو امام یا کوم بل څوک د قرآن پاک د ختم په خوشحالی کی کله کله شیرینی تقسیم کړی او د جومات د احترام خیال وساتی نو صحیح دی .

(۳) چې د جومات فرش خراب نشي ، وچ شئ وی او د جومات بې حرمتی هم ونشي نو صحیح دی خو بهتر دادی چې په دروازه کی تقسیم کړی ش ی، فقط والله اعلم ۲۷ رمضان ۱۳۹۷ هـ

- څو حافظان چې په شریکه تراویح ورکړی نو صحیح دی؟

(۲۳۵ سوال) دلته زمونږ په جومات کی څلور حافظان په شریکه تراویح ورکوی ، اولنی حافظ صاحب څلور رکعته دویم اته رکعته او دریم او څلورم څلور څلور رکعته ورکوی داسې کول صحیح دی ؟ وضاحت وکړی .

(جواب) افضل او بهتر دا دی چې یو یا دوه حافظان یو ځای تراویح ورکړی او که داسې جید او با همت حافظ نه وی او ګڼ حافظان په شریکه تراویح ورکړی نو داهم صحیح دی ((و لا فضل ان یصلی التراویح بامام واحد فان صلوها بامامین فالمستحب ان یکون انصراف کل واحد علی کمال الترویحة فان انصرف علی تسلیمة لا یستحب ذلک فی الصحیح اه)) (فتاوی عالمګیری ج ۱ ص ۷۴ فصل فی التراویح) فقط

- په تراویحو کی په سوال کی ذکر شوی کلمات ویل څنګه دی ؟

(۲۳٦ سوال) دلته خمونږ ځای کی د تراویحو شروع کولو نه مخکې یو سړی اوچت اواز سره دا کلمات وایی ((صلوة التراویح سنة رحمکم الله لا اله الا الله والله اکبر ولله الحمد)) او بیا تراویح شروع کېږي او دوه رکعتو نه وروسته دا تسبیح ((یا کریم المعروف یا قدیم الاحسان احسن الینا ربنا باحسانک القدیم یا الله یا الله فضل

من الله و نعمة و مغفرة ورحمة لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد » وایی او خلور رکعتو نه وروسته « الحمد محمد مصطفی (ص) لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد، ویلو نه وروسته یا کریم المعروف الخ » وایی او په دویمه ترویحه کی « خلیفة رسول الله بالصدق والتحقیق امیر المؤمنین سیدنا ابی بکر الصدیق (رض) لا اله الا الله وایی او په دریمه ترویحه کی « مزین المسجد والمنبر والمحراب امیر المؤمنین سیدنا عمر بن الخطاب (رض) لا اله الا الله آه وایی او په خلورم ترویحه کی « جامع القرآن کامل الحیاء والایمان امیر المؤمنین سیدنا عثمان بن عفان (رض) لا اله الا الله الخ او پنځمه ترویحه کی « اسد الله الغالب مظهر العجائب والغرائب امام المشارق والمغارب امیر المؤمنین سیدنا علی بن ابی طالب (رض) لا اله الا الله الخ وایی او « سبحان الملک القدوس الخ هم یو سړی وایی او دا ټول اوراد په اوچت آواز سره لوستل کیږي او پدې وجه نور خلک تسبیح و غیر هیڅ نشي لوستلی ، او د وترو نه مخکې « الوتر واجب رحمکم الله لا اله الا الله الخ » وایی ایا ددغو ټولو کلماتو ویل د حدیث نه ثابت دی ؟ او د ویلو څه حکم یې دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی .

(جواب) دا ټولې خبرې د سنت مطابق ندی ، دا هسې رسمی او رواجی خبرې دی لهذا دا پرینښودل پکاردی ، په دوه رکعتو باندې ترویحه نشته البته په څلور رکعتو باندې ترویحه شته او دومره د ناستی حکم دی چې مقتدیان پرې تنګ نشي او پدې کې اجتماعی ذکر او دعاء نشته ، خلک چې ځان ځانله څه وغواړی وایی که تلاوت کوی او که نفل کوی یا نور ذکر او اذکار کوی یا درود شریف وایی او یا چپ کینی دا ټول جائز دی ، یو شئ لازمی کول د شریعت ورکړی آزادی باندې پابندی لګول دی ، تفصیل لپاره فتاوی رحیمیه ۳۵۲/۱ ، اردو (نوی ترتیب مطابق په همدی باب کی « تراویحو کی هر څلور رکعتو نه وروسته دعاء کول صحیح دی یا نه ؟ » عنوان لاندې ۲۳٦/٦ وګوری - مرتب » او دا بحث (فتاوی رحیمیه انګریزی او ګجراتی اول جلد کی هم کتلی شی ، فقط.

په تراویح باندې اجرت اخستل :

(۲۳۷ سوال) حافظ صاحب خاص د الله رضا لپاره بغیر د څه عوض نه تراویح ورکوی . مقتدیان په خوشحالئ سره څه ورکړی نو څه حکم یې دی ؟ او که اول نه مقرر کولو سره ورکړی شی نو څه حکم یې دی ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) که حافظ خاص د الله رضا لپاره تراويح وركوى او مقتديان په خوشحالى سره څه وركړى نو دا جائز دى ليكن د وركولو او اخستلو طريقه عامه شوى او رواج ګرځيدلى نه ، پدې بناء د حافظ په زړه كى طمع او حرص پيدا كيږي او مونځ ګذارو ته هم د وركولو غم او فكر وى لهذا د ((المعروف كالمشروط)) قاعدى مطابق دا هم د عوض او د اجرت په حكم كى دى پدې وجه د كراهت نه خالى نه دى . موجب د ګناه دى نو حافظان صاحبان ولې خپل خان د عظيم اجر نه محرومـوى . په شامى كى دى ((و ان القراة لشئ من الدنيا لا يجوز و ان الاخذ والمعطى اثمان)) يعنى د دنيا د كوم شئ لپاره قرآن لوستل ناجائز دى ، اخستونكى او وركونكى دواړه ګنهګاريږي (شامى ۶۸۷/۱ باب فضاء القوائت مطلب فى بطلان الوصيته بالختمات والتهليل ۴۷/۵ كتاب الاجارة الاستجار على الطاعات)
په حديث شريف كى دى ((اقروا القرآن و لا تاكلوا به)) (شامى كتاب الاجارة مطلب فى الاستجار على الطاعات) يعنى قرآن پاک لولى خو دا ذريعه د كسب مه جوړوى ، لهذا حافظانو كرامو ته دا سوچ او فكر كول پكاردى چې د دنيا د څو آنو او ټكو لپاره د الله تعالى د عظيم نعمت غلط استعمال سره د ګناه ارتكاب ولى وكړى شئ ؟ اګر كه مقتديانو ته د تراويح كولـو او د قرآن پاک اوريدو ثواب انشاء الله ملاويږي (مګر دومره نه لكه څومره چې خاص د الله رضا لپاره وركونكى امام پسې ملاويږي)
حكيم الامت مولانا اشرف تهانوى رحمه الله ليكى : چې قرآن پاک اوريدل جدا عمل دى او پدې كى هيڅ كار د ثواب مانع نشته ، د هغه ثواب به وى (امداد الفتاوى تتمه ثالث ۶۳ صفحه)
كوم ځاى كى چې خاص د الله رضا لپاره ختم كونكى حافظ نه ملاويږي او د قرآن پاک اوريدو نه محروم پاتې كيږي نو بيا د مجبورى نه دا طريقه اختيارولى شى چې د رمضان لپاره يو حافظ صاحب نائب امام مقرر كړى شى او د هغه په ذمه باندې ماښام او د ماسخوتن يو دوه مونځونه وركول لازم كړى شى نو د اجرت وركولو او اخستلو د جواز صورت به پيدا شي ، پدې باره كى د احقر فتوى د مفتيانو كرامو تصديقونو سره يو ځاى ۱۳۷۱ هـ كال كى د پنځلس ورځنى اخبار ((جماعت)) سورت او مياشتنى مجله ((پيغام)) (كاوى) كى نشر شوې ده ، تفصيل لپاره د فتاوى

رحيميه اول جلد ، نوى ترتيب مطابق په همدې باب کې «تراويح ورکولو باندې اجرت اخستل» عنوان لاندې ۲۳۴/٦ کې وګورئ - مرتب) فقط والله اعلم.

ـ د تراويحو دويم رکعت کې قرائت اوږدول:

(۲۳۸ سوال) پدې مسئله کې ديني عالمان څه فرمايي چې حافظ صاحب د تراويحو اول رکعت کې مختصر قرائت کوى او په دويم رکعت کې اوږد ، سامع وايي چې اول رکعت کې اوږد او دويم رکعت کې مختصر پکار دى او حافظ صاحب وايي چې سنت لمانځه کې که اول رکعت کې مختصر او دويم رکعت کې اوږد وى نو هيڅ پروا نلرى . نو تاسو راته تفصيل سره وضاحت وکړى ، ډيره مهرباني به مو وى .

(جواب) تراويح اګر که سنت دى ليکن جماعت سره ادا کېږي پدې وجه د فرضو سره مشابه ګرځي لهذا د تراويحو دويم رکعت کې قرائت اوږدول ښه خبره نه ده او که کوم وخت کې وشي نو قابل د ګرفت هم ندى خو ددې عادت جوړول د مستحب خلاف دى ، په فتاوى عالمګيرى کې دى چې د تراويحو دويم رکعت کې قرائت اوږدول ښه خبره ده ، د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله په نزد مستحب دادى چې دواړه رکعتونه برابر وى ، او د امام مالک رحمه الله په نزد مستحب دا د ى چې د اول رکعت قرائت لږ اوږد پکاردى «و يستحب التسوية بين الركعتين عند هما و عنه محمد رحمه الله يطول القراة فى الاولى على الثانيه ، هكذا فى محيط السرخسى » (عالمګيرى ج ۱ ص ۷۵ فصل فى التراويح کبيرى ص ۳۸۷) فقط.

ـ د تراويحو نه وروسته نمبر وار هر کور کې د قرآن پاک ختم کول څنګه دى؟

(۲۳۹ سوال) زمونږ په کلي کې د رمضان المبارک مياشت د تراويحو نه وروسته د قرآن پاک د ختم سلسله جارى کړې ده په نمبر باندې هر کور ته ختم لپاره ځي او قرآن لولي ، پدې طريقه ختم کول څنګه دى ؟ لدې رواج نه خلک پريشان دى ، تفصيلي جواب سره مو مطمئن وګرځوى مهرباني.

(جواب) د قرآن پاک د ختم دغه طريقه چې نمبر په نمبر هر کور کې راټول شي ښه خبره نه ده بلکې اشتباهي او قابل ترک ده خان ځانله پخپله خوښه وبل پکار دى ، که جمع کيدو سره د ويلو شوق ولرى نو کوم ځاى کې کيناستو سره پدې طريقه

ولولئ چې هر سړی یو یو رکوع ولولی او نور ټول ورته غـوږ ونیسـي . پـدې طریقـه لوستو سره ختم هم کېږي او اصلاح هم کېږي خکه که څوک یې صحیح نشي لوستی د هغوی اصلاح به وشي او تعلیمی سلسله به شروع شي ، فقط والله اعلم

ـ که د تراویحو امام د سامع تر فتح اختسو پورې چـپ پـاتې شي نو څه حکم لری ؟

(۲۴۰ سوال) زمونږ په جومات کی تراویحو کی حافظ صاحب غلط شو وروسته سامع ورته فتح ورکړه او مکمل ایت یې ولوست او دومره وخت امام چپ ؤ او ایت دا ؤ : ((ام حسبتم ان تترکوا .... خبیر بما تعملون)) پورې نو سجده سهوه لازمېږي یـا نه؟ که واجب وی او نه وی کړی نو ددغو دوه رکعتو دوباره کول ضروری دي یا نه؟

(جواب) تراویح شوی دی د دوباره کولو ضرورت نشته ، د فتح اختسو د ضر ورت په وجه د امام چپ کیدل مفسد د مونځ نه دی او د سجده سهوه هـم ضـرورت نشـته . فقط والله اعلم.

ـ یو سړی یواځی فرض او وتر ورکړی او حافظ یواځی تراویح ورکړی نو څنګه دی؟

(۲۴۱ سوال) زمونږ جومات کی امام صاحب د ماسخوتن فرض مونځ او وتر ورکوی او بل یو حافظ صاحب تراویح ورکوی نو دا څه پروا لری؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) هیڅ پروا نه لری ، حضرت عمر (رض) بـه فـرض مـونځ اووتـر ورکـول او حضرت ابی بن کعب (رض) به تراویح ورکول ، په فتاوی عالمگیری کی دی:

((و اذا جازت التراویح بامامین علی هذه الوجه جاز ان یصلی الفریضـة احـدهما و یصلی التراویح الاخر و قد کان عمر رضی الله عنه یؤمهم فی الفریضـة والـوتر و ابـی رضی الله عنه یؤمهم فی التراویح کذا فی السراج الوهاج)) (عالمگیری ج ۱ ص ۷۴ فصل فی التراویح) والله اعلم.

ـ تراویحو کی یواځی د ښځو جماعت :

(۲۴۲ سوال) زمونږ په ځای کی دوه ښځی د قرآن حافظانی دی که دوی تراویحـو کی ختم نه کوی نو هیرېږي ورنه ، پدې بناء یو مولوی صاحب ورته د جماعت سره د تراویحو ورکولو اجازه کړې ده ، د محلی ښځی راجمع کیدو سره جماعـت سـره تراویح اد کوی په حنفی مذهب کی ددې اجازه شته یا نه؟ تفصیلی جواب راکړی ، مهربانی.

جواب : چې ښځه حافظه ده او تراويحو کې د ختم نه کولو په وجه د هيريدو احتمال دي بيا هم جماعت سره د تراويحو اجازه نشته ، خان خانته به کوي ، ښځو لپاره جماعت مکروه تحريمي دى ، اګر که تراويح وي[1]

په ما لا بد منه کې دی ((جماعت زنان تنها نزد امام ابو حنيفه مکروه است و نزد ديګر ائمه جائز است)) يعني د امام ابو حنيفه (رح) په نزد د ښځو جماعت مکروه دی او د نورو امامانو په نزد جايز دی (ص ۳۵)

ځيني علماؤ د ښځي آواز هم عورت (قابل د ستر) ګرځولي دی لکه چې ما لا بد منه ک دی ((در نوازل ګفته که آواز زن عورت است ، ابن همام ګفته که برين تقدير اګر زن قرائت به جهر خواند نمازش فاسد شود))

يعنید فقه معتبر کتاب ((نوازل)) کې دی چې د ښځي آواز عورت (قابل د ستر) دی اوحافظ ابن همام (رح) فرمايي : ددې قول مطابق که ښځه په زوره قرائت وکړ نو مونځ يې ماتيږي (ما لا بد منه ص ۳۰) او مجالس الابرار کې دی ((الا ان المراة لا ترفع صوتها لان صوتها عورة)) يعني ښځه به د تشريق تکبير لپاره آواز نه اوچتوی ځکه چې آواز يې عورت دی (سترات ص ۳۱ (۳۵) نمبر مجلس)

_ شل رکعته تراويح سنت دی يا بدعت ؟

(۲۴۳ سوال) شل رکعته جماعت سره تراويح کول سنت دی يا بدعت عمری (رض) غير مقلدين ورته بدعت عمری وايي ايا دا خبره صحيح ده؟ وضاحت وکړئ . مهرباني

(جواب) شل رکعته جماعت سره تراويح سنت مؤکد دی پدې باندې د صحابه کرامو اجماع ده او اجماع شرعی حجت دی ، لهذا دیته بدعت ويل ګمراهي او د شيعه ګانو موافقت کول دی ، حضرت عمر (رض) د خلفاء راشدينو ځخه دی او رسول الله (ص) د خلفاء راشدينو طريقي ته سنت ويلي دی عليکم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين)) (مشکوة باب الاعتصام بالکتاب والسنة ص ۳۰) او ارشاد دی : اقتدوا بالذين من بعدی ابی بکر و عمر (رض))) (مشکوة باب مناقب ابی بکر و عمر ص ۵۴)

---

[1] و يکره تحريماً جماعة النساء ولو ف التراويح قال ف الشامية تحت قوله و لو ف التراويح افادان الكراهة ف كل ما تشرع فيه جماعة الرجال فرضاً او نفلا در مختار مع الشامي باب الامامة ص ۵۶۵ .

او ابو نعیم د عروبة الکندی په حواله نقل کړی‌دی ((روی ابـو نعـیم مـن حـدیث عروبة الکندی ان رسول الله (ص) قال ستحدث بعدی اشیاء فاصبها الی ان تلزموا ما احدث عمر (رض)))

یعنی رسول الله (ص) فرمایلی دی : ما نه وروسته به ډیری خبرې را پیدا شي ماتـه به دې تولو کی زیات خوښ هغه دی چې حضرت عمر (رض) کوم شی ایجاد کړی وی تاسو تـول پـرې عمـل وکـړئ او خپـل خـان بانـدې لازم کـړی (پـه حوالـه د طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۲۳۹ فصل فی صلاة التراویح)

د صحیح بخاری شارح علامه بدرالدین عینی په بنایه شرح د هدایه کـی لیکـی : ((سیرة العمر لا شک فی ان فی فعلها ثواب و فی ترکها عقاب لانـا امرنـا بالاقتـداء بهـا لقوله علیه الصلوة والسلام اقتدوا بالذین بعدی ابی بکی و عمر فـاذا کـان الاقتـداء بهما ماموراً به یکون واجباً و تارک الواجب یستحق العقاب والعتاب)).

یعنی بغیر د شک نه د حضرت عمر (رض) په طریقه باندې عمل کول ثـواب دی او ددې پریښودلو کی عقاب دی ځکه چې رسول الله (ص) پدې مبارک قول خپل کی ((اقتدوا بالذین من بعدی ابی بکر و عمر (رض))) مونږ ته دده د اقتداء حکم شوی دی نو کله چې ددغو دواړو حضرات اقتداء مامور به ده (یعنی هغه باندې د عمـل کولو حکم شوی) نو یقیناً اقتداء کول واجب دی او د واجبو ترک کونکی د عقاب و عتاب مستحق دی (په حواله د فتاوی قیام الملـة والـدین ص ۳۷۸) او حـافظ ابـن تیمیه (رح) فرمایی :

((قد ثبت ان ابی بن کعب رضی الله عنه کان یقوم بالناس عشرین رکعة فی رمضان و یوتر بثلاث فرای کثیر من العلماء ان ذلک هو سنة لانه قام بین المهاجرین والانصار و لم ینکره منکر))

یعنی بیشکه دا خبره ثابته ده چې حضرت ابی بن کعب (رض) په رمضان کی خلکو ته شل رکعته تراویح او درې رکعته وتر ورکول ، نو اکثرو علماؤ شل رکعته سنت نبوی ګرځولی دی ځکه چې حضرت ابی بن کعب (رض) د مهاجرینو او انصـارو صـحابه حضراتو په موجودګی کی شل رکعته ورکول او چا هم وربانـدې اعتـراض او انکـار ندی کړی (که شل رکعته ثابت نه وای نو مهاجرینو او انصارو صحابه کرامو به ضرور اعتراض کولو) (فتاوی ابن تیمیه ۱۹۱/۱)

شیخ احمد رومی فرمایی ((والصحابة حینئذ متوافرون منهم عثمان و علی و ابن مسعود والعباس و ابنه والزبیر و معاذ و غیرههم من المهاجرین و الانصار و ما رد علیه واحد منهم بل ساعدوه و وافقوا و امروه بذلک وواظبوا علیها حتی ان علیاً التی اثنی علیه و دعا له بالخیر و قد قال نور الله مضجع عمر (رض) کما نور مساجد نا و قد قال النبی صلی الله علیه وسلم علیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین المهدیین من بعدی وهی عشرون رکعةً))

یعنی پدې وخت کی(کله چې حضرت (رض) حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه شل رکعته تراویح ورکولو لپاره منتخب کړ) ډیر زیات صحابه کرام موجود وو چې پدوی کی حضرت عثمان، حضرت علی، ابن مسعود (رض)، عباس (رض) او دده خوی حضرت عبد الله (رض) حضرت زبیر او حضرت معاذ رضی الله عنهم اجمعین او ددوی نه علاوه ټول مهاجرین او انصار موجود وو چا هم په حضرت عمر(رض) باندې اعتراض ندی کړی او نه یې ورباندې رد کړی دی بلکی ټولو ورسره تعاون وکړ او موافقت او تائید یې وکړ او دا یې جاری او عملی کړ او صحابه کرامو په پابندی سره شل رکعته کول تر دی چې حضرت علی (رض) د حضرت عمر (رض) صفت وکړ او دعاء یې ورته وکړه (چې د حضرت عمر (رض) د وفات نه وروسته به یې ویل) الله تعالی دې د حضرت عمر (رض) قبر له نور نه ډک کړی لکه څنګه چې عمر (رض) زمونږ جوماتونه منور کړل، د رسول الله (ص) ارشاد دی چې زما او زما د خلفاء راشدینو طریقه لازم او مضبوط ونیسی، او تراویح شل رکعته دی (مجالس الابرار ص ۱۷۸ (۲۸) نمبر مجلس فی بین کیفیة التراویح و فضلها)

محدث کبیر علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمایی: د حضرت فاروق (رض) عمل (۲۰ رکعته تراویح) امت اختیار کړی او دا شرعی سنت دی یعنی سنت مؤکد دی، د رسول الله (ص) فرمان دی ((علیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین مهدیین)) (العرف الشذی ۲٦۰/۱ باب ما جاء فی قیام شهر رمضان)

لدې عبارتو څخه واضح شو چې په شل رکعتو باندې د ټولو صحابه کرامو اجماع شوې ده لهذا دا بدعت نه دی، فقط والله اعلم.

ـ تراویحو یو ځل د قرآن مجید ختم سنت مؤکد دی:

(۲۴۴ سوال) د رمضان میاشت په تراویحو کی یو ځل قرآن پاک ختمول ففهاو سنت لیکلی دی لدینه کوم سنت مراد دی مؤکد یا غیر مؤکد ؟ مفصل او مدلل جواب راکړی جزاکم الله !

(جواب) و بالله التوفیق : د صحیح مذهب او اصح قول مطابق په تراویحو کی یو ځل قرآن پاک ختم کول سنت مؤکد دی ، د قوم د ناراستیا په وجه به نه پریښودل کېږي او دوه ختمونه کول فضیلت او درې ختمه افضل دی ، کوم ځای چې فقهاء کرامو یو ځل ختم سنت لیکلی دی د هغه ظاهراً سنت مؤکد مراد دی الخ (امداد الفتاوی ۳۰۰/۱)

((والختم مرة سنة مؤکدة (نهایه شرح هدایه ج۱ ص ۱۳۱ فصل فی التراویح) والجمهور علی ان السنة الختم مرة فلا یترک لکسل القوم .... فالحاصل ان المصابیح فی المذهب ان الختم سنة (البحر الرائق ج ۲ ص ٦٧، ٦٩ باب والوتر والنوافل) ارید الختم بالتراویح بناء علی انه سنة علی القول (مرقاة شرح مشکوة ج ۱ ص ۱۷۴ باب قیام شهر رمضان) و اکثر المشائخ علی ان السنة فیها الختم مرة فلا یترک لکسل القوم (هدایه ج ۱ ص ۱۳۱ فصل فی التراویح) (قوله و لا یترک الکسل القوم) تاکید فی مطلوبیة الختم و انه تخفیف علی الناس لا تطویل . (فتح القدیر ج ۱ ص ۴۰۹ ایضاً) السنة فی التراویح انما هو الختم مرة فلا یترک لکسل القوم والختم مرتین فضیلة والختم ثلاث مرات افضل)) (فتاوی عالمگیری فصل فی التراویح ص ۱۱۷)

((در تمام رمضان ختم قرآن شود و از کسل قوم ازین کم نکند و اگر قوم راغب باشد در تمام رمضان دو ختم یا سه ختم یا چهار ختم کند)) (ما لا بد منه ص ٦٣)

د رمضان په ټولو تراویحو کی په ترتیب سره دقرآن مجید یو ختم کول سنت دی (علم الفقه ۵۷/۲) البته ځینی فقهاو لیکلی دی که د کوم ځای خلک دومره سست ، نازړه او بې شوقه وی چې د پوره قرآن کریم آوریدو حوصله نه لری نو دومره دې ولولی چې جوماتونه د جماعت نه خالی پاتې نشي ، که داسې بد حالت نه وی نو بیا دې یو ختم څخه نه کموی ځکه چې همدا سنت دی ((لکن لا یلزم منه عدم ترکه اذ لزم منه تنفیر القوم و تعطیل کثیر من المساجد)) (البحر الرائق ٦١٩/٢ باب الوتر والنوافل)

اګر که د رسول الله (ص) څخه په تراویحو کی دقرآن مجید ختمولو باره کی کوم روایت مونږ ته ندی معلوم مګر دومره خو ثابت دی چې رسول الله (ص) صحابه کرامو سره د شپې دویمه حصی او نیمی شپی او تر پیشمنی پورې تراویح کړی دی. وګورئ (ابو داؤد ۲۰۲/۱)[1]

(ترمذی شریف و نسائی شریف و ابن ماجه شریف)

په حدیث کی دی چې رسول الله (ص) په رمضان کی څه خلک د جومات په کنج کی جماعت سره مونځ کولو کی ولیدل او تپوس یې وکړ چې دا کوم خلک دی؟ خلکو وویل: دوی ته قرآن پاک یاد ندی نو پدې وجه (قرآن پاک حافظ حضرت ابی بن کعب (رض) په اقتداء کی تراویح ادا کوی) رسول الله (ص) د هغوی تعریف وکړ چې ښه کوی (ابو داؤد شریف ۲۰۲/۱ باب قیام شهر رمضان)

لدې حدیث نه معلوم شو چې د تراویحو لپاره د حافظ امام کتلو مقصد د قرآن پاک ختم کول دی، ددی حدیث د راوی مسلم بن خالد د ثقه او معتبر کیدو باره کی ((التعلیق الممجد)) ص ۱۱ وګورئ.

د حدیث او د فقه په کتابو کی دی چې دویم خلیفه حضرت عمر فاروق (رض) د تراویحو د امامت لپاره حافظان راوغوښتل او د هغوی قرائت یې واوریدو نو تیز ویونکی ته یې د دریو ختمونو حکم وکړ (یعني په هره عشره کی یو ختم او میاشت کی درې عشری وی او د هری عشری جدا فضیلت دی) په حدیث کی دی ((اوله رحمة و اوسطه مغفرة و آخره عتق من النار) او معمولی تیز ویونکی ته د دوه ختمونو حکم وکړ او ورو (یعني ترتیل سره) ویونکی ته د یو ختم حکم ورکړ، او صحابه کرامو ته د خپل شوق او همت مطابق د مذکوره امامانو څخه یو پسې اقتداء کولو هدایت وکړ: ((عن ابی عثمان النهدی قال دعاء عمر بن الخطاب رضی الله عنه بثلثة من القراء فاستقرا هم فامر اسرعهم قرءةً ان یقرء للناس بثلثین آیة فی کل رکعة و امر اوسطهم ان یقرء خمساً و عشرین و امرا بطاهم ان یقرء للناس عشرین اية و کذا

---

[1] _ عن ابی ذر قال صمنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم رمضان فلم یقم بنا شیئاً من الشهر حتی بقی سبع فقام بنا حتی ذهب ثلث اللیل فلما کانت السادسة لم یقم بنا فلما کانت الخامسة قائم حتی ذهب حتی ذهب ینظر اللیل فقلت یا رسول الله لو نفلتنا قیامهذه للیلة قال فقال ان الرجل اذا صلی مع الامام حتی ینصرف حسب له قیام لیلة قال فلما کانت الرابعة لم یقم فما کانت الثالثة جمع اهله و نساءه والناس فقام بنا حتی ان یفوته الفلاح..... قال قلت ما الفلاح قال السحور ثم لم یقم بنا بقیة الشهر باب فی قیام شهر رمضان)

رواه الثوری عن عاصم)) (السنن الکبری مع الجوهر النقی باب قدر قراءتهم فی قیام شهر رمضان ج ۲ ص ۴۹۷) (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۳۹۲)

اوپه کبیری شرح د منیه کی دی :

((و روی البیهقی باسناده عن ابی عثمان النهدی قال دعا عمر بثلثة من القراء فاستقر هم فامر اسر عهم قراءة ان یقرا للناس بثلثین آیةً فی کل رکعة و اوسطهم بخمسة و عشرین ایة و ابطاهم بعشرین اية قال قاضی خان و قال بعضهم وهو رواية الحسن عن ابی حنیفة یقرء فی کل رکعات عشر ایات وهو الصحیح لان فیه تخفیفاً علی الناس و به تحصیل السنة وهو الختم مرةً واحدةً لان عدد رکعات التراویح فی ثلثین لیلةً ست مائة و آیات القرآن ستة آلاف و شیئ فاذا قرء فی کل رکعة عشر آیات یحصل الختم . والفضیلة فی الختم مرتین و ینبغی للامام وغیره اذا صلی التراویح و عاد الی منزل وهو یقرا القرآن ان یصلی عشرین رکعة یقرا فی کل رکعة عشر آیات احرازاً للفضیلة وهی الختم مرتین انتهی و فی الهداية و اکثر المشائخ علی ان السنة فیها الختم فلا یترک الکسل القوم قال الشیخ کمال الدین ابن الهمام قوله و لا یترک لکسل القوم تاکید فی مطلوبية الختم و انه تخفیف علی الناس لا تطویل کما صرح به فی النهاية و اذا کان امام مسجد حیه لا یختم فله ان یترک الی غیره انتهی)) (صلوة التراویح کبیری شرح منية المصلی ص ۳۸۸)

په ((صلوة مسعودی)) کی دی :

((مسئله : در تراویح سنت است که قرآن ختم کند اما صحابه (رض) در وی اختلاف است که در وی چند ختم کند بر قول امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه سه ختم در هر ده روز یکی ختم کند ، و بعضی گفته اند که یک ختم کند قاضی امام کبیری الدین میگوید که امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه سه امام میکرد از جهت گذ آردن نماز تراویح یکی را گفت تو سه ختم کن و یکی را فرمود که تو دو ختم کن و یکی را فرمود که تو یکختم کن از نگاه صحابه (رض) را امر کرد و گفت هر که قوی حال است و توانا است جای گذرید که سه ختم کنند و هر که میان حال است جای گذارید که یک ختم کنند پس دانستم که ختم کردن سنت است ، د رخواندن قراءت در دی اختلاف است امیر المؤمنین گفته است که در هر رکعتی سی آیت خواند تا کل ما رمضان سه ختم شود و در هر ده روزی یک ختم شود ظاهر روایت

آنست که در هر رکعتی‌ده آیت خواند کل ماه رمضان یک ختم شود الخ ›› (صلوٰة مسعودی فارسی ج ۳ ص ۱۸۸)

په قاضی خان کی دی :

‹‹ فصل فی مقدار القراة فی التراویح . اختلف المشائخ فیه قال بعضهم یقرء فی کل شفع مقدار ما یقرء فی صلوة المغرب لان التطوع اخف من المکتوب فیعتبر باخف المکتوبات وهو المغرب و هذا لیس بصحیح لان بهذا لقدر لا یحصل الختم فی التراویح . والختم فی التراویح مرة واحداً سنة و قال بعضهم یقراء مقدار ما یقرء فی العشاء لانها تبع للعشاء و قال بعضهم یقر ء فی کل رکعة من عشرین ایة الی ثلثین . و قال بعضهم وهو روایة الحسن عن ابی حنیفة رحمه الله یقرء فی کل رکعة عشر ایات وهو الصحیح لان فیه تخفیفاً علی الناس و به تحصل السنة و هی الختم مرةً واحداً الخ ›› (قاضی خان ج ۱ ص ۱۱۱)

امیر المؤمنیٹن حضرت عمر بن الخطاب (رض) سره به تراویحو کی د قرآن پاک ختم کولو باره کی د رسول الله (ص) څه دلیل وی او، که نه هغه به ددې حکم نه کولو او‌نه به صحابه کرامو ورسره منلی ؤ ، که چیرته د خلفاء راشدینو د ځینو کارونو صورت در سول الله (ص) په زمانه کی مونږته ښکاره نشي ، لیکن د مقاصد شرعیه ؤ په لحاظ سره هغه عین سنت او عین شریعت کیدل ضروری دی ، لهذا چا ته چې د ختم قرآن موجوده صورت د رسول الله (ص) مبارکه زمانه کی ثابت نشي هغه ته پکار دی چې د رسول الله (ص) د خاص معتمد وزیر او د عبادت ملګری د حضرت عمر (رض) فیصله د زړه نه سنت وګڼی ، د اصول فقه مشهور او معتبر کتاب ‹‹ اصول الشاشی ›› کی دی :

‹‹ والسنة عبارة عن الطریقة المسلوکة المرضیة فی باب الدین سواء کانت من رسول الله صلی الله علیه وسلم او من الصحابة رضی الله عنهم ، قال علیه الصلوة والسلام علیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین مهدیین عضوا علیها بالنواجذ ››

یعنی سنت په دین کی هغه مقبول او جاری شوی طریقی ته ویل کیږي چې هغه د رسول الله (ص) یا دده د صحابه کرامخو (رض) عمل وی ، د رسول الله (ص) ارشاد دی : زما طریقه او مانه وروسته د خلفاء راشدینو طریقه مضبوط او لازم ونیسئ (اصولی الشاشی ص ۱۰۴ البحث الرابع فی القیاس فصل فی الفرض)

پدې بناء شاه عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله لیکي . و بحقیقت سنت خلفاء راشدین هم سنت پیغمبر است . یعنی په حقیقت کی د خلفاء راشدینو سنت هم د پیغمبر سنت دی(اشعة اللمعات ۱۳۱/۱ ، الاعتصام بالکتاب والسنة)

محدث ملا علی قاری رحمه الله فرمایی : چې خلفاء راشدینو په حقیقت کی د رسول الله (ص) په سنت باندې عمل کړی ((فعلیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین فانهم لم یعملوا الا بسنتی)) (مرقاة شرح مشکوة ۲۴۲/۱ ، ملتانی)

محدث علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمایی : ((حضرت فاروق عمل (۲۰ رکعته تراویح) امت اختیار کړی‌دی او دا سنت شرعیه دی یعنی سنت مؤکد دی د رسول الله (ص) فرمان دی ((علیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین المهدیین)) (العرف الشذی ص ۳۶۰ باب قیام شهر رمضان)

خلاصه دا چې تراویحو کی یو ختم تاکیدی سنت دی او د اهل سنتو شعار هم دی ، روافض (شیعه گان) وغیره لدینه محروم دی او حفظ قرآن د قرآن پاک د بقاء لویه ذریعه ده ، که چیرته الله مه کړه دا شرعی رسم ختم شو نو د حفظ قرآن سلسله به هم ختمه شي او حافظان به عنقاء وګرځي لهذا پ هر حالت کی ددې سنت قائم ساتل په کار پدی سنت باندې د خیر القرون او د صحابه کرامو مبآرک زمانی څخه تر ننه پورې عمل کېږي او دخلورو مذهبونو علماء فقهاء ، مشائخ او محدثین رحمهم الله په خوشحالی سره عامل او متفق دی ، علامه بحر العلوم لیکي : ((و یسن الختم فیها مرة و ما زاد فحسن هکذا جری التوارث من زمان امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه الی هذا الآن و هذه الاحکام مما اتفق علیه فقهاء المذاهب الاربع من غیر خلاف (رسائل الارکان ص ۱۳۹) و ان کسل القوم من استماع القرائة مع القدرة علیه اساءة و لا یترک الختم لکسل القوم (رسائل الارکان ص ۱۳۹) و اما القراءة فالمختار الذی قاله الاکثرون و اطبق الناس علی العمل بان تقرء الختمة بکما لها فی التراویح فی جمیع الشهر فیقرء کل لیلة نحو جزءاً من ثلثین جزءاً (کتاب الاذکار للامام النووی (رح) ص ۸۳۰)))

د اسلافو عمل او ددوی توارث د فقهاؤ په نزد اهم دلیل دی ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی په ازالة الخفاء کی لیکی : ((اتفاق سلف و تعارف ایشان اصل عظیم است در فقه)) یعنی د سلفو اتفاق او ددوی توارث په فقه کی عظیم اصل دی (۸۵.۲)

د یوې مسئلې په تحقیق کې فقهاء لیکي : دا عمل د سلفو نه متوارث (مسلسل نقل) دی نو ددی اتباع او پیروی واجب دی ((لان المسلمین توارثوا هکذا فوجب ان یتبع توارث المسلمین)) (بحر الرائق ۱٦٥/۲ باب العیدین تحت قوله و سن بعد فجر عرفه)

د ځینو فقهاؤ مقوله ده چې تراویح د ختم قرآن لپاره مشروع شوی دی ((لانها ای التراویح شرعت لاجل ختم القرآن)) (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۲۴۱ فصل فی صلاة التراویح) او د محلې په هر یو جومات کې جماعت سره د تراویحو د تاکیدی حکم او د اهتمام حکمت دا ښودل شوی چې عوام کوم حافظان ندی په ترایحو کې قرآن پاک واوري او دختم قرآن د سنت او فضیلت نه محروم نشي :

((و اما قراة القرآن فی التراویح فمستحب (ای مسنون) باتفاق ائمة المسلمین بل من اجل مقصود التراویح قراءة القرآن فیها یسمع المسلمون کلام الله فان شهر رمضان فیه نزل القرآن و فیه کان جبرائیل (ع) یدارس النبی صلی الله علیه وسلم القرآن)) (فتاوی ابن تیمیه (رح) ج ۱ ص ۱۴۷)

(قال الباجی فی شرح الموطا . و انما جعل ذلک فی المساجد فی رمضان لکی یحصل لعامة الناس فضیلة القیام بالقرآن کله و سماع کلام ربهم فی افضل الشهور انتهی) (کتاب المدخل ج ۲ ص ۸۹)

صاحب د مذهب امام ابو حنیفه (رح) به په تراویحو کې یو ختم کولو ، او یو به یې ورځ کې او یو به یې شپه کې کولو په رمضان کې به یې ټول یو شپیته (٦۱) ختمونه کول (فتاوی قاضی خان ۱۱۲/۱) ، امام بخاری (رح) به هم یو ختم کولو ، (رکعات تراویح ص ۱۱۷ ، ۱۱۸)

د محدث جلیل مولانا حبیب الرحمن اعظمی تصنیف)

په عمدة الفقه کې دی : په (۱۷) رمضان المبارک کې په تراویحو کې یو ځل په ترتیب سره د قرآن مجید ختم سنت دی ، د قوم د سستیا په وجه به دا نه پریږدی (عمدة الفقه ۳٦۸/۲ د مولانا زوار حسین رحمه الله تصنیف مطبوعه پاکستان) فقط والله اعلم.

ـ په یو سلام سره د تراویحو څلور رکعته وکړل په دوه رکعتو قعده هم ونه کړه او سجده سهوه یې هم ونه کړه نو څه حکم لری؟

(۲۴۵ سوال) زمونږ په جومات کی حافظ صاحب تراویح د دوه رکعتو په ځای څلور رکعته وکړل ، کله چې دریم رکعت ته پورته کیدو نو فتح ورکړی شوه خو حافظ صاحب فتح وانخسته او په آخر کی سجده سهوه یې هم ونه کړه نو پدې صورت کی څو رکعته تراویح وشول ، او د عدم صحت په صورت کی د قرائت راګرځول ضروری دی یا نه ؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) رید چې کله دریم رکعت ته پورته کیدو او فتح ورکړې شوه نو زید ته کیناستل پکار ؤ ، خو چې کله فتح وانخسته او ودریدو او څلور رکعته یې وکړل نو په آخر کی سجده سهوه کولو سره سلام ګرځول پکار ؤ ، او پدې صورت کی د تراویح دوه رکعته صحیح کېدل او دوه رکعته نفل کیدل ، او چې سجده سهوه یې ونه کړه نو بیا یې ونه کړل او پدې صورت کی دوه رکعته تراویح وشول مګر دوباره کول یې واجب دی ، په وخت کی دننه راګرځول واجب دی خو د وخت نه وروسته قضاء نشته ، پدې څلور رکعتو کی چې څومره قرآن پاک لوستل شوی د هغه دوباره لوستل پکار دی . او که په دوه رکعتو باندې قعده کړی وی نو بیا څلور رکعته تراویح ادا کېږي او د قرائت راګرځولو ضرورت هم نشته[1] فقط والله اعلم ۲۷ رمضان المبارک ۱۳۹۸ هـ .

---

[1] ـ ((و عن ابی بکر الاسکاف انه سئل عن رجل قام الی الثالثة فی التراویح و لم یقعد فی الثانیة قال ان تذکر فی القیام ینبغی ان یعود و یقعد و سلم و ان تذکر بعد ما سجد للثالثة فان اضاف الیها رکعة اخری کانت هذه الاربعة عن تسلیمة واحدة و ان قعد فی الثانیة قدر التشهد اختلفوا فیه فعلی قول العامة یجوز عن تسلیمتین هو الصحیح هکذا فی فتاوی قاضی خان فتاوی عالمگیری ، فصل فی التراویح ص ۱۱۸ و اذا فسد الشفع و قد قرا فیه لا یعتد بما قرا فیه و یعید القراة لیحصل له الختم فی الصلوة الجائز ایضاً))

ـ د تراویحو دوه جماعتونه کول :

(٢٤٦ سوال) زمونږ په ځای کی الحمد لله حافظان زیات دی ، دې لپاره چې قرآن پاک یاد پاتې شي نو په رمضان کی مونږ دا معمول جوړ کړی چې د ماسخوتن مونځ ټول د محلی په جومات کی جماعت سره ادا کوو او بیا څه حافظان د مدرسی په تعمیر کی تراویح ورکوی چې څه نور مونځ ګذار هم شاملیږي ، او نور حافظان په همدې جومات کی چیرته چې د ماسخوتن مونځ ادا شوی تراویح ورکوی او په مدرسه کی تراویح کونکی وتر هم هلته کوی ، اوس تپوس دا دی چې د قرآن د حفاظت په نیت د تراویحو دوه جماعته کول څنګه دی ؟ وضاحت وکړی جزاکم الله (د سورت ضلع بوډان څخه)

(جواب) د ماسخوتن فرض مونځ جماعت سره په ادا کولو سره که څه حافظان او ورسره څه مونځ ګذاران تراویح او وتر د مدرسې په تعمیر کی جماعت سره پدې مقصد سره کوی کوم چې سوال کی ذکر شوی ، د جومات له جماعت نه تخلف (پاتې کېدل) مقصد نه وی نو دا صورت جائز دی ممنوع ندی ، په مدرسه کی جماعت کولو سره د جماعت ثواب ملاویږي مګر د جومات فضیلت ورته نه حاصلیږي خو د قرآن پاک حفاظت ددې عوض ګرځی (انشاء الله) په مراقی الفلاح شرح د نور الایضاح کی دی :

((وَ قال الصدر الشهيد الجماعة سنة كفاية حتى لو اقامها البعض فى المسجد بجماعة و باقامة اهل المحلة اقامها منفرداً فى بيته لا يكون تاركاً للسنة الى قوله . و ان صلى بجماعة فى بيته فالصحيح انه نال احدى الفضيلتين فان الاداء فى المسجد له ، فضيلة ليس للاداء فى البيت ذلك و فى الطحاوى و فى النهر انها فى المسجد افضل على ما عليه الاعتماد)) (مراقى الفلاح مع حاشية طحطاوى ص ٢٤٠ فصل فى صلاة التراويح)

ـ د کلی ښځو ته آورولو لپاره په لوډ سپیکر کی تراویح ورکول څنګه دی؟

(٢٤٧ سوال) په لوډ سپیکر کی تراویح ورکول څنګه دی ؟ د کلی ښځو ته آورولو لپاره په لوډ سپیکر باندې تراویح ورکول کېږي نو دا جائز دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی ،

(جواب) چې د امام آواز مونځ ګذارو ته رسیږي نو لوډ سپیکر کی مونځ کول مکروه تحریمی دی او که نه مکروه تنزیهی[۱] فقط والله اعلم.

ـ که د تراویح درې رکعته وکړی څه حکم لری؟

(۲۴۸ سوال) امام د تراویحو په دویم رکعت کی قعده ونه کړه او درې رکعته کولو سره سلام وګرځولو نو پدې صورت کی دوه رکعته تراویح ادا شو یا نه؟ خینی خلک وایی چې د نفل او سنتو درې رکعته نه وی نو پدې وجه دا درې واړه رکعتونه فاسد شو ایا دا خبره صحیح ده؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) پدې صورت کی تراویح ندی صحیح دوباره کول ضروری دی او کوم قرآن چې لوستل شوی د هغه دوباره کول هم ضروری دی ، په شامی کی دی : ((و فی التتار خانیة لو صلی التطوع ثلثاً و لم یقعد علی الرکعتین فالاصح انه یفسد)) (شامی ۱/۶۵ باب الوتروالنوافل) فقط والله اعلم.

ـ د تراویحو دوه رکعتو باندې قعده کول هیر شو او څلور رکعتو باندې قعده وکړه نو څه حکم لری؟

(۲۴۹ سوال) د تراویحو آخری قعده کی چې سهواً بغیر د قعدې نه پورته شي او څلور رکعته پوره کولو سره سجده سهوه وکړی نو یواځی دوه رکعته تراویح حسابیږي ، ایا په سنت او نفلو کی آخری قعده فرض نه ده ؟ پدې صورت کی یواځی فرضو کی تاخیر راځی او که فرض فوت کیږي ؟ وضاحت کولو سره اشکال ختم کړی (حیدر آباد)

(جواب) په نفلو کی هر دوه رکعتو نه وروسته قعده کول ضروری دی که قعده ونه کړی شی نو مونځ ماتیږي ((و فی التتار خانیة لو صلی التطوع ثلاثاً و لم یقعد علی الرکعتین فالاصح انه یفسدو لوستاً او ثمانیاً بقعدة واحدة اختلفوا فیه والاصح انه یفسد استحساناً و قیاساً اه)) (شامی ج ۱ ص۶۵۲ باب الوتر والنوافل)

---

[۱] ـ ((و یجهر الامام وجوباً لحسب الجماعة فان زاد علیه اساء قال فی الشامیة قوله فان زاد علیه اساء و فی الزاهدی عن ابی جعفر لو زاد علی الحاجب فهو افضل الااذا اجهد نفسه او اذی غیره قهستانی در مختار مع الشامی فصل فی القراة ج ۱ ص ۴۹۷ . که د ضرورت نه زیات اواز اوچتوی خو چاته تکلیف نه وی نو مکروه تحریمی ندی مګر خلاف اولی دی

البته څلور رکعته او څلورو نه زيات ٦-٨-١٠-١٢-١٤-١٦-١٨-٢٠ رکعته تراويح وکړی شي او په منځ کی قعده ونکړی شي نـو پـه سـجده سـهوه کولـو سـره د دوه رکعتـو ترايحو صحيح کيدو ځينی فقهاء قائل دی او ددغو حضراتو په نزد قعده آخر ته نقل کېږي نو د فرضو په ادا کولو کی يواځی تاخير راځی او دا پـه سـجده سـهوه سـره جبيره کېږي . تراويح سنت مؤکد دی جماعت سره ادا کېږي پدې وجه ددې درجه د فرضو او واجبو سره قريبه ده ، تش نفل ندی ، پدې وجه ځينی فقهاء د دوه رکعتو د ادا کيدو قايل دی ، په شامی کی دی :

((لکن صححوا فی التراويح انه لو صلاها کلها بقعدة واحدة و تسليمة انها تجزی عن رکعتين فقد اختلف التصحيح ا هـ (شامی ج ١ ص ٦٥٢ باب الـوتر والنوافـل) فقـط والله اعلم ١٢ شوال المکرم ١٣٩٩ هـ.

ـ په تراويحو ورکولو باندې اجـرت اخسـتل او ورکـول ولـې جائز ندی ؟

(٢٥٠ سوال) په رمضان المبارک کی تراويحو لپاره حافظ نيول کېږي او هغـه تـه د جومات له پيسو نه خرچه او خوراک او د کپړو وينځلو خرچه او په آخر کی د اجـرت په طور څه ورکول صحيح دی يا نه؟ که صحيح نه وی نو ولی ؟ پداسـې حـال کـی چې دا د مونځ ګذارو ضرورت دی ، او بالفرض کـه ورکـول صـحيح وی او جومـات دومره پيسې نلری او کوم بل سړی دا بوج په خپل سر اخستل غـواړی نـو صـحيح دی يا نه؟ وضاحت وکړی (اکهلوډ ضلع سورت)

(جواب) اصل حکم خو دا دی چې په طاعـاتو بانـدې اجـرت اخسـتل او ورکـول ناجائز دی مګر متاخرينو د دين د بقاء ضرورت ته کتلو سره تعليم القـرآن ، امامـت ، اذان وغيره څو ځيزونو باندې د اجرت اخستلو او ورکولو د جواز فتوی ورکړې ده ، يو څو ځيزونه مستثنی (جدا) کړی دی ، د جواز حکم يواځی په هغو کـی منحصـر دی او تراويح په مستثنی شوی شيانو کی ندی ، نو پدې وجـه د اصـل مـذهب پـه بنيـاد باندې په تراويحو اجرت اخستل او روکول ناجائز پاتې کېږي په شـامی کـی دی :

((و قد اتفقت کلمتهم جميعاً علی التصـريح باصل المـذهب مـن عـدم الجـواز ثـم استثنوا بعده ما عملته فهذا دليل قاطع و برهان ساطع علی ان المفتی بـه لـيس هـو

جواز الاستیجار علی کل طاعة بل علی ما ذکر وه فقط مما فیه ضرورة ظاهر تبیح الخروج عن اصل المذهب الخ)) (شامی ج ۵ ص ۳۶ ، کتاب الاجارة)
او بل د تراویحو ادا کول ختم قرآن پوری موقوف ندی په الم ترکیف سره هم ادا کولی شی او پدې کی د دین ضایع کیدل هم نشته ، فلهذا د جومات له پیسو نه حافظ ته اجرت وغیره ورکول صحیح ندی ، اصل مسئله هم دا ده . مګر مشکلات هم له نظره غورځول ندی پکار کوم چې هر کال او تقریباً د هر جومات مونخ ګذارو ته پیدا کېږي ، دې لپاره یوه قابل عمل شکل د فتاوی رحیمیه اردو ۱/۳۴۹ (د نوی ترتیب مطابق دغه فتوی په همدې باب کې ((تراویح ورکولو باندې اجرت اخستل)) عنوان لاندې په ۲۳۴/۶ کی وګوری - مرتب) په مونځ ګذارو کی که یو څوک صاحب خیر د حافظ صاحب د روژه ماتی او پیشمنی وغیره انتظام وکړی او آخر کی د هدیه یا امداد په طور څه ورکړی نو دا قابل د اعتراض ندی ، د اجرت په طور ورکول ممنوع دی فقط والله اعلم ۲۰ شوال المکرم ۱۳۹۹ هـ.

ـ د ترایحو لپاره چې نائب امام ونیول شي نو د اصلی امام له تنخوا نه کمولی شی یا نه؟

(۲۵۱ سوال) د تراویحو لپاره چې نائب امام مقرر شي او د ماسخوتن او د سحر مونځ هم ورته حواله کړی شی نو پدې صورت کی د جومات د پیسو نه تنخوا ورکول صحیح دی نو چې د اصلی امام نه د ماسخوتن او د سحر مونځونو بار کم شو لهذا دده د تنخواه نه کمولی شی یا نه ؟ وضاحت وکړی.
(جواب) اصلی امام صاحب هم پنځه مونځونو کی حاضر دی (او دا معامله هم یواځی د یوی میاشتی ده) نو پدې وجه د هغه د تنخواه کمولو هیڅ وجه نشته ، فقط ۲۰ شوال المکرم ۱۳۹۹ هـ

ـ هلک چې د پنځلسو کالو شي نو هغه شرعاً بالغ دی تراویح ورکولی شی:

(۲۵۲ سوال) زما د پیدائش ۲۶ جون ۶۴ عـ دی د انګریزی تاریخ په اعتبار سره د رمضان اول تاریخ سره زما عمر پنځلس کاله کېږي نو زه سږ کال تراویح ورکولی شم یا نه ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) كله چې ستا عمر د رمضان په اول تاريخ كې د انگريزى تاريخ په اعتبار سره پنځلس كاله كېږي نو د هجرى تاريخ مطابق خو په طريقه اولى سره كېږي نو پدې بناء تراويح وركولى شى ، د پنځلسو كالونه مخكې كه د بلوغت علامى (احتلام و انزال او حمل) ونه موندل شي نو د پنځلس كالوهلک (او همدا شان جينئ) شرعاً بالغ گڼل كېږي ، په در مختار كې دى :
((فان لم يوجد فيهما شيئ فحتى يتم لكل منهما خمس عشر سنةً به يفتى لقصر اعمار اهل زماننا)) (در مختار ۱۳۲/۵ فصل بلوغ الاحتلام الخ كتاب الحجر)) فقط والله اعلم.

ـ مقرر امام د تراويح وركولو حقدار دى :

(۲۵۳ سوال) زه په جومات كې امام يم او ما د مقرريدو وخت كې دا شرط لگولى چې تراويح به زه پخپله وركوم اوس د جومات متولى زما په موجودگى كې بل حافظ راوستل غواړى (او زه پرې خفه يم) نو ددوى دا كار جائز دى ؟ د تراويح وركولو زيات حقدار څوک دى ؟ وضاحت وكړى جزاكم الله
(جواب) د تراويح وركولو حق د امام دى كه امام نشي وركولى او يا اجازه وركړى نو بل حافظ ته حواله كولى شى[1] فقط والله اعلم.

ـ كه كور كى بالغ حافظ په اقتداء كى محرم او غير محرم ښځى تراويح وكړى څه حكم لرى؟

(۲۵۴ سوال) كه كوركى كوم بالغ حافظ تراويح وركړى او دوه درې كسان نور هم وى او وروسته پر دې شاته ښځى هم جماعت كى شاملى شى چې محرم او غير محرم دواړه پكې وى نو جائز دى يا ناجائز ؟ وضاحت وكړى جزاكم الله .
(جواب) بالغ حافظ هلک د محرم ښځو امامت كولى شى او ورسره غير محرم ښځى پردى پابندى كولو سره هم شامليدى شى ، البته كه د فتنى خطره وى نو بيا د نا محرمو ښځو شاملول جائز ندى ، پدې د فتنو ډک دور كى چې ښځى خپلو كورو كى

---

[1] ـ ((سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول من زار قوما فلا يؤمهم رجل منهم ...... والعمل على هذا عند اكثر اهل العلم من اصحاب النبى صلى الله عليه وسلم وغير هم قالوا صاحب المنزل احق بالامامة من الزائر و قال بعض اهل العلم اذا اذن له فلا باس ان يصلى به ترمذى باب ما جاء من زار قوماً فلا يصل علم ج ۱ ص ۸۲))

تراویح وکړی همدا ورته افضل او بهتر دی او پدې کی ورته زیات ثواب ملاویږي
فقط والله اعلم.

ـ د ختم په شپه حافظانو ته د ګلونو هارونه په غاړه کول :

(۲۵۵ سوال) څمونږ جومات کی د ختم په شپه پدې شپه د حافظ د عزت او احترام لپاره د ګلونو هارونه ورته په غاړه کولی شی دا کار څنګه دی ؟ ایا په کوم کتاب کی ددی ثبوت شته ، زه پخپله حافظ یم ، سږ کال مې تراویح هم ورکړی او اعتکاف مې هم کړی ، ماته دا خوښ ندی و که زه ورته دا ووایم چې زما اعتکاف خرابیږي ، داسې دروغ ویلو سره د هار اغوستو نه انکار کولی شم یا نه؟

(جواب) د ختم قرآن په شپه حافظانو ته د ګلونو هارونه په غاړه کولی شی دا بنه رواج نه دی قابل د ترک دی او دی کی اسراف هم دی ، که د حافظا نو احترام او عزت مطلب وی نو عربی رومال یا شال ورته ولی نه په غاړه کوی ؟ که تاسو هار په غاړه کول نه غواړی نو دې لپاره د دروغ ویلو اجازه نشته بلکی صفا وینا په کار ده چې دا رواج زمونږ خوښ ندی او دا د شریعت نه خلاف دی ، فقط والله اعلم.

(۱) په رمضان کی د امام او مؤذن لپاره چنده کول (۲) تراویحو کی د ختم په شپه شیرینی تقسیمول (۳) امام خپل شاګرد ته د ختم په شپه تحفه کی ګهړی ورکول

(۲۵۶ سوال) محترم او مکرم حضرت مفتی صاحب مدظله ، د مسنون سلام او احترام نه وروسته عرض دا دی چې زمونږ جومات کی له پخوا نه دا طریقه را روانه ده چې په رمضان المبارک میاشت کی امام او مؤذن لپاره چنده کولی شی خلک په خوښه چنده ورکوی او حالدا چې د امام صاحب (۱۲۵) او د مؤذن (۱۰۰) روی تنخوا مقرر ده ، په چنده کی معقول رقم (پیسې) جمع کیږي ، مونږه تیر کال د سهولت لپاره د دریو کسانود چندی کمیتی جوړه کړه چې هغوی په ډیر شوق اومحنت سره د پخوا پشان چنده کولو سره معقول رقم راغونډ کړ مګر د سوء اتفاق نه د مخکې کالو په نسبت ۵۰ ، ۶۰ روپی کمه وشوه ، د چندی جمع شوی رقم د

---

۱ ـ ((و یکره حضور هن الجماعة و لو جمعة و عید و وعظ مطلقاً و لو عجوزاً لیلا علی المذهب المفتی به لفساد الزمان .... کما تکره امامة الرجل لهن فی بیت لیس معهن رجل غیره و لا محرم منه کاخته او زوجته او امته اما اذا کان معهن واحد ممن ذکر او امهن فی المساجد لا در مختار علی هامش شامی باب الامامة ج ۱ ص ۵۳۹)).

کمیټې یو رکن امام صاحب نه ورکړ خو هغه په خفګان سره وویل چې پدې پیسو به زما څه وشي ؟ لهذا په دویمه د چندی کمیټې یو رکن جوماټ کې دا اعلان وکړ چې د افسوس خبره ده چې امام صاحب لپاره چنده کمه وشوه پدې وجه پاتې حضرات دې د زړه په خوشحالی سره په چنده کې برخه واخلئ ، لدینه وروسته څه نوره چنده هم غونډه شوه چې د مخکې کلونو نه زیاتې پیسې جمع شوی ، ددې با وجود هم امام صاحب شکایت کوی او خلکو ته ګیلې کوی او دا هم وایی زما اراده وه چې چنده واپس کړم ، پدې وجه له تاسو محترم نه یو څو تپوسونه کوو ، امید دی چې جوابونه راکړی :

(۱) که د ډیری مودی نه رمضان المبارک کې د امام او مؤذن لپاره د چنده کولو رواج را روان وی نو پدې رواج باندې د متولی او مقتدیانو عمل کول څنګه دی ؟

(۲) امام صاحب چې د چندی رقم کم ښودلو سره د خپل حق اظهار وکړی نو داسې امام پسې تراویح کول او د داسې امام تراویح ورکول څنګه دی؟

(۳) چې مقتدیان دغه چنده د امام او مؤذن حق ګڼلو سره ورکړی او امام او مؤذن هم دا خپل حق وګڼی او واخلی څه حکم لری؟

(۴) د هدیه ، او تحفی رقم که رسماً ورکړی شی څه حکم لری؟

(۵) د تراویحو په ختم کې د شیرینی تقسیمول څنګه دی ؟

(٦) په جوماټ کې یوه نوی طریقه جاری کړی شوې ده هغه دا چې نوموړی امام تراویح ورکولو لپاره خپل یو شاګر مقرر کړ او د ختم په ورځ د ټولو په وړاندې جوماټ کې خپل شاګر ته یوه ګهړی تحفه ورکړه یو سړی را پاڅید او د امام صاحب د تحفی قدر کولو سره وویل : ((دا مونږ لپاره د شرم خبره ده)) تحفه مونږ ته ورکول پکار ؤ ، دامام صاحب دا کار صحیح دی ؟

(جواب) (۱-۲) چې د امام او مؤذن لپاره معقول او مناسب تنخوا نه دی او پدې بناء چنده وکړی شی او مقتدیان یې په خوشحالی سره چنده ورکړی او د تنخوا کمې پوره کړی شی او چنده هم جبراً (په زوره) نه غواړی نو بیا څه پرواه نه لری، که پدې طریقه د امام او مؤذن امداد ونه کړی شی نو ګذاره به څنګه کوی ؟ او څنګه خان وساتی ؟

بهتر خو دا دی چې معقوله تنخوا ورکړی شی او د چندی رواج ختم کړی شی ، فقط .

(۳) که چنده د تراویح ورکونکی د اجرت په طور سره کېږي نو دا طریقه صحیح نه ده او تراویح ورکول.هم اشتباهی گرځی . فقط.
(۴) که چنده ورکونکی په خوشحالی سره ورکوی اؤ د امام او مؤذن مدد کول مقصود وی نو بیا څه پروا نشته ، فقط.
(۵) د شیرینی تقسیمولو لپاره د جومات وقف شوی رقم استعمالول یا چنده کول صحیح ندی البته که یو څوک پخپله خوښه شیرینی تقسیموی نو بیا قابل د اعتراض ندی فقط.
(٦) د امام خپل شاگرد ته حوصله افزائی لپاره تحفه ورکول صحیح دی قابل د اعتراض ندی اخلاص شرط دی ، په مونځ گذارو کی هر څوک تحفه ورکولی شی . د تراویح ورکونکی د اجرت په طور باندې ورکول او اخستل صحیح ندی فقط والله اعلم ۵ رجب المرجب ۱۴۰۱ هـ.

ـ تراویح باره کی یو اهم سوال :

(۲۵۷ سوال) زمونږ پدې خای د جومات او مدرسو انتظام چلولو لپاره هر کال په انتخاب سره یو کمیټی جوړولی شی چې دغه کمیټی والا بیا د جوماتونو او د مدرسو انتظام چلوی او یوه پکې د جوماتونو کمیټی وی ددوی کار د مدرسینو او د جوماتو امامان مقررول دی ، په کمیټی کی زیات و کم دیندار خلک وی مگر علماء پکې ډیر کم وی او نه ورنه مشوره اخستی شی ، اکثریت د عوامو وی .
د رمضان شریف نه مخکې د تراویحو لپاره حافظان صاحبان هم دوی مقرروی او د حافظانو مقرری پدې شکل وی چې د جومات په بورډ باندې لیکل کېږي یا اعلان کېږي چې څوک د تراویح ورکولواراده لری هغه دې تحریری یا زبانی درخواست د جومات کمیټی ته ورکړی ، اوس د راتلونکو درخواستو یا د کمیټی مقرر کړی حافظانو کی نه ددی خبرې تحقیق کېږي چې د کومو حافظانو قرآن پاک کچه دی او د کومو پوخ دی . د چا تلاوت صحیح دی او د چا غلط ؟ یا هغه د تجوید نه خبر دی یا نه؟ البته ددې خبرې خیال ساتی چې تراویح ورکونکی تیز رفتار وی په کم نه کم وخت کی شل رکعته وکړی اگر که اوریدونکی د یعلمون او تعلمون نه علاوه په هیڅ پوهـ نشي . او کمزروی او بوډاگان په رکوع و سجدو باندې ستړی شي ، او ورسره دیته هم کتل کېږي چې د هغه آواز ښایسته وی د تجوید او ترتیل رعایت کوی او یا نه ، مد ، غنه ، اخفاء ، ادا کولی شي یا نه ، د حروفو ادا کول صحیح

دی یا نه . او ورسره دیته هم کتل کیږي چې د چا خـوی دی د ذمـه وارو او غتمانو ز'منو ته فوقیت او ترجیح ورکول کیږي

اوس سوال دا دی چې تراویحو لپاره د حافظانو د انتخاب کولو اهل څوک دی ؟ او کوم قسم حافظان باید انتخاب کړی شـی ؟ د تـراویح د مـونځ او د قـرآن شـریف د تلاوت د صحیح کیدو لپاره کوم شرطونه دی ؟ دا تفصیل سره ولیکئ تر څو ددې په رڼا کې په زرګونه مسلمانان د مونځ او تراویح په شان عظیم عبادت په صحیح طریقه باندې ادا کړی شی ، جزاکم الله

(جواب) د جوماتونو او تراویح لپاره د امامانو انتخابول د علماؤ او حافظـانو کرمـو کار دی د غیر علماؤ او غیر حافظانو (عوامو) د علماؤ او حافظانو د مشوری نـه بغیـر دا کار کول د ډیرو خرابیو سبب او د قیامت له علامو څخه دی .

حکیم الامت حضرت تهانوی (رح) فرمایی : ((غرض دا چې نن صبا هر سړی مفسـر او مترجم دی او هر یو په شریعت کې رایه ورکوی ګویا چې شریعت باندې پوهیدل د ټولو فنونو څخه آسان دی ، حال دا چې دا خو الهی قانون دی ، کله چې د دنیا بادشاهانو په قوانینو باندې هر سړی نه پوهیږي بلکې خاص وکیلان او بیرسـټران او د هائی کورټ قاضیان (ججان) پرې پوهیدلی شی نـو الهـی قـانون څنګـه دومـره آسان ښکاری ؟)) (وعظ ، الباب ص ۱۸)

تراویح سنت مؤکد دی اوپ‌ـې کې ختم قرآن هـم سـنت دی فضـائل رمضـان دی وکتلی شی ، د رمضان په تراویحو کې یو ختم کول سنت دی دوه یـا درې ختمونـه کول مستحب او افضل دی ، لهذا په پوره صـحت او اطمئنـان سـره یـو خـتم کـول ضروری دی ، مونږ چې څنګه عمل کوو زمونږ نه وروسته نسل به هم هماغسې اهتمام کوی او که مونږه برای نام په زوره تراویح وکړو نو وروسته راتلـونکی نسـل بـه هـم دغسې کوی ددی ذمه وار مونږه یو او په ګناه کې به هم شریک یو.

د قرآن کریم په لوستو کې د صحت لحاظ کول بـې حـده ضروری دی ، د حروفـو بدلیدو سره یعنی س په خای صا ، ث او د ص په خای ښ ، ث او د ض په خای ز ، ذ او د ذ په خای د ض ، ز ، او د ت په خای ط او د ظ په خای ت وغیره لوستلو سره لحن جلی لازمیږي اوکله دا قسم غلطی سره معنی بدلیدو سره مـونځ فاسـدیږي ، د مد غنه ، اخفاء او اظهار غلطی لحن خفی دی پدې سره مونځ خو نه فاسدیږي مګر د ډیرو فضیلتونو څخه محرومیږي چې د رمضان المبـارک غونـدی مقـدس او مبـارک

میاشت کی، هم په تراویحو کی با قاعده او پوره دلچسپی او ذوق او شوق سره د قرآن پاک ختم ونه کړی شی نو لدینه زیات محرومی به نور څه وی ؟
په مجالس الابرار کی دی :
((فانهم قد جعلوا التراویح عادةً لا عبادةً یتقرب بها الی الله تعالی علی ما شرطه رسول الله صلی الله علیه وسلم فیها من القرائة و غیرها فیتخذون صلاتها خلف امام لا یتم الرکوع والسجود والقومة والجلسة و لا یرتل القرآن کما امر الله به بل هو من غایة السرعة یقع فی للحن الجلی بترک بعض حروف الکلمة او حرکاتها ... الخ))
یعنی دغو خلکو تراویح یو عادت جوړ کړی نه هغه عبادت چې قرب الهی پرې حاصل کړی د هغو شرطونو موافق چې رسول الله (ص) په تراویحو کی قرائت وغیره شرط کړی دی ، نو داسې امام پسې مونځ کوی چې پوره طور سره رکوع ، سجده ، قومه او جلسه نه کوی ، او لکه څنګه چې د الله تعالی حکم دی هغه شان صفا صفا قرآن پاک نه لولی بلکی نهایت تیزی په سبب ځینی حروف یا حرکات پاتې کیدو ښکار غلطی کېږي .
او فتاوی برازیه کی دی چې غلط لوستل په اتفاق سره حرام دی ، او بله فتوی کی دی :
که امام غلط لولی نو پدې کی هیڅ مضائقه او حرج نشته چې انسان خپل جومات پریدی او بل جومات ته لاړ شي او په تلو سره هغه نه ګنهګارېږي څکه چې د هغه مقصد یو پرهېزګار سړی پسې مونځ کول دی ، او رسول الله (ص) فرمایلی دی : چا چې یو پرهېز ګار د عالم پسې مونځ وکړ لکه چې یو پیغمبر پسې مونځ وکړی ، او پدې کی دې خبرې ته اشاره ده چې که د څه شرعی عذر له وجې د محلې جومات پریدی نو نه ګنهګارېږي نو د هغو خلکو به څه حال وی چې بغیر د عذر نه جومات ته نه ځی او یا داسې جوماتو ته ځی چې هلته قسماقسم اوازونه او غلطی کېږي او داسې امام ګوری چې نه صحیح طریقی سره سجده کوی او نه ترتیل سره قرآن لولی بلکی ځینی وختو کی په داسې امام باندې له هغه نه تښتی او هغو خلکو سره شاملېږي چا چې خپل دین لوبی او ټوقی جوړ کړی‌او دنیاوی ژوند په غفلت کی اچولی او د آخرت نه غافل دی .
نو بیشکه چا چې پداسې طریقه تراویح وکړل چې قومه ، جلسه او طمانینة (چې ادنی مقدار یې په رکوع او سجده کی یو ځل تسبیح ویلو برابردی) پریدی نو هغه

گنهکار دی ، او د دوزخ د عذاب مستحق گرځی ځکه چې دا ټول شیان د امام ابو یوسف او امام شافعی په نزد بانـدې فرض دی ددې شیانو پرېښـودو سره د دغو حضراتو په نزد باندې یو روایت کی واجب دی ، ددې په پرېښـودو سـره د مـونځ دوباره کول واجب گرځی او دویم روایت دا دی چې دا شیان سنت دی او ددې روایت مطابق ددې شیانو پرېښودونکی مستحق د عتاب او شفاعت نه محرومېږي او د هغو خلکو څخه حسابېږي چې د هغو کوشش او محنت ضایع شوی وی او هغوی خیال کوی چې مونږه ښه کار کوو ، او د هغو خلکو څخه گرځی چا تـه چـې د الله تعالی له طرفه هغه څه ور پیښل شول چې گمان یې هم نه کولو او دا ښکاره تاوان او لوی نقصان دی ،

دلته یوه بله نکته ده چې هغه ته متوجه کیدل ضروری دی تر څـو کـوم سړی کـی چې انصاف او حق ته میلان وی هغه به لدینه نصیحت حاصل کړی او هغـه داده : تراویح شل رکعته دی او په هر رکعت کی یوه قومـه او یـوه جلسـه ده او بیـا پـدې دواړو کی طما نیت (یعنی دا په اطمئنان سره ادا کول) ضروری دی اوپه قومـه او جلسه هریو کی طمانیتة پرېښودل گناه ده که لدې دواړو څخه په یوه کی طمانیـت پاتې شي نو شل گناهونه شول او که په قومه او جلسه دواړو کی طمانیت پاتې شـی نو څلوېښت گناهونه شول او که دا دواړه (قومه او جلسه) پاتې شـی نـو ټـول اتیـا گناهونه شول او که لدې سره د اظهار گناه هم یو ځای کړی شی نو ټول یـو ځـای کولو سزه یو سل شپیته گناهونه شول او که دې سره ددغه مونځ نه راگرځولـو گناه هم یو ځای کړې شي نو یو سل اتیا گناهونه کېږي او لدې سره د مـذکوره څیزونـو ترک کول ددې سبب گرځی چې پـه انتقـالاتو کـی کـوم اذکـار دی هغـه ټـول د انتقالاتو نه وروسته ادا کړی شي او ددغو اذکار د انتقالاتو نه وروسته ادا کولـو کـی دوه قباحتونه دی یو پخپل موقع کی نه ادا کول او دویم بې ځایه ادا کول نو اوس په هر رکعت کی څلـور مکـروه شـول او ددې پـه وجـه د څلـورو سـنتو تـرک کـول لازمېږي، ځکه چا چې قومه یا ددې اطمئنان پرېدی نو سمع الله لمن حمده او الله اکبر د تیتیدو وخت کی ادا کېږي بلکی الله اکبر په سجده کی واقع کېږي او سـنت دا دی چې سمع الله لمن حمده د رکوع نه سر اوچتولو وخت کی وویل شي او الله اکبر دی سجدی ته د تیتیدو په وخت کی وویل شي ، همدا شان که جلسه یا ددې اطمئنان پرېدی نو د اول تکبیر څه حصه ښکته کیدو وخت کی ادا کېږي ، بلکـی د

دویم تکبیر څه حصه سجده کی واقع کېږي ، همدا شان که جلسه یا د دی اطمنان پریدی نو د اول او حال دا چې سنت اوس په ټولو رکعتو کی د مکروهاتو شمیر انیا ته رسي ، د چا په وجه چې د اتیا سنتو پرېښودل لازمېږي او چې ورسره ددې مکروهاتو د اظهار ګناه هم شامل کړی شی نو اوس جمله یو سل شپیته مکروهاتو ارتکاب او یو سل شپیته سنتونه پاتې شول ، اوس کوم سړی چې د رمضان المبارک په شپو کی هره شپه فقط تراویحو کی اتیا ګناه او یو سل شپیته مکروهات کوی او یو سل شپیته سنتونه پریدی نو ایا داسې سړی په عاقلانو کی حسابېږي ؟ او حال دا چې د هر سنت په پرېښودو کی یو خاص عتاب او د شفاعت نه محرومی دی نو ایا کوم عقل مند به داخبره خوښه کړی ؟ چې خپل ځان د رسول الله (ص) د شفاعت نه محروم کړی ، د چا شفاعت چې د الله تعالی تمام مخلوق حتی انبیاء ، اولیاء او صلحاء غوښتونکی دی ، الله تعالی دې مونږ له محرومو خلکو نه ونه ګرځوی ، آمین ثم آمین ، (مجالس الابرار ص ۱۹۱ (۲۹) مجلس فی بیان کیفیة التراویح و فضیلتها)
د مجالس الابرار د مصنف دغه تفصیلي بیان بیا بیا ولولئ او بیا خپلو تراویحو ته وګورئ چې زمونږ په تراویحو کی دا ټول خرابیانی شته یا نه؟ که نه وی نو د الله تعالی شکر ادا کړی او که وی نو ددې خرابیانو د اصلاح کوشش وکړئ او دا هغه وخت کی کیدی شی چې امام او تراویح ورکونکی صحیح حافظ د سنت مطابق مونځ ادا کونکی وی او مقتدیان هم په ذوق و شوق سره دغه عظیم عبادت ، د قرب الهی ذریعه ګڼلو سره د ادا کولو فکر وکړی که لږ وخت زیات ولګی خیر دی څکه چې په عبادت کې لګېږي .
تیز لوستل مطلقاً قابل د مذمت ندی ، پدې وجه قاریانو د قرائت درې درجې مقرر کړی دی ، ترتیل ، تدویر ، حدر ، په ترتیل کی ورو لوستل کېږي او په تدویر کی لږ تیز او په حدر کی د هغه نه هم تیز مګر شرط دا دی چې په صحت او صفائی کی هیڅ قسم خرابی رانشي .
د الله تعالی د تراویحو قدر وپیژنی او پدې کی د کیدونکو غلطیو اصلاح کړئ ، الله تعالی دی ټولو مؤمنانو ته توفیق ورکړی ،آمین ثم آمین ، فقط والله اعلم.

ـ په کورو کی ښځو ته تراویح ورکول څنګه دی؟

(۲۵۸ سوال) که حافظ قرآن د خپل کور ښځو ته (چې محرم او غیر محرم ښځی هم وی) تراویح ورکړی نوڅنګه دی ؟ او که د محلی لس شل ښځی هم پدې

جماعت کی شریکیدو سره د حافظ قرآن نه په تراویحو پوره قرآن اوریدل غواړی نو ددې اجازه شته یا نه؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) (۱-۲) چې د کور سړی حافظ قرآن وی او هغه کور کی تراویح ورکوی او هغه پسې د کور محرم او غیر محرمی ښځې تراویح وکړی نو جائزدی ، خو محلـه یـا کلی کی د ښځو راغوندولو اجازه نشته ځکه چې د فتنی او دفساد زمانه ده که اجازه وای نو بیا د جومات ولی منع کولی شی ؟ په در مختار کی دی :

((کما تکره امامة الرجل لهن فی بیت لیس معهن رجل غیره و لا محرم منه کاخته او زوجته او امته اما اذا کان معهن او امهن فی المسجد لا در مختـار مـع الشـامی بـاب الامامة ج ۱ ص ۵۲۹))

یعنی دا مکروه دی چې سړی کور کی ښځو ته امامت وکړی او هغـو ښـځو سـره نـه خوک سړی وی او نه د امام کوم محرمی ښځې لکه د امام خور یا ښځه ، او که چې کوم سړی یا کومه محرمه ښځه ورسره وی نو بیا مکروه ندی ، فقط والله اعلم.

ـ که د ماسخوتن مونځ ځانله ادا کولو نه وروسته جماعت کی شامل شي نو دغه جماعت والا څلور رکعته تراویحو کی حسابیږي؟

(۲۵۹ سوال) په رمضان شریف کې یو بیمار سړی کور کی د ماسخوتن مـونځ وکـړ ، بیا ورته لږ همت پیدا شو او جومات ته لاړ چې جماعت شروع ؤ هغه سړی د تراویحو په نیت جماعت کی شامل شو نو دا څلور رکعته په تراویحو کی حسابیږي یا نه؟

(جواب) صحیح دا دی چې تراویحو کی نه حسابیږي ځکه چې د تراویحـو درجـه اګر که د فرضو نه کمه ده مګر دا یو مخصـوص او مسـتقل سـنت مؤکـد دی ددې د خصوصیت لحاظ ساتل ضروری دی ، په فتاوی قاضی خان کی دی :

((اذا صلی التراویح مقتدیاً بمن یصلی المکتوب اختلفوا فیه والصحیح انه لا یجوز (فصل فی نیة التراویح ص ۱۱۱ ج ۱) (و متنفل بمفترض فی غیر التراویح) (تنـویر الابصار) اما فیها فلا یصح الاقتداء بالمفترض علی انها تراویح بل یصـلی علـی انهـا نفل مطلق)) (شامی ص ۵۵۲ ج ۱ باب الامامة) فقط والله اعلم بالصواب .

ـ ایا جماعت والا لمونځ قضاء کی حسابیږي ؟

(۲٦۰ سوال) پورته ذکر شوی صورت کی که د قضاء په نیت شامل شي نو قضاء کی حسابیږي یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی قضاء نه صحیح کېږي خکه چې امام و قتی مونخ کوی او مقتدی قضائی دا دواړه مونخونه په صفت کی سره یو ندی ، په ((نور الایضاح)) کی دی :

((و ان لا یکون الامام مصلیاً فرضاً غیر فرضه (۸۱ باب الامامة) (و) لا (مفترض بمتنفل و بمفترض فرضاً آخر) (در مختار) قوله و بمفترض فرضاً آخر سواء تغایر الفرضان اسماً او صفةً کمصلی ظهر الامس بمصلی ظهر الیوم)) (در مختار مع الشامی ص ۵۴۲ ج ۱ باب الامامة)

ـ د جومات نه بره او لاندې د تراویحو دوه جماعتونه:

(۲٦۱ سوال) زمونږ پدې ځای کی په رمضان المبارک کی د ماسخوتن نه وروسته په جومات کی دننه د یوی او پاو باندې یوی سیپاری تراویح کېږي او د جومات په چت باندې د دریو سیپارو تراویح کېږي ، نو په یو جومات کی پدې شکل دوه جماعتونه کیدی شي ؟ وضاحت وکړی او راهنمایی وکړی جزاکم الله (د سورت ابراهیم دادا له طرفه)

(جواب) بهتر او ښه صورت دا دی چې ټول خلک د ماسخوتن مونخ یو جماعت سره ادا کړی او بیا وروسته کوم خلک چې د دریو سیپارو تراویح کول غواړی هغوی په کوم کور کی وکړی ، د جومات په چت یا د جومات دویم منزل کی ونه کړی ، دویم منزل ته ختل هم د چومات چت ته ختلو په حکم کی دی ، د شرعی ضرورت په وخت کی بره ختل پکاردی ، مزید تفصیل اودلائلو لپاره فتاوی رحیمیه ۳۰/۳، ۳۱ (نوی ترتیب مطابق په مکروهات صلوٰة کی ((د ماسخوتن مونځ او تراویح د جومات په چت باندې ادا کړې شی الخ)) تر عنوان لاندې ۱۳۷/۵ کی وګوری - مرتب) او په شپږم جلد ص ۴۴۸ ، ۴۴۹ (نوی ترتیب مطابق د باب الامامة والجماعة په باب کی ((د جومات په چت باندې جماعت کول)) عنوان لاندې ۱۴۲/۵ کی وګوری - مرتب) فقط والله اعلم ۱۷ شعبان المعظم ۱۴۱۰ هـ.

ـ د جومات مستقل امام د تراویح ورکولو اجرت اخستی شي یا نه؟

(۲٦۲ سوال) په تراویح باندې اجرت اخستل جائز دی یا نه؟ زید چې د یو جومات امام دی او په همدې جومات کی تراویح ورکوی هغه وایی د رمضان المبارک په

میاشت کی د جومات له طرفه چې څه راکول کېږي هغه د امامت پیسې وی د تراویحو نه وی ایا د زید خبره صحیح ده ؟ او دا حیله صحیح ده ؟ وضاحت وکړی جزاکم الله

(جواب) پدې مسئله کی زید لپاره پدې حیلې سره د اجرت په طور باندې د جومات له پیسونه څه اخستل جائز ندی . څکه کوم سړی چې کوم جومات کی مخکې نه امام مقرروی نو د هغه په ذمه واریو کی دا هم شامل دی چې په رمضان المبارک کی تراویح هم ورکړی لکه چې دده ذمه واری دا هم ده چې د جمعې مونځ ورکړی اوکه موقع راشي نو د اختر مونځ به هم ورکوی او د جنازی مونځ هم. او که مقرر امام په څه وجه سره (مثلاً حافظ نه وی یا بل څه عذر وی) تراویحو کی د قرآن ختمولو نه عاجز وی نو په الم ترکیف سره د تراویح ورکولو ذمه وار دی ، وګوری فتاوی رحیمیه ۳۸۴/۴ (نوی ترتیب مطابق په همدې باب کی ((ایا د قرآن تراویح ورکول د امام ذمه واری ده)) عنوان لاندې ۲۴۱/۶ کی وګوری - مرتب) نو پدې بناء پدې صورت کی د مقرره تنخوا نه علاوه چې څه د جومات له طرفه ورکړی کېږي هغه به د تراویحو اجرت وی او ددې ناجائز کیدل بالکل ښکاره دی ، دا حیله چې زه د جومات امام یم او د امامت تنخواه اخلم ، دده په حق کی فایده نه کوی بلکی حق دا دی چې د مقرر امام باره کی دیته حیله ویل هم صحیح ندی دده تنخوا خو له مخکې نه متعین او مقرر ده بیا مستقل اجرت یا خاص په رمضان المبارک کی په تنخوا کی زیاتوالی په کوم بنیاد باندې ؟ البته که کوم حافظ په رمضان المبارک کی د امام نه علاوه تراویحو لپاره مقرر کړی شو نو هغه لپاره هم اعلی او غوره صورت دا دی چې خاص د الله رضا لپاره تراویح ورکړی لیکن که کوم خاې د الله د رضا لپاره تراویح ورکونکی نه پیدا کېږي او مقتدیان د قرآن پاک د اوریدو سعادت حاصلول غواړی نو مجبوری سره به دا صورت اختیار کړی شی چې حافظ صاحب د رمضان المبارک لپاره نائب امام مقرر کړی ماسخوتن وغیره یو دوه مونځونه هم ورته حواله کړی او تراویح به هم ورکوی نو پدې حیلې سره به د جومات له پیسو نه د نائب امام د تنخوا په طور اخستل او ورکول جائز شی چې ددې تفصیل د فتاوی رحیمه اردو ۳۴۹/۱ ، ۳۵۰ او د فتاوی رحیمیه څلورم جلد ص ۳۸۴ باندې هم وګوری (نوی ترتیب مطابق په همدې باب کی ((تراویح ورکولو باندې اجرت)) عنوان لاندې ۲۳۴/۶ کی وګوری - مرتب)

که امام صاحب د الله رضا لپاره تراویح ورکړی او مقتدیان پخپله خوښه هدیه ورکولو سره د امام صاحب خدمت کول غواړی نو ددې ګنجائش شته خو د امام صاحب معین رقم غوښتل او نه ملاوید باندې شکایت کول صحیح نه دی . په زړه کی حرص او طمع پکار نه ده قرآن مجید ډیر عظیم نعمت دی . حافظانو صاحبانو ته ددې نعمت قدر او پدې باندې د الله تعالی شکر ادا کول پکار دی . د اجرت په طمع سره خپل خان ولی د عظیم اجر نه محروموی

((ان القراة لشيئ من الدنيا لا تجوز و ان الاخد والمعطى آثمان)) یعنی د دنیا د حقیر شئ لپاره تلاوت کول ناجائز دی . اخستونکی او ورکونکی دواړه ګنهګار دی (شامی ۱/۶۸۷ ، او ۴۷/۵)

دا اشکال ندی پکار چې د جومات مقرر امام هم امام دی او د تراویحو لپاره چې کوم حافظ مقرر شوی هغه هم د تراویحو امام دی نو دمقرر امام تنخوا څنګه جائز دی او د تراویحو امام اجرت په څه وجه ناجائز دی ؟ اصل مذهب دا دی چې په طاعاتو باندې اجرت اخستل او ورکول ناجائز دی مګر فقهاؤ د دین د بقاء د ضرورت په خاطر تعليم القرآن امامت ، آذان وغیره څو څیزونه مستثنی (جدا) کړی دی او پدې څیزونو باندې د اجرت اخستل او ورکول جائز کړی دی او تراویح په مستثنی څیزونو کی شامل ندی . نو پدې وجه د اصل مذهب په بنیاد تراویح باندې اجرت اخستل ،ورکول ناجائز پاتې کیږي او بل د تراویحو ادا والی په ختم قرآن باندې موقوف ندی په الم ترکیف سره هم ادا کیدلی شی نو پدې کی د دین ضائع کیدل هم نشته لهذا د تراویحو قرائت د خالص تلاوت پشان دی او پدې باندې اجرت اخستل ناجائز دی ، په شامی کی دی :

((وان القراة لشيئ من الدنيا لا تجوز و ان الاخذ و المعطى آثمان لان ذلک ليشبه الا ستيجار على القراة و نفس الاستيجار عليها لا يجوز فكذا ما اشبهه كما صرح ذلک فی عدة كتب من مشاهير كتب المذهب و انما افتى المتاخيرون يجواز الا ستيجار على تعليم القرآن لا على التلاوة و عللوه بالضرورة وهی خوف ضياع القرآن و لا ضرورة فی جواز الا ستيجار على التلاوة كما او ضحت ذلک فی شفاء العليل و سياتی بعض ذلک فی باب الاجارة الفاسدة ان شاء الله تعالی)) (شامی ج ۱ ص ۶۸۷ باب قضاء الفوائت قبيل باب سجود السهو)

او په در مختار کی دی ((و لا لاجل الطاعات مثل (الا ذان والحج والامامة و تعليم القرآن والفقه و يفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن و الفقه والامامة و الا ذان و يجبر المستاجر على دفع ما قبل الخ (در مختار) (قوله و يفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن الخ) قال فى هدايه و بعض مشائخنا رحمهم الله تعالى استحسنوا الا ستيجار على تعليم القرآن اليوم لظهور التوانى فى الامور الدينية ففى الامتناع تضييع حفظ القرآن عليه الفتوى اه ... و زاد فى مختصر الوقاية و متن الاصلاح تعليم الفقه زاد فى متن المجمع الامامة و مثله فى متن الملتقى و د ر البحار و زاد بعضهم الا ذان والاقامة والوعظ و ذكر المصنف معظمها و لكن الذى فى اكثر الكتب الاقتصار على ما فى الهداية فهذا مجمع ما افتى به المتاخرون من مشائخنا . الى قوله . و الصواب اى يقال على تعليم القرآن فان الخلاف فيه كما علمت لا فى القراءة المجردة فانه لا ضرورة فيها . الى قوله . والاستيجار على مجرد التلاوة لم يقل به احد من الائمة و انما تنازعوا فى الاستيجار على التعليم)) (در مختار و شامى ص ۳۶ ، ۴۷ ج ۵ باب الأجارة الفاسدة) فقط.

ـ د تراویحو کوم په تاریخ باندې قرآن شریف ختم کړی شي؟

(۲۶۳ سوال) د رمضان المبارک په (۲۷) تاریخ باندې ختم کول د صحابه کرامو (رض) د عمل نه ثابت دی یا نه؟ او دا ضروری ګرځول څنګه دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) په تراویحو کی یو ختم کول سنت مؤکد دی ، ددې پوره تفصیلی بحث (فتاوی رحیمیه څلورم جلد په همدې باب کی ((تراویحو کی یو ځل د قرآن مجید ختم کول سنت مؤکد دی)) عنوان لاندې ص ۴۰۵ -۴۱۲ کی وګوری)

په (۲۷) شپه کی د ختم کولو یو دستور جوړ شوی دی او ددې وجه دا ده چې (۲۷) شپه ډیره مبارکه او فضیلت والا شپه ده ، چې ددې برکتونه حاصل کړی شي نو پدې وجه د قرآن پاک ختم کولی شی ، لکه څنګه چې په رمضان المبارک کی د زیات ثواب حاصلولو په غرض باندې د زکات ورکولو دستور جوړ شوی دی (لهذا دې باندې بغیر د سنت ګڼلو نه عمل کوئ) نو قابل د اعتراض ندی ، همدا شان په (۲۹) تاریخ یعنی شپه د رمضان کی هم د ختم کولو فضیلت راغلی دی په حرمین شریفینو کی پدې باندې عمل کیږي ، په خلاصة الفتاوی کی دی : ((قال الصدر الشهيد الختم فى التراويح سنة والختمان فضيلة فيقرا فى كل ركعة عشر آيات حتى

يحصل الختم في الليلة السابعة والعشرين (خلاصة الفتاوى ص ٦٣ ج ١ كتاب الصلوة الفصل الثالث في التراويح)))
او الفقه على مذاهب الاربعة کی دی : ((تسن قراة القرآن بتمامه فيها يختمه احر ليلة من الشهر الا اذا تضرر المقتدون به فالافضل ان يراعى حالهم (ص ۳۴۳ تراويح) الجزء الثانی مطبوعه اليشق کتب خانه استنبول) فقط والله اعلم.

– په تراویحو کی د کیدونکو غلطیو نه ځان ساتل ضروری دی

(۲٦۴ سوال) په تراویحو کی ځینی حافظان دومره تیز قرآن لولی چې حروف په صحیح توګه نه ادا کېږي د نږدې کیدو باوجود سړی نه پوهېږي چې دوی څه وویل نو دومره تېز لوستل څنګه دی ؟ او پدې شان لوستو سره د ختم قرآن سنت ادا کېږي یا نه؟ وضاحت وکړی جزاکم الله (حافظ عبدالحمید خان)

(جواب) تراویح سنت مؤکد دی او پدې کی یو ځل قرآن مجید ختم کول هم سنت دی (دلائلو لپاره فتاوی رحیمیه ۴۰۵/۴ – ۴۱۲ وګوری) د قرآن مجید په تلاوت کی د صحت لحاظ کول ډېر ضروری دی، د حروفو بدلیدو سره یعنی د س په ځای ص یا ث ، یا د ص په ځای س یا ث ، یا د ض په ځای ز یا ذ او یا د ذ په ځای ض یا ز ، یا د ت په ځای ط یا د ط په ځای ت وغیره لوستو سره لحن جلی لازمېږي اوکله دا قسم غلطی سره معنی بدلیدو سره مونځ فاسدېږي مګر د ډیرو فضیلتونو څخه محرومېږي ، د رمضان المبارک غوندې مقدس او مبارک میاشت کی که په تراویحو کی پوره صحت او دلچسپی سره په شوق او ذوق باندې باقده قرآن کریم ختم نه کړی شي نو لدینه زیات محرومی نور څه کیدی شی ؟

تیز لوستل مطلقاً قابل د مذمت نه دی پدې وجه قاریانو د قرائت درې درجې مقرری کړی دی : ترتیل ، تدویر او حدر ، په ترتیل کی ډیر ورو لوستل کېږي او په تدویر کی لږ تیز او په حدر کی د هغه نه تیز مګر پدې شرط چې صحت او صفائی کی څه خرابی رانشي کوم امام چې تراویح دومره تیز ولولی چې نږدی مقتدیان ورباندې هم نه پوهېږي ، نو داسې قرائت د نه کولو برابر دی ، او که داسې غلطی وشی چې لحن جلی پرې لازم شی او معنی بدل شي نو پدې صورت کی د هیڅ

تراويح نه صحيح کيږي او په رمضان المبارک تراويحو کې يو ځل قرآن مجيد ختم کول سنت دی دا سنت هم د هيچا نه ادا کيږي

په امام باندې لازم دی چې صحيح صحيح ولولی ټول حروف د خپلو مخرجونو څخه د ادا کولو کوشش اواهتمام وکړی او په مقتديانو باندې هم لازم دی چې داسې سړی امام ودروی (فرض مونځ وی يا تراويح) چې قرآن مجيد صحيح ولولی نن صبا حافظانو او خلکو په تراويحو کې زيات بې پروايی اختيار کړی . په کوم جوماتونو کې چې زر زر تراويح کيږي . کوم حافظ چې غلط غلط لوستو سره زر ختم کوی نه د سنت مطابق رکوع و سجده کوی او نه قومه او جلسه کې د تعديل ارکان رعايت کوی د هغه تعريف او صفتونه کيږي .دا خومره د افسوس خبره ده دا هم په هجران د قرآن (قرآن پريښودو) کې داخل دی .

د قرآن مفسر حضرت مولانا شبير احمد عثمانی رحمه الله د قرآنی ايت (و قال الرسول يا رب ان قومی اتخذوا هذا القرآن مهجوراً) ترجمه : او په هغه ورځ به رسول الله (ص) الله تعالی ته د کافرانو په شکايت کې داسې وايی ای ربه دې قوم دغه قرآن پاک (کوم چې واجب العمل ؤ) بالکل پريښی ؤ ، په تفسير کې ليکی : د قرآن کريم تصديق نه کول ، پدې کې سوچ او فکر نه کول ، پدې باندې عمل نه کول ، ددې تلاوت نه کول او ددې صحيح لوستو ته توجه نه کول لدينه اعراض کولو سره په نورو لغوه ياحقير شيانو طرف ته متوجه کيدل دا ټول صورتونه درجه په درجه د هجران قرآن لاندې داخل دی (فوائد عثمانی سورت الفرقان نمبر ۳ آيت)

په علم الفقه کې دی . د تجويد د قواعدو سره مطابق دقرآن کريم لوستل پکار دی د ساز او سندرو پشان د قرآن کريم لوستل بالاتفاق مکروه تحريمی دی ، قرآن کريم رو رو په ترتيل سره لولی په تيزی سره لوستل اتفاقاً مکروه دی ، او نور ورزياتوی په داسې تيزی سره لوستل چې د قرآن کريم په الفاظو پوهيدل مشکل وی اتفاقاً مکروه دی په رو رو لوستو اثر هم زيات وی نو پدې عجمو ته کوم چې د قرآن کريم په معنی باندې نه پوهيږي ، دوی ته هم رو رو لوستل پکار دی (اتقان) افسوس زمونږه په زمانه کې د قرآن مجيد سخت بې احترامی کيږي ، دومره په تيزی سره لوستل کيږي چې د څو الفاظو نه علاوه نور هيڅ نه فهم کيږي ، په تراويحو کې اکثر حافظان دننه شان ليدل کيږي الله عالم دی چې دوی باندې څا جبر او زور کړی

چې دوی تراویح ورکړی ، نه دا ده چې داسې حافظان بالکل تراویح ورنکړی ۰ د قرآن کریم بې ادبی خو ونشي (علم الفقه مع حاشیه ۲ ۱۹۱.۱۹۰)
په فتاوی دار العلوم کی دی (سوال ۱۷۸۴) : خینې حافظان په تراویحو کی دومره تیز قرآن شریف لولی چې د یعملون او تعلمون نه علاوه نور هیڅ نه فهمېږي خینې مقتدیان هم داسې تیز لوستل د تراویحو د زر ختمیدو په وجه خوښوی ددې دواړو څه حکم دی ؟
(جواب) : ر مختار کی دی ((و یجتنب المنکرات هذرمة القراة و ترک تعوذ و تسمیة و طمانیتة)) یعنی د ختم قرآن له منکراتو نه ځان وساتئ یعنی جلتی لوستو او د اعوذ بالله . بسم الله او طمانیتة پرینبودو نه ، (در مختار علی هامش رد المختار ص ٦٦٣ مبحث التراویح) لدینه معلوم شو چې تیز لوستل منکر کار دی چې د ثواب په ځای گناه جوړېږي) (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ۲۵۷/۴ ، مسائل التراویح)
په مجالس الابرار کی دی : ((و قد ذکر فی البزازیة ان اللحن حرام بلا خلاف و ذکر فی الفتاوی، ان الامام اذا کان لحانا لا باس للرجل ان یترک مسجده و یحول الی مسجد آخر فانه لا یاثم بذلک لانه قصد الصلوةخلف تقی و قد قال النبی صلی الله علیه وسلم من صلی خلف عالم تقي فکانما صلی خلف نبی من الانبیاء و فیه اشارة الی انه لو ترک مسجده بعذر لا یکون آثماً فکیف یکون حال الذی یترکون مسجدهم بلا عذر و یسر عون الی مسجد یکون فیه انواع من الانعام و الا لحان و یطلبون اماماً لا یتم الرکوع والسجود و لا یرتل القرآن بل ربما ینکرون علی من یتم الرکوع والسجود و یرتل القرآن و ینفرون و یکونون من الذین اتخذوا دینهم لعباً و لهوا و غرتهم الحیوة الدنیا و هم عن الاخرة غفلون)) (مجالس الابرار ص ۱۹۰ مجلس نمبر ۲۸ فی بیان کیفیة التراویح و فضیلتها)
ترجمه : په فتاوی بزازیه کی دی : غلط لوستل په اتفاق سره حرام دی او په نورو فتاواکانو کی دی چې که امام غلط لولی پدې کی څه پرواه نشته ځکه چې سړی خپل جومات پریدی او بل جومات ته لاړ شي او په تلو سره هغه نه گنهکارېږي ځکه چې مقصد یې یو پرهیزگار امام پسې مونځ کول دی ، او نبی کریم (ص) فرمایلی دی : چا چې یو پرهیزگار عالم پسې مونځ وکړ هغه لکه کوم پیغمبر پسې مونځ کړی وی او پدې کی دې خبرې ته اشاره ده چې که د کوم شرعی عذر په وجه د محلی جومات پریدی نو گنهکار ندی ، نو اوس د هغو خلکو به څه حال وی چې بغیر د

عذر نه د ، حلبي جومات پریدی او هغو جوماتونو ته حی چیرته چې رنګارنګ ساز و ترانې او غلطیانې کیږي او داسې امام لټوي چې نه صحیح رکوع او سجده کوی او نه په قومه او جلسه کې د تعدیل ارکان رعایت کوی او نه په صحیح طریقه رو رو قرآن پاک لولي بلکې ځینې وختو کې هغه امام باندې اعتراضونه کوی کوم چې په صحیح توګه رکوع او سجده کوی او د تعدیل ارکان رعایت کولو سره قومه او جلسه کوی او قرآن شریف په صحیح توګه رو رو لولي . له هغه نه تښتي او هغو خلکو سره شاملیږي چا چې له خپل دین نه لوبې او ټوقې جوړې کړې دی او ددنیا ژوند ورته دوکه ورکړی او د آخرت نه غافل دی .

په رکوع . قومه ، سجده او جلسه کې هم اطمئنان او د تعدیل ارکان رعایت ضروری دی . پدې کې هم ډیر کوتاهی کیږي ، صاحب د مجالس الابرار دغه کوتاهی په تفصیل سره بیان کړی دی (فتاوی رحیمیه ۵ :۱۴۰-۱۴۲ ، اردو (نوی ترتیب مطابق په همدې باب کې ((د تراویح متعلق یو اهم سوال)) عنوان لاندې ۲۶۰/۶ وګوری - مرتب))

د تعدیل ارکان مطلب دا دی چې رکوع او سجده د سنت طریقې مطابق ادا کړی او قومه پدې شان ادا کړی چې د رکوع نه وروسته بالکل سیده ودریږي او د ملا په جوړ (بند) خپل ځای ته ورسي او دداړو سجدو تر منځ پدې شان سره کینی چې هر اندام خپل ځای ته ورسي او کم نه کم دومره وخت صبر وکړی او کینی چې سبحان الله وویل شي ، په حدیثو کې د تعدیل ارکان ډیر زیات تاکید راغلی دی ، وګوری فتاوی رحیمیه ۱۳۹۰۱۴۱/۵)

د الله تعالی لپاره د تراویحو قدر وپیژنی او پدې کې د کیدونکو غلطیو او کوتاهیو اصلاح وکړی الله تعالی ټولو مؤمنانو ته توفیق ورکړی ، آمین بحرمة النبی الامی (ص) . فقط والله اعلم.

ـ د کوم هلک عمر چې اسلامی حساب سره پنځلس کاله پوره شوی وی نو تراویح ورکولی شي:

(۲۶۵ سوال) آیا د څو کالو هلک تراویح ورکولی شي وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) هلک چې بالغ شي نو هغه تراویح ورکولی شي . که چیرته د بلوغت علامې (احتلام ، انزال او حبال (حمل) ظاهر شوی نه وی خو د هغه عمر اسلامی

حساب سره پنځلس کاله پوره شوی وی نو شرعا هغه بالغ ګڼلی شی او هغه تراویح ورکولی شی . او که د بلوغت علامې نه وی ظاهر شوی او عمر یې هم اسلامی اعتبار سره پنځلس کاله نه وی پوره شوی نو د مختار قول مطابق داسې هلک تراویح نشي ورکولای ، هدایه اولین کی دي : ((و لا یجوز للرجل ان یقتدو بامراة او صبی ..... و اما الصبی فلانه متنفل فلا یجوز اقتداء المفترض بـه و فـی التراویح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ و لم یجوزه مشائخنا ..... والمختار انه لا یجوز فی الصلوات کلها لان نفل الصبی دون نفل البالغ حیث لا یلزمه القضاء بالافساد بالاجماع و لا یبنی القوی علی الضعیف الخ .)) (هدایه اولین ص ۱۰۳ باب الامامة) (عالمگیری ج ۱ ص ۸۵ الفصل الثالث فیمن یصلح اماما لغیره) '

او در مختار کی دی : ((فان لم یوجد فیهما شیئ (فحتی یتم لکل منهما خمس عشر سنة به یفتی لقصر اعمار اهل زماننا)) (در مختار مع رد المختار ج ۵ ص ۱۳۲ کتاب الحجر) فقط.

_ د چا کسب چې ګیره خرییل وی هغه د تراویح امام جوړیدی شی؟

(۲٦٦ سوال) الحمد لله زه د قرآن حافظ یم تراویح ورکول غواړم مګر زما کسب نائی توب (ګیره خرییل) دی مجبوری سره ګیری کلوم نو زه تراویح ورکولی شم یا نه؟

(جواب) یوه موټی ګیره ساتل واجب دی خپله ګیره او د بل چا ګیره خرییل دواړه حرام او سبب د فسق دی ،که ته د زړه نه توبه وکړی او له نن نه ګیره کلول پریدی او آینده لپاره دداسې کسب د پریښودو پوخ عزم او اراده وکړی نو بیا ته امام جوړیدی شی : ((و فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی و اکل الربا و نحو ذلک)) (شامی باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳) فقط والله اعلم.

_ د تراویحو په وخت کی کیناستل او خبرې کول :

(۲٦۷ سوال) ځینی خلک په تراویحو کی شاته ناست وی او ځینو خو خبری او شور هم کوی او کله چې امام رکوع ته ځي نو زر زر ودریږي او په رکوع کی ځان شریکوی ددوی دا کار څنګه دی ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) په رمضان المبارک کي حيني خلک په الله الله ويلو سره تراويح کي يو ځل قران مجيد ختم.کولی شي خيني خلک ددې هم قدر نه کوی ، او په تراويحو کي شاته ناست پاتې کيږي او کله چې امام رکوع کوی نو زر زر په رکوع کي ودريدو سره شريک کيږي ، دا خو په سستي او کوتاهي باندې دلالت کوی او د منافقانو له عمل سره مشابه کيږي ، لکه چې قرآن پاک کي منافقانو باره کي فرمايي : ((و اذا قاموا الی الصلوة قامو کسالی)) يعنی کله چې مانځه ته پاڅيږی نو په ډير سستي او ناراستی سره پاڅيږي .
او شاته کيناستو سره خبرې کول او شور جوړول خو ډير د جهالت کار دی او زيات افسوسناک هم دی ، داسې خلک د فرشتو د لعنت مستحق ګرځی ،
په حديث کي دی : رسول الله (ص) ارشاد فرمايلی دی : کله چې خوک جومات کي د دنيا خبری شروع کړی نو فرشتي ورته وايي ای د الله دوسته چپ شه که بيا هم خبرې وکړی نو بيا ملائکی ورته وايي ای د الله دښمنه چپ شه که بيا خبرې وکړی نو ملائک وايي په تا دې د الله تعالی لعنت وی چپ شه .
((و روی عنه ايضا عليه الصلوة والسلام انه قال اذا اتی الرجل المسجد فاکثر من الکلام تقول الملائکة اسکت يا ولی الله فان زاد تقول اسکت يا بغيض الله فان زاد تقول اسکت عليک لعنة الله)) (کتاب المدخل ص ۵۵ ج ۲)
او دا هم په حديث کی دی : ((عن الحسن مرسلاً قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ياتی علی الناس زمان يکون حديثهم فی مساجد هم فی امر دنيا هم فلا تجالسوهم فليس لله فيهم حاجة (رواه البيهقی فی شعب الايمان) (مشکوة شريف ص ۷۱ باب المساجد و مواضع الصلوة)
د حضرت حسن نه مرسلاً روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلی دی : داسې زمانه به راځي چې خلک به د دنيا خبرې په جوماتو کي کوی د هغو ی سره مه کينئ الله تعالی ته د داسې خلکو ضرورت نشته .
لږ غور وکړی خومره سخت وعيد دی ايا لدينه بعد هم خوک ددی جرائت کولی شي ؟ خاص طور د مانځه په وخت کي که ځمونږ د خبرو او شور و غوغا نه د خلکو مانځه کي فرق راشي نو ګناه نوره هم زياتيږي ، الله تعالی دې داسې خلکو ته د نيکی هدايت او توفيق ورکړی چې داسې غلط او نا زيبا حرکتو ځخه ځان وساتی ،
فقط والله اعلم.

د تراویحو قضاء

(۲٦۸ سوال) د رمضان د سپوږمۍ خبر ناوخته ورسید پدې وجه تراویح ونه کړی شوی نو اوس ددغو تراویحوقضاء جماعت سره وکړو یا خان خان له ؟

(جواب) تراویح تر خپل مقرر وخت یعنی (صبح صادق) پورې ادا کیدی شي او د وخت تر ختمیدو نه وروسته د دې قضاء نشته نه جماعت سره او نه خان له ، که ددې باوجود څوک وکړی نو تراویح نه بلکی نفل حسابیږي او نفل مونځ له جماعت سره مکروه دی کله چې د امام نه علاوه درې یا زیات مقتدیان وی .

((فان فاتت التراویح لا تقضی اصلا لا بالجماعة و لا بدونها لان القضاء من خواص الفرض (مجالس الابرار ، المجلس الثامن والعشرون ص ۱۹۹) یکره ذلک (ای التطوع بجماعة) علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد کما فی الدرر (قوله اربعة بواحد) اما اقتداء واحد بواحد او اثنین بواحد فلا یکره و ثلاثة بواحدۀ فیه خلاف)) (شامی ج ۲ ص ۴۹ آخر باب الوتر والنوافل مطلب فی کراهیة الاقتداء فی النفل الخ) فقط والله اعلم.

_ د فاسد شوی رکعت قرائت دوباره کول :

(۲٦۹ سوال) تراویح (۱۹) رکعته شول پدې طریقه چې د دوه رکعتو په ځای یو رکعت وکړ نو پدې کې لوستل شوی قرائت دوباره کول پکار دی ؟

(جواب) هو ، د فاسد شوی رکعتونو قرائت دوباره کول ضروری دی لهذا د دغو رکعتو راګرځولو په وخت کی قرائت هم راوګرځوئ که په هغه ورځ را ونه ګرځول شي نو په دویمه ورځ تراویحو کی راګرځول کیږي.

((و اذا فسد الشفع و قد قرا فیه لا یعتد بما قرا فیه و یعید القرائة لیحصل له الختم فی الصلوة الجائزة)) (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۱۸ فصل فی التراویح)

_ تراویحو کی فاتح سهواً د سجدی ایت ولوست :

(۲۷۰ سوال) تراویحو کی فاتح فتح ورکولو کی غلط شو د سجدی آیت یې ولوست امام او مقتدیانو هم واوریدو نو پدې سره سجده واجب ګرځی یا نه؟

(جواب) چونکی د سجدی ایت مقتدی لوستلی ده نو پدې وجه په هغه او نورو مقتدیانو او امام باندې سجده نه واجبیږي :

((و يلزم المأموم بسهو امامه لا بسهوه لانه لو سجده وحده كان مخالفا لامامه و لو تابعه الامام ينقلب التبع اصلا فلا يسجد اصلا)) (مراقي الفلاح مع طحطاوی ص ۲۵۲ باب السجود السهو)[1]

شل رکعته تراويح سنت مؤکد دی د حدیث او د صحابه کرامو له تعامل نه ثابت دی ددې منکر د سنت مخالف د الله او د رسول الله (ص) نا فرمان او د صحابه کرامو د اجماع نه خلاف ورزی کونکی دی :

(۲۷۱ سوال) د شل رکعتو تراويح څه ثبوت دی ؟ غير مقلدين پدې باندې سخت اعتراض کوی او وايي چې شل رکعته په کوم ضعيف حديث سره هم ندی ثابت ، او خلک دوکه کوی چې په حدیثو کی يواځې اته رکعته ثابت دی ، او پدې باره کې د حضرت عائشة صديقه (رض) او د حضرت جابر (رض) حديث پيش کوی پدې وجه خلکو کی غلط فهمی پيدا کېږي ، فلهذا تاسو مدلل جواب وليکی جزاكم الله .

(جواب) حامداً و مصلياً و مسلماً وهو الموفق : د غير مقلدينو مذکور اعتراض بالکل بې بنیاد او گمراه کونکی دی او د مبارکو حديثونو ، خلفاء راشدينو او صحابه کرامو د عمل نه د نا واقف کيدو صريح دليل دی ، رسول الله (ص) شل رکعته تراويح کړی دی او ثابت دی په مصنف ابن ابی شيبة کی دی ((حدثنا يزيد بن هارون قال اخبرنا ابراهيم بن عثمان عن الحكم عن مقسم عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله عليه وسلم كان يصلي في رمضان عشرين ركعة والوتر))

د حضرت ابن عباس (رض) نه روايت دی چې بيشکه رسول الله (ص) په رمضان کی شل رکعته او وتر کولو (مصنف ابن ابی شيبة ۳۹۴/۲ کتاب الصلوة كم يصلی فی رمضان من ركعة)

په سنن بيهقی کی د ابن عباس (رض) نه روايت دی ((ان النبی صلى الله عليه وسلم كان يصلي في شهر رمضان في غير جماعة عشرين ركعة والوتر)) بيشکه رسول الله (ص) په رمضان مياشت کی بغير د جماعت نه شل رکعته او وتر کولو (سنن بيهقی ۴۹۶/۲ کتاب الصلوة ما روی فی عدد ركعات القيام في شهر رمضان)

---

۱ ۔ حضرت مفتی صاحب دلته حواله ورکولو کی سهوه شوی مفتی صاحب د سجدی سهوی حواله ورکړې او حال دا چې د سجده تلاوت حواله ورکول پکار وه ، اگر که مسئله پخپل ځای باندې صحیح لیکلې ده . ((و ان تلا المأموم لم يلزم الامام و لا المؤتم السجود لا في الصلوة و لا بعد الفراغ منها كذا في السراج الوهاج)) (فتاوی عالمگیری . الباب الثالث عشر فی سجود التلاوة ج ۱ ص ۱۲۳)

حافظ حدیث علامه ابن حجر عسقلانی رحمه الله د امام رافعی په واسطه نقل کړی دی :

((انه صلی الله علیه وسلم صلی بالناس عشرین رکعة لیلتین فلما کان فی اللیلة الثالثة اجتمع الناس فلم یخرج الیهم ثم قال من الغدا نـی خشـیت ان تفـرض علـیکم فـلا تطیقونها))

ترجمه : رسول الله (ص) دوه شپې شل رکعته تراویح ورکړی کله چـې دریمـه شـپه شوه نو خلک راټول شول مګر رسول الله (ص) رانغی او بیا یې سحر وفرمایـل : مـا دا خیال وکړ چې تاسو باندې په فرض کړی شی او بیا به یې طاقت نلری .

حافظ ابن حجر (رح) ددې روایت نقل کولو نـه وروسـته فرمـایی : ((متفـق علـی صحته)) یعنی ددې په صحت باندې د ټولو محدثینو اتفاق دی (تلخیص الجیر فی تخریج احادیث الرافعی الکبیر ۱۱۹/۱)

علامه طحطاوی د اوږد بحث نه وروسته فرمایی : ((فعلی هذا یکون عشرون ثابتاً من فعله صلی الله علیه وسلم)) یعنی د ابن عباس (رض) د حدیث په بناء شل رکعته د رسول الله (ص) د فعل نه ثابت دی (طحطاوی علی الدر مختار ۴۶۸/۱ باب الـوتر والنوافل ، صلاة تراویح)

شارح د صحیح بخاری محدث علامه شیخ شمس الدین کرمانی (رح) فرمایی : ((او هو معارض بما روی انه صلی الله علیه وسلم صلی بالناس عشرین رکعة لیلتین))

یعنی : لدینه تهجد مراد دی او که تهجد مراد نه وی نو دا روایت هغه روایت سره معارض دی چې رسول الله (ص) دوه شپې شل رکعته ورکړی (الکوکـب الدراری شرح صحیح بخاری ۱۵۶/۹، ۱۵۷ باب قیام النبی باللیل فی رمضان وغیره)

پدې ذکر شوی حدیث باندې هیڅ اعتراض نشي کیدی ځکـه چـې دیتـه د خلفـاء راشدینو او د صحابه کرامو په عمل او مواظبت سره قـوت حاصـل شـوی ، د خلفـاء راشدینو او د صحابه کرامو عمل مستقل حجت دی ، علامـه بحـر العلـوم رحمـه الله لیکی : ((و مواظبة الصحابة علی عشرین قرینة حجة هـذه الروایـة)) یعنـی پـه شـل رکعتو باندې د صحابه کرامو مواظبـت ددی روایـت د صـحت دلیـل دی (رسـائل الارکان باب قیام النبی باللیل فی رمضان وغیره) او د صحابه کرامو د عمل او عادت متعلق د غیر مقلدینو منلی شوی پیشوا مولانا سید نذیر حسین محدث دهلوی لیکی :

" د صحابه کرامو (رض) عادت دا و چې دوی به هیڅ یـو شـرعی او دینـی کـار د

رسول الله (ص) د حکم او اجازت نه بغیر د خپل خان نه ، نـه کولـو)) (مجموعـه فتاوی نذیریه ۱/۳۵۸)

او بل په شل رکعته تراویح باندې د صحابه کرامو مقدس دور نه تر ننه پورې علماء محدثین او مجتهدین امامان او فقهاء رحمهم الله ټول متفق دی او د جمهـور امـت تعامل دی . دا اتفاق او دا عملي تواتر او تلقی بالقبول پخپل خای سـند او نهایـت قابل اعتبار سند دی لهذا کله چې د ابن عباس (رض) مذکور حدیث تـه د خلفـاء راشدینو او صحابه کرامو مواظبت او د علماء محدثین ، مجتهـدین امامـان ، فقهـای کرام او د جمهور امت په تعامل سره قوت حاصل دی نـو پـدې بانـدې هـیڅ قسـم اعتراض نشي کیدی .

او دا خبره هم باید په ذهن کی وی چې حضرت ابن عباس او حضرت عمر فاروق (رض) دواړه صحابه دی ، ددوی تر منځ کوم ضعیف راوی نشته او د کـوم راوی په وجه چې دی حدیث ته ضعیف ویل کېږي هغه خو پدې وخت کی پیدا شوی هم نه ؤ ، لهذا د حضرت عمر (رض) او صحابه کرامو په اعتبار سره دې حدیث ته ضـعیف نشي ویل کیدي او دا هم نشي ویل کیـدی چـې د صـحابه کرامـو عمـل د ضـعیف حدیث په بنیاد ؤ .

مناسب معلومېږي چې په لنډه توګه د خلفـاء راشـدینو او د صـحابه کرامـو د عمـل اهمیت بیان کړی شي ، د قرآن او حدیث په رڼا کی د خلفـاء راشـدینو اطاعـت او پیروی لازم او ضروری دی ، د الله تعالی ارشاد دی (یا ایها الذین امنوا اطیعـوا الله و اطیعوا الرسول و اولی الامر منکم) ترجمه : ای مؤمنانو تاسو د الله اطاعت وکـړی او د رسول الله (ص) اطاعت وکړی او په تاسـو کـی چـې څـوک اولـوالامر دی د هغوی هم اطاعت وکړی (سورت نساء (۵۹) ایت)

د اولوالامر په مصداق کی خلفاء راشدین داخل دی او ددی خبرې اعتراف پخپله غیر مقلدینو منلی شوی پیشوا مولانا صدیق حسن خان صاحب هـم کـړی دی ، دده تفسیر ((فتح البیان فی مقاصد القرآن)) کی دی :

((یا یها الذین آمنوا اطیعوا الله و اطیعوا الرسول و اولی الامـر مـنکم ، لمـا امـر الله سبحانه القضاة والولاة اذا حکموا بین الناس ان یحکموا بالحق امر الناس بطـاعتهم هنا ...... و اولوا الامر هم الائمة والسلاطین و القضـاة و امـراء الحـق و ولاة العـدل

كالخلفاء الراشدين و من يقتدى بهم من المهتدين الخ)) (فتح البيان فى مقاصد القرآن ص ۵۸۵ ج ۱)

او د الله تعالى ارشاد دى : (و ما اتكم الرسول فخذوه)

ترجمه : او كوم شئ چې رسول الله (ص) تاسو ته دركړى هغه قبول كړى (سورت حشر) او رسول الله (ص) چې د خلفاء راشدينو باره كى څه فرمايلى دى هغه وګورئ :

((عن العرباض بن سارية رضى الله عنه . الى قوله . فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم فانه من يعش منكم بعدى فسيرى اختلافاً كثيراً فعليكم بسنتى و سنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوا بها و عضوا عليها بالنواجذ)) (مشكوة شريف ص ۲۹ ص ۳۰)

ترجمه : له ما نه وروسته به خلك ډير زيات اختلافات وويني نو پداسې حالت كى تاسو باندې لازم دى چې زما سنت او زما د هدايت يافته خلفاء راشدينو سنت مضبوط او محكم ونيسى (عمل پرې وكړى) (مشكوة شريف باب الاعتصام بالكتاب والسنة (۲۹-۳۰) صفحى)

د ذكر شوى ايت او حديث په بناء مونږ لپاره لازم ګرځى چې د خلفاء راشدينو اطاعت او فرمانبردارى وكړو ، علاوه لدېنه د رسول الله (ص) فرمان د ى:

((عن حذيفة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم انى لا ادرى ما بقائى فيكم فاقتدوا باللذين من بعدى ابى بكر و عمر)) (مشكوة شريف ص ۵٦۰ مناقب ابى بكر و عمر)

ترجمه : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى : له تاسو نه مخكې چې څومره امتونه تير شوى دى په هغو كى محدث (چاته چې د حق خبرو الهام كېږي) موجود ؤ كه زما په امت كى څوك محدث وى نو هغه عمر (رض) دى .

او ارشاد دى : ((عن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان الله جعل الحق على لسان عمر و قلبه رواه الترمذى و فى رواية ابى داؤد عن ابى ذر قال الله وضع الحق على لسان عمر يقول به)) (مشكوة شريف ص ۵۵۷ باب مناقب عمر)

ترجمه : رسول الله (ص) فرمايلى دى : الله تعالى د حضرت عمر (رض) په ژبه او زړه باندې حق جارى كړى دى ، دا د ترمذى روايت دى او په ابو داؤد كى دى ،

د حضرت ابو ذر (رض) نه روایت دی . رسول الله (ص) فرمایلی دی : الله تعالی د حضرت عمر په ژبه حق مقرر کړی دی یواخې د حق وینا کوی .
او ارشاد دی : ((عن عقبة بن عامل قال قال النبی صلی الله علیه وسلم لو کان بعدی نبی لکان عمر بن الخطاب)) (مشکوة شریف ص ۵۵۸ مناقب عمر (رض))
ترجمه : رسول الله (ص) فرمایلی دی : که چیرته بالفرض والتقدیر ما نه وروسته کوم نبی وای نو هغه به عمر بن خطاب (رض) ؤ .
په طحطاوی علی مراقی الفلاح کی دی :
((روی ابن نعیم من حدیث عروبة الکندی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ستحدث بعدی اشیاء فاحبها الی ان تلزموا ما احدث عمر)) (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۲۳۹ باب التراویح)
ترجمه : رسول الله (ص) فرمایلی دی : ما نه وروسته به ډیری خبرې را پیدا شي ، ماته په هغو ټولو کی زیات خوښ هغه څیز دی چې عمر فاروق (رض) جاری کړی وی نو ټول هغه لازم او محکم ونیسی .
د ذکر شوو حدیثو څخه د خلفاء راشدینو خاص طور د حضرت عمر (رض) د قول او د عمل اهمیت واضح کېږي ،
حضرت عمر بن عبد العزیز (رح) فرمایی :
((سن رسول الله صلی الله علیه وسلم و ولاة الامر من بعده سنناً الاخذ بها تصدیق لکتاب الله و استکمال لطاعة الله و قوة علی دین الله من عمل بها مهتدی و من استنصر بها منصور و من خالفها اتبع غیر سبیل المؤمنین و ولاه ما تولی و صلاه جهنم و ساءت مصیراً)) (جامع بیان العلم و فضله ، ص ۱۸۷ ج ۲)
ترجمه : رسول الله (ص) څینی طریقی مقرری کړی دی او دده (ص) نه وروسته دده خای ناستو اولو الامر (چارواکو) حضراتو هم څینی طریقی مقرری کړی دی پر هغو عمل کول د کتاب الله تصدیق او د الله تعالی مکمل اطاعت او د الله د دین مدد کول دی ، څوک چې پرې عمل وکړی هغه هدایت مومی ، او څوک چې وربانديې قوت حاصلوی د هغه به مدد کېږي ، او څوک چې لدې طریقو نه مخالفت کوی او د مؤمنانو د لارې نه خلاف چلېږي ، الله تعالی به هم هغه طرف ته وګرځوی چې کوم طرف ته مخه کړی او بیا به یې جهنم ته داخل کړی او جهنم ډیر بد خای دی .

همدا شان د صحابه کرامو (رض) عمل او مواظبت هم ډیر اهمیت لری . صحابه کرامو چې کومه طریقه غوره کړی هغه د حدیث له مخې هدایت دی او څوک چې ددوی طریقه غوره کړی نو انشاء الله هغه به هم په هدایت وی ، په یو حدیث کی رسول الله (ص) د صحابه کرامو (رض) د طریقو عظمت او اهمیت داسې واضحه کړی او فرمایلی دی :

((عن عبد الله بن عمر و قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیاتین علی امتی کما اتی علی بنی اسرائیل حذوا لنعل بالنعل و ان بنی اسرائیل تفرقت علی ثنتین و سبعین ملة و تفترق امتی علی ثلث و سبعین ملة کلهم فی النار الا ملة واحدةً قالوا من هی یا رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ما انا علیه و اصحابی)) (مشکوة شریف ص ۳۰ باب الاعتصام)

ترجمه : حضرت عبد الله بن عمرو له روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : زما په امت به هم ټول هغه څه راځی کوم چې په بنی اسرائیلو باندې راغلی ؤ ، بنی اسرائیل (۷۲) فرقی وی او زما امت به (۷۳) فرقی جوړیږی دا ټول به دوزخیان وی مګر یواځی یوه فرقه (به نجات موندونکی وی) صحابه کرامو عرض وکړ یا رسول الله (ص) هغه به کومه فرقه (ډله وی ؟ وې فرمایل ((ما انا علیه و اصحابی)) هغه ډله چې زما په طریقه او زما د صحابه کرامو په طریقه چلیږي.

پدې حدیث کې رسول اکرم (ص) د ناجیه فرقی علامه او نښه بیانولو سره یواځی ((ما انا علیه)) ندی فرمایلی بلکی دې سره یې ((و اصحابی)) هم فرمایلی دی

حضرت امام ربانی مجدد الف ثانی (رح) فرمایی :

((پیغمبر صادق علیه من الصلوات افضلها و من التسلیمات اکملها تمبر فرقه واحد ناجیه از آن فرق متعدده فرموده است آنست الذین هم علی ما انا علیه و اصحابی یعنی آن فرقه واحده ناجیه آنانند که ایشان بطریقی اند که من بر آن طریقم و اصحاب من بر آن طریق اند ذکر اصحاب باوجود کفایت بذکر صاحب شریعت علیه الصلوة والتحیة درین موطن برای آن تواند بود که تا بدانند که طریق من همان طریق اصحاب من است و طریق نجات منوط باتباع طریق ایشانست و بس چنانکه حق سبحانه فرموده من یطیع الرسول فقد اطاع الله پس اطاعت رسول عین اطاعت حق سبحانه و خلاف اطاعت او صلی الله علیه وسلم عین معصیت او تعالی و تقدس ...... پس در مانحن فیه اتباع آن سرو ر نمون علیه الصلوة والسلام بخلاف اتباع

طریق اصحاب رضوان الله تعالی علیهم اجمعین دعوی باطل اسـت بلکـه آن اتبـاع عین معصیت رسول است پس نجات را در آن طریق مخالف چه مجال)) (مکتوبـات امام ربانی ص ۱۰۲ ص ۱۰۳ ج ۱)

ترجمه : رسول اکرم (ص) د نجات موندونکی ډلـی د پېژنـدګلو لپـاره فرمـایلی ((څوک چې زما او زما د صحابه کرامو په طریقه باندې چلېږي)) ظـاهراً دومـره ویـل کافی ؤ ((څوک چې زما په طریقه باندې چلېږي)) نو دلته یـې خـان سـره اصـحاب کرام هم یو ځای کړل ددې وجه دا ده چې ټول پدې وپوهېږي چې کوم زما طریقه ده هغه زما د صحابۀ کرامو طریقه هم ده او د نجات لاره د صحابه کرامو په پیـروی کی منحصره ده ، دا داسې دی لکه د الله تعالی ارشاد چې (من یطع الرسـول فقـد اطاع الله . واضحه کړی چې د رسول الله (ص) اطاعت بعینه د الله تعالیٰ اطاعـت دی او د رسول الله (ص) د ارشاد مخالفت بعینه د الله جـل جلالـه مخالفـت او نـا فرمانی ده نو پدې ذکر شوی مسئله د رسول الله (ص) د اتباع دعوه کول او ورسره د صحابه کرامو د طریقی مخالفت کول (لکه چې د غیر مقلدینو طریقه ده) دا دعوه باطله ده ، بلکی دغسې اتباع بعینه د رسول الله (ص) نافرمانی ده ، او د مخالفـت په لاره کی به د نجات څه ګنجائش او امید وی .

حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوی (رح) لیکی :

((و میزان در معرفت حق و باطل فهم صحابه و تابعین است آنچـه ایـن جماعـت از تعلیم آنحضرت (ص) به انضمام قرائن حـالی و مقـالی فهمیـده انـد در آن تخطیـه ظاهر نه کرده واجب القبول است)) (فتاوی عزیزی ۱۵۷/۱)

ترجمه : د حق او باطل د پیژندو معیار د صحابه کرامو او تابعینو فهم دی کـوم شـئ چې دوی د رسول الله (ص) د تعلیم نه د حالی او مقالی قرینو په رڼا کی فهمـولی دی (او هغه کی کوم غلطی نه وی ښودلی) د هغه منل واجب دی .

د پورتنی حدیث او ددغو دواړو بزرګانو له عبادت نه واضح شو چې د صحابه کرامو (رض) عمل مونږ لپاره ډیر قوی حجت او دلیل دی .

د رسول الله (ص) یو بل ارشاد وګورئ : ((رضیت لامتی ما رضی لها ابن ام عبد)) یعنی زه خپل امت لپاره هغه شئ خوښوم کوم چې ورته ابن ام عبد (یعنی عبـدالله بن مسعود) خوښ کړی (مظاهر حق ۶۸۹/۴ ، ۶۹۰)

او دا یې هم فرمایلی دی : ((تمسکوا بعهد ابن ام عبد))

یعنی د عبدالله بن مسعود (رض)وصیت لازم او مضبوط ونیسی (مشکوة شریف ص ۵۷۸ باب جامع المناقب الفصل الثانی)

او حضرت ابن مسعود (رض) د صحابه کرامو باره کی چې کوم ارشاد فرمایلی هغه د زړه په توجه سره وګوری : ((عن ابن مسعود رضی الله عنه قال من کان مستناً فلیستن بمن قد مات فان الحی لا نومن علیه الفتنة اولئک اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم کانوا افضل هذه الامة ابرها قلوباً و اعمقها علما و اقلها تکلفاً اختارهم الله لصحبة نبیه و لاقامة دینه فاعرفوا لهم فضلهم و اتبعوا علی آثارهم و تمسکوا بما استطعتم من اخلاقهم و سیرهم فانهم کانوا علی الهدی المستقیم)) (مشکوة شریف ص ۳۲ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

ترجمه : سیدنا ابن مسعود (رض) فرمایی : که څوک د چا اتباع او اقتداء کول غواړی نو هغه دې د رسول الله (ص) د صحابه کرامو اقتداء وکړئ ، څکه چې دوی د زړه په صفایی ، د علم په ژوروالی او د تکلف نه په لری والی کی په ټول امت کی اوچت او بهتر وو ، الله تعالی دغه بهترین جماعت د خپل بهترین رسول د ملګرتیا او د دین د اقامت لپاره غوره کړې ده لهذا تاسو هم د دوی قدر او فضیلت وپیژنی او ددوی په نقش و قدم باندې روان شئ څکه چې دوی په سمه او نیغه لاره روان وو .

د حضرت عبد الله بن مسعود (رض) دغه وصیت بیا بیا غور سره ولولئ ، په صحابه کرامو باندې خومره اعتماد او باور لری ، لهذا صحابه کرامو چې کوم عمل کړی او په کوم طریقه او لاره تللی هغه زمونږ لپاره حجت دی او بغیر د شک او شبهی نه هغه اختیارولی شی .

اوس هغه عبارتونه او حوالی وګوری چې د حضرت عمر (رض) او د صحابه کرامو (رض) شل رکعته کول ورنه ثابتیږي .

بخاری او مسلم د حضرت عبدالرحمن بن عبد قاری (رح) په سند سره نقل کړی دی :

((د رمضان یوه شپه زه د حضرت عمر بن الخطاب (رض) سره جوماټ ته لاړم نو ومو لیدل چې صحابه کرام جدا جدا ډلو کی تقسیم شوی او مونځ کوی څوک خانته مونځ کوی او څوک امام جوړ شوی او څو نور صحابه کرام ورسره شریک دی او جماعت سره مونځ کوی ، حضرت عمر فاروق (رض) وفرمایل : چې دوی ټول په

قاری باندې را ټول کړم نو ډیره غوره او بهتر به وی نو هغه ؤ چې حضرت ابی بن کعب (رض) ددوی امام مقرر کړ او ټول یې سره یو خای کړل
((فجمعهم علی ابی ابن کعب رضی الله عنه)) (بخاری شریف ۲۶۹/۱ باب فضل من قام رمضان)
(۱) د حدیث مشهور کتاب ((کنزل العمال)) کی دی : حضرت عمر (رض) حضرت ابی بن کعب (رض) ته خلکو لپاره د شل رکعتو ورکولو حکم ورکړ ((فصلی بهم عشرین رکعة)) یعنی بیا هغه خلکو (صحابه کرامو او تابعینو) ته شل رکعته ورکړل (کنزل العمال ۲۸۴/۱)
(۲) په سنن بیهقی کی دی ((کنا نقوم فی زمن عمر بن الخطاب بعشرین رکعة والوتر))
د حضرت سائب بن یزید نه روایت دی چې مونږ د حضرت عمر (رض) په دور کی شل رکعته تراویح او وتر کول (بیهقی ۲۹۶/۲ باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان ، نصب الرایه ۲۹۴/۱ فی قیام شهر رمضان واللفظ له)
(۳) په موطاء امام مالک کی دی : یزید بن رومان نه روایت دی چې د حضرت عمر (رض) په زمانه کی به خلکو شل رکعته تراویح او درې رکعته وتر ټول درویشت (۲۳) رکعته کول :
((عن یزید بن رومان قال قال کان الناس یقومون فی زمن عمر بن الخطاب بثلاث و عشرین رکعة)) (موطا امام مالک ص ۴۰ باب ما جاء فی قیام رمضان)
(۴) په ((معرفة السنة)) کی دی : امام بیهقی په صحیح سند سره نقل کړی دی چې حضرت علی رضی الله عنه په رمضان کی قاریان راوغوښتل او یو صاحب ته یې حکم وکړ چې خلکو ته شل رکعته تراویح لمونځ ورکړي ، او حضرت علی (رض) به وتر ورکول :
((عن عبدالرحمن بن السلمی ان علیاً دعا القراء فی رمضان فامر رجلا ان یصلی بالناس عشرین رکعة و کان علیاً یوتربهم (معرفة السنة للبیهقی ج ۱ ص ۴۷۷ و سنن کبری للبیهقی ص ۴۹۶ ج ۲) باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان))
(۵) محدث ابن قدامه په ((المغنی)) کتاب کی لیکی : په شلو رکعتو تراویحو باندې د صحابه کرامو اجماع ده ((و عن علی انه امر رجلاً یصلی بهم فی رمضان

عشرین رکعة و هذا کالا جماع باب قیام شهر رمضان عشرون رکعة هی صلاة التـراویح المغنی)) (ص ۸۰۳ ج ۱)
(٦) د محدث علامه ابن حجر هیثمی (رح) تحقیق دا دی چې شلو رکعتو تراویحو باندې د صحابه کرامو اتفاق دی (تحفة الاخبار ص ۱۹۷)
(۷) د حدیثو مشهور حافظ علامه عبدالبر (رح) فرمایی : صحیح دا دی چې صحابه کرامو رضی الله عنهم به د حضرت عمر فاروق (رض) په دور کی شل رکعته کـول (مرقاة شرح مشکوة ۱۷۴/۲ باب قیام شهر رمضان)
(۸) د حضرت ابو الحسنا (رض) نه روایت دی : ((ان علیاً امر رجلاً یصلی بهم فی رمضان عشرین رکعة))
حضرت علی (رض) یو سړی ته حکم وکړ چې خلکو ته شل رکعته تراویح ورکـړی (مصنف ابن ابی شیبة ۳۹۳/۲ کم یصلی فی رمضان مـن رکعـة) سـنن کبـری للبیهقـی ۴۹٦/۲ باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان)
(۹) د ابن عمر (رض) شاګرد حضرت نافع (رض) فرمایی : ((کان ابن ابی ملیکـة یصلی بنا فی رمضان عشرین رکعة))
اسناده حسن (آثار السنن ۵٦/۲) یعنی حضرت ابن ابی ملیکة مونږ ته په رمضان کی شل رکعته راکول (مصنف ابن ابی شیبة ، کم یصلی فی رمضان من رکعة ۳۹۳/۲)
(۱۰) حضرت ا عمش (رح) فرمایی : ((ان عبدالله بن مسعود (رض) کـان یصـلی عشرین رکعة و یوتر بثلاث))
عبد الله بن مسعود (رض) به شل رکعته تراویح ورکـول او درې رکعتـه وتـر ، ددې سند قوی دی (عمدة القاری شرح بخاری ۱۲۷/۱۱ ، قیام اللیل ص ۹۱)
(۱۱۲) حضرت محمد بن کعب قرظی (رح) فرمـایی : ((کـان النـاس یصـلون فـی زمان عمر بن الخطاب فی رمضان عشرین رکعة))
یعنی د حضرت عمرفاروق (رض) په دور کی به خلکو پـه رمضـان کـی شـل رکعتـه کول.
(۱۲) د مکې مفتی جلیل القدر تابعی حضرت عطاء بن ابی ربـاح (رح) فزمـایی : ((ادرکت الناس هم یصلون ثلاثاً و عشرین رکعة بالوتر)) و اسناده حسن

يعنی ما صحابه كرام وغيره ټول خلک وليدل چې په مكه كې د وترو سره درويشت (۲۳) ركعتونه كول ، ددې سند حسن دی (مصنف ابن ابی شيبة ، فتح البارى ۲۱۹/۴ ، قيام الليل ص ۹۱ آثار السنن ۵۵/۱ باب ما فی التراويح بعشرين ركعة واللفظ له)

(۱۳) حضرت شيتر بن شكل (رح) (د حضرت عبد الله بن مسعود شاګر) په رمضان المبارک كې به يې امامت كولو او شل ركعته به يې تراويح كول او درې ركعته وتر ، دا روايت قوی دی (بيهقی ۴۹۶/۲ باب ما روی فی عدد ركعات القيام فی شهر رمضان)

(۱۴) حافظ ابن تيميه (رح) فرمايی : كله چې حضرت عمر فاروق (رض) د حضرت ابی بن كعب (رض) په امامت باندې خلک را جمع كړل نو هغه به ورته شل ركعته كول (مرقاة ۱۷۵/۲)

((فلما كان ذلک يشق علي الناس قام بهم ابی بن كعب في زمن عمر بن الخطاب عشرين ركعة يوتر بعدها)) (فتاوى ابن تيمية ۱۴۸/۱) لر وړاندې ددينه زيات صراحت سره ليكی : ((فانه قد ثبت ان ابی بن كعب كان يقوم بالناس عشرين ركعة في رمضان و يوتر بثلاث فراى كثير من العلماء ان ذلک هم السنة لانه قام بين المهاجرة و الا نصار و لم ينكره منكر)) (فتاوى ابن تيميه ص ۱۹۱ ج ۱)

ترجمه: بيشكه دا ثابت دی چې حضرت ابی بن كعب (رض) به صحابه كرامو ته په رمضان كې شل ركعته تراويح وركولی او درې ركعته وتر ، نو د ډيرو علماؤ مسلک همدا دی چې سنت همدا دی ځكه چې حضرت ابی بن كعب (رض) د مهاجرينو او انصارو صحابه كرامو په موجودګی كې شل ركعته وركړی دی او هيڅ يو صحابیورباندې رد او انكار ندی كړی.

دا د هغه چا فتوی ده چې غير مقلدين حضرات يې خپل پيشوا ګڼی ، پدې فتوی كې تصريح ده چې شل ركعته سنت دی .

(۱۵) داؤد ظاهری هم د شلو ركعتو قائل دی ، په هداية لمجتهد كې دی :

((و اختلفوا في المختار من عدد الركعات التي يقوم بها الناس في رمضان فاختار مالک في احد قوليه و ابو حنيفة والشافعي واحمد وداؤد القيام بعشرين ركعة والوتر بثلاث)) (بداية المجتهد ص ۲۰۲)

(۱٦) مشهور اهل حديث نواب صديق حسن خان بهوپالی (رح) فرمايی : ((د حضرت عمر (رض) په دور كې چې د شل ركعتو كومه طريقه شوې وه دغه علماؤ د

اجماع پشان شمار کړې ده (عون الباری ۳۰۴/۴ باب قیام النبی باللیل فی رمضان وغیره)

(۱۷) حافظ حدیث د علامه ابن همام رحمه الله تحقیق : ((بالآخره په شل رکعتو باندې اتفاق شوی ، او همدا متوارث دی ((استقر الامر علی العشرین فانه المتوارث .)) (فتح القدیر ۴۰۷/۱ صلوة التراویح)

(۱۸) علامه بحر العلوم ملا عبدالعلی مولانا نظام الدین متوفی ۱۳۲۵ هـ فرمایی :

((ثم استقر الامر علی عشرین رکعة والوتر فصار هذا سنة ...... و هی سنة علینا لا شک فیه لان سنة الخلفاء الراشدین بسنته صلی الله علیه وسلم فی اللزوم والاساءة فی الترک فانه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فی موعظته فعلیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین المهدیین تمسکوا بها و عضوا علیها بالنواجذ ، و صلوة التراویح عشرون رکعة بعد صلوة العشاء و سنتها بعشر تسلیمات ..... و هذه الاحکام مما الفق علیه فقهاء المذاهب الاربعة من غیر خلاف))

یعنی بیا شل رکعته تراویح او وترو باندې اتفاق وشو ، شل رکعته مونږ لپاره بغیر د شک شبهې نه سنت دی ځکه چې د خلفاء راشدینو په سنت باندې هم عمل کول لازمی دی او ددې پریښودل قبیح او بد کار دی لکه ځنګه چې د رسول الله (ص) د سنتو حکم دی ، ځکه چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : تاسو پخپل خان زما او زما د هدایت یافته خلفاء راشدینو سنت لازم او مضبوط ونیسی ، د جامی په غاښو ورباندې چک ولګوئ (عمل پرې وکړی) تراویح شل رکعته دی د ماسخوتن مانځه نه وروسته او لسو سلامونو سره او دا هغه احکام دی چې پدې باندې د څلورو واړو مذهبونو فقهاء بغیر د څه اختلاف نه متفق دی . (رسائل الارکان ص ۱۲۸ فصل فی صلوة التراویح) .

(۱۹) شیخ احمد روی رحمه الله فرمایی :

((والصحابة حینئذ متوافرون منهم عثمان و علی و ابن مسعود والعباس و ابنه و طلحة والزبیر و معاذ وغیر هم من المهاجرین والانصار ما رد علیه واحد منهم بل ساعدوه ووافقوه و امروه بذلک وواظبوا علیها حتی ان علیاً اثنی علیه و دعا له بالخیر و قال نور الله مضجع عمر کما نور مساجدنا و قد قال النبی صلی الله علیه وسلم علیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین من بعدی ...... وهی عشرون رکعة ....)) (مجالس الابرار ص ۱۸۷ مجلس نمبر ۲۸ فی بیان کیفیة التراویح و فضلتها)

ترجمه په هغه زمانه کی چې حضرت عمر فاروق (رض) صحابه کرام (رض) ټول رایو ځای کړ او حضرت ابی بن کعب (ر ض) یې امام مقرر کړ هغه وخت صحابه کرام حضرات په زیات شمیر کی موجود وو ځینې په دوی کی حضرت عثمان ، حضرت علی ، ابن مسعود ، حضرت عباس او دده خوی ابن عباس (ر ض) ، حضرت طلحه ، حضرت زبیر او حضرت معاذ رضی الله عنهم او ددوی نه علاوه ټول مهاجرین او انصار حضرات موجود وو هیڅا هم په حضرت عمر (ر ض) باندې اعتراض ونکړ او نه یې ورباندې رد وکړ بلکې ټولو د هغه ملګرتیا وکړه د هغه تائید او موافقت وکړ او همدا یې جاری او رواج کړ او همیشه یې پابندی سره ادا کول تردی چې حضرت علی رضی الله عنه د حضرت عمر (ر ض) تعریف او صفت وکړ او شکریه یې ادا کړه او هغه لپاره دِ خیر دعاء وکړه (د وفات نه وروسته به یې فرمایل) الله تعالی دې د حضرت عمر (ر ض) قبرله نوره ډک کړی لکه چې دهٔ زمونږه جوماتونه منور کړی ، د رسول الله (ص) ارشاد دی زما طریقه او زما دخلفاء راشدینو کوم چې ما نه وروسته به وی طریقه لازم او مضبوط ونیسی ، او تراویح شل رکعته دی

(۲۰)حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوی رحمه الله فرمایی : ((من بعد عدد بست و سه را اختیار کردند درین عدد اجماع شده بود))

یعنی صحابه کرامو شل رکعته تراویح او درې رکعته وتر اختیار کړل او پدې عدد (شمیره) باندې اجماع شوې ده (مجموعه فتاوی عزیزی ۱۲۶/۱)

(۲۱) امام ترمذی رحمه الله فرمایی :

((و اکثر اهل العلم علی ما روی عن علی رضی الله عنه و غیر هما من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم عشرین رکعةً وهو قول سفیان الثوری و ابن المبارک والشافعی ، و قال الشافعی وهکذا ادرکت ببلد نا بمکة یصلون عشرین رکعةً)) (ترمذی شریف ص ۹۹ ج ۱ ، ابواب الصوم باب ما جاء فی قیام شهر رمضان)

ترجمه : حضرت علی حضرت عمر او نور صحابه کرام رضی الله عنهم او حضرت سفیان ثوری (رح) حضرت عبدالله بن مبارک ، حضرت امام شافعی رحمهم الله د شل رکعته تراویحو قائل دی او امام شافعی صاحب فرمایی : ما مکې والا په شل رکعته تراویح کولو باندې لیدلی .

(۲۲) د فقه حنبلی مشهور کتاب روض الریاض کی دی :